

مزلونه

او

تیندکونه

محمد ارشد خان

1857 کی جنگ آزادی میں
پٹھانوں کی تعداد ص ۶ کی 35 -
secret book =

ترون

د خپلې مور بي بي په نوم د چا د دعاګانو
برکت چې په لوړو ژورو راتېر تر دې ځايه را
رسولې يم، جنتونه ئې په برخه شه ـ

لړليک

شمېره	سرخط	مخ
1	د دې کتاب په حقله	6
2	د سر خبرې	11
3	مودودي صاحب سره مکالمه	13
4	واده	15
5	غني خان	20
6	يوه بله واقعه	24
7	هشتنغر کښې مزدور کسان پارټي	29
8	دې پټهان	37
9	د علامه مشرقي يوه انټرويو	39
10	د هشتنغر قومي مشران او د هغوي قرباني	40
11	احمدشاه ابدالي او قيس عبدالرشيد	44
12	ايرانيان او يونانيان	48
13	د هندوستان او افغانستان ترمېنځه پوله کښېښودل	60
14	ازاده پاليسي	76
15	لارډ ماؤنټ بېټن	89
16	د بټهو صاحب سره دوېم ملاقات	112
[illegible]	[illegible] ټهو صاحب سره درېم ملاقات	115
[illegible]	[illegible] احب او د هغۀ کارنامې	121
[illegible]	[illegible] دور حکومت	130

20	په پیپلزپارټۍ کښې د شمولیت دعوت	151
21	په جرمني کښې د ولي خان سره ملاقات	165
22	پرې کړې پوزه	204
23	پخوانو مشرانو وئیلي دي	233
24	فیصله	247

د دې کتاب په حقله:

دا مې د ډېر وخت نه خیال وۀ چې د خپل ژوند هغه مزلونه او تیندکونه تاسو سره شریک کړم کوم چې ما وخت په وخت په خپل ژوند کښې خوړلي دي زما دپښتو لیک به ډېر ښۀ نۀ وي خو زړۀ مې غوښتل چې د خپل ژوند داحالات پښتوکښې ولیکم. په دې خاطرد ۲۰۰۶ءد جنورۍ په میاشت کښې پېښور کښې په ایم پي اے هاسټل کښې د میاشت نه هم په کم وخت کښې د اتمانزو د یو شاعر چې زمونږ دوست او ملګرے دے، دلخرم خرم په مرسته داسې مکمل شۀ چې ما به ورته په یادو وئیلو. ټوله ورځ به مېلمنو او نورو کارونو کښې بوخت وم او د شپې به مو دا کتاب لیکلو اکثر د سحر د بانګ پورې به لګیا وو. هغۀ په خپله خو ټول کتاب لیکلے او کتلے وۀ نو هغۀ راته وئیل چې په دې به ډېر اعتراضونه وشي او دا کتاب په اردو او انګرېزۍ کښې هم یو ځاے چاپ کړه د پښتو دا کتاب به ډېرو کمو خلقو ته ورسي ځکه د دې د کمپوزنګ نه پس مو دوه درې پرتېه واخستل یو مو اردو والا ته حواله کړه چې افتخار نوم ئې ایم اے پښتو ئې کړې وه او د اردو ادب سره ئې ډېر شوق وۀ او انګرېزۍ کښې ترجمه مې حیات روغاني (چې نن سبا باچاخان یونیورسټي چارسده کښې هم دے او باچاخان مرکز کښې د پښتون رسالې ایډیټر دے) درې کاله پس راته دواړو د لږې ډېرې ترجمې نه پس واپس کړۀ. اردو والا وئیل چې دې کښې تاسو د اردو وئیلو واله خلقو یعني اردو سپیکنګ مخالفت کړے دے نو ځکه زۀ د دې ترجمې ته نۀ یم تیاراو روغاني ووې چې دې کښې تاسو د باچا خان مخالفت کړے دے ځکه نو زۀ د دې ترجمې ته نۀ یم تیار. دې خوا زۀ په نورو مسئلوکښې بوخت وم کتاب ته مې ډېره توجۀ نۀ وه او نۀ مې دا مطلب وۀ چې دا کتاب دې د باچاخان غوندې شخصیت د

لوړ قامت د راتیټولوکوشش وګڼلے شي، بلکې زماپه نظر کښې چې د باچاخان کوم عزت وۀ هغه اوس هم شته او وي به خو عام خلق په دې نۀ پوهېږي چې د هغوي کومې خبرې خپلول پکاردي اوکومې نۀ دي پکار. تاریخ په چا پرده نۀ اچوي تاریخ کښې چې څوک لټون کوي نو صداقت ته به یوه ورځ خامخا رسي. حیات روغانے په دې خفه وۀ چې تۀ وایې باچاخان دوي هډو پښتانۀ نۀ دي. یوه مې د غني خان د خُلې حواله ورکړه کومه چې مادې کتاب کښې لیکلې ده او بله مې د کلي د یو انپړه سړي چې یو ډېرمشهور تاجر وۀ او د اتمانزو نه راغلے وۀ او زمونږ کلي کښې اباد شوے وۀ او عزیزالدین نوم ئې وۀ، د هغۀ خبره مې ورته وکړه چې زۀ څۀ وخت د چارسدې د اے اېن پي صدر شوم نو هرچا به زما هرې خبرې ته ښه وې او زۀ په یونیورسټۍ کښې د بحثونو او ډې بېټونو عادت وم دغه یو د جوماتي اسلامي رکن عزیزالدین لالا واحد سړے وۀ چې زما د خبرومخالفت به ئې کولو. د دوي ټول خاندان په اتمانزوکښې وسېدو او په خپله د دۀ پېدائش هم د اتمانزو وۀ. زۀ یوه ورځ حجره کښې ځانله ناست وم هغه مې ډوډۍ له راوغوښتو او د هغۀ نه مې د باچاخان او ولي خان د کورنۍ په باره کښې تپوس وکړۀ. مخکښې مې ورسره عام خبرې اترې وکړې چې کله داسې دې تجارت شورو کړے او کوم کوم ځاے کښې تجارت کوې. هغۀ وئیل چې مخکښې مې هرقسم تجارت کولو خو اوس صرف د ګوړې تجارت کوم او په دې کښې زۀ کراچۍ او دلي ته هم تلے یم او کوئټه او کابل خو زمونږ خپل ځایونه دي، پنډۍ کښې هم د چارسدې یو دوه کشمیریانو دوکاندارانو سره شریک یم. داسې هغه ډېر تجربه کار او ګرځېدلے سړے وۀ او د مشرۍ او د ښۀ سړیتوب ئې هم خلقو ډېر خیال ساتلو او بل د جومات اسلامي په وجه خلقو پاک او دیندار سړے ګڼلو. د ډوډۍ

په دوران کښې مې ترې تپوس وکړۀ چې تۀ خو د اتمانزو يې تاته به ښه پته وي چې د باچاخان کورنۍ څنګه خلق دي نو هغه راته يکدم ووئيل چې دا خو د سره پښتانۀ نۀ دي نو حيات روغاني ته مې هم ووئيل چې نمړۍ مې ونښته او قهر هم ډېر راغلو چې زۀ د چارسدې د اے اين پي صدر يم او دې ماته هم مخامخ وائي چې باچاخان دوي د سره پښتانۀ نۀ دي، خو د هغۀ د مشرۍ او خپلې حجرې په وجه مې خپل قهر او غصه قابو کړل او د هغۀ نه مې تپوس وکړۀ چې تۀ د څۀ نه وايې، تاسره څۀ ثبوت دے دا په کوم کتاب کښې دي. هغۀ راته وئيل چې زۀ خو انپړهـ سړے يم خپل حساب کتاب هم په ابجدو کښې ليکم خوزۀ ستانه تپوس کوم چې تاته هم پته ولګي چې زۀ دا ولې وايم. ستا خو دلته هم ډېرو خلقو سره تعلق دے، سوات، بونېر، صوابۍ، کرک، بنو او کوهاټ کښې هم ډېر خلق پېژنې، دوي له چې ځاے ته ورشې نو د چائې ډوډۍ ست درته کوي؟ ما ورته وئيل هو، هغۀ وئيل چې چائې درله راوباسي نو کوم ځاے دې کښېنوي؟ ما ورته وئيل حجره کښې مې کښېنوي هغۀ وئيل چې زما په شان غريب سړے وي اوحجره ئې نۀ وي نو بيا؟ ما ورته وئيل بېټک کښې مې کښېنوي. هغۀ وې چې بېټک ئې هم نۀ وي؟ ما ورته وې بيا د کور نه کټ راوباسي او د کوڅې مخې ته کښېنو. هغۀ وئيل کور ته چا دننه بوتلے يې. ما ورته وئيل نا کور ته خو تراوسه چا نۀ يم بوتلے. وې ئې په سوات، بنو يا نورو ځايونو کښې چا کورته بوتلے يې ما وې نه هلته هم چا نۀ يم بوتلے. هغۀ وئيل دوي (باچاخان، ولي خان) له چې ورشئ نو کوم ځاے کښېنئ؟ ما ورته وئيل کور کښې ناست يُو. وئيل ئې کور کښې ئې ښځه وي؟ ما ورته وئيل ښځه خو ئې د پارټۍ ليډره ده هغه هم وي. هغۀ وئيل چې پښتنو کښې ستر پړده د نورو ټولو قومونو نه زياته ده اوس خو ورځ تر ورځه

کمېږي پښوا خو به چې ستاسو د کورنيو زنانه چرته تللې نو د ټانګو نه به هم پړدې تاؤ وې او دننه به هم هغه زنانو غټې غټې برقعې اچولې وې خو دې کورنۍ کښې د پښوا نه د ستر پړدې رواج نۀ وۀ او مونږ ټولو اتمانزوالو پورې به خلقو ټوقې کولې چې ستاسو مشران د چا نه ستر پړده نۀ کوي. د پاکستان جوړېدو نه مخکښې هندوان، سيکان، مسلمانان ليډران به دوي کره څوځو ورځې پاتې وو نو مونږه اتمانزوالو به د دغې ملامتې وې چې دا پښتانۀ نۀ دي د بل ځائے نه راغلي او خاص کر د داسې ځائے نه راغلي دي چې هلته هغه وخت هم ستر پړده نۀ وو دا ټولې خبرې مې حيات روغاني ته وکړې او دا مې ورته هم ووئيل چې د هشتنغر په اخري جرګه کښې د دولسو کالو نه لوے هلک نۀ وۀ. دا د پښتنو واحد جرګه وه چې ۱۲۰ مشراني ښځې په کښې ناستې وې ځکه چې نارينه ئې ټول د ۱۸۵۷ء په جنګ کښې شهيدان شوي وو.

د دې نه پس د حيات روغاني يو بل ملګري ووې چې تاسو د ۱۸۵۷ء دجنګ نه پس د هشتنغر جرګه راوغوښته نو ټولو فيصله وکړه چې انګريزانوچاله زمکې ورکړې دي نوهغوي سره به غم ښادي نۀ کوو او نۀ به په کښې ورکړه راکړه کوو. او تا وئيلي دي چې باچاخان په خپله دا منلي دي چې انګريزانو زما نيکۀ له په سونو جريبه زمکه ورکړې ده نو بيا د دغه کورنۍ يو سړي لکه باچاخان له تاسو ولې مشري ورکړه؟ ما ورته ووې چې د دې خبرې ما هم د مشرانو نه تپوس کړے وۀ نو هغوي راته ووې چې پښتانۀ مشران کۀ هغه وخت کښې کۀ په نور څۀ نۀ پوهېدل خو په پره جمبه ښۀ پوهېدل، باچاخان د خپل پلار نيکۀ پره پرېښوده د چا چې انګريزانو سره پره وه او زمونږ په پره کښې د انګريزانو خلاف ودرېدۀ نو مونږ ورته ځکه د مشرۍ پټکے په سر کړۀ.

او هغه تر اخره پورې د انګرېزانو خلاف وۀ او زمونږ د پرې خبرې ئې کولې.

ددې نه پس مې د کتاب دچاپ کولوهڅه و خیال نۀ وۀ او خپله په کښې هم راته ډېرې غلطۍ ښکارېدې ځکه زۀ ځان سره ډائري نۀ ساتم چې دا پته راته وي چې دا خبره یا دا کار په دې وخت او دې کال کښې شوي ووکال راته هم اکثرنۀ وي یاد. خو طیب الله خان او اقبال حسېن افکارچې داکتاب ئې لږ ډېر لوستے وۀ هغوي وئیل چې خامخا ئې چاپ کړه ځکه چې دا خو ستاسو یاداشتونه دي چې د تاریخ برخه وګرځي ځکه چې تاخو د پښتنو د مسئلو د پاره دا ټولې هلې ځلې کړې دي او خپل نظر دې هم ښودلے دے نو چې کومې خبرې چا ته غلطې ښکاري نو هغوي به سره د تصدیقه هغه صحیح خبرې مېدان ته راوباسي.

د خپل کشر سلیم ناشاد مینه هم د هېرولو نۀ ده چې د دې کتاب د کمپوزنګ کار ئې ډېر په لږ وخت کښې ډېر په خوش اسلوبۍ ترسره کړۀ او دا کتاب ئې ستاسو لاسو ته راورسولو.

کۀ دا یوه خبره چې د هر چا په مازغو کښې کښېناسته چې مونږ اوس هم د انګرېزانو د وفادارو د غلامانو غلامان یُو، یواځې د پاکستان پښتانۀ نه بلکې د افغانستان پښتانۀ هم د ازبکو او تاجکو د کلچرونو او ژبو ذهني غلامان دي او کۀ ټول پښتانۀ په دې پوهه شو نو د غلامۍ نه د ازادۍ سوچ به ئې راپېدا شي.

زۀ هم په دې خیال او دې سوچ دا خپل مزلونه او تیندکونه تاسو سره شریکوم چې تاسو هم د هغه لوړو ژورو نه خبر شئ کومو کښې چې ما دا تیندکونه خوړلي دي.

د سر خبرې

ماچې په 1967ء کښې لسم جماعت پاس کړو، نو د نور تعلیم د پاره مې د پېښور په ایډورډز کالج کښې داخله واخسته. زما د ترۀ زوے جان محمد خان زما سره نزدې وسېدو، هغۀ په ګورنمنټ کالج کښې د چا سره جنګ وکړو، چې په هغه جنګ کښې څۀ کسان مړۀ او څۀ زخمیان شو. د هغې نه پس زمونږ مشرانو فېصله وکړه چې تاسو دواړه په یو ښار کښې تعلیم نۀ کوئ. هغوي بیا زما د پاره د پنډۍ په ګارډن کالج کښې داخله واخسته. ځوک چې د خپل کلي نه بهر شي او په پردي وطن کښې دېره شي، نو د خپل کلي وطن د خوشحالۍ او سوکالۍ سوچونه ډېر په شدت محسوسوي. دغلته زما سره یو څو ملګري پښتانۀ نور هم وو. هغوي به هم زما په شان د کلي وطن د خوشحالۍ او سوکالۍ خبرې هر وخت کولې. د دې سره سره زمونږ په شریکه دا سوچ پېداشوچې د قوم دوه کم سل فیصده خلق غریبانان دي، تر څو پورې چې دا غریبانان ښۀ شوے نۀ وي، نو د پښتنو دا وطن او دا قوم د نورو وطنونو او قومونو سره برابرېدے نۀ شي.

مونږ چې به د نورو ملګرو سره دا خبرې شورو کړې، هغوي به وئیل تاسو خو د کمیونسټانو خبرې کوئ. د دې خبرو سره سره زمونږ په مازغو کښې دا سوچ هم پېدا شو چې د کمیونسټانو دا کتابونه هم وګورو چې دوي د قوم او د وطن د ترقۍ په باره کښې څۀ وائي. دغه شان مونږ د کارل مارکس، اېنګلزاولېنن کتابونه واخستل. دکارل مارکس "داس کېپیټل" مونږ بیا بیا وکتو. بلکې تر بي اے پورې مونږه دوه دوه ځله وکتل خو هیڅ نتیجې ته ونۀ رسېدو. د هغې نه پس چې ما په لاهور کښې ایم اے فلسفه کښې داخله واخسته، نو د هغه ځاے ملګرو راته ووئیل چې کارل مارکس خو د جرمني وۀ او اېنګلز د

دۀ ملګرے د برطانیې کارخانه دار او سرمایه دار وۀ. تاسو له پکار دي چې د اینګلز د کتابونو مطالعه وکړئ نو هله به په "داس کیپیټل" پوهه شئ. د دې سره سره په یونیورسټۍ کښې زمونږ ملګري نور هم زیات شول او زمونږه تعلق ورسره پېدا شو، نو مونږه مضمون هم د فلسفې اخستے وۀ. دغلته مونږ د یو استاذ نه تپوس وکړو چې زمونږه د فلسفې دا مضمون خو ډېر ګران دے هغۀ راته ووئیل چې دومره ګران خو نۀ دے بس دا پته لګول دي چې زۀ یم او کۀ نۀ یم او چې یم نو څۀ یم؟

د دې فلسفې سره زما په ذهن کښې دا هم راتلل چې د مالدارو فلسفې هم کتل پکار دي، چې دوي د قوم او د وطن په باره کښې څۀ وائي؟ زما د مطالعې په حواله دغه خلقو زیات په جمهوریت، انساني حقوقو، د انفرادي مال د تحفظ، چې دا په یوه جمهوري معاشره کښې د رائې په اکثریت باندې کوم حکومت وجود ته راشي، ځکه چې اکثریت خو دغریبانانو وي، نو خود بخود به د غریبانانو خدمت کوي. دا د یورپ په هغه ملکونو کښې په کومو کښې چې د تعلیم شرحه ډېره اوچته وه او د وخت سره ئې د ازادۍ او خپل واکۍ ژوند تېرولو، دا صحیح ده چې د هغوي د پاره دا نظام صحیح وۀ لکه څۀ رنګ چې ابراهیم لنکن وئیلي دي:

> **"Democracy is the govt of the people, by the people for the people."**

او کوم ملکونه چې د ازادۍ نه محرومه پاتې شوي دي، هغې کښې د تعلیم شرحه ډېره کمه وه، د بادشاهۍ او غلامۍ نظام وۀ، په هغې کښې ذاتي ملکیتونه دبادشاه د خوښې خلقو له ورکړي شوي وو. په برطانیه او نورو ملکونو کښې کارخانې جوړېدې او خام مال ئې د دې ځائے نه اوړۀ. په هر څۀ کښې ئې داسې قانون جوړ کړے وۀ چې ګټه به په کښې د دوي وه. کارخانې دلته نۀ وې چې چا مزدور په کښې

مزدوري کړې وې. او ووټونه هم د خانانو نوابانو وو او اسمبلو ته تلل ئې دومره ګران کړي وو چې د غریب سړي د وس نه بهر وو. کله نه کله به مې زړۀ کښې راتلل چې زۀ نۀ د روس یم او نۀ د برطانیې، زۀ چې سیاست شورو کوم د خپل کلي وطن چارسدې نه به شورو کوم. د یو پښتون بچي په حېث چې زمونږه علاقې خلقو ته د کوم سیاست او نظریې نه فائده رسي، هغه به خپلوم. دا یو معلوماتي دور وۀ، ځکه چې زمونږه په علمي ادارو باندې به ځائے په ځائے لیکلي شوي وو چې "علم طاقت دے" (نالج اِز پاور) پکار دي چې په دې وخت کښې زدکړه وکړو او د هر قسم نظریو نه ځان هم خبر کړو. هسې په دغه وخت کښې یوه عجیبه واقعه راپېښه شوه چې تمامي عمر به زما نه هېره نۀ شي. هغه دا چې زمونږه تمامو ملګرو به د جمیعت طلبه سره بحث مباحثې کولې ، جمیعت طلبه د جومات اسلامي د طالبانو یوه ډله وه، هسې زمونږ د یونیورسټۍ سره اچره (منصوره) هم نزدې وه، چې مودودي صاحب به په هغې کښې د جمعې په شپه خلقو ته د سوالونو جوابونه ورکول. د یوځو پښتنو جمیعت طلبه سره هم زمونږه تعلق وۀ. هغوي وئیل پکار دي چې تاسو د مودودي صاحب سره هم ملاؤ شئ او د هغوي خبرې هم واورئ.

مودودي صاحب سره مکالمه:

اخر داچې د جمعې په شپه د یونس نومي یو هلک سره هلته لاړم. زمونږ د کالج ملګري هلته ناست وو ، هغوي ډېر خوشحاله شول، په رونړ تندي ئې زما سره ستړي مشي وکړل، په زړۀ کښې ئې وئیل چې دې جوړې هم زمونږه ډلې ته راغے. د ډېر ساعت ناستې نه پس زما وار راغے، خو زړۀ کښې مې راتلل چې یو خوا ته فلسفه وایو بل خوا ته راته

خلق کافران وائي او یم پښتون، نو هسې بوسو کښې اوبۀ نۀ بوزم.
مودودي صاحب په ډېره مینه او نرمه لهجه کښې ووئیل "ځوانه وایه!
ما ورته وئیل دا راته ووایه چې خدائے شته؟ هغوي جواب راکړو چې
بې شکه خدائے یو دے. ما وئیل کوم ځائے دے؟ په دې کښې هغه
ناست ملګري په غصه راپاڅېدل، چې زما وهلو ته هم جوړ شول،
مودودي صاحب هغوي ته مخاطب شولو: چپ کښېنئ کۀ تاسو د دې
خبرې جواب زده کړے وۀ، نو تاسو ته به معلومات وو او دا خبره یاده
لرئ، علم به هغه څوک زده کوي چې څوک په علم کښې بې شرمه وي
او طالب علم هغۀ ته وئیلے شي چې څوک د علم طلب کوي. بیا ماته
مخاطب شولو: ځوانه ستا ډېر وخت وشولو ووایه چایې ته دې زړۀ
کېږي او کۀ شربت ته دې زړۀ کېږي. ما ورته اوبۀ یادې کړې او اوبۀ مې
وڅښلې. مودودي صاحب ووې د کوم ځائے وسېدونکے یې؟ ما ورته
ووې د چارسدې وسېدونکے یم، چې د پېښور یو تحصیل دے. هغۀ
ووې روزګار دې څۀ دے؟ ما ورته ووې زمیدار خلق یُو فصل زمونږه
امدن دے. مودودي صاحب ووې فصل دې په خپل لاس چرته کرلے
دے؟ ما ووې فصل خو مې تراوسه پورې نۀ دے کرلے خو ګلونه مې
ډېر کرلي دي. هغوي ووئیل په ګلونو کښې دې کوم ګل ډېر خوښ
دے؟ ما ووې سُور ګلاب مې ډېر خوښ دے. نو هغوي ووې سُور
ګلاب دې ولې ډېر خوښ دے؟ ما وئیل بوئي ئې په مابانديې ښۀ لګي.
هغه یو طالب ته مخاطب شو وې ورشه ماله چا یوه ګلدسته راوړې ده،
د هغې نه یو سُور ګلاب راوړه. هغۀ یو ګلاب راوړۀ، ما بوئي کړلو.
مودودي صاحب هغه ګلاب ترلاسه کړۀ او وې وئیل: هغه ګلاب خو زما
په لاس کښې دے، چې هغه بوئي ئې څۀ شولو؟ وې وئیل یاد لره چې

ګلاب وي نو بوئي به ئې هم وي او چې ګلاب نۀ وي بوئي ئې هم نۀ وي. چې دنيا ښکلې نو د دنيا جوړوونکے هم ښکلے دے.

وادۀ:

زمونږ د فلسفې ډيپارټمنټ او د نفسياتو ډيپارټمنټ خوا په خوا وو او د دې په خوا کښې چې کومه برانډه وه په هغې کښې د ټيبل ټينس ميز لګېدلے وۀ. خالي پيرډ کښې به مونږ په هغې لوبې کولې. دوو کسانو به لوبې کولې نور به خپلې وارې ته ناست وو. په فلسفه او نفسياتو دواړو ادارو کښې د جينکو تعداد زيات او د هلکانو کم وۀ. زما يو تږۀ به کله نه کله زما تپوس له راتلو. چې کله به هم راغے، زما نه به ګېر چاپېره دوه درې جينکۍ ناستې وې. هغه يوه ورځ شکې شولو، چې دۀ ته خو د تږۀ لور کوېږدن ده، هسې نه چې دې دلته وادۀ وکړي. يوه ورځ راته هغه تږۀ ووې! خبره تاته اټاله ده، د وادۀ نېټه درله ږدو؟ ما ورته ووې زۀ خو لا تعليم کوم، چې ترڅو پورې مې تعليم نۀ وي برابر کړے تر هغې وادۀ نۀ کوم. چې ډېرې ورځې تېرې شوې او دا خبره هم زړه شوه هغه تږۀ مې دوباره راغے د سترې مشې نه پس ئې ووئيل: مور دې ناوجوړه ده، زۀ په تاپسې راغلے يم، ځه چې کلي ته ځو. ما د تادۍ نه کپړې هم راوانۀ خستې. غرض دا چې تږۀ او ورارۀ دواړه تر کلي راغلو. څۀ ګورم چې حجرې له ئې چونا ورکړې ده او د وادۀ کارډونه ئې لاس کښې راکړل چې دا دې خپلو ملګرو ته ولېږه، ځکه چې درې ورځې پس ستا وادۀ دے. سوچ کښې پرېوتم، په يو دوه کښې حېران شوم، زړۀ کښې وايم چې اوس خو تښتېدے هم نۀ شم، خپلو ملګرو ته مې اطلاع هم ورنۀ کړه، ځکه چې په وادۀ کښې درې ورځې وې. زما د يونيورسټۍ ملګرو ته ډېره موده پته نۀ وه، چې دۀ هم لا وادۀ کړے

دے. د وادۀ کولو نه پس راته کالج ته په تلو راتلو ځان بد او پیکه ښکارېدۀ. اخر سوچ مې وکړو چې سبق به په خپل ځائے کښې وایم او چې د امتحان وخت رانزدې شي بیا به کالج ته ځم. ځکه چې زما دوه ورونړه دي یو په پي ائي اے کښې پائیلټ دے او دوېم بېرسټر دے وکالت کوي. دلته په کلي کښې غم ښادۍ د پاره په حجره د جرګو مرکو د پاره هم شوک نۀ وو او شوک چې لاړ جرګو مرکو خوند واخلي، د هغې د رسمونو رواجونو نه خبر شي، ځکه چې دا په کتابونو کښې نشته. زۀ اوس هم دا ګڼم چې د حجرې علم ماته کومه فائده راکړې ده دا زۀ د خپلو هغه ډګرو نه ښه ګڼم په کومو ډګرو چې زۀ نن په اسمبلۍ کښې ناست یم.

ماته هلته کمینستهوملګرو وئیلي ووچې ستاسو په چارسده کښې دوه ملونه دي چې یو شوګر ملز دے او دوېم پېپر ملز دے. د هغې د مزدورانوسره تعلق جوړ کړه او د هغوي د مسئلو نه ځان خبر کړه. ما د هغې فلسفې او نظریې په حواله د پېپر ملز د مزدورانو سره تعلق یعني لېبر یونین چې مشري ئې شیرین خان کوله او بیا د شوګر ملز د مزدورانو سره تعلق یعني لېبر یونین چې مشري ئې ګل رحمان کوله. د دې سره سره د مزدور کسان پارټۍ د مشرانو سره تعلق یعني زما د زدکړې سلسله شورو شوه. د دغې زیات ملګري شاعران ادیبان وو، د دوي سره مې هم ناسته پاسته شورو شوه، خو په دوي کښې یو عجیبه عادت وۀ، چې کوم شاعر به موجود نۀ وۀ په هغۀ پسې به ئې بدې ردې او خبرې کولې او چې کله به هغه راښکاره شولو نو د دوي نه به یو شاعر ورپاڅېدلو، هغۀ ته به ئې وئیل عمر دې ډېر دے اوس مونږه یاودولے. د دوي سره به زما بحثونه عموماً د روس او امریکې او د چین په سیاستونو وۀ. زما نظریه به همېشه د ماوزے تُنګ په

وېناګانو باندې وه، ځکه چې په تمامه اېشيا کښې دا يو ملک وۀ چې مونږه د هغې د انقلابونو او زدکړو نه د امريکې او يورپ د سياستونو نه زياته فائده کولې شوه. دا هم د ټولو تاريخ پوهو مشرانو او ماوزے تنګ د خُلې وېنا ده چې "کوم خلق د خپل وطن د صحيح تاريخ نه خبر نۀ وي، هغه د خپل قوم کړۀ وړۀ باندې صحيح فېصله نۀ شي کولې.

زمونږ په پښتنو چې څومره ليکوالو ليکل کړي دي، تقريباً هغه تمام کتابونه مې ترلاسه کړل او تمام مې ولوستل. يعني کومو ليکوالو چې په پښتنو کوم ليکل کړي دي، په هغې کښې دوه ليکوال هم چرته په يوه خبره متفق نۀ دي. هر کله چې د پښتنو د يو والي خبره راشي، فقط په دې ئې اتفاق وۀ چې دوي په خپلو کښې متفق نۀ شي. په دغه دوران کښې زۀ د خپلو ملګرو سره کوئټې ته لاړم. د شپې ډېر ناوخته ورسېدو، بازار هم بند وۀ او مونږ چې چاله تللو د هغوي ځاے راته هم معلوم نۀ وۀ. د هغه ځاے سټاف کالج کښې وۀ. دغلته په چوک کښې چا سکوټر ودرولے وۀ، خپله د چوک نه چاپېره ګرځېدلو، اخر دا چې د هغه سکوټر والا نه مونږه پوښتنه وکړه، چې سټاف کالج په کوم ځاے کښې دے؟ هغۀ وئيل چې زۀ په فوج کښې کپتان يم، زما دوه کاله وشول چې دلته دېره هم، د کوئټې هره کوڅه ماته معلومه ده او سټاف کالج خو د فوځيانو ځاے دے، زۀ به خاص تاسو د هغه سړي تر کوره بوځم، خو تاسو يوه مهرباني وکړئ ما ته دا ځاے وښايئ چې زۀ اوس په کوم ځاے کښې ولاړ يم، مونږ چې د فوجي دا خبره واورېدې نو زمونږ په زړۀ کښې راغلل چې دې خو يا لېونے دے او يا په ‌خو کښې دے. خو هغۀ زۀ کلک د لاسه نيولے وم او بار بار ئې وئيله منله ماته دا ځاے وښايئ. اخر مونږ ورته ووئيل دغه چوک دے هت کړے کښې لګېدلې ده. فوجي ووئيل بالکل دا فواره چوک دے. اوه، دي. په

پسې راځئ چې سټاف کالج ته مو د هغه سړي تر کوره بوځم. د فوجي هغه خبره صحیح وه، مونږ ئې د هغې سړي تر کوره بوتلو، چې د چا په تلاش کښې وو. د هغې نه پس مې په ذهن کښې دا خبره باربار ګرځېده کۀ مونږ د تمامې دنیا د سیاستدانانو نه خبر شولو خو چې ترکومې پورې د خپل قوم او د خپل وطن او د خپل کلي د تاریخ نه نۀ یُو خبر، نو خپل وطن ته، خپل کلي ته، خپل قوم ته هیڅ فائده نۀ شو رسولې. د پښتنو تاریخ مې هم لوستے دے او نور کوشش هم کوم، چې دا معلومات ماته د کوم ځائے نه شوي دي او یا کېږي، چې د هغې پوره پوره حوالې خپلو لوستونکو ته وړاندې کړم. بیا هم کۀ په دې لیک کښې مانه څۀ کمے بېشے شوے وي او هغه ماته چا په ګوته کړل نو عموماً په داسې اعتراضونو باندې د کتاب او لیک خوند نور هم سېوا شي او د دې سیمې تاریخ به هم صحیح مخې ته راشي. ماته خپلو خپلوانو او ښو ښو ملګرو مشوره راکړې ده چې رښتیا خبرې مۀ کوه، خو اخر زۀ څۀ وکړم؟ د مرګ او ژوند څۀ پته نۀ لګي. زۀ وایم چې د کلي وطن خلق او زما ملګري د دې رښتوني تاریخ نه خبر شي، نو د خپل ژوند ښۀ کولو د پاره به دا رښتونے تاریخ د هغوي په فېصلو کښې هم د هغوي رهنمائي وکړے شي.

زمونږ کالج په پنډۍ کښې وۀ نو خپلې پښتو او پښتونولۍ مې د باچا خان سره بې انتها مینه پېدا کړې وه او دا خبره تر ذهنه راتله چې باچاخان دې پنجابیانو سره په کوم جومات کښې مونځ کړے دے، چې ېره ښۀ ئې پېژني. البته چې کوم پښتون په پنجاب کښې پاتې شي نو به پښتو او پښتونولۍ سره ئې مینه نوره هم سېوا کېږي او چې د مونږه په باره کښې چا کوم لیکل کړي وو هغه مې هم ولوستل.

د چې

د تعلیم نه پس چې خپل کلي چارسدې ته راغلم نو ما باچاخان خپلې حجرې ته رابللے وۀ او ورسره مې په خدائي خدمتګارۍ کښې اعلان هم وکړلو. زۀ تر اوسه پورې دا ګنم چې زۀ خدائي خدمتګار یم. باچا خان ماته ښوښو ځله وئیلي وو چې ستاد دسترخوان خرچه زیاته ده او دا فضول خرچي د خدائي خدمتګار نخښه نۀ ده. د باچاخان کتاب "زما ژوند او جدوجهد" مې هم ولوستلو.

باچاخان وائي ماته خپل پلاربهرام خان بابا باربار وئیلي وو چې د انګرېزانو مخالفت پرېږده، ځکه چې دا کومې زمکې ئې راکړې دي، دا زمکې به زمونږه نه واپس واخلي. خو ما د بهرام خان بابا خبره ونۀ منله. تر دې حده پورې چې یوه ورځ د کوره بهر ناست وم، پلار راپسې جواب راولېږلو چې کور ته راشه. زمونږ د کورنۍ ټول مشران راغلي وو او ناست وو. بهرام خان بابا په مانځۀ ولاړ وۀ، زۀ ئې تر خوا کښېناستم، چې مونځ ئې وکړلو، سلام ئې وګرځولو نو ماته ئې ووې: دا مشران راغلي دي، دوي وائي او زۀ درته هم وایم چې د انګرېزانو مخالفت مۀ کوه. هسې نه چې انګرېزان زمونږه نه دا زمکې واپس واخلي. ما بهرام خان بابا ته ووئیل: کۀ انګرېزان تاته ووائي چې مونځ پرېږده نو څۀ دې خیال دے دا مونځ به پرېږدې؟ هغۀ ووئیل: زۀ مونځ نۀ شم پرېښودے. ما ورته ووئیل زۀ هم دا کار نۀ شم پرېښودے. ټولو یو بل ته وکتل او ماته ئې ووې ځه خدا ے دې مل شه.

ماته دباچاخان سره دخبروکولو موقعې ډېرې په لاس راغلي دي. ماکۀ هرڅومره د انګرېزانو کتابونه او تاریخونه لوستلي دي خو باچاخان مې دومره خوښ وۀ چې ما د هغۀ په باره کښې دا خبره نۀ منله چې دوي هم پښتانۀ نۀ دي. ما به وئیل دوي د انګرېزانو مخالفت کړے دے انګرېزانو د بدنیتۍ نه په دوي پسې دا خبرې خورې کړې دي. په

۱۹۸۰ء کښې د باچاخان نه تپوس وکړو چې پښتانۀ د بهر نه راغلي دي دا راته ووایئ چې تاسو د کوم ځائے نه راغلي یئ؟ هغۀ په ډېر ښۀ انداز کښې ووې د دې خبرو علم زما مشر زوي غني خان ته دے، دا تپوس د هغۀ نه وکړه. مونږ د غني خان سره په شریکه یوه جرګه جوړه کړه په دې غرض چې د ولي خان او د هغۀ د ښځې بېګم نسم ولي خان نه خفه خلق د جرګې په ذریعه د باچاخان هغه زړې لارې ته بیا راولو.

غني خان:

په دغه دوران کښې د غني خان سره هم ډېر نزدې پاتې شوم، تر دې حده پورې چې سحر به د هغۀ ځائے ته تلم او ماښام به ترې نه راتلم. غني خان راته انتهائي د یوې لارې سړے ښکاره شو، چې د چا په باره کښې به مې ترې پوښتنه کوله هم په هغې باره کښې به ئې ډېرې ښکاره او بې پردې خبرې کولې. نۀ ئې په ځان پرده اچوله او نۀ په بل. واقعات ئې راته بیان کړل. په ۱۹۴۸ء کښې چې څۀ وخت زمونږه قبائیلي ورونړه او د پاکستان فوج کشمیر کښې په جنګ بوخت وۀ، تقریباً کشمیر ئې فتح کړے وۀ. په دغه دوران کښې ماله د دیر نواب او د باجوړ نواب دواړه راغلل. هغوي ووئیل: زمونږه سره اتیا زره باوسله فوج شته دے او د پاکستان لږ ډېر فوج په کشمیر کښې اړم دے، کۀ تاسو په حقیقت کښې د پښتنو ازادي غواړئ او پښتونستان جوړولو ته مو خیال وي، نو دا وخت دے. غني خان ووئیل ما هغوي ته ووې زۀ هم د پښتون زلمي مشر یم، ما د دې مقصد د پاره هغوي تیار کړي دي، راځئ چې ورځو د باچاخان نه په دې باره کښې تپوس وکړو. سره د هغه دوو نوابانو مېلمنو باچاخان له ورغلو او دا خبره مو ورته وکړه. باچاخان ووئیل: غني وایه ستا په دې باره کښې څۀ خیال دے؟

ما ورته ووې زما هم دا خبره خوښه ده. باچاخان ووئیل: ته خو پاګل یې، زۀ ئې دوه کول نۀ غواړم او تۀ ئې درې کول غواړې، زۀ د هندوستان او پاکستان ماتول نۀ غواړم او تا په کښې لانورې تیږې شورو کړې.

اخر د غني خان نه مې یوه ورځ دا تپوس وکړلو چې ټول پښتانۀ د بهر نه راغلي دي، دا راته ووایه چې تاسو د کوم ځاے نه راغلي یئ؟ په دغه دوران کښې ئې زۀ هم ډېر ښۀ پېژندلے وم، یعني دا ورته پته وه چې د دې خبرو سره سره به دې زما نه تصدیقونه هم غواړي. درې ورځې مسلسل مونږ د انګرېزانو په دې خبرو پسې ګرځېدلو، چې انګرېزانو پښتنو له زمکه ولې نۀ ورکوله؟ د پښتنو تاریخ غني خان ته ډېر ښۀ معلوم وۀ او په دې خبره مونږه دواړه متفق وو چې پښتنو د زرګونو کالو په تاریخ کښې خپلې ټولنې له ډېر ښۀ معاشي او سیاسي نظام ورکړے دے. یو پښتون هم بې کوره او بې زمکې نشته دے. مخکښې د غټو غټو قومونو وېش شوے دے. بیا د هر قوم د افرادو په تعداد خېلونو ته زمکې حواله کړې دي او خېلونو په خپلو کښې د انغري په حساب یو کور ته خپله حصه رسولې ده او دې شریکي زمکې ته مونږ شاملات وایو. ځکه چې د شاملات نه نۀ څۀ خرڅېږي او نۀ ترې نه د هغې قومونو د افرادو نومونه وځي. ځکه چې د ټولو قومونو مقبرې شریکې وي. ما غني خان ته ووې چې نۀ ستاسو شاملات شته او نۀ ستاسو مقبرې شته دے، دا راته ووایه چې تاسو د کوم ځاے نه راغلي یئ؟ غني خان ووې چې زۀ به په چُتې کلي ته راغلم نو زما نیکۀ بهرام خان بابا له چې به کله څوک ملګري راغلل نو هغۀ به خپلو ملګرو سره خبرې فارسۍ ژبه کښې کولې، ځکه چې هغه د فارسۍ په لیکلو وئیلو ډېر ښۀ پوهېدو. هغۀ په دې باره کښې ماته دا رنګ قیصه کړې وه چې مونږ د روس موجوده حکومت ازبکستان او تاجکستان

چې پخوا ئې ورته ثمرقند او بخارا وئیل، په دغه ځاے کښې اکثریت د مسلمانانو وۀ. دوه درې سوه کاله مخکښې په دغه ځاے کښې مسلمانانو عالمانو په فقو باندې جنګونه شورو کړل او مونږ لږ تعلیم یافته او ازاد خیال وو نو ځکه مونږه خپل ځان په دغه جنګونو کښې ملوث نۀ کړلو. په دغه وجه مونږ کابل ته راغلو، کابل کښې د محمدزو بادشاهانو د درباریانو په حېث بېوروکرېټ وساتلو، سل یو نیم سل کاله مونږ دوي سره پاتې شولو. د محمدزو بادشاهانو به په پښتنو باندې اعتبار نۀ کولو ځکه چې په کورونو کښې به هر وخت خپلو کښې مشت و ګرېوان وو. چونکې مونږه د بهر نه راغلي خلق وو، په مونږ ئې اعتبار کولو، زمونږه نه ورته څۀ خطره هم نۀ وه. بهرام خان بابا وئیل چې د سیکانو په دور کښې محمدزو بادشاهانو او سیکانو ترمېنځه دا خبره وشوه چې تاسو ته به کشمیر پرېږدو او پېښور زمونږه د یخنۍ دارالخلافه ده، زمونږه قوم دے زمونږه پښتانۀ دي، پېښور به مونږه ته پرېږدئ. بهرام خان بابا ووئیل زما نیکۀ ئې په دې غرض ولېږلو چې پېښور ته لاړ شه، د پېښور، مردان، صوابۍ ملکان او خانان ووینه او د هغوي نه د ځان سره خلق هم راواخله، په پېښور کښې زمونږه د پاره یوه حکومتي ډانچه جوړه کړه.

هغۀ د اووۀ اتۀ کورونو د کډې سره د پېښور، مردان او صوابۍ ملکان او خانان لیدل کتل شورو کړل. چرته لس ورځې مېلمستیا، چرته شل ورځې مېلمستیا، د هغې نه پس هشتنغر ته راغلل. په اتمانزو کښې ئې د محمدزو خواجي خېلو سره ملاقات وشو. د خواجي خېلو مشر ورته ووئیل چې تۀ خو وایې چې د سیکانو سره ټوله مسئله طے شوې ده، د هغوي په ځاے خو انګریزان راغلي دي ناست دي او د ځان د پاره ئې حکومتي ډانچه هم جوړه کړې ده. فوج ورسرہ دے،

ټوپک ورسره دے، توره ورسره ده، آیا مونږه چې پېښور ته ورځو نو مونږ به د دوي سره جنګ کوو او کۀ مونږه ته به هسې حکومت پرېږدي؟ د دې په ځاے په خپله کابل ته لاړ شه، د کابل هغې بادشاه ته دا خبره تر غوږو کړه، چې سیکان خو د پېښور نه تلي دي، د هغوي په ځاے انګرېزان راغلي دي او قابض شوي دي.

بهرام خان بابا وئیل چې زما نیکۀ دغې مشرانو ته ووئیل چې کابل ته نۀ ځم د دې په ځاے پېښور ته انګریزانو له ولې نۀ ورځم. دغې مشرانو ورته ووې انګرېزان په ټوله دنیا خوارۀ دي او هغوي تا نۀ مني او کۀ تۀ ورشې یا به دې بند کړي او یا به دې پانسي کړي. بیا هم هغۀ دا خبره ونۀ منله البته دا ئې ووئیل کۀ زۀ ئې بندي او یا پانسي کړم نو چې تاسو نه ځوک خبر نۀ شي چې دې زمونږه د کورنۍ نه دے او یا ئې دلته کډه پرته ده. لنډه دا چې انګرېزانو له په دې باره کښې د خبرو اترو کولو د پاره پېښور ته ورغے او دا خبرې ئې ورته ترمخې کړې. انګرېزانو ورته په جواب کښې ووې زمونږه خو د کابل بادشاه سره دا خبره طے شوې ده او هغۀ زمونږه د پاره ځوک د خبرو اترو کولو د پاره رالېږلي هم نۀ دي. بهرام خان وائي چې زما نیکۀ ئې په جېل کښې بندیوان کړو. څۀ موده پس جېل کښې په حق ورسېدو. د هغې نه پس چې خواجي خېلو مونږه ته پناه راکړې وه، هغوي زمونږه سره لوښے شریک کړلو. خواجي خېل د دې ځاے په خلقو کښې تور او غنم رنګ خلق وو. مونږه د هغوي ښځې ونۀ کړې او هغوي زمونږه نه ښځې وکړې او مونږه ته ئې هم خواجي خېل ووې، نو ځکه په شاملاتو کښې د ښځو نومونه نۀ وي، د هغې وراثت په سړو پسې خېژي، ځکه زمونږ د مشرانو نۀ په شاملات کښې نومونه شته او نۀ ئې مقبرې شته دے.

یوه بله واقعه:

زهٔ تحصیل ته د خپلو زمکې د معلومات د پاره تلے. وم تحصیل راته وئیل چې مخکښې شجره راواخله ما ورته وې شجره کوم ځائے وي هغهٔ وې د مال خانې سره خوا کښې کوټه ده د هغې نه راواخله. زهٔ چې ورغلم نو په هغه کوټه کښې یو بوډا سړے ناست وهٔ، چشمې ئې اچولې وې اخبار ئې کتلو. ما ورته وئیل زهٔ د غني خېلو شجرې پسې راغلے یم. هغهٔ راته وئیل چې څهٔ سبق دې وئیلے دے ما ورته وې څهٔ لږ ډیر مې وئیلے دے. هغهٔ راته وئیل دا ټول غټ غټ کتابونه د شجرو دي دا راواخله او خپله شجره په کښې ځان له ولټوه. ما چې د ټولو نه د پاسه کتاب راواخستو او په کرسۍ ورته کښېناستم کتل مې په هغې کښې په وړومبۍ صفحه د غني خېلو شجره وه. او په هغې کښې وړومبے نوم هم د شهبازخان وهٔ چې زمونږ د نیکهٔ نیکهٔ وهٔ. ما هغه سړي ته ووې چې دا خو ډېره په اسانه پیدا شوه دا خو په وړومبۍ صفحه باندې وړومبے نوم دے. هغهٔ چشمې کښېښودې او په منډه بهر ته ووتو. دوه تحصیل داران او هغه موجود ګرداوران او پټواریان ئې هم راوستل او ماله ئې د چائې او کېک ووې، ټولو سره ئې زما تعارف وکړهٔ چې زمونږ ځائے ته په وړومبي ځل د شهبازخان نمسے راغلے دے. ما ورته وئیل کاکا په شهبازخان کښې څهٔ چل وهٔ هغه مسکے شهٔ او وئیل ئې چې د هشتنغر یولس زره کسان ئې وژلے وو. ما ورته وې دومره غټ الزام راباندې مهٔ لګوه. هغهٔ وئیل دا خو د فخر خبره ده چې د ټول هشتنغر خلق ستاسو د نیکهٔ په مشرۍ کښې تلي وو او ټول شهیدان شوي وو. مونږ ته د انګریزانو دا حکم وهٔ چې د دوي ټولې زمکې ضبط کړئ خو پټواریان هم ټول د هشتنغر وو او هغه ئې د خپل مشر په حېثیت منلو نو انګریزانو ته به ئې وئیل چې مونږه د

هغوي ټول جائیداد ضبط کړے دے تش په شاملات کښې پاتې دے او د شاملات نه ئې مونږ نوم نۀ شو ویستې. ستاسو د نومونو ساتلو د پاره انګرېزانو ډېر پټواریان د نوکرۍ نه ویستلي دي او سزاګانې ئې ورکړې دي نو کۀ څوک مو پېژني او کۀ نۀ پېژني خو مونږ مو ډېر ښۀ پېژنو او پکار دي چې تاسو هم مونږ وپېژنئ. د نن سبا پټواریان چا سره هېڅ بې هڅه ښۀ نۀ کوي خو مونږ تاسو سره ټول عمر ښۀ کړي دي ځکه چې مونږ ته دا پته ده چې دا د ټول هشتنغر د مشرۍ کور دے.

زۀ د هشتنغر د خلقو په ځان احسان منم، دا شجره د دې د پاره ورکوم چې زمونږ د نیکۀ نیکۀ شهبازخان هغه وخت د هشتنغر مشر وۀ. هغه وخت کښې دا رواج وۀ هر قوم چې به خپل مشر خوښوۀ نو د نغري په سر یو ووټ وۀ. دغسې دغه وخت د ټولو نه زیات ووټونه د غني خېلو وو. مونږ غني خېل یُو او دلته راته خلق ټل صافرخېل وائي. د نغري په سر یو ووټ په حساب د غني خېلو ووټونه زیات وو، دوېم نمبر د پائنده خېلو وو دا دواړه د باقي هشتنغر د ووټونه نه زیات وو. دا دواړه چې یو د پړانګ سره تعلق ساتي او بل د چارسدې سره، چې دواړه د جینډي په غاړه پراتۀ دي. زمونږ نیکۀ شهباز خان د ۱۸۵۷ء جنګ له چې کوم خلق د دې ځاے (هشتنغر) نه د جهاد په نوم تلي وۀ، د هغوي مشري کړې وه او سره د ټولو ورونو په جنګ کښې شهیدان شو. د دوي یو تربور چې په زخمي حالت کښې واپس رارسېدلے وۀ، د پائنده خېلو د مومن خان په ډاګ کښې ئې د ټول هشتنغر جرګه په دې غرض راوغوښته چې حسب وعده د پائنده خېلو نه د ټولو مشرانو په وړاندې نوے مشر خوښ کړو. په هغې کښې ډېر کم خلق راغلل. هغوي د استازو نه تپوس وکړۀ چې دا خلق ولې دومره کم راغلل. په هغه جرګه کښې په حقیقت کښې ۲۲ کسان راغلي وو. هغوي ورته وئیل چې

کومه دروازه ډبوو نو ښځې راوځي او وائي چې سړي جهاد له تلي او واپس نۀ دي راغلي. دغه شان په هغه جرګه کښې د مشر خوښولو څۀ فېصله ونۀ شوه او بلې هفتې ته وځنډولې شوه او صرف دا فېصله وشوه چې بلې جمعې له به د هر کور نه يوه مشره زنانه او د ټولو نه لوے ماشوم راځي او بيا به مشر خوښوو. دغه شان بلې جمعې له د مانځۀ نه پس بيا جرګه وشوه. دا ډېره تاريخي جرګه وه ځکه چې دغه جرګې له ۱۲۰ زنانه هم راغلې وې صرف ۲۲ کسان په کښې لوے وو چې اووۀ (۷) د خواجي خېل، ۷پريچ خېل او اتۀ (۸) د کنال خېل نه وو او درې سوه (۳۰۰) هغه ماشومان هم راغلي وو چې عمر ئې د دولسو کالو نه زيات نۀ وۀ دا ځکه چې د ديارلس څوارلس کالو هلکان هم جهاد له تلي وو او واپس نۀ وو راغلي. مشرانو وئيل چې مونږ خو د پائنده خېلو نه مشرى له سړے خوښوۀ خو د دولس کالو نه زيات ماشوم په کښې نشته. ځنې خلقو وئيل چې دې دويشت کسانو نه يو کس خوښ کړئ ځکه چې هم دا موجود زلمي دي دا مشران دي. خو هغوي وئيل چې دوي جهاد له نۀ دي تلي او زنانوو هم وئيل چې دوي خو جهاد له نۀ دي تلي دوي نه مشر نۀ اخلو. مشر ورته هم ووئيل چې ثوک جهاد له لاړ نۀ شي هغه د مشرۍ قابل نۀ وي البته دا زنانه مو دې له راغوښتې دي چې پښتون لور خور د ورکړو شے ګڼي او چې ثوک ئې په طريقه وغواړي هغوي له ئې ورکوي. خو چې انګرېزانو چاله جائيدادونه ورکړي دي نو دا ټول جائيدادونه دوي زمونږ د دې ځاے د پښتنو نه اخستي او ضبط کړي دي ځکه نو اوس زمونږ زلمي مړۀ دي په دې وجه د دولس کالو نه لوے هلک نۀ وۀ، زمونږ کورنۍ ته مشري پاتې شوه اودا فېصله وشوه چې لس دولس کاله پس به بيا مشر وټاکو. في الحال مشر ځکه نۀ جوړوو چې انګرېزانو له بيا موقعه نۀ ورکوو

چې خپل ماشومان پرې مړهٔ کړو او جائیدادونه رانه هم ضبط کړي دغه وجه وه چې مشري په کوم کور کښې وه هم هغې کښې پاتې شوه.

په دغه زمانه کښې زمونږ په علاقه کښې هوټلې نهٔ وے، چې د یو ځاے نه به څوک راغلل نو تپوس به ئې کوۀ چې د مشرۍ حجره کوم ده؟ یعنې مېلمه به د مشرۍ حجرې ته تللو. هغه د مشرۍ حجره د شهبازخان نه په وراثت کښې مونږ ته پاتې شوې ده او هغه هم دا موجوده حجره ده، دې د مشرۍ حجرې ته به د ټول هشتنغر نه غله راتله. تنګي، عمرزو، اتمانزو وغېره دا ځکه چې د هر ځاے مېلمه به اول حجرې ته تلو، هلته نه به ورسره سړے ملګرے شۀ او بیا به مخکښې په کار پسې ورتلو.

د شهبازخان نیکۀ او د هغۀ د ورونړو نه انګرېزانو ټول جائیداد ضبط کړۀ چې دۀ خو د جنګ مشري کړې ده او د هغه وخت سره بلها قیصې او چاربېتې د شهبازخان په مرګ لیکلې شوې وې چې داسې په نرتوب باندې مړ شوے وۀ. د شهبازخان نمسے چې فریدخان ئې نوم وۀ او زمونږ نیکۀ وۀ۱۹۳۵ء یا۱۹۳۶ء کښې په هندوستان کښې قحط راغلے وۀ غله نه وه، زما نیکۀ سره ډېر زیات غنم وو. هغۀ د پړانګو نه ټول غنم په خرو بار کړل، بابړه، چارسده، د چارسدې نه قاضي خېل رغړې، په خپله به ئې دروازه ډبوله، زنانه نه به ئې تپوس کولو چې په کور کښې څومره کسان دي. د سړي په سر درۍ غنم وو. څۀ وخت چې په قاضي خېلو کښې د غنمو دا وېش کېدۀ نو د هغې سره خوا ته کچرۍ دي، کچرو کښې اسسټنټ کمشنر نه ډپو هولډرز مطابله کوله چې غله پکار ده. هغۀ ورته وئیل چې په هندوستان کښې قحط دے اوړۀ نشته نو یو بیلف (اواز کولو واله، اردلي) ورته ووئیل چې دلته کښې یو خان دے او هغه دې په قاضي خېلو کښې هسې

غنم وېشي. اسسټنټ کمشنر پولیس والا ولېږل چې لاړ شئ او دې ګرفتار کړئ او ماله ئې راولئ. چې هغه ئې راوستهٔ نو کمشنر ترې تپوس وکړهٔ چې تهٔ څوک یې؟ خپلو ټولو ماتحتانو ورته ووئیل چې دا د شهبازخان نمسے دے هغهٔ ورته وئیل چې د شهبازخان نه خو مونږ ټوله زمکه اخستې ده، تا سره دا غنم د کوم ځائے نه راغلل؟ هغهٔ ورته وئیل چې زمونږ د مشرۍ کورنۍ ده د ټول هشتنغر نه خلق زیاتي غنم راوړي ماسره ئې ږدي، نن په ملک کښې قحط دے دا د دې خلقو امانت دے اوس ئې وخت دے چې دا خپل امانت واپس ورکړم. هغهٔ ورته وئیل دوه کاله مې قید کړې او شل کوړې ئې د خلقو مخکښې ووهئ او په ټولو کلو کښې ډنډوره وغړوئ او پولیس واله دې اعلان وکړي کهٔ دهٔ له چا غنم راوړهٔ نو هغه به هم دوه کاله قید وي او جرمانه به هم ورکوي. خو د دې باوجود د ۱۹۴۵ء پورې خلقو دغه غنم، جوار، ګوړه وغیره هرڅهٔ راوړل. خبر د کوړو د پاره ئې خلق راغونډ کړي وو چې د خلقو مخکښې ئې ووهئ. پولیس والوو او ځنې انګرېزانو اسسټنټ کمنشر ته ووئیل چې بوډا سړے دے په کوړو به مړ شي او د شګو بوجۍ پرې وچلوئ. د شګو بوجۍ ئې ډکې کړې او هغه ئې پرې چلولې. ځنې خلق به خوا له ورغلل او د شګو دغه بوجۍ کښې به ئې سُوري کول چې شګه ترې کمه شي او بوجۍ اوړل ورته اسان شي. د دې نه علاوه چې ښځو او ماشومانو به ورته ژړل نو هغهٔ به ورله طبعه تسلي کوله او ورته به ئې وئیل چې خبر دے په غلامۍ کښې داسې کېږي. دا خبره زهٔ ځکه کوم چې د هشتنغر د خلقو هغه احسان اوس هم زمونږ یاد دے.

هشتنغر کښې مزدور کسان پارټي:

افضل خان بنګش او شماس خان چې دجنوبي هشتنغرد مزدور کسان پارټۍ صدروؤ او دبنګش صیب سېکرټري او یو نژدې ملګرے چې ملا کښې ئې غونډ وؤ، د مینې نه به ورته مونږه قوبا وئیلو، زما حجرې ته راغلل او وئیل ئې سباله په لاهور کښې د پارټۍ میټنګ دے او دې نورو ملګرو له مې د موټر چلؤل نهٔ ورځي دې کښې به هم امداد وکړے او په لاهور کښې به د پارټۍ د نورو ملګرو سره هم ملاؤ شې. په لاره مې ورته وئیل چې زما خو دا خیال وؤ چې زمونږه ملګري خو د دې صوبې تر حده پورې دي. هغهٔ ووې په ټول پاکستان کښې زمونږ ملګري شته دے خو د دې صوبې دا ښهٔ فعال ملګري دي او بیا دا تحریک خو ستاسو د هشتنغر نه شورو شوے دے او د ټولو نه ښهٔ او فعال ملګري هم په شمالي هشتنغرکښې دي. ماوئیل دا څهٔ وجه ده چې دشمالي هشتنغرتحریک دټولونه ښهٔ روان شو او څهٔ رنګ روان شولو؟ هغهٔ وئیل چې زهٔ مخکښې د نېشنل عوامي پارټۍ غړے وم چې د نېشنل عوامي پارټۍ د سنټرل کمېټۍ د وېنا مطابق مې یوه کسان کمېټي جوړه کړه چې په کوموعلاقوکښې مالکان دکسانانوسره زیاتې کوي نو مونږ به د کسانانو امداد کوو او هغوي سره د زیاتي کولو مخ نیوے به کوو. د دې دپاره مونږیوائین هم جوړکړو او د دوي په ملګرتیا باندې ډېر کسانان په نېشنل عوامي پارټۍ کښې هم شامل شول ځکه چې زما غوندې وکیلانو به ورله مفت کېسونه کول. په دې دوران کښې د نېشنل عوامي پارټۍ په خپلو کښې الېکشن راغے چې په هغې کښې دجرنل سېکرټري توب دپاره زمااو د اجمل خټک نومونه خلقو وړاندې کړل. ارباب سکندر او الیاس باچه او څنې نورو ملګرو زما د نامې په دې وجه باندې مخالفت وکړلو چې دهٔ د مزدور کسان په نامه باندې بله

پارټي جوړه کړې ده چې د هغې خپل آئین هم شته دے چې دې ئې په خپله مشرد ے. نو یو سړے په دوو تنظیمونو کښې نۀ شي پاتې کېدے اونۀ د دووپارټو عهد پدارکېدے شي. الیاس باچه وئیل چې دۀ له پکار دي چې یوه پارټي پرېږدي. ماجواب ورکړوچې دا تنظیم خو په مابانديِ هم دې پارټۍ جوړ کړے وۀ او د دې ټول غړي کسانان ډېر کلک قوم پرست دي او د نېشنل عوامي پارټۍ غړي هم دي او په ډېره مینه ئې ماته د خپل وکالت په وجه مشري راسپارلې ده. اوس دا رنګه خلق زۀ شنګه په ډاګه پرېږدم خوستاسوهم ډېر مشکور یم چې تاسو په ماباندې د مزدورانوکسانانو د پاره پارټي جوړه کړه، تاسو ته دے د دې پارټۍ جرنل سېکرټري توب مبارک شي، زۀ اوس هم قوم پرست یم بیا به هم قوم پرست یم او تر خپله وسه به تر مرګه پورې د دغه خلقو امداد کوم.

الیاس باچه ډېره موده پس د دې خبرې تصدیق وکړلو چې ولي خان ماته وئیلي وو چې دا یو مضبوط او خُلۀ ور سړے دے، هوښیار هم دے، مونږ د پاره اجمل خټک غوندې سړے ښۀ دے چې مونږ ورته څۀ وایو چې هغه شان کوي.

بنګش ووئیل چې دتنګي د علاقې د کسانانو ټول کېسونه زما تر لاسه وو. دې کښې د واوا خان د کورنۍ د څلور سوو جریبونو کسانے هم وۀ. په دیواني کېسونوکښې تاریخونه ډېرزیات ورکوي. د تاریخونو دپاره به مالک هم راتللو او کسان به هم راتللو. د ډېرو تاریخونو نه پس مالک ډېر په غصه کښې دننه تر مجسټرېټ راغے وئیل ئې چې دا شلم تاریخ دے او دا خوشي تشي مهمندان دې زما مقابله کښې ودرولي دي او فېصله نۀ کوې. اخر زۀ د دې علاقې یو پښتون خان یم ټولو خلقو ته پته ده چې دا زمکه زما ده. ما ورته وئیل خان! دا خبره دوباره وکړه څۀ دې ووې؟ هغۀ دوباره ووې چې زۀ د دې

علاقې خان او پښتون یم. ما وئیل چې خان تهٔ هم واوره او دا مجسټریټ دې هم واوري، زهٔ ستا مخالف وکیل یم او د دوي د کېس واک اختیارزماسره دے، کهٔ تا چرې دا ثابته کړه چې تهٔ پښتون یې نو بیا دا زمکه ستا ده، زهٔ ئې بغېر کېس درته پرېږدم. په هشتنغر کښې محمدزي اباد دي، تهٔ په محمدزو کښې دکوم قوم سره تعلق لرې؟ بیاراته وښایه چې ستا د قوم شاملات په کوم ځائے کښې دے او ستا د قوم مقبره په کوم ځائے کښې ده؟ ځکه چې مقبره هم شاملات دے ده. زهٔ وکیل یم ما ستا د کېس په حواله ټول کاغذات کتلي دي او زماسره اوس هم موجود دي. په دې ځائے کښې خوستاسودخاندان نومونه په شاملاتوکښې نشته اونهٔ ستاسوقبرستان شته. خو خبر دے پښتنو قومونو ټولو د یو ځائے نه تر بله ځایه هجرت کړے دے او دا قامونه د "امو" نه تر "جهلمه" پورې او د "چترال" نه تر "بولانه" پورې پراتهٔ دي، کهٔ ستا قوم بل ځائے هجرت کړے وي او تا په هغه علاقه کښې د خپل قوم نامې او شاملات راپېدا کړل، چې ستاسو قبرستان په کښې هم وي نو تهٔ بې شکه پښتون یې او دا زمکه به هم دغسې تاته پرېږدو. تاخو ووئیل دا خوشي تشي مهمندان دي، د دوي په مهمندو کښې خپل قوم هم شته دے، شاملات ئې هم شته دے او اوس هم خپل مړے د دې ځائے نه مومندو ته اوړي او په خپل قبرستان کښې ئې ښخوي. کهٔ تا چرې ثابته نهٔ کړه چې تهٔ پښتون یې نو دا خو پښتانهٔ دي، بیا دا زمکه دوي ته پرېږده.

خان ووئیل دا خو به زهٔ سبا له ثابته کړم او کهٔ ثابته مې نهٔ کړه نو دا زمکه به دوي ته پرېږدم. مجسټریټ شل ورځې پس تاریخ ورکړلو. د تاریخ نه دوه ورځې مخکښې خان زما تر دفتره راغے، او وې وئیل چې څومره رقم دې پکار وي نو زهٔ به درکړم خو زما حیا راوله. ما

ورته ووې زۀ خو ستا د مخالف فریق وکیل یم او اوس ستا حیا هم په دې کښې ده چې د تاریخ په ورځ راشې او مجسټرېټ ته ترمخه شې چې ما په خپله خوښه دا زمکه دې کسانانو ته پرېښودې ده او کۀ داسې ونۀ کړې نو کېدے شي چې دا نورې زمکې درنه هم لاړې شي.

د دې کېس د کامیابۍ نه پس تقریباً هر کسان په شمالي هشتنغر کښې د خپلو خانانو په زمکو قابض شو، ما ډېرو ته ووئیل چې فقط په هغې زمکو قابض کېږئ چې هغه د نوابانو یا د داسې خانانو وي چې انګرېزانو زمکې ورکړې وي. انګرېزانو درې نسله پښتون چې څوک نۀ وۀ، هغوي له ئې زمکې ورکړې دي، چې چاله انګرېز زمکه نۀ ده ورکړې او په شاملاتو کښې ئې نامه هم شته او قبرستان هم شته، دغه هم ستاسو غوندې پښتانۀ دي. دوي په خپله زمکه باندې خپل سر هم ماتوي او یا به پرې ستاسو سر ماتوي، خو تحریک وۀ چې یو ځل روان شولو نو بیا چا جائز او ناجائز ته نۀ کتل، واړۀ واړۀ مالکان په کښې هم چا ونۀ بخښل. په شمالي هشتنغر کښې په یو تقریر کښې مې یوه ورځ کسانانو ته ووئیل چې تاسو خو دیاړې مارو سره ډېر ظلم کوئ، دوي د خانانو او د خانانو د ناظرانو بلد دي، خانان او د هغوي ناظران په ګوډ چارۍ نۀ پوهېدل او نۀ د څخکورې په وهلو پوهېدل، تاسو خو په خپله دا کارونه کړي دي او په دې کار پوهېږئ، اوس تاسو د مزدور په سر ولاړ یئ څرمن ترې وباسئ. زما په خیال د پښتنو په زمکو ورتلل واړۀ مالکان شوکول او دیاړې مارو او مزدورکارو سره غلطه رویه ساتلو په وجه دا تحریک ختم شو.

د صوابۍ د یو پښتون قیصه ئې وکړه څوک چې د خپل کور ګاونډ سره هر وخت په جنګ او په جدل وۀ. انګرېزانو ووئیل داسې سړے هم زمونږ ملګرے جوړېدے شي. هم په دغه غرض ورغلل، هغۀ

ته ووئیل چې په دې خپله کوټه وخېژه، چې ستا تر کومه حده پورې نظر لګي، ورسره ستا د مخالفو څومره زمکې چې وي هغه ټوله زمکه به تاله درکړو. هغه پښتون انګرېزانو ته په دې باره کښې ووئیل چې تاسو زما دومره خوا خُوږي یئ نو ماله دلته دومره زیاته زمکه مۀ راکوئ، د دې په ځاے په لندن کښې لږه زمکه راکړئ. نو زۀ به ستاسو ډېره شکریه ادا کړم. دلته خو دغه زمکې زما د ورونړو تربورانو زمکې دي، دلته ستاسو څۀ کار نشته، ځکه چې زمونږه دشمني او دوستي په دې پولو جوړېږي او هم په دې پولو ختمېږي. دغسې د ایسټ انډیا کمپنۍ مشرانو انګرېزانو چې څۀ رنګ د هندوستان په نورو صوبو کښې لکه پنجاب، سندھ، بلوچستان کښې خلقو له جاګیرونه او نوابۍ ورکړې دي، دغه شان خبرې اترې ئې د زمکو او جاګیرونو ورکولو پښتنو سره هم شورو کړې وې، خو پښتنو ترې نه انکار وکړو. پښتنو ووئیل چې مونږه خو په پولو او ډېرانونو باندې شل شل کاله د یو بل سره دشمنۍ پالو او چې یو پښتون د بل پښتون زمکه واخلي نو ژوند به څۀ رنګ تېروي؟ انګرېزانو چې دا خبرې واورېدې یو بل ته ئې وکتل او وې وئیل: یو پښتون د بل پښتون زمکه نۀ اخلي هسې به هم دا زمکې مونږه غېر پښتون له ورکوو، د دې ځاے پښتون له به سزا ورکوو.

مونږ ترې نه پوښتنه وکړه اخر کومه سزا او څۀ رنګ سزا به ورکوئ؟ هغوي ووئیل د دوي د ماشومانو نه به پښې لاسونه پرې کوو، د هغه وخت کمشنر ورته واضحه کړه چې دا ظلم زما د لاسه نۀ کېږي. هغوي ورته ووئیل چې زمونږ مطلب د ماشومانو نه لاس پښې پرې کول نۀ دي، بلکې د دوي نه د امدن ذریعې ختمول دي یعني دا زمکې ترې نه اخستل دي او خپلو هغه ملګرو له ئې ورکول دي، څوک چې درې نسله پښتانۀ نۀ وي او چې زمونږه بادشاهۍ له تقویت ورکوي او زمونږ

سره د امداد كولو وعدې وكړې. په دې كښې ايسټ انډيا كمپنۍ هغه زاړۀ كسان چاچې ۱۸۵۷ء نه مخكښې په ايډمنسټرېشن كښې حصه اخستې وه، هغوي ووئيل فكر مۀ كوئ، پښتانۀ هسې هم د يو بل زمكې نۀ اخلي او لا دا ټيپه هم كوي چې مونږ د يو بل پولې ووهو بيا پرې نسل تر نسل د يو بل سره دشمني پالو.

"هشتنغر كۀ خورې او كۀ نۀ خورې بده ئې مۀ وايه" دا خبره ما په بنو كښې د وزيرو مسيدو نه اورېدلې ده. ما به د هر چا نه دا پوښتنه كوله چې دا متل د څۀ د پاره شوے دے؟ او د دې متل پس منظر څۀ دے؟ هغوي به وئيل د هشتنغر وسېدونكے خو تۀ يې پكار دي چې دا معلومات تاته وي.

بيا مې د صاحب الرائې مشرانو نه هم پوښتنه وكړه، خو چا هم مطمئن نۀ كړم. په دې دوران كښې زما ترۀ چې سخر مې هم وۀ خواجه محمدخان، چې د مشرۍ په وجه به ترې نه مونږ ډېر تپوسونه هم كول او د زړۀ مريض هم وۀ، ايل ايل بي ئې د علي ګړه نه كړې وه. د پېښور په وكيلانو كښې د ديوانو ډېر ښۀ وكيل ګڼلے شو. په هغه وخت كښې په پېښور كښې د زړۀ د مريضانو څۀ انتظام نۀ وۀ، هغۀ له ډاكټرانو مشوره وركړه چې د دې د پاره لاهور ته لاړ شه. د هغۀ د زړۀ د ټسټونو د پاره يو زۀ دوېم ډاكټر تاج محمدخان د هغۀ زوے سره د ډرائېوره تر لاهوره روان شولو. تر لاهوره د اتو ګېنټو سفر وۀ، ما د هغوي نه د دې متل په باره كښې پوښتنه وكړه. تر لاهوره ئې ووئيل د دې خبرې خو ډېر اوږد تاريخ دے، زما سره موجوده كتابونه نشته خو چې كومه يو خبره درته كوم د هغې به پوره پوره حواله دركوم. هغوي چې تر لاهوره پورې ماته كومې خبرې بيان كړې، زۀ ئې خپلو لوستونكو ته ترمخه كوم:

په ۱۸۵۷ء کښې په هندوستان کښې ټول مسلمانان راپورته شول د انګرېزانو نه ئې د ځان ازادولو جنګ وکړلو. د هغه جنګ حوالې لارډ کرزن په خپل کتاب کښې ورکړې دي. انګرېزانو د جنګ د خپلو فائدو او نقصاناتو په ۱۸۵۸ء او ۵۹ء کښې خپلو مشرانو ته لندن ته دوه رپورټونه لېږلي وو. هغوي د کمشنرانو په اولني میټنګ کښې چې چارسده د پېښور سب تحصیل دے، چې د هغې نیمه حصه هشتنغر دے او نیمه حصه ئې دوابه ده، د ټولې چارسدې ابادي یو لاکھ نه کمه ده، هشت د فارسۍ لفظ دے اتو ته وائي او نګر ښار ته وائي، نو دا د اتو کلو ښار دے. په دې کښې تقریباً د شپږو زرو خواوشا کورونه دي. هغوي ووئیل زمونږه مشرانو به وئیل د ۱۸۵۷ء په جنګ ازادۍ کښې به مونږه مړے په اړخ اړولو او د زخمیانو نه به موتپوس وکړو چې دا د کوم ځائے دے هغوي به ووئیل دا د هشتنغر دے. د ۱۸۵۷ء او ۵۹ء په رپورټونو کښې ئې څۀ دا رنګ تفصیل ورکړے دے چې څومره پښتانۀ، د کوم کوم ځائے نه په مونږ پسې د جنګ د پاره راغلي دي، د هشتنغر نه ۱۱۰۰۰ کسان، په دې کښې د ویزرو مسیدو نه ۵۰۰۰ کسان، د مهمندو نه ۳۰۰۰ کسان، د مردان صوابۍ نه ۲۵۰۰ کسان، د پېښور نه ۲۷۰۰ کسان، بنو نه ۲۲۰۰ کسان، د سوات بونېر نه ۲۵۰۰ کسان، دوابې نه ۲۰۰۰ کسان. هغوي به وئیل دا څۀ رنګ لېوني دي چې د شپږو زرو کورونو نه په مونږه پسې ۱۱۰۰۰ کسان د جنګ د پاره راغي؟

دهغې نه پس دبرطانیه حکومت دافیصله وکړه چې هندوستان د سرو زرومرغۍ ده، دلته به باقي حکومت مونږه په خپله کوو. د هغې نه پس دبرطانیې حکومت دملکې په نوم جوړشو.هغوي ایډمنسټرېشن ښۀ کولو دپاره هندوستان په ډویژنونوکښې تقسیم کړواو د هریوډویژن ئې یو

یو کمشنر مقرر کړو. په پېښور د وړومبي کمشنر د خُلې وېنا ده چې انګرېزانو به وخت په وخت مانه د هشتنغر تپوسونه کول، چې هشتنغر څۀ ته وائي؟ هشتنغر کوم ځائے دے؟ او په هشتنغر کښې ابادي څومره ده؟ او کورونه ئې څومره دي؟ هم دغه کمشنر ته خپل مشر ووئيل چې ستا د خُلې وېنا ده، چې هشتنغر د اتو کلو ښار دے، پکار دي چې دلته اتۀ خانئ او نوابئ جوړې کړې، نو د ایسټ انډیا کمپنئ کسانو ورته ولیکل چې موجوده خو مونږه پنځۀ نوابئ جوړې کړې دي. په دې کښې څلور نوابان غېر پښتانۀ دي او یو په کښې نسلي پښتون دے لکه درانیان. اوس ستاسو خوښه ده کۀ دا نوابئ ترې نه واپس اخلئ او کۀ نۀ اخلئ. مونږ په دې مصلحت دا نوابئ ورکړې دي، کۀ د دې درانیانو د کورونئ نه یو سړے راپاڅي او ټولو پښتنو ته بلنه ورکړي چې راځئ د انګرېزانو خلاف جنګ کوو، نو پښتانۀ اوس هم دوي خپل مشران مني، نو هر وخت د دوي سره راپاڅي. مونږ په دې زمکو باندې دوي غلي کړي دي. هغه مشر انګرېز ورته ووئيل میاګان، سېدان خو دا خلق هم د اسلام په نامه راپاڅولے شي دوي له به هم څۀ نه څۀ ورکول پکار وي. نو ایسټ انډیا کمپنئ والا ووئيل سوچه سېدان خو ډېر سخت دي لکه د پښتون زمونږ د لاسه یو څیز هم نۀ اخلي. البته پیرانو، میاګانو له مونږه څۀ نه څۀ په ښو ښو ځایونو کښې زمکې ورکړې دي، مونږه خوشحاله ساتلي دي. بیا د چارسدې څلور کسان نور لکه باچاخان کورنئ، د شېرپاؤخان کورنئ، د واوا خان کورنئ، هغوي ووئيل دا خو اتۀ کلي دي. بیا ئې درانیانو ته چارسده خاص او د نیستې مېره، باچاخان ته اتمانزي او د اتمانزو مېره، شېرپاؤخان ته شېرپاؤ او د شېرپاؤ مېره، د عباس خان او مېجر مختیار مشرانو ته پړانګ او د پړانګو مېره، وا وا خان ته تنګي او د تنګي مېره، د اکرم خان مشرانو ته عمرزئي او د عمرزو مېره، دا ئې هم ووئيل د تنګي علاقه زیاته ده، دا به

دوه خانۍ کړو د واوا خان رشته دارو ته هري چند مندڼے حواله کړو چې د تنګي د زمکو حصه ده. د دوسهرو طرف ته ئې داسې کورنۍ پېدا نۀ کړه، چې دري نسله پښتون نۀ وي نو هغه زمکه ئې د مردان نوابانو ته حواله کړه.

د باچا خان د دې دومره مخالفت باوجود د باچا خان د کورنۍ نه یو جرېب زمکه چا اخستې نۀ ده او نۀ کمه شوې ده. البته وخت په وخت دانعامونوپه شکل زمکه ورکړې شوي ده او زیاته شوې هم ده. کۀ دبهرام خان نیکۀ ته انګرېزانوزمکه ورکړې ده، نود باچاخان پلار بهرام خان ته د انعام په شکل کښې چېرمېني او ورسره د چېرمېنۍ زمکه هم ورکړې شوې ده، چاچې انګرېزانو سره د ۱۸۵۷ء په جنګ ازادۍ کښې ملګرتیا کړې ده. د هغه ملګرتیا په عوض کښې چې د چارسدې کومو خانانو له زمکې ورکړې شوې دي، هغه د عجائب ګهر سره په خوا کښې د آرکائیوز په لائبرېرۍ کښې په فهرست کښې موجود دي.

دي پهټان:

اولف کیرو د پېښور وروستنے ګورنر وۀ چې پښتنو سره ئې بې انتهامینه وه او دپښتنود تاریخ په باره کښې ئې ډېرې ښکلې ښکلې او تاریخي قیصې لیکلي دي، کتابي شکل ئې ورکړے دے. د دۀ د دې کتاب په قیصو باندې یو ډېر ښۀ وکیل او یو ډېر ښۀ پښتون محقق، شاعر، ادیب دوست محمدخان کامل صاحب دا یوه خبره په ګوته کړې ده. هغه دا چې انګرېز په پښتنو کتاب ولې لیکي؟ د دې خبرې په حواله زۀ وایم چې دغه انګرېز له داد ورکول پکار دي، چې هغۀ خپل قیمتي وخت دپښتنودتاریخ لیکلو دپاره وویستو او دوست محمدخان کامل غوندې ښۀ وکیل او یو ښۀ پښتون دانشور ته ئې دا موقعه ورکړه چې هغه دې په دې کتاب پسې د پښتنو نور تاریخ هم وګوري.

اروابناد دوست محمدخان کامل د یو وکیل په حېث د سر اولف کیرو ډېرې خبرې غلطې ثابتوي. یوه ورځ په دیر کښې د ایف سي په لائبرېرۍ کښې "دي پهټان" په نوم یو بل کتاب مې ولوستلو خو دا کتاب اولف کیرو نۀ دے لیکلے. ځکه چې دا کتاب په ۱۹۰۵ء کښې د دوو پېرنګیانو د شلو کالو د تحقیق وروستو لیکلے شوے دے. چې د امو دریاب نه راواخله تر جهلم دریاب پورې ټول قومونه د کوم ځاے نه راغلي دي او د کله نه دلته اباد دي او د دوي یو تربله کومې کومې دشمنۍ دي او په کومو کومو ډلو کښې تقسیم شوي دي.

د هغه کتاب په سرنامه کښې د کتاب لیکونکے لیکي چې دا کتاب به فقط انګرېزان یعني اېګزېکټیو افسران ګوري، هندوستانے سړے به دا کتاب نۀ ګوري. دا کتاب د انګرېزانو په لائبرېرۍ کښې پروت دے. زمونږ فوج تر اوسه پورې د انګرېز وفادار دے، ډسپلن هم هغه دانګرېزانوساتي، چې دوي په دغه کتاب دغه سرخط ولولي نو زر هغه کتاب بند کړي. حالانکې د دې دوو کسانو ریسرچ په هندوستان د انګرېزانو حکومت مضبوطوي. دوي د پښتنو په علاقو کښې پښتانۀ خپلو کښې جنګول، دوي ته خپلې زړې دشمنۍ راتازه کول، د دوي ترمېنځ قبیلوي جنګونه تازه کول یو ډېر بنۀ کوشش دے.

د دې کتاب نه د افغانستان او پښتنو په لړ کښې ګڼ شمېر معلومات تر لاسه کېدے شي. زمونږ د محمدزو په لړ کښې وائي چې په قندهار کښې د دوو قبیلو تر مېنځ د جګړې په ترس کښې مشرانو محمدزي د قندهار نه د هشتنغر سیمې ته راواستول. په دغه کتاب کښې لیکلي شوي دي چې د محمدزي د قندهار نه د دې هشتنغر سیمې ته د نن نه یعني ۱۹۰۵ء نه اوونیم سوه کاله اګاهو راغلي دي.

دعلامه مشرقي يوه انټرويو:

په ۱۹۲۰ء او ۱۹۲۱ء کښې يوه رساله چاپ کېدله چې د هغې نامه "دهقان" يا "زميدار" وه. په هغې کښې د خاکسارو د مشر په حواله پوښتنه وشوه. چې په دوېم جنګ عظيم کښې انګرېزانو دا وعده کړې وه هرکله چې مونږه جنګ وګټو نو هندوستان به ازادوو. هر کله چې هندوستان ازاد شي نو حکومت به پرې څوک کوي؟ علامه مشرقي صاحب ووئيل چا چې قرباني زياته ورکړې وي، چا چې د ازادۍ په هلو ځلو کښې برخه اخستې وي. سوال کوونکي ووئيل دا خو به هرسړے وائي چې ما قرباني زياته ورکړې ده. د دې خبرې به څۀ پته وي او ثبوت به ئې څۀ وي؟ علامه صاحب ورته د چيف سېکرټري يو خط وښودلو کوم چې په برطانيه کښې هغۀ هوم سېکرټري ته ليکلے وۀ، د ليک نمونه دا وه چې: ما په هندوستان کښې د انګرېز د تاج خلافت کولو والاپنځوس زره کسان بنديوان کړل او بيا د هغه بنديوانو لسټ يعني د هرې صوبې نه چې څومره کسان نيولي شوي دي لکه د يو پي نه دوه سوه کسان، د مديه پردېش نه درې سوه کسان، د پنجاب نه پنځۀ سوه کسان، د بنګال نه اتۀ سوه کسان او په اګره کښې د شمال مغربي صوبې نه يو کم دېرش زره کسان چې په برېکټ کښې ورسره ليکلي شوي وو چې دا په هندوستان کښې د ټولو نه وړه صوبه ده، په هغه وخت کښې ئې بلوچستان له د صوبې حېثيت نۀ وۀ ورکړے.

علامه صاحب واضحه کړه چې په پنځوسو زرو کسانو کښې د ټول هندوستان يويشت زره کسان دي او زمونږ د دې وړې صوبې نه يوکم دېرش زره بنديان دا ثابتوي چې د ټول هندوستان په اقتدار کښې او په حکومت کښې زمونږه اتۀ پنځوس فيصه حصه ده. نو په هندوستان کښې زمونږه هم دغسې حصه پکار ده او کۀ د تش

پاکستان خبره راواخلو نو بیا خو زمونږ پنځۀ کم سل فیصه حصه رسي. د بده مرغه کۀ مونږ په پاکستان کښې د ابادۍ په حساب دیارلس نیم فیصده یو. د پاکستان د جوړېدو نه پس مونږ ته په یو څیز کښې دیارلس فیصده حصه هم نۀ ده ملاؤ شوې او بیا په هشتنغر کښې د ۱۸۵۷ء په جنګ ازادۍ کښې چې هشتنغر کومه برخه اخستې وه، د هغه وخت نه راواخله تر دې ساعته پورې خصوصي سزا هشتنغر ته ملاوېږي. دا ځکه چې په هشتنغر کښې کومو اتو کورونو ته د انعام په شکل کښې خانۍ او نوابۍ ورکړې شوې دي، د هغې کورنو نظام تعلیم طبقاتي په وجه په خپلو بچو تعلیمونه وکړل. څوک انجنئران شول، څوک ډاکټران شول، څوک سي ایس پي افسران شول، څوک د فوج، پولیس او ایف سي جرنېلان شو او چې کوم په دغه کورونو کښې نالائقه وو هغه زمونږه سیاسي مشران شو. آیا ټول عمر به دغه نالائقه د خانۍ او نوابۍ په نامه په اسمبلو کښې ناست وي؟ زمونږ د پاره به قانون جوړوي یعني په چا چې په ټول عمر کښې تکلیف نۀ وي راغلے هم هغه خلق به قوم له د تکلیف ختمولو لارې لټوي؟

د هشتنغر قومي مشران او د هغوي قربانۍ:

څوک چې دې خاورې زېږولي دي د خپلو پلرونو په ادیرو کښې ښخ دي. په ۱۸۵۷ء کښې چې د هشتنغر کوم یولس زره کسان د جنګ ازادۍ د پاره تلي وو، په هغې کښې درې درې نیم سوه کسان په داسې زخمي حالت کښې راغلي وو چې څوک دلته لږې ورځې وروستو په حق ورسېدل او څوک میاشت پس په حق ورسېدل. دا یولس زره کسان د شهباز خان په مشرۍ کښې د جنګ ازادۍ د پاره تلي وو.

شهبازخان د پړانګو وسپږدونکے او د غني خېلو مشر وۀ، چې د انګرېز مخالف په جنګ ازادۍ کښې سره د ورونو شهيد شوے وۀ. پخوا په هشتنغر کښې د پښتنو دا رواج وۀ چې د قوم مشر به جوړېدۀ د هغۀ د پاره به د انغري په سر يو مشر وۀ او د هغۀ به يو ووټ وۀ. دغه شان د انغرو تعداد زيات د پړانګو د غني خېلو وۀ او دوېم نمبر د انغرو تعداد د چارسدې د پائنده خېلو وۀ، چې يو ځل مشر به د غني خېلو وۀ او چې هغه به په حق ورسېدۀ نو بيا به د پائنده خېلو نه مشر جوړېدۀ. دغسې د اتمانزو، عمرزو، تنګي ملکانو چې به وکتل چې دا خو دوه قومونه دي او زيات هم دي نو مشري به ئې دوي ته پرېښودہ. په دې دواړو ځايونو کښې د شهبازخان يو د ترۀ زوے په زخمي حالت کښې د ازادۍ د جنګ نه راغلے وۀ. هغۀ د منيرخان په ډاګ کښې د جينډي په غاړه د پائنده خېلو په ډېره کښې د ټول هشتنغر يوه جرګه رابللې وه، چې د جنګ ازادۍ نه پس هشتنغر ته کوم حالت پېښ دے په هغې فېصلې وکړي او بل د شهباز خان د شهادت نه پس پائنده خېل خپل مشر مقرر کړي. دغه جرګه د جمعې په ورځ د ماسپښين د مانځۀ نه پس رابللې شوې وه. خو په دغه جرګه کښې په ډېر کم تعداد کښې خلق راغلل. سوال جواب د پاره چې کوم استازي لېږلي شوي وو د هغوي نه دا پوښتنه وشوه چې خلق په کم تعداد کښې ولې راغلي دي؟ هغوي ووئيل چې د کوم کور دروازه مونږ وهلې ده، نو د هغې کور ماشوم يا زنانه به وئيل زمونږ د کور کسان د جهاد د پاره تلي دي لاواپس نۀ دي راغلي. دغه جرګه دوباره دغه مشرانو بلې جمعې له مقرر کړه، ورسره ئې دا جواب هم ولېږلو چې په کوم کور کښې يو سړے هم پاتې شوے نۀ وي نو د هغه کوره دې ماشوم يا زنانه په پرده کښې راشي. د پښتنو په تاريخ کښې ځکه دا جرګه د اهميت وړ ده چې د دې د پاره په هغه

وخت کښې شپږ شلې زنانه او درې سوه ماشومان راغلي وو. په دې جرګه کښې اول د مشر د خوښېدو خبره وړاندې شوه. د غني خېلو هغه مشر چې په زخمي حالت کښې ئې په کټ کښې راوړے وۀ، هغۀ پائنده خېلو ته ووئيل تاسو خپل مشر خوښ کړئ ځکه چې ستاسو د مشر خوښولو وار دے. هغوي ووئيل زمونږ مشران خو ټول مړۀ دي او ماشومان پاتې دي، هغوي مشري کولے نۀ شي. بيا ئې نورو مشرانو ته ووئيل تاسو خپل مشر مقرر کړئ. د پريچ خېلو يو مشر ووئيل زمونږ د لوري جنګ ختم شو خو د انګرېز اصلي جنګ اوس شورو شولو او په دې وخت کښې مشر خوښول د خپله لاسه خپل مشر پانسي کول دي. انګرېزانو مخکښې هم زمونږ نه جائدادونه اخستي دي او کۀ دوباره راشي نو د دې جنګ وټ کټ به زمونږ نه وباسي. د دې خبرې نه پس ئې نورې فېصلې د ليکلو په شکل کښې محفوظ کړې، چې هغه فېصلې د احمدخان اخونزاده سره تر څو کالو پورې پرتې وې، د هغې نه پس ئې د پړانګو ميراحمد استاذ ته حواله کړې، چې د صفدر الېکټريشن پلار وۀ. د هغه ليکلو فېصلو کاغذونه ئې ماته ښودلي وو. د صفدر استاذ د مرګ نه پس مې څو وارې کوشش وکړو چې زامن ئې هغه کاغذونه راکړي، خو هغوي رانۀ کړل. په دغه فېصلو کښې ساده ساده خبرې ليکلې شوې وې، چې انګرېزانو جنګ وګټلو او مونږه جنګ بائېلو. انګرېزانو زمونږ نه مخکښې هم زمکې اخستې وې او خپلو ملګرو وفادارو له ئې ورکړې دي. اوس به نورې زمکې هم زمونږ نه اخلي او هغو خلقو ته ئې ترلاسه کوي چې څوک ورسره ملګرتيا کوي او الحمدالله په هشتنغر کښې داسې څوک نشته چې د بل پښتون زمکه ئې ترلاسه کړې وي.

انګرېزان هم د بهر نه راغلي خلق وو او دلته چې په چا ئې زمکې وېشلي دي هغوي هم د بهر نه راغلي خلق دي. انګرېزانو ځان سره د خپل وطن نه زمکې نۀ دي راوړې، ځومره زمکې چې دلته دي دا ټولې زمونږه دي. دا بېله خبره ده چې انګرېزان او د هغوي ملګري مضبوط دي او مونږه کمزوري يُو. هر کله چې مونږ له خدا ے پاک وس راکړي نو د دوي نه به دا خپلې زمکې اخلو. په دغه کاغذونو کښې د جرګې دغه مشران ليکي، چې د دې جرګې د پاره زنانه مونږه ځکه راغونډتلې وې چې لور خور هم د ورکولو شے دے چې ځوک ئې په صحيح طريقه غواړي هغۀ له لُور خور مونږه ورکوو. خو چې دلته انګرېزانو چا له زمکې ورکړې دي، هغوي له به لور خور نۀ ورکوو او نۀ به ترې نه په خپله لور خور کوو. هسې نه چې د دوي بچي مونږه ته ماماګان ووائي بيا به زمونږه لاسونه د دوي ګرېوان ته نۀ رسي.

د الله تعالى بې انتها شکر دے چې دغه اتو کورونو د دې مجبورۍ د لاسه په خپلو کښې ورکړه راکړه کړې دي يعني د مردان نوابانو د يو بل سره رشتې کړې دي خو د هشتنغر په پښتنو کښې د دوي رشتې نشته يعني دغه خلقو به د دې ځا ے خلقو سره غم ښادي نۀ کول. د دغه خلقو د دې خبرو مونږه سره ژوندي مثالونه پراتۀ دي. د مثال په توګه د پړانګو يو خان چې نوم ئې نثارخان وۀ انګرېزانو ورله زمکه ورکړې وه. کله چې هغه په حق ورسېدۀ ځوک ئې هم قبر کسنتو د پاره نۀ تللو اخر دا چې قبر ئې ورله په کرايۍ وکنستلو او په جنازه کښې ئې هم ځوک نۀ وو.

يو بل خان صحبت خان چې انګرېزانو دۀ له هم زمکه ورکړې وه په پائنده خېلو کښې ئې يوه جينۍ خوښه شوه. صحبت خان د دې جينۍ په سرو زرو کښې د تللو وعده وکړه او په زرګونو جريبه زمکه

ئې ورته هم سپارله خو د جینۍ پلار د لور ورکولو نه انکاري وۀ. د هغه وخت نوابان د جینۍ پلار له په جرګه کښې راغلل، کۀ دا لور دې صحبت خان له ور نۀ کړه نو د دې غمه به مړ شي. په دې کښې د تنګي یو نواب د جینۍ پلار ته ووئیل کۀ د صحبت خان دغه زرګونه جریبه زمکه درته کمه ښکاري نو دوه زره جریبه زمکه به درته زۀ هم درکړم. د هغې جینۍ پلار ورته واضحه کړه چې پخوانو مشرانو مونږه ته لیکلي پرېښې دي چې چاله انګرېزانو زمکې ورکړې دي هغوي له به لور خور نۀ ورکوئ او نۀ به ترې نه لور خور په خپله کوئ. او دا زمکې چې تاسو له انګرېزانو درکړې دي دا زمونږه د ورونړو عزیزانو زمکې دي، خو اوس زمونږه وس نۀ رسي کۀ خدائے پاک مونږ له وس راکړو بیا به دا زمکې تاسو سره نۀ وي او دغه لور ما خپل هغه ورارۀ له ورکړې ده څوک چې په خر باندې ماله پټي ته ډېران راوړي. صحبت خان د غمه مړ نۀ شو خو شاعر شو دا قیصه ماته فرید صحرائي کړې وه چې د هغۀ مشرانو زنانو به هغه وخت پښتنو له رشتې کولې.

احمدشاه ابدالي او قېس عبدالرشید:

د کابل او پېښور شاعرانو دوه بادشاهان د پښتو ژبې په قیصو، چاربېتو او بدلو کښې بې انتها نمانځلي دي. اولف کیرو هسې نۀ دي لیکلي چې ما د پښتنو تاریخ د شاعرانو د قیصو، چاربېتو او بدلو نه لیکلے دے.

د پښتو په فولکلوري قیصو کښې د قېس یوه مشهوره قیصه ده، چې دې پوره یوه میاشت کور ته نۀ تلو، د دۀ په کور کښې یوه قدرمنه پښتنه او قابله مور وه، هغې په دۀ پسې جواب ولېږلو چې کور ته نۀ راځې؟ ولې دۀ ووئیل مور ته مې ووایه وزګار نۀ دے. د ټول کابل

نه چاپېره دېوال وهي چې ملک او قوم یعني ټول پښتانۀ او د هغوي بچې د خطرې نه بچ شي.

په دې باره کښې ئې مور ووئیل یواځې د کابل قوم او د هغوي بچې ستا قوم او بچې نۀ دي، د امو نه راواخله تر جهلمه پورې دېوال چاپېره کړه چې ټول پښتانۀ او د هغوي بچې د خطرې نه بچ شي او یا دا اراده ترک کړه ځکه چې د کومو خلقو دېوالونه مضبوط وي د هغوي زړونه کمزوري وي، هغوي د ملک او قوم دفاع نۀ شي کولے.

قېس عبدالرشید چې د قومونو ترمېنځه د انصاف کومې فېصلې کړې دي یعني صحیح د زمکو وېش ئې کړے وۀ په هغې ترې نه تمام قومونه ډېر خوشحاله وو. د دغې خوشحالۍ نه ورله دغې قومونو په سر د په سرولو د پاره د سرو زرو تاج جوړ کړلو. دغه قومونو ووئیل چې څومره بادشاهان تېر شوي دي، د هغوي په سرونو ذاتي د سرو زرو تاجونه پراتۀ وو او مونږ د خپل طرف نه د خپلو قومونو د طرف نه د سرو تاج دوي ته په سر ږدو. قېس عبدالرشید چې واورېدل او پوهه شو نو دې قومونو ته ئې ووئیل ډوډۍ وخورئ او په دې باره کښې به زۀ د خپلې مور نه پوښتنه کوم، ځکه چې هغه په هره فېصله کښې زما سره ملګرتیا کوي. هر کله چې قېس عبدالرشید مور ته دا خبره تر غوږو کړه، مور ورته ووئیل بالکل دا صحیح خبره ده چې د ټولو بادشاهانو سرونه سرو زرو ته ښکته شوي دي. د پښتنو ملکانو مشرانو او قومونو په ډېره مینه او د زړۀ په اخلاص تاد پاره دا تحفه راوړې ده، تاله پکار دي چې په ډېر اخلاص د زړۀ د کومې نه د هغوي شکریه ادا کړې. بیا ورته ووایه زۀ د پښتنو ملکانو مشر یم، خدائے پاک دې د پښتنو او ملکانانو د مشر سر دومره سپک نۀ کړي چې هغه

دې سرو زرو ته ښکته شي، د هغې نه پس دا روايت مشهور شولو چې د مشرانو مشر ته ئې امير ووئيل.

دا هم د تاريخ په پاڼو کښې ليک دي چې د هندوستان مسلمانانو دافغانستان مشرانوته خطونه ولېږل په هغه خطونو کښې دا ليک ووچې تاسوخومونږه په هندوستان کښې مسلمانان کړو مهرباني وکړئ اوس خو زمونږ دومره پوښتنه وکړئ چې په دهلي او په اګره کښې مرهټاهندوان په مونږباندې ځومره ظلمونه کوي. کۀ تاسو غېرت مند مسلمانان يئ نو زمونږه تپوس وکړئ. د افغانستان په مختلفو قومونو باندې دا خطونه تقسيم شول. د هغې نه پس د افغانستان دغه خلقو يوه جرګه راوغوښته، په دې غرض چې هندوستان ته د تلو د پاره ځوک مشر مقرر کړي، چې هغه په هندوستان حمله وکړي. هندوستان ته ځوځو ځله پښتانۀ مشران تلي دي، د دهلي تخت اخستل ورته ډېر اسان ښکارېدل او هندوستان هسې هم د سرو زرو مرغۍ وه، د مال غنيمت ډېرې موقعې په کښې په لاس راتلې ځکه د دې جرګې په مشر خوښولو باندې پوره يوه مياشت ولګېده. بلکې د هر قوم به دا کوشش وۀ چې زمونږ د قوم نه دې د دې ډلې مشر جوړ شي. يعني شپه ورځې په دې هلو ځلو کښې لګيا وو چې مشران دې زما مرسته وکړي او بل به وئيل چې مشران دې زما مرسته وکړي. د احمدشاه بابا پلار وفات شوے وۀ چې کوم د دې قوم مشر وۀ په زلميتوب کښې دۀ ته د دې قوم مشري ترلاسه شوې وه. دې به دغسې په مشرانو ګرځېدۀ خو دا ئې نۀ وئيل چې زما د مشرۍ يا د فلاني د مشرۍ مرسته وکړئ. البته دا ئې ووئيل چې زر ترزه دا فېصله وکړئ چې په هندوستان ورځو چې دغلته د دغه مسلمانانو تکليفونه ختم کړو. اخر دا چې فېصله د هغې قوم په مشر وشوه چې ځوک په تعداد کښې زيات وو. کوم مشر چې وټاکلے

شو هم هغهٔ ووئیل د هندوستان د مشرۍ د پاره ډېرو زور لګولے وهٔ سپوا د احمد شاه نه ځکه چې دې لانوے زلمے دے. مشري هم داسې چاته حواله کول پکار دي چې هغه تورزن هم وي او ځوان هم وي او بهادر چې د مشرۍ غوښتنه ئې کړې نهٔ وي. هغهٔ د احمدشاه په پټکي کښې د غنم یو پلے کښېښودهٔ او دا ئې ووئیل چې دا جهاد دے او زهٔ هم درسره ځم او دا ټول مشران به هم درسره ځي او د جنګ مشري به احمد شاه کوي.

لنډه دا چې احمد شاه سره د ډلې هندوستان ته روان شو. د جهلم د بېړو د پُل نه دې خوا ته ئې خپل فوج له دمه ورکړه او بیا ئې ټول فوج ته دا وېنا وکړه چې مونږ خو د دهلي د تخت د اخستو د پاره ځو، د دې نه اخوا ته پردے وطن دے کهٔ مونږه د دهلي د تخت په اخستو کښې کامیاب نهٔ شولو او واپس راتلو خبر دے کهٔ نوره علاقه پاتې شي خو د جهلم نه دا ښکته وطن به په یو شکل نهٔ پرېږدو. ځکه چې د امو د دریاب نه راواخله تر جهلم دریابه پورې د افغان قومونه اباد دي. تر هغې حده پورې کهٔ په مونږ کښې یو فرد ژوندے پاتې شي نو د جهلم نه شاته ځاے به نهٔ پرېږدو. د هندوستان جنګ ګټل خو یوه تاریخي خبره ده خو احمدشاه د دهلي په تخت باندې خوشحاله نهٔ وهٔ. هغهٔ وئیل حکومت به د کابل نه په دهلي کوم خلقو ورته وئیل دهلے خو د سرو زرو مرغۍ ده، دا تخت ولې پرېږدې؟ احمدشاه بابا د دغه موقعې په مناسبت دا شعر ووئیلو:

د ډیلي تخت هېرومه چې رایاد شي
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

د دې دوو بادشاهانو مثالونه ځکه د ستائنې وړ دي چې دا دواړه د پښتنو هغه بادشاهان دي چې دواړو بادشاهۍ له او تخت و

تاج له لته ورکړې ده. هم د دوي نه روايت دے چې پښتانۀ ټول عمر بادشاهان جوړوي خو بادشاهي کولو والائۀ دي ځکه چې د دې درېرده د پښتنو د زرګونو کالو رسمونه رواجونه پراتۀ دي. دوي د هر بادشاه د ازادۍ نفي کوي چې په کوم ځاے کښې بادشاه وي هلته به غلام ضرور وي او د هر پښتون ذهن غلامي نۀ مني ځکه بادشاهي د دۀ په ذهن کښې غلط فعل ګرځي.

ايران او يونانيان:

په ټوله دنيا کښې دا دوه لوے طاقتونه وو. دوه نيم زره کاله مخکښې د جنګ په دوران کښې به دواړو ملکونو د جنګ د پاره په قيمت خلق اخستل. يو فريق به وئيل چې زما ډله دې زياته شي، بل فريق به وئيل چې زما ډله دې زياته شي. دغه شان په افغانستان کښې به هم د دواړو فريقو آستازي ګرځېدل چې کوم مشر به په اسونو، اوښانو، سرو زرو باندې راضي شولو نو هغۀ به د خپلې قبيلې نه ورسره ځوانان ولېږل. د ځينو قبيلو به د ايران سره خبره وشوه، د ځينو قبيلو به د يونان سره خبره وشوه. دا جنګونه به د عربو او د روس په زمکه کېدل. جنګ به خامخا يو فريق ګټلو. په کوم فريق کښې چې به افغانان تلي وو او هغوي به واپس راتلل، اوښان، اسونه، هلکان، جينکۍ به ئې هم د مال غنيمت په شکل کښې راوستل. چې هرکله به د افغانستان په خاوره کښې داخل شول نو خلقو به ترې نه تپوسونه کول چې د دې هلکانو جينکو لاسونه تاسو ولې تړلي دي؟ دوي به ورته ووئيل مونږه دوي غلامان راوستي دي، دا مال غنيمت دے او په جنګ کښې ګټلے شوے مال دے. چونکې په افغانستان کښې د بادشاهۍ او غلامۍ دواړه نظامونه نۀ وو، هرکله چې به دا لاس تړلي

غلامان مشرانو ته حواله کړے شول، مشرانو به ئې لاسونه پرانستل. هغه مشرانو به ووئیل انسان خدا ے پاک د غلامۍ د پاره پیدا کړے نۀ دے، د مال غنیمت جینکۍ به ئې خپلو هلکانو ته وادۀ کړې او هلکانو له به ئې خپلې لوڼه خوېندې ورکړې. مطلب دا چې دا د ښو تهذیبونو نه راغلي خلق دي چې په افغانستان کښې پاتې شي او په ازاد ماحول کښې ژوند تېر کړي چې د دغې ښو تهذیبونو ګټه د افغانستان خاورې ته اورسي. دې خلقو ته به هم دا پته ولګېده چې پښتانۀ ترخپله مېنځه غلام نۀ پرېږدي نو دلته کښې به څوک بادشاهي څنګه کوي؟

په دغو کښې هوښیار او باتهذیبه خلقو به پښتانۀ د ځان سره روان کړل او تمام هندوستان به ئې پرې باندې ونیوۀ. پښتنو چې به جنګ وګټلو چې څۀ مال غنیمت به ورته ملاوېدلو هغه به ئې د ځان سره کړل او ترخپل وطن به واپس راغلو او دې خلقو به هلته کښې خپله بادشاهي قایمه کړه. د هندوستان د خلقو نه به ئې فوج جوړ کړلو، هم به ئې پرې ځان ساتلو او هم به ئې پرې خپله بادشاهي مضبوطوله، ځکه چې په هندوستان کښې د بادشاهۍ او غلامۍ رواج وۀ.

قطب الدین ایبک په هندوستان کښې سلیب ډائنستي یعني د غلامانو خاندان سل کاله خواوشا په هندوستان باندې بادشاهي کړې ده. یو مینار ئې جوړ کړے دے چې په قطب مینار باندې مشهور دے. کوږ دے خو لاتراوسه پورې ولاړ دے او د دنیا په نوادراتو کښې دے، یعني پښتنو چې کوم غلامان په خپله زمکه په ازاد ماحول کښې پاللي وو، هغه خلق د هندوستان بادشاهان شول.

زما خیال دے چې دغه خلقو په دغه وخت کښې هم پښتنو سره یوه خوږه غوندې دوکه کوله. د دوي افغانستان ته د راتګ نه

مخکښې د افغانانو د جنګ اړخ هغه وۀ یعني دوي به د جنګ د پاره ازبکستان، تاجکستان چې په هغه وخت کښې ئې ورته ثمرقند بخارا وئیل، د غنیمت شوق ئې د دغه اړخونو نه پوره کولو. دې خلقو د افغانانو د مال غنیمت د شوق مخ هدوستان طرف ته وګرځولو. کۀ د افغانانو مخ په هغه لور پاتې شوے وے نو زمونږه صوبه او بلوچستان به چرې د هندوستان حصه جوړه شوې نۀ وه. خو د دغه خلقو په ذهنونو کښې د بادشاهۍ او غلامۍ تاریخونه پراتۀ وو. حالانکې د دغه خلقو بچو ته ځنې قومونو خپلې مشرۍ ترلاسه کړې وې. یو ډېر ښۀ مثال ئې د غزني محمود وۀ.

الف تګین او سبکتګین د محمود غزنوي پلار او نیکۀ وو. د خلقو په نظر کښې دي چې ایاز پلار په نیکۀ د دې وطن، د دې خاورې وسېدونکے وۀ، د قوملۍ او ورورولۍ په شکل کښې د هغۀ په ذهن کښې وفاداري وه او دې وفادارۍ او مینې په اخر کښې محمود ایاز غلام کړلو. لکه څۀ رنګ چې ګلستان وائي:

چاچې ښنبلے په اخلاص وي جام د عشق
قربانېږي به هر وخت په نام د عشق
راته ښکاري عاشقي لویه رتبه ده
شو محمود غوندې بادشاه غلام د عشق

چې د کارل مارکس او کېپیټل په قیصو کله پوهه شو نو ورسره ورسره په دې هم پوهه شو چې تاریخ یوائې د بادشاهانو د تخت و تاج قیصې نۀ دي بلکې د هغه خلقو د معاشي نظام د غلامۍ نه د نفرت او خپلو حالاتو بدلولو او ښۀ کولو کوششونه هم دي، چې هغه تاریخ په خپل دور کښې د انقلابونو په شکل کښې ښودلي دي. چې شورو ئې د یونان د غلامانو د بغاوت نه شوې ده. یو خوا ته د دنیا

تاریخ دغه بغاوتونه چې څنې په کښې په انقلابونو کښې بدل شول چې د دنیا تاریخ ئې هم د ځان سره بدل کړو.

د روس انقلاب په دنیا کښې د معاشي نظام لاربښودنه وکړه. د دوي د انقلاب د مشرانو د خبرو اترو دا نچوړ وۀ چې هر سړي ته دې د خپل قابلیت او ضرورت عوض ورکړے شي او د ملکیت تصور دې ختم کړے شي. ځکه چې څومره د ملکونو جنګونه او انفرادي جنګونه په ملکیتونو باندې کېږي یعني زما زما باندې کېږي. د چین او روس انقلابونو خلق راببدار کړل. د طبقاتي نظام د ختمېدو کوشش ئې وکړلو. خپل خلق ئې په خپلو حقونو پوره کړل. بس دا یو شے یقیني دے چې د ملکیت تصور ئې ختم نۀ کړلو. د جرمني په ښار فرانکفورت کښې یوه مباحثه د داسې عالمانو ترمېنځه وشوه چې په هغې کښې د روس او جرمني، هندوستان، انګرېزان یعني د تمامو ملکونو نمائندګان موجود وو. په دې غرض چې د ملکیت تصور به څۀ رنګ ختم کړے شي او هر سړي ته به د هغۀ د قابلیت او ضرورت عوض څۀ رنګ ورکړے شي. ما په دغه مباحثه کښې د پنځو زرو کلونو مخکښې د پښتنو د معاشي نظام حواله ورکړه او کوشش مې وکړو چې پښتنو کښې معاشي نظام او د زمکو تقسیم پنځۀ زره کاله کم و زیات په دې طریقه شوے وۀ چې د ملکیت تصور ئې ختم کړے وۀ. په دې کښې دوه دوه نیم زره کلونه څۀ د مغلو بادشاهانو کوششونه چې خاقو له ئې ملکیتونه د خانۍ او نوابۍ په شکل کښې ورکړي وو او څۀ ملکیتونه انګرېزانو د خانۍ او نوابۍ په شکل کښې ورکړي وو خو بیا هم په قبائیلي علاقو او د افغانستان په څنې صوبو کښې په هغه زوړ شکل کښې دي چې د ملکیتونو تصور په کښې نشته. پنځۀ زره کاله مخکښې چې پښتنو سره علاقه ډېره وه او خلق کم وو. دا تاریخي

روایات دي چې دوه ځله په دې فیصلې شوې دي چې په اول ځل ئې دې ته د ځتې تقسیم وئیلے وۀ، ځکه چې په دې کښې به د ښځو حصې نۀ وې. بیا کښېناستل او بل تقسیم ئې وکړو چې دغې ته د ځُلې وېش وائي. یعني په یو کور کښې چې څو ځُلې وي په دغه حساب به ورته برخه ورکوي او بیا دا رنګې کورنۍ هم وې چې سړي به په کښې کم وو او ښځې به زیاتې وې لکه دوه سړي او اتۀ ښځې، دا لس کسان شول. د دوو کسانو په دې حصه باندې لس کسان نۀ پائېدل او دې وېش ته ئې غلط ووئیل. د ځُلې وېش کښې ئې په خوراک کښې د ښځو او سړو حصه برابره کړه.

دا د ځُلې وېش تر نولسمې صدۍ پورې روان وۀ او په ځنې قبائیلو کښې تراوسه پورې روان دے، خو په شاملاتو کښې د ښځو نامې نشته دے. دا ځکه چې هر پښتون لور خور خو د ورکولو شے ګڼي، چې ترکومه پورې د دۀ په کور کښې وي نو ځُلۀ ئې هم وي د ځُلې په نامه ئې د خوراک حصه هم وي، چې د دۀ د کوره لاړه شي نو په بل کور کښې د هغې حصه شورو شي. دغه شان چې دې خپل زوي له ښځه وکړي د هغې حصه دلته کښې شورو شي. په پښتنو دا اعتراض کېدے شي چې دوي ښځو له په زمکو کښې حصه نۀ ورکوي، د دې په بدل کښې مشرانو ښځو ته چې کوم اختیار په کور دننه ورکړے دے او کوم عزت ئې ورکړے دے، دغه رنګ عزت د دنیا یو قام هم نۀ دے ورکړے. په کور کښې به یو نغرے وۀ چې په هغې کور کښې به مشره ښځه، چې صحت ئې وۀ او ګرځېدې به هم شوه، د ټول کور مشري به د دې ترلاسه وه. کۀ هر څو زامن او لوڼه ئې لرلې په یو کور کښې به وسېدل. د ټولو زامنو ښځې به هم په دغه کور کښې وسېدلې، چې سړو به هرڅۀ ګټل هغه به ئې په کور کښې نیا له ورکول، خپلو ښځو له به

ئې نۀ ورکول، نیا به پرې د خوراک څښاک بندوبست کولو او د نواسه نمسو پورې د ټولو ښځو او د ټولو سړو د جامې پېزار بندوبست به ئې هم کولو او د ضرورت د پاره به ئې بچت هم کولو. دغه شان په کور کښې به د یو نغري لاندې دېرش څلوېښت کسان د برابرۍ په شکل پائېدل. کۀ یو زوي ئې ډېره ګټه کوله او بل به کمه ګټه خپل مور یا نیا ته حواله کوله، هغې به د کور ټولو کسانو له خوراک، جامه پېزار او نور ضرورتونه یو شان پوره کول او د کمي زیاتي څۀ احساس به په کښې نۀ وۀ. په دې شریکو کورونو کښې ډېرې فائدې وې. یو خو دا چې د غل غلدو خطره به نۀ وه، بله دا چې د حیا عزت او د کورنۍ د تحفظ په ګڼه وسېدلو په خپله یقیني شي. د زمکې اصلي خبره امدن وي، چې د دې زمکې نه به څومره امدن راتللو هغه به ټولو ورونو راوړلو او د نغري د مشرې ترلاسه کېدلو. دغسې د ټولې زمکې هغه ګټه به دغه ښځې ته راغله. کۀ چرې په دې پسې زمکه لیکلے شوے وے نو دې ته به د خپلې حصې زمکه نیمه ملاوېده څکه چې ښځه خو په خپله زمیداري نۀ شي کولے نو چې هر چا به دا زمیداري کوله نو نیمه به ئې ورکوله. دې ته خو د ټولو افرادو حصې ملاو شوې د دې واک اختیار هم ترلاسه شو، چې څۀ رنګ خرڅ کوي او کۀ بچت کوي، څکه تر اوسه پورې د خوابنې اینګور په کور کښې زړۀ بداوے وي، چې د نغري مشري خوابنې سره وي او دا ټول د نغري سره تړلے دے. کۀ په خُلۀ وائي او کۀ نۀ وائي خو اینګور په زړۀ کښې وائي چې دا خوابنې به مې کله مړه شي چې د نغري مشري زما ترلاسه شي. د ټولو نه زیاته فائده چې مونږ ته د شریک نغري نه رارسېدلې ده، په تاریخ کښې د جنګجو او تورزن قوم په صف کښې ئې ودرولي یُو، هغه هم دا تحفظ وۀ چې په کلونو به د کوره بهر وو خو د ښځو، بچو، خوېندو، مېندو

غم به راسره نۀ وۀ او دغه وجه ده چې د روس نه راواخله تر هندوستان او تر چین پورې مونږه خلقو تجارت کولو. د دې تجارتونو ترمخه به راته لارې ګودرې ښې معلومې وې او د معلوماتو ترمخه به مونږه جنګونه ډېر په اسانه ګټل. انسانان خو ټول خدائے یو شان پېدا کړي دي، دغه دوه لاسونه او دوه پښې د هر چا وي، خو دې نورو قومونو به جنګونه نۀ شو کولے، د ښځو او بچو غم به ورسره وۀ، د ښځو د حیا، عزت عدم تحفظ په وجه ئې جنګي سوچونه کولے نۀ شول. نن چې څۀ رنګ مونږ د نورو قومونو عادتونه خپل کړي دي. د وادۀ کېدلو سره د بېل کور او د بېل نغري سوچونه شورو شي، چې سحر د کوره ځي نو د پیازو ټماټرو نه واخله تر اوړو او تر غوښې پورې به یو خوا ته کاروبار هم کوے او دا سوچ به دې هم وي چې په دې پېسو به دا څیزونه برابر شي او کۀ نه؟ بیا د ګېس او د بجلۍ د بل د پاره به هم څۀ نه څۀ کښېښودل غواړي. کۀ خوش قسمه یې دومره پیسې ګټي چې د دې غم نه خلاص یې، نو بیا هم چې په کور کښې دې ښځې یواځې وي نو د خپلې حیا او عزت د تحفظ غم به درسره خامخا وي، د یوې شپې د پاره بهر تلے نۀ شې. ټول ژوند به دې په دې کښې ختم شي او ټول عمر به دې د ښځې او بچو په خدمت کښې تېر شي.

چې کوم قومونه په کومو علاقو کښې په اکثریت کښې وو د هغه علاقې زمکې ئې هغه خلقو له ورکړې یعني دغه زمکې ئې د افرادو په تعداد خېلونو ته ورکړې، چې نن هم کاغذات مال د دغه خېلونو د شاملاتونو په نامه باندې پراتۀ دي. د دې خېل د هر فرد نوم په دغه شاملات کښې موجود دے، چې هغه نامه ترې نه څوک ویستې نۀ شي ځکه چې د شاملات زمکه مشترکه وي خرڅېدې نۀ شي. البته په پښتنو کښې به په دې تقسیمونو کښې نائي، شاخېل، لوهار، ترکاڼ

يعني هر کسب ګر به د دغه قومونو نه وۀ چې يوه حصه ئې د ملکيت کېده او بله حصه ئې د کسب کېده يعني د يو کسب ګر به دوه حصې وې او دې به هم د دغه خېلونو يو فرد ګڼلے شو. لکه د هندوانو په شان چا کسب ګر ته سپک نۀ کتل. ټولو پښتنو به ورته په درووند نظر کتل. د دې زمکې حاصل چې هرکله د فصلونو په شکل کښې د دغه خېل په افرادو لکه غنم، جوار، ګنے برابر برابر تقسيميدۀ. دې خېلونو بيا د مشرانو ګيلې شورو کړې چې مونږه يو خېل يُو، هغه دا چې فلاني خېل ته ئې ښه زمکه ورکړې ده او مونږ له ئې خرابه زمکه راکړې ده. دغه مشرانو په دغه قومونو کښې دا فېصلې وکړې چې په کومو زمکو کښې به د ښو خرابو ډېر فرق وۀ هغه زمکې به ئې لس کاله پس د يو بل سره بدلولې.

دغه شان يو خېل خپله خرابه زمکه لس کاله پس د هغه ښې زمکې والا سره د کورونو سره، د جوماتونو سره او د حجرو سره بدلولې. دغه شان لس کاله پس به دۀ دا زمکه بيا پرېښوده او بل به پرې راتلو. دغه رواجونه تراوسه پورې په سوات، ملاکنډ، بونېر، د افغانستان په څنو صوبو کښې موجود دي. د قبائيلي خلقو نه کۀ اوس هم تپوس وکړے، هغوي به درته وائي دا زمونږه حجره، دا زمونږه جومات دے، دا زمونږه پټي دي، يو شي ته هم زما نۀ شي وئيلے. دا زما لفظ په کښې ځکه نشته چې دا د قوم ملکيت دے، هر لس کاله پس خپل ملکيت بل سره بدلوي، نۀ دې ته زما وئيلے شي او نۀ هغې ته زما وئيلے شي. دغه مشرانو په دې طريقه د ملکيت تصور ختم کړے وۀ. يعني يو شے زما نۀ دے بلکې د قوم دے. دغه شاملات لس کاله پس بل ته حواله کېږي، په ذاتي حېثيت ورته زما وئيلے نۀ شي. دغه شان د امو نه راواخله تر جهلمه پورې چې قومونو خپل جائداد په

شاملات کښې یو بل له ورکړے وۀ هم دغه وجه ده چې یو پښتون هم بې جائداده او بې کوره نشته. کۀ په هشتنغر کښې په شاملاتو کښې د یو پښتون نامه نۀ وي هغه به د مزدورۍ د پاره راغلے وي. کۀ باجوړے دے، کۀ مومند دے او کۀ قندهارے دے، کۀ کابلے دے، د دۀ په هغه ځاے کښې خپله حصه زمکه وي او کور ئې هم وي او په شاملاتو کښې به د دۀ د خاندان نومونه هم وي. دغه وجه ده چې پنځۀ زره کاله مخکښې په معاشي نظام پښتنو صحیح عمل کړے وۀ. نو په پښتنو کښې انقلابونه هم راغلي نۀ دي، البته په ډېرانونو او په پولو باندې جنګونه هر وخت وي. دغه معاشي نظام مونږه د یو بل سره نزدې کړي یُو. په دغه وجه زمونږه په تصور کښې د غلامۍ نظام نۀ راځي، چې کوم سړے بذاتِ خود د غلامۍ خلاف وي، هغه د بل قوم د پاره هم غلامي نۀ خوښوي. د هندوستان په ازادۍ کښې د ټولو نه لویه برخه پښتنو اخستې وه، دا ښېله خبره ده چې پښتانۀ په دې پوهـ نۀ دي چې مونږه غلامان یو او کۀ نۀ یو. د ازادۍ په جدوجهد کښې د انګرېز خلاف به مشرانو خپلو کشرانو ته مثال ورکولو چې یو سړے وۀ ځلور ئې زامن وو، په پټي کښې په دې خبره په جنګ وو، یو وئیل زۀ په دې پټي کښې غنم کرم، بل وئیل زۀ په کښې جوار کرم، بل وئیل زۀ پرې افیم کرم، بل وئیل زۀ پرې اوربشې کرم. لنډه دا چې پلار ئې د پاسه راغے، هر یو زوي ورته خپله خپله مدعا ترمخې کړه، پلار ورته ووئیل دا پټے د بل دے، اول دا پټے خپل کړئ بیا به پرې د فصلونو د کر فیصلې کوو.

مغلو په خپل دور حکومت کښې خپل بنۀ کوشش کړے دے چې د پښتنو دا معاشي نظام ختم کړو. ذاتي ملکیتونه ئې د خانۍ او نوابۍ په شکل کښې خلقو له ورکړل نو په هندوستان کښې کامیاب

شول، ځکه چې د دې ځاے نه کوم پښتانهٔ د مغلو سره تلي وو، هغوي له ئې د ذاتي ملکيتونو په شکل کښې خانۍ او نوابۍ ورکړي، سره د شېرشاه سوري. د پښتنو په دې علاقه کښې مسلسل د مغلو سره جنګونه شوي دي خو د انګرېزانو چې يو مضبوط نظام د فوج او د هغې سره تړلو ادارو طاقت او عدالتي نظام په هغې کښې چې انګرېزانو کومو خلقو له زمکې ورکړې دي، د هغوي د مال او سر تحفظ موجود وۀ، پښتانهٔ د ملکيتونو خاوندان تر عدالتونو تلل، خو په هغه عدالتونو کښې چې انګرېزانو چا له زمکې ورکړې وې، د هغوي د مال او د سر تحفظ وۀ. يعني په عدالت کښې به هم د پښتون د حق فېصله نهٔ کېدله. په جنګ جدل کښې به فوج پوليس هم د انګرېزانو وۀ، هغوي به هم د دوي د مال او د سر تحفظ کولو، ځکه د پښتنو په علاقه کښې چې مونږ نن کومې ته خپله صوبه وايو او د انګرېز په دغه نظام خپل ژوند تېروو، د پښتنو دغه رواجونه رسمونه په دې علاقو کښې نشته. د ۱۹۱۷ء نه وروستو د پښتنو په ټولو علاقو کښې سره د افغانستان د ذاتي ملکيتونو د مضبوطولو د پاره انګرېزانو ډېر کوششونه کړي دي، چې د دغه نظام مخ نيوے وکړي. په افغانستان کښې چې د دغه نظامونو تاريخ پروت وۀ هغه ئې ختم کړلو بلکې د دغه ځاے د اميرانو په صلاح ډېر ښهٔ تاريخي کتابونه او لائبرېرۍ ئې سېزلي دي په کومو کښې چې د پښتنو د معاشي نظام د ملکيت تصور ختم کړے شوے وۀ يعني چې د روسيانو تر لاسه نهٔ شي. خو د خوش قسمتۍ نه څۀ کتابونه د دوي تر لاسه شوي دي، د سوزېدو نه بچ شوي دي، هغه د جرمني د يو ورکوټي ښار ترير په لائبرېرۍ کښې موجود دي او هغه لائبرېري د کارل مارکس په نامه باندې مشهوره ده. د دنيا د هرې ژبې پخواني کتابونه په هغه زوړ حالت کښې په زوړ

شکل کښې موجود دي، چې ما په کښې د پیر روښان حال نامه، جنګ نامه هم کتلي او لوستلي دي، چې یو مخ ئې په فارسۍ ژبه کښې او بل مخ ئې په پښتو ژبه کښې لیکلے شوے وۀ. پیر روښان په خپل کتاب کښې لیکي چې ما په صوابۍ او لاهور کښې د ځرمنې په ټکړه دولس سوه کاله مخکښې هغه معاهده لیکلې لیدلې وه چې کومه د عربو او د بره افغانستانه راغلي تبلیغیانو د سوات، صوابۍ، ملاکنډ، هشتنغر، نوښار او نظام پور د دې علاقې د مشرانو سره د اسلام په قبلولو کښې ټولې فېصلې کړې دي. د دې نه هم خبر شوم چې څو کاله مخکښې په پکتیا او قندهار کښې دغه شان معاهدې شوې دي او د دغه علاقو ټولو قومونو اسلام قبول کړے دے، خو پښتون داسې قوم دے چې په دغه لیکلې معاهده کښې د اسلام غوندې عالمي مذهب د ورکوټي کولو کوشش ئې کړے دے او خپل رسمونه رواجونه ئې پرې منلي دي. د معاهدې په سرنامه لیکلي شوي دي، لا اله الاالله محمد رسول الله، چونکې دې تبلیغیانو زمونږ ټول رسمونه رواجونه ومنل چې ستاسو ټول رسمونه رواجونه عېن د اسلام مطابق دي. نومونږ ورسره خدائے او رسول ومنل. لاندې لیکي چې دوه څیزونه مونږ نۀ منو، یو سود، سود به مونږ کوو ځکه چې سود زمونږه تجارت دے او دویم په زنا کښې د کوهي او بوقې والا شهادت دے، د زنا خبره مونږ سمدستي په مرګ فېصله کوو، په شهادتونو نه.

په دغه لائبرېرۍ کښې داسې نور کتابونه هم پراتۀ دي چې د سره پرې د مصنفینو نومونه نشته او کۀ شته دے د مثال په توګه چنار ګل چې هغه هم فرضي نامه ښکاري. البته د تېرو وختونو د جنګونو قیصې په کښې لیکلې شوې دي. یو بل کتاب مې هم ولوستلو چې د ښائسته ګل نامه پرې لیکلې شوې ده. خو دغه نامه پرې هم فرضي

ښکاري البته د مینې محبت او د عشق باره کښې مې یو بل کتاب ولوستلو چې هغه کتاب جرمنیانو په جرمنۍ ژبه کښې لیکلے وۀ. په دې باره کښې د سنسکرت لیکونکو لیکلي چې دا زړه پښتو ژبه ده.

یو بل مثال دا دے چې په کوم وخت کښې د ایران شهنشاه پهلوي د خپل جشن د تیارۍ د پاره په ۱۹۵۸ء او۵۹ء کښې په یوه شاړه مېره کښې تمبوان لګولي وو، د اوبو تالابونه، لارې سړکونه ئې جوړ کړي وو ځکه چې د دغه جشن د پاره به د دنیا بادشاهان راتلل. دغلته په یو کاڼي د پاسه په سنسکرت کښې لیکلي شوي وو چې د سنسکرت لیکونکي ئې د لوستلو د پاره راوغوښتل هغوي ترې نه مطلب وانۀ خستے شو. البته دغلته یو څو افغانان مزدوران د مزدورۍ د پاره راغلي وو چې دا لیک ئې د کاڼي د پاسه ولوستلو هغوي هم ووئیل چې دا پښتو ژبه ده. په هغه کاڼي د پاسه لیکونکي لیکلي وو چې زۀ او زما ناجوړه ښځه په دې لار تېرېدلو چې دلته کښې د هغې لور پېدا شوه، چې زما هغه ښځه او پېدا شوې لور دواړه دلته کښې مړې شوې، ما هغوي دلته کښې دفن کړې یعنې ښخې مې کړې. ما دا لیک د دې کاڼي د پاسه د یاداشت د پاره کړے دے.

سائنسدانانو چې دا لیک مطالعه کړو هغوي ووئیل چې دا لیک د دې کاڼي د پاسه درې زره کاله مخکښې لیکلے شوے دے.

یوه بله لائبرېري هم په برطانیه لندن کښې وه چې نامه ئې "انډیاآفس" وه. په دغه لائبرېرۍ کښې هم په پښتو او فارسۍ ژبه کښې زاړۀ لیکل پراتۀ دي.

د هندوستان او افغانستان ترمېنځه پوله کښېښودل

په ۱۸۹۳ء کښې د امیر عبدالرحمان او د مارتيي مر ډيورنډ ترمخه د هندوستان او افغانستان تر مېنځه پوله اېښودې شوې ده چې هغه پولې ته نن هم ډيورنډ لائن وائي. چونکې انګرېزانو سره د دې علاقې خپله څۀ نامه نۀ وه دا په زرګونو کلونو د هندوستان يوه حصه د افغانستانه پاتې شوې وه او پېښور خو د افغانستان د يخنۍ يوه دارالخلافه ګرځېدلې وه نو هندوستان د شمال مغرب په سرحد د پاسه خپله صوبه ووئيله څکه دې ته شمال مغربي سرحدي صوبه وائي. د ۱۸۹۳ء د معاهدې نه ځلور کاله مخکښې د ګنډمک معاهده شوې وه. دا معاهده د هندوستان او افغانستان د سرحداتو د تعين د پاره شوې وه خو په اصلي پوله کښېښودو کښې ځلور کاله ولګېدل او اخري فېصله ئې په ۱۸۹۳ء کښې وشوه. سر ماتيي مر ډيورنډ په دې باره کښې وائي چې زما دا کوشش وۀ چې زۀ دې ټوله قبائيلي علاقه افغانستان ته حواله کړم او د افغانستان د نمائندګانو دا کوشش وۀ چې قبائيلي علاقې دې ټولې انګرېزان واخلي. ځلور کاله پس دې نتيجې ته ورسېدو چې دا ټوله قبائيلي علاقه په مېنځ کښې نيمه کړې شي، موجوده ډيورنډ لائن چې په زرګونو ميله اوږد دے او په دواړو غاړو ئې قبائيل پراتۀ دي، نيمې پښتنې قبيلې په دې غاړه پرتې دي او نيمې هغه غاړې ته پرتې دي.

دغه قبائيل د انګرېزانو د پاره سر خُوږے وۀ د افغانستان د پاره هم سر خوږے وۀ، بلکې د پاکستان د پاره هم سر خوږے وۀ. انګرېزانو د دوي د پاره ازاد قبائيل نامه ورکړې ده، څکه چې دوي خپل رسمي رواجي قانون جوړ کړے وۀ. د انګرېزانو قانون ئې نۀ منلو

او د انګرېزانو په دوي هغه لاره پکار وه کومه چې تر افغانستانه تلې وه. یو جرمني لیکوال په خپل کتاب "دبان ریګرونګ" (DER BONHOFF RIEGERUNG) کښې لیکي چې د پښتنو په قبائیلي علاقو کښې د انګرېزانو حکومت د سړک د پاسه وۀ، تر اوسه پورې قبائیلیان د پاکستان حکومت د سړک د پاسه مني، د سړک نه اخوا او دې خوا ته په خپلو اندروني مسئلو کښې د دوي ګوتې وهل نۀ مني. په اوسني د پښتنو په حالاتو د پښتو دا ټپه پوره خېږي چې:

زۀ د سیندونو لامبوزن وم
په نصیب خوار شوم د لختو اوبۀ مې اوړینه

انګرېزانو او د پاکستان مشرانو قبائیلو ته وئیلي وو چې ستاسو د بچو د پاره سکولونه، سړکونه او لارې جوړوو خو قبائیلو د دې هرڅۀ نه انکار کړے وۀ. په دې باره کښې قبائیلو وئیل چې په سړک باندې به مونږ پسې د دوي ټینکونه، توپې او فوجونه زر رارسي. په سکولونو کښې به زمونږ بچو ته خپله ژبه، خپل کلچر او خپل مذهب ښائي او د دې په وجه به په مونږ غلامي مضبوطوي او زمونږ بچي به ذهني غلامان کوي. نن ثابت شوي چې کومو خلقو دغسې سکلونو کښې سبق وئیلے دے هغه ټول ذهني غلامان دي. په دې لړ کښې د پښتون شاعر سیف الرحمٰن سلیم شعر دے:

نوے کُول به د ماضي نه منحرف کړي
پښتونخوا کښې د مغلو مکتبونه

اوس هم چې د چا بچي په دغه سکولونو کښې سبق وائي هغه به د دوي ذهني غلامان کېږي، خو د پاکستان تعلیم یافته او نوکر پېشه طبقې د ریټائرمنټ نه پس د ځانه سوال کوي چې 'ایا پاکستان د کوم اسلام په نامه جوړ دے؟' ایا دا هغه د عربو نه راغلے اسلام دے او

کۀ د دهلي نه راغلے اسلام دے؟ ځکه چې زمونږه نۀ په شپېتۀ کلونو کښې روژه په یوه ورځ شوه او نۀ اختر. حالانکې د پاکستان او د عربو ترمېنځ د درېو ګېنټو فرق دے. په مکه معظمه کښې چې په کومه ورځ روژه وي، د دنیا ټول اسلامي ملکونه او د ټولې نړۍ مسلمانان په هغه ورځ روژه کړي. چې په مکه معظمه کښې کله د اختر اعلان وشي د دنیا ټول اسلامي ملکونه په هغه ورځ د اختر اعلان وکړي خو زمونږ د اسلام اباد عالمان به دهلي ته په انتظار کښې ناست وي چې هر څومره ورځې پس په دهلي کښې سپوږمۍ ولیدې شي نو دلته هم په هغه ورځ روژه کړي او کله چې په دهلي کښې د اختر سپوږمۍ ولیدې شي نو هم په هغه ورځ د اختر اعلان وکړي.

د ګاندهي جي د مرګ نه پس د ګاندهي جي تاریخي کارونه هندوانو تقریباً په اتیاؤ کتابونو کښې لیکلي دي. په دغه کتابونو کښې د پښتنو په خبرو پسې ګرځېدم نو هغه په جلد وویشتم، جلد اتۀ ویشتم او په جلد یوکم دېرشم او بیا په جلد دوه دېرشم کښې راجمع دي چې د هغې مجموعې نامه "کلکټډ ورکس" ده. ما په دې کښې د خپلې علاقې د مشرانو سره ملاقاتونه، د مسلمانانو او د هغوي رابطې لټولې، عجیبه خبره دا ده چې په یو شي پسې ګرځېدم بل شے مې په نظر راغے، هغه دا چې په هندوستان کښې ۱۹۳۰ء پورې د زمکو د خاوندانو ووټونه وو او د بې زمکو خلقو ووټ نۀ وۀ او په هندوستان کښې په زرګونو کلونو بادشاهي هم مسلمانانو کړې ده. دغه شان د زمکو ملکیت هم د مسلمانانو سره وۀ او خانۍ نوابۍ هم د دوي تر لاسه وې.

د کانګرس د انګرېزانو نه دوه مطالبې وې یوه دا چې څۀ رنګ تاسو په برطانیه کښې یو فرد له د یو ووټ حق ورکړے دے هم په هغه شان په هندوستان کښې یو فرد له د یو ووټ حق ورکړئ. دوېمه دا چې خانی او نوابی تولې ختمې کړئ. په دې باره کښې انګرېزانو ګاندهي جي ته ووئیل چې په هندوستان کښې یو انسان د یو ووټ حق ترلاسه کړو، نو بیا خو به هندوان په اکثریت کښې راشي، ووټونه به هم دوي ګټي. هرکله چې ستاسو حکومت راشي، نو بیا د پارلیمنټ نه د قانون په ذریعه جاګیرونه، خانی نوابی ختمې کړئ، ستاسو خو به دا دواړه مطالبې په دې طریقه حل شي تر اوسه پورې پارلیمنټ ته خانان نوابان تلل یعني د دولتمندو ووټونه وو ځکه په اسمبلی کښې اکثریت د مسلمانانو وۀ او انګرېزانو به وئیل چې د هندوانو اکثریت راشي نو د مسلمانانو نه به واک اختیار او حکومت لاړ شي، خو زمونږه هم دوه مطالبې دي، چې په هندوستان کښې ستاسو عدم تشدد مونږ ته هیڅ فائده نۀ راکوي البته عدم تشدد په پښتنو کښې شورو کړئ. مطلب دا دے چې د هغوي نه ټوپک ترلاسه کړئ. په مونږ پسې کۀ دا ټول هندوستان راپورته شي نو مونږه ترې نه نۀ ویرېږو خو د پښتنو نه ویرېږو ځکه چې په هندوستان ځومره مسلمانانو بادشاهانو حکومت کړے دے دا یا افغانان پښتانۀ وو او یا د پښتنو په مرسته باندې دلته راغلي وو نو دا خلق په سیاست هم پوهېږي او د ټوپک په چلولو هم پوهېږي.

بله خبره دا ده چې د ۱۹۰۵ء نه دوي "اصلاح افاغنه" تنظیم جوړ کړے دے، چې نن سبا په سوونو ازاد سکولونه هم لري، خلقو ته په مورنی ژبه کښې خپل تاریخ او خپل مذهب ښائي او د سکولونو په دېوالونو ئې لیکلي دي چې حجره او جومات دې ببل نۀ شي. دا

ماشومان او خلق کۀ خپل تاریخ په مورنۍ ژبه کښې زده کړي نو تر دې به ضرور رسي چې زمونږه مشرانو په هندوستان حکومت کړے دے او نن مونږ د انګرېزانو غلامان یُو او کۀ په مورنۍ ژبه کښې په خپل مذهب باندې پوهه شي نو ضرور به وائي چې دا عیسایان دي، د دوي خلاف جهاد روا دے. دغه شان په دغه سکولونو کښې یو تعلیم یافته او پوهه فوج تیارېږي چې د هغې مقصد به د هندوستان نه انګرېزان ویستل وي. مونږه هسې هم د دوي نه په یوه لار نۀ خلاصېږو. ګاندهي جي په دې باره کښې ووئیل زما ډېر بنۀ او کلک ملګري د پارټۍ په دغه صوبه کښې موجود دي چې څۀ رنګ په هندوستان کښې عدم تشدد کېږي نو هلته به زما ملګري جارحانه عدم تشدد کوي. انګرېزانو ووئیل پښتون قوم عجیبه عدم تشدد کوي، سمدستي سړک بند کړي او دا اواز کوي په مونږ ګولۍ وچلوئ یعني زمونږه د هندوانو غوندې بزدلانه في سبب بزدلانه عدم تشدد پکار دے.

په دې باره کښې ګاندهي جي انګرېزانو ته ووئیل چې د دغه ځاے مشرانو سره به په تنهایۍ کښې لیدل کتل او خبرې کوم. لهذا ګاندهي جي په حېدراباد کښې ګرفتار شو او عبدالغفار خان په نوښار کښې ګرفتار شو. په اول ځل د جېل په یوه کوټه کښې عبدالغفار خان او ګاندهي د یوې میاشتې نه کم جېل تېر کړو او بیا دواړه په یوه ورځ او یو وخت د جېل نه رها شول او په شلو ورځو کښې دننه دننه ئې د في سبب خبرې شورو کړې. په سر دریاب کښې د لسو زرو سُورپوشو ترمخه ئې په اردو ژبه کښې او په انګرېزۍ ژبه کښې تقریرونه وکړل. بقول غني خان زۀ د سټېج د پاسه ناست وم، امیر نواز جلیا په دې وجه د سټېج نه راکوز کړم هغۀ وئیل ستا د خُلې نه د شرابو بوئي راځي. ما ورته ووئیل بابا نشه نۀ کوي هغه په دې بوئي څۀ پوهېږي؟ هغۀ وئیل

بابا دې يوائې نۀ دے، پټېل، نهرو او ګاندهي هم ورسره راځي، هغوي خو د شرابو په بوئي پوهېږي. د دې خبرو نه پس زۀ د سټېج نه ښکته کښېناستم او ټولو ناستو خلقو ته مې پام وۀ. په انګرېزۍ او اردو ژبه کښې تقريرونه کېدل، خلق ورته ډېر په ادب ناست وو او زنو ته ئې لاسونه ايښي وو، وخت په وخت ئې لاسونه پړقول لکه چې دوي په دې تقريرونو ښۀ پوهېږي. ما د کاغذ يوه ټکړه راواخسته يو څو شعرونه مې پرې وليکل، د شعرونو مطلع دا رنګ وه:

ے خختګ د پښتون شلېږي باچاخان په کښې ګيندې وهي
ګـانـدهـي لـېونے شـوے دے سنډا تـه سريـنـدې وهـي

هم هغه د کاغذ ټکړه جليا خان زما نه ترلاسه کړه او ټوټې ټوټې ئې کړه. د دغې نه څۀ موده پس دا مشران بيا اتمانزو ته راغلي وو، په حجره کښې کښېناستو چې د کانګرس پارټۍ ټول مشران د هشتنغر او اتمانزو صاحب الرائې خلق د اصلاح افاغنه د تنظيم ټول مشران د ازاد سکولونو ټول استاذان په ګڼ تعداد کښې موجود وو. مخامخ يوه سره جنډه لګېدلې وه د پاسه پرې الله اکبر ليک وۀ. ګاندهي جي ووئيل چې زمونږ د کانګرس په جنډه باندې خو سرخه جوړه شوې ده، ستاسو په دې جنډه خو څۀ بل څۀ شوي دي. حاضرينو په دې باره کښې ووئيل مونږه مسلمانان يو او د دغه ليک مطلب دا دے چې الله ډېر لوے دے. باچاخان ووئيل ګاندهي په دې خفه کېږي دا جنډا راکوزه کړئ سرخه پرې د پاسه جوړه کړئ. د باچا خان د وئيلو په حواله ئې هغه جنډا راکوزه کړه او د پاسه ئې پرې سرخه جوړه کړه، بيا ئې اوچته کړه.

په دې کښې د ازاد سکولونو استاذان عبدالاکبرخان اکبر او محمداکبر خادم سره د دولسو ملګرو د هغه هجوم نه راپاڅېدل بهر ووتل، څۀ ګوري د سرډهېرو يو استاذحمزه الله په سرو سترګو ژاړي.

دوي ترې نه تپوس وکړو اخر ژاړې ولې؟ هغۀ وئیل ژاړم په دې چې د نن نه حجره او جومات بېل شو. د دې نه پس محمد اکبر خادم چې د ازاد سکولونو ناظم هم وۀ، شاعر هم وۀ، یوه مصرعه ووئیله:

باچا امام زۀ مقتدي وم

ګاندهي امام شو ځکه ځان له نیت ترمه

یعني د انګرېزانو په دواړو مطالبو د اتمانزو نه د ګاندهي په اشاره باندې اغاز وشولو.

په هندوستان کښې چې د یو سړي یو ووټ شو نو مسلمانانو جاګیردارو د جاګیرونو او د پېسو په وجه حکومتونه کول. دا خطره ورته ترمخه شوه چې حکومت خو لاړۀ او جاګیرونه هم روان دي. په برطانیه کښې ښۀ تعلیمونه، په کېمرج، اکسفورډ کښې د دغه جاګیردارانو او نوابانو بچو تعلیمونه کول. په ۱۹۳۳ء کښې د کېمرج یو پمفلټ چې هغې ته ئې Now or never (are we to live or perish forever) وئیل چې د هغې لاندې یو بل سرنویس وۀ چې هغه په هندوستان کښې د مسلمانانو د پاره وۀ هغه دا چې په هندوستان کښې مسلمانان د هندوانو په مشرۍ کښې نور ژوند تېرولے نۀ شي. د دوي د پاره یو خپل وطن پکار دے چې هغې له د پاکستان نامه دوي ورکړي او دا ئې واضحه کړه: پ: د پنجاب د پاره، الف: د افغانیه د پاره، ک: د کشمیر د پاره، س: د سندهـ د پاره، تان: د بلوچستان د پاره. دغه شان چودهري رحمت علي، اسلم ختک، شیخ محمدصدیق او عنایت الله خان د پاکستان نوم په یو پمفلټ کښې لیکلے وۀ. یو خوا ته د هندوستان نوابانو ته د جاګیرونو خطره ترمخه شوه بل خوا ته د حکومت سره تړلي مراعات او ښې عهدې چې نوابانو ته به په تحفه کښې ملاوېدې، د ختمېدو وېره پېدا شوه. په هغه وخت کښې د مال

زیاتولو پیدا کولو جاګیرونه وو او زمکې هم وې. په دغه پیسو باندې دوي کارخانې جوړولې او تجارتونه ئې هم شورو کړي وو. عادتونه او فضول خرچي ئې هم د بادشاهانو په شان وو. دوي به دا سوچ هم کولو چې مونږ به د هندو تاجر او کارخانه دار سره په ازاده منډه کښې چلیدے نۀ شو او نۀ ورسره مقابله کولے شو. د دې د پاره فقط یوه لار او هغه دا چې د مسلمانانو په نامه باندې یوه بیله منډۍ جوړه کړئ. چې د دوي نه دا جاګیرونه هم پاتې شي، کارخانې او تجارتونه هم د دوي ترلاسه دي او منډۍ هم د دوي ترلاسه شي او مقابلې ته ئې هم څوک پاتې نۀ شي. دغې مسلمانانو جاګیرداران، نوابان، ازاد خیاله د شرابو او د ډمو شوقیان او تش په نامه مسلمانان، چې ډیرو له په کښې کلمې هم نۀ ورتللې، په ټول هندوستان کښې د پاکستان د تحریک او د دوي دا غږ د هندوستان په هر ځائے کښې نوابان چې سله په سله د مسلم لیګ ممبران وو د تحریک په مخکښې بوتللو کښې ئې فعال کردار ادا کړے دے. په دې کښې څۀ نوابان څۀ غریبانان د بدقسمتۍ نه په هندوستان کښې پاتې جوناګړه او حیدراباد نوابان په دې اوسني پاکستان کښې په څلوروواړوصوبو کښې، بلوچستان لاد صوبې شکل اختیار کړے نۀ وۀ، په شمالي مغربي صوبه کښې د کانګرس ملګرو الیکشن وګټلو چې د پاکستان د جوړیدو خلاف وو. په پنجاب کښې یونینسټ الیکشن وګټلو چې هغوي هم د پاکستان د جوړیدو مرسته نۀ ده کړې او د مسلم لیګ هم خلاف وو. په سنده کښې جیئے سنده او د هغوي ملګرو اتحادیانو ووټونه وګټل چې هغوي هم د پاکستان او د مسلم لیګ خلاف وو. په بنګال کښې چې مونږه به ورته مشرقي پاکستان وئیل مسلم لیګو او د هغوي ملګرو الیکشن وګټلو چې مشران ئې څوک په شیرِ بنګال، څوک په شیرِ پاکستان مشهور شول.

د پاکستان د جوړېدو نه یو کال مخکښې په ۱۹۴۶ء کښې چې کومو خلقو په ووټونو باندې ځان د پاکستان وفادار ثابت کړے دے او د پاکستان په جوړولو کښې ئې تاریخي کردار لوبولے دے. په ۱۹۷۰ء او ۱۹۷۱ء کښې د پاکستان د هغه صوبې مشرانو، فوج او بېوروکرېسي دغه خلق د پاکستان نه وویستل. د پاکستان د جوړېدو سره سم د دنیا په تاریخ کښې د قومونو تبادلې وشوې.

د دې لورې نه هندوان، سیکان هندوستان ته تلل او د هغه لورې نه مسلمانان پاکستان ته راتلل. په دې کښې په لکونو خلق مړهٔ او ژوبل شوي دي چې د ظلم او بربریت قیصې ئې تراوسه پورې د هندوستان او پاکستان د خلقو په نفرتونو کښې اضافې کوي. د دې زیات تکلیف په هر لورې تر غریب ورسېدهٔ. کهٔ د دې لورې نه هندوان غریبانان تلل هغوي هم خلقو وژل کهٔ د هغې لورې نه مسلمانان غریبانان راتلل هغوي هم خلقو وژل. مسلمانان جاګیرداران او نوابان صحیح سلامت په جهازونو کښې تر کراچۍ راغلل او هندوان تاجران صحیح سلامت په جهازونو کښې تر دهلي ورسېدل. هم دغه قتلِ عام د سیاسي مشرانو په نظر کښې وهٔ ځکه چې بغېر د مسلم لیګ نه د شریک هندوستان یوې سیاسي پارټۍ د پاکستان د جوړېدو خبره نهٔ ده کړې. جومات اسلامي به پاکستان ته ناپاکستان وئیل او جناح ته ئې کافراعظم وئیل. جمیعت علمائے هند به وئیل چې په هندوستان کښې زر کاله حکومت مسلمانانو کړے دے، انګرېز دې حکومت مسلمانانو ته حواله کړي او انګرېز دې ترې نه ځي.

چونکې مسلم لیګ دجاګیردارو نوابانو پارټي وه، د غریبانانو د هجرت، د کورونو پرېښودلو، د روزګار پېدا کولو د تکلیفونو نه خبر وو، پاکستان ته د راتلو سره سم د مارکیټونو قبضه کولو په غرض

د راتلونکو جاګیردارانو، نوابانو په معیشت، د حکومت په ټولو ادارو ئې قبضه وکړه. سازشونه ټول د بادشاهانو په محلونو کښې کېږي، وفادارئ بدلول او د غدارئ اغاز هم د دغه ځایونو نه کېږي. چونکې دا نوابان د خپلې علاقې بادشاهان وو او ټول پاکستان ته راغلل، پوهه، لیک پړه خلق وو، کارخانو، تجارتونو او د حکومت په لارو چارو هم پوهېدل. دغه شان د پاکستان د ټولې ابادئ د یو فیصد نه کم خلق د پاکستان په ټولو ادارو قابض شول، خپلې مورنئ ژبې ته ئې د پاکستان ژبه ووئیله، چې کوم وخت په رېډیو او اخبارونو باندې قابض شول ځکه چې دغه ژبه نۀ پنجابي له ورتله، نۀ بنګالي له ورته، نۀ سندهي له ورتله او نۀ بلوچي له ورتله. د رېډیو د ټولو ډرامو او فلمونو په ذریعه د لکهنوو، اترپردېش، مدیه پربش ته ئې د پاکستان کلچر ووئیل. د سي ایس پي او سي ایس ایس په نوکرو کښې د پاکستان او اسلام په نوم باندې د زمکو پرېښودو همدردئ د خلقو حاصلې کړې او نوکرئ ترلاسه کړې. په فوج، پولیس او نورو ادارو کښې هم په دغه همدردئ ورته کمېشن ملاو شو هم د هغه خلقو نه ضیاءالحق او مشرف جوړ شو.

نن په پاکستان کښې په هر فورس کښې نوي (۹۰) فیصد نه زیات جرنېلان د دوي دي. په هندوستان کښې چې د کانګرس حکومت راغے چاچې جاګیرونه نوابئ ختمې کړې وې صحیح او جمهوري حکومتونه د غریبانانو تر مخه راغلل او جمهوریت په اصلي معنو کښې جرړې ښخې کړې چونکې پاکستان کښې اقتدار دغه خلقو ته ترلاسه وۀ. زمونږه د ازادئ نه پس زمونږه عمر د فوجي حکومتونو په غلامئ کښې تېر شو، د ازادئ جرړې مونږه ونۀ موندې، د مختلف قسم نظامونو تجربې وشوې، چې د هغې تاوان د

پاکستان هر غریب ته ورسېدهٔ او ګټه ئې هغه نوابانو ته ورسېده یعني د ټولو ملکونو دا یو مشترکه قانون دے چې یو مهاجر هم د یوې ادارې چیف ایګزېکټیو نهٔ شي جوړېدے.

د امریکې مشهور وزیرخارجه ډاکټر کسنجر صدارتي ووټونو ته ودرېدے نهٔ شو ځکه چې پلار ئې د جرمني نه هجرت کړے وهٔ او په امریکه کښې اباد شوے وهٔ. دا قدرتي امر دے څوک چې په کومه خاوره پېدا شوے وي هم د هغې خاورې سره مینه لري ځکه د ملک او قوم زمکې خاورې ته د مور په نظر ګوري. په پاکستان کښې چې کوم قومونه اوسي د ټولو خپله ژبه، خپل کلچر او خپل تاریخ دے. پردۍ ژبه او پردے کلچر خپلول د غلامۍ ذهنیت پېدا کوي. انګرېزانو کهٔ په هندوستان حکومت کړے دے نو د بهر نه راغلي خلق وو او د ښو غلامانو د ساتلو د پاره ئې یو ښهٔ قانون جوړ کړے وهٔ. د هندوستان او پاکستان د ټولو قومونو دا غوښتنه وه چې مونږ دې د انګرېز د غلامۍ د نظام نه ځان خلاص کړو او د ټولو قومونو رسمونه رواجونه موجود دي او د مسلمان په حېث د خپل مذهب د قانون سره مینه لرو او مونږه دا غوښتل، چې انګرېزان لاړ شي او د غلامۍ دا نظام ورسره هم ختم شي، ځکه چې زمونږه په پاکستان کښې ټول مسلمانان دي او ټولو ته دغه نظام قابول قبول دے او یا د بېلې بېلې صوبې په شکل کښې قومي رواجي قانونونه شته دے. چونکې دا خلق هم د انګرېز په رنګ د بهر نه راغلي خلق دي د دې خاورې سره مینه نهٔ لري او اسلام ئې هم د دهلي اسلام دے ، ذهني غلامان وو، د انګرېز نظام ئې په پاکستان کښې قایم و دایم وساتهٔ. دوي وائي پاکستان مونږه د پنجابي، بلوچي او سندهي د پاره جوړ کړے نهٔ دے، دا فقط مونږ د ځان د پاره جوړ کړے دے، زمونږه د دې ځاے انسان نهٔ دے پکار، زمونږه د دې

ځاے خاوره پکار ده یعني دا خاوره د دوي نۀ ده نو د دوي ورسره د مور هغه مینه هم نۀ پیدا کېږي. هرڅوک چې ښۀ قیمت ورکوي او د دوي د حکومت تحفظ کوي هم په هغوي ئې خرڅه کړې ده. هم دغه وجه ده چې بغېر د بټهو د حکومت نه چې پاکستاني فوج د هندوستان په جېل کښې بندي وۀ او بېوروکرېسي چپ وه، د پاکستان خارجه پالیسي ازاده پاتې شوې وه، د ملک او قوم په حق کښې فېصلې شوې وې. د لیاقت علي خان په وخت کښې د حلقې د برابرولو د پاره په جهازونو کښې د هندوستان نه په زرګونو خلق راغوښتے شوي وو. د ضیا الحق په دور حکومت کښې باډرې کولاؤ شوے وے، د لکونو په تعداد کښې خلق راغلي دي، د هغوي د پاره په دې ملک کښې د ښې نه ښې نوکرۍ، د بېنکونوقرضې، بهر ته د تللو مراعات، د هندوستان ډېر غریبانان په امریکه او په کنېډا کښې د پاکستان په قرضو باندې استوګنه او تجارتونه کوي. امریکې ته دغه رنګ خلق پکار دي چې د هغوي د ملک سره همدردي نۀ وي او د امریکې په اشاره باندې د خپل مالي جاني ګټو د پاره هرڅۀ کوي. د بټهو د نوي پاکستان سره د خلقو همدردۍ وې، د ډوډۍ، جامې، مکان په نامه د غریبانانو نوي امیدونه د نوي پاکستان د ترقۍ سره وتړلي شول.

صوبائي حقوقو علمبردار قوم له متفقه ائین ورکړو چې په هغې کښې د پښتنو، بلوچو او د نورو لیډرانو دستخطونه موجود دي خو شرط په کښې دا وۀ چې لس کاله پس به صوبائي خودمختاري ورکوو. په دغه دوران کښې یو لکهـ فوج د هندوستان په جېلونو کښې پروت وۀ. د پاکستان بېوروکرېسي خپلو غلطو او بدنیتۍ چپ کړے وۀ. دغه شان د پاکستان په تاریخ کښې په وړومبي ځل یو سیاسي او د عوامو نمائنده حکومت د سِول او ملټري په عدم موجودګۍ کښې د

قوم په حق کښې یوځو فېصلې وکړې. هرکله چې فوج د هندوستان د جېلونو نه خپل ملک پاکستان ته راغلو نو بېوروکرېسي بیا هغه زاړهٔ کرتبونه شورو کړل. بتهو چې د چین، روس او د امریکې د دورې نه واپس راغے نو دا ئې محسوسه کړه چې دغه حکومتونه بغېر د څهٔ شرطه پاکستان سره امداد کول نهٔ غواړي. د امریکې او روس دواړو شرطونه د غلامۍ نه کم نهٔ وو.

پاکستان چې د ۱۹۷۱ء په جنګ کښې نیم ملک بائېللے وهٔ، هر قسمه قرضدارے شوے وهٔ. د دغه ملکونو خیال دا وهٔ چې بتهو به د امداد په عوض کښې زمونږه شرطونه ومني. بتهو خپل ملک ته د راتلو سره عربو ملکونو ته د امداد خواست وکړو او دا خبره ئې ورته ترمخې کړه چې ټول اسلامي ملکونه د غټو طاقتونو په غلامۍ کښې پراتهٔ دي، د هغې په باره کښې ئې اسلامي سربراه کانفرنس په لاهور کښې منعقد کړلو چې تاریخي فېصلې په کښې وشوې یعنې په تېرو دوو درېو سوو کلونو کښې اسلامي ملکونه په دارنګ په یو ځاے کښې راغونډ شوي نهٔ دي او نهٔ دومره ښکلې او تاریخي فېصلې د مسلمانانو په حق کښې شوې دي. په دغه فېصلو کښې یوه دا هم وه چې د جنګ په حالت کښې په امریکه او یورپ پټرول بندول، بل اسلامي بېنک جوړول چې په هغې د ټولو اسلامي ملکونو پېسې د امریکې او یورپ په بېنکونو کښې پرتې وې او خپل ملکونه ئې پرې چلول، هغه رقم راویستل او په اسلامي بېنک کښې داخلول او د هغې نه غریبو ملکونو سره بې سوده امداد کول. اسلامي عدالتي نظام د پاره یو شریک کمېشن چې د جنګ په حالت کښې به فېصله کوي دغه فېصله به د جنګ په حالت کښې د جنګ دواړو فریقو ته منظوره وي. د ټولو نه اهمه، ضروري او پټه فېصله دا وه چې پاکستان سره او داسې

نورو غریبو ملکونو سره دې امداد وشي یعني اېټمي ټېکنالوژي چې هغوي هم د ایټم بم جوړو قابل شي.

روس، امریکې او یورپ دغه فېصلو ته د شک په نظر کتل. دوي په اسلامي ملکونو کښې خپلې ډلې جوړولې او هغه ډلو له د حکومتونو ورکولو کوششونه ئې شورو کړل. بل خوا ته روس او امریکه دواړه په دې متفق وو چې د دوي دا اتحاد دې مات او خراب کړے شي. بتهو د چین، روس او امریکې د دورې نه پس درې څلور کاله د هندوستان او د بنګال د معاملې نه پس د بېوروکرېسي خُلې هم بندې وې. هم دغه درې څلور کاله بتهو ته موقعه وه چې په پاکستان کښې یوه ازاده پالیسي وساتي.

هرکله چې شمله معاهده ترسره شوه، فوج واپس راغے، د بېوروکرېسي خُلې هم ازادې شوې. د سازشونو هغه دور بیا شورو شو. د ۱۹۷۳ء د اٰئین په حواله کۀ چا دا اٰئین مات کړلو هغۀ له به د پانسۍ سزا ورکولے شي. د دې هرڅۀ باوجود په ۱۹۷۳ء کښې د دې اٰئین جوړوونکي خلق په جېلونو کښې پراتۀ وو او یو جرنېل د زور د مخه راځي د اٰئین باني له د پانسۍ سزا ورکوي.

د ایوب خان په دور کښې په حکومت کښې ښې فېصلې شوې وې، چې هغه د لانډري فارم او کارخانه دارو د پاره قانون چې حکومت ته ئې جوابده کړل. په دې کښې ئې ۲۲ خاندانه په ګوته کړل کوم چې د پاکستان مالدار ترینې کورنۍ وې. تقریباً په پاکستان کښې هغه وخت ټولې کارخانې د دوي تر لاسه وې. په ۲۲ خاندانونو کښې ۱۷ داسې کورنۍ وې چې هغه هم د هندوستان نه راغلي خلق وو. په هغه وخت کښې ایوب خان په ښۀ لور ګامزن وۀ کۀ د هغۀ په قانون هم چرې عمل شوے وۀ دا صحیح ده چې پاکستان به د ترقۍ په لور پرمختګ کړے

وۀ چونکې د هغۀ نه هم ګېرچاپېره سي ایس پي ټول افسران او بېوروکرېسي چې اکثریت په کښې د مهاجرو وۀ، د مضبوط مرکز حامیان وو. بنګالیان چې د پاکستان ۶۳ فیصده ابادي وه، هغوي د ابادۍ په بنیاد خپل حق غوښتلو. په مغربي پاکستان کښې د دغه افسرانو ترمخه ځلور واړه صوبې ختمې شوې او د برابرۍ په بنیاد یو مغربي پاکستان په عمل کښې راغے او بل مشرقي پاکستان په عمل کښې راغے ټول امدن ئې په پنځوس پنځوس باندې تقسیم کړۀ. د مشرقي پاکستان امدن د ارهرو او د وریژو نه وۀ. د بنګالیانو دا مطالبه وه چې دا ټول امدن مونږ ته ترلاسه کړئ او دې خلقو پنځوس فیصده امدن مغربي پاکستان ته وسپارۀ او پنځوس فیصده امدن ئې مشرقي پاکستان ته وسپارۀ.

په دغه وخت کښې په اتۀ پنځوسم (۱۹۵۸ء) او یا اووۀ شپېتم (۱۹۶۷ء) کښې د پنډۍ په ګارډن کالج کښې ما تعلیم حاصلولو. زمونږه سره یوځو بنګالیان ملګري په دغه کالج کښې هم وو. په هغه وخت کښې اسلام اباد نوے نوے جوړېدۀ چې په سېل به چرته یو ځا ے د هغه بنګالیانو سره لاړو او د اسلام اباد د لویو سړکونو او د لویو لویو بلډنګونو تعریف به مونږ شورو کړلو نو هغې بنګالیانو ملګرو به وئیل چې د دغه لویو لویو سړکونو نه مونږ له د ارهرو او د وریژو بوئي راځي. په مغربي پاکستان کښې د صوبو دوباره د جوړولو تحریکونه شورو شول. د ایوب خان خلاف هنګامې زیاتې شوې، عوام راپورته شول. د بنګال او د دې صوبو غوښتو والا مشرانو باندې د غدارۍ کېسونه جوړ شول. هنګامې ورځ په ورځ زیاتېدلې چې نتیجه ئې د یحیٰ خان په راتلو او د ایوب خان په تلو ترسره شوه.

زمونږ علاقه د چترال نه تر بولان پورې وه چې کوئټه په کښې

هم شامله وه. یحیٰ خان چې صوبې واپس ومنلې نو زمونږه د صوبې او کوئټې او د بولان حصه ئې بلوچستان ته حواله کړه. دغه شان د پښتنو خاوره، چې زرګونه کاله د امو نه تر جهلمه پورې او د چتراله تر بولانه یادېده، په څلورو حصو تقسیم شوه. یوه د افغانستان علاقه، بله قبائیلي علاقه، بله دصوبه سرحدعلاقه او بله د کوئټې او بولان علاقه. دبلوچستان دصوبې او دصوبه سرحددصوبې دمشرانویو شان احتجاج وۀ. دوي به وئیل چې زمونږه د پښتنو او زمونږه د بلوچو پولې معلومې دي. لهذا حکومت دا کمېشن د هائي کورټ یو جج ته حواله کړو. په دې غرض چې د پښتنو او بلوچو پولې معلومې کړي، هغه جج د خپلو معلوماتو په حواله واضحه کړه چې دا شتۀ بارډر د پښتنو او بلوچو ترمېنځه یو قدرتي پوله ده او دواړه فریقه پرې راضي هم دي. لهذا دا دې هم په دې زړه پوله فېصله شي. خو د پاکستان بېوروکرېسي چې د مهاجرو ترلاسه وه او د انګرېزانو د پالیسۍ په حواله چې "قومونه خپلو کښې جنګوه او حکومت پرې کوه" د پښتنو او بلوچو ترمېنځه د نفرت پېدا کولو د پاره اوس ئې هم هغه پوله په خپل ځاے برقرار ساتلې ده. په سندھ کښې څۀ مهاجر د لیاقت علي خان په وخت کښې راغلي وو ورسره څۀ د خپلو خپلوانو په دعوتونو باندې راغلل. د ضیاالحق په دور کښې خو په حکومت کښې بیخي باډرې کولاؤ وے، د لکهونو په تعداد کښې مهاجر راغلي دي. په کراچۍ، حېدراباد کښې کۀ حساب کتاب وکړے شي نو سندهیان په اقلیت کښې راځي.

په ګوادر کښې د مهاجرو د پاره نوے ښار او بندرګاه جوړېږي چې د کراچۍ نه به هم ښۀ وي او سندهیانو ته دا وائي چې تاسو ناپوهه یئ، تاسو په دې خپلو کلو کښې ژوند تېروئ، مونږ به درله تهول سندھ چلوو او هم به درته تهول پاکستان چلوو. د ضیاالحق په دور حکومت

کښې په پنجاب او ملتان کښې د بیوروکریسي د لاسه تحریکونه شورو شول، خو مقصد ئې ترسره نۀ شولو نو بیا ئې د شیعه سني د فسادونو په نامه باندې په پنجاب کښې دوه جنګي ډلې جوړې کړې چې د سنیانو جنګي تحریکونه او پارټۍ د ملتان نه او د شیعه ګانو جنګي ډلې او پارټۍ د پنډۍ او د لاهور نه شورو شوې. تر اوسه پورې د یو بل په جوماتونو او په مشرانو باندې د مرګونو حملې کوي او دا فساد تر نورو صوبو هم ورسېدۀ. هم دغه شان د دوي د برکته د پاکستان په ټولو صوبو کښې قومونه خپلو کښې په جنګ دي او دوي ته بالکل د چا هېڅ څۀ خیال نۀ دے. دوي په ارام خپل حکومت کوي او د دوي د جنګونو فېصلې کوي. په پاکستان کښې داسې څوک نشته چې په هغې کښې په قومي مشر باندې څوک اعتبار وکړي. نۀ د پاکستان د دغه قومونو د دې خاورې داسې څوک وسېدونکے شته چې هغه هم د دې خاورې او د پاکستان د خودمختارۍ او ګټې فېصلې وکړي.

ازاده پالیسي:

هرکله چې غازي امان الله خان افغانستان د ازادۍ پالیسۍ په لور بوتلو او د افغانستان د فائدې خبرې ئې شورو کړې نو برطانیې د افغانستان خلق د اسلام په نامه راپورته کړل. دغه خلقو به ځاے په ځاے وئیل چې امان الله خان ازاد خیاله سړے دے او د هغۀ د ښځې تصویرونه ئې د ګډا په حالت کښې ویستلي وو او خلقو ته ئې ښودل. هم د هغه طریقه کار په حواله بتهو باندې هم د کفر فتوې ولګېدې. د شریعت په نامه باندې تحریکونه شورو شول، چې د بتهو د پارټۍ نه علاوه نورې ټولې پارټۍ د بتهو خلاف په یو پلېټ فارم ودرېدې او د الیکشن کولو مطالبه ئې وکړه.

هرکله چې الېکشن وشو د هغې نه پس ئې د بټهو په پارټۍ د دهاندلو او د بټهو د لري کېدو تحريکونه شورو کړل. په ۱۹۷۷ء کښې د صفا الېکشن کولو او د احتساب په وعده د بټهو نه اقتدار يو جرنېل ترلاسه کړو يعني دا هم د تاريخ يو عجيبه موړ وۀ چې ټول اسلامي ملکونه چې اسلامي سربراه کانفرنس کښې چا رابللي وو او په دې کښې تاريخي فېصلې چا کړې وې، کومې چې د امريکې او يورپ خلاف وې، د شريعت نۀ منلو په تور کښې د اقتداره لرې کړې شو.

د صفا ووټونو، د احتساب او د شرعي نظام په پاکستان کښې د نافذ کولو په نامه باندې ضياالحق جرنېل اقتدار ترلاسه کړو چې هغه ترکومې پورې ژوندے وۀ تر هغه وخته پورې الېکشن ونۀ شولو. د احتساب په نامه بټهو له پانسي ورکړې شوه. د بېوروکرېسي هغه مهاجر چې ترقي ترې نه د ګټکپۍ ترمخه پاتې شوې وه، هغه تمام مراعات ئې په يو ځل واخستل. دوي د شريعت په نامه نظام صلواة او نظام زکواة د هغه پارليمنټ نه منظور کړو کوم خلق چې د غېر سياسي پارټو په بنياد اسمبلو ته تلي نۀ وو. هغه پارليمنټ ته به دوي مجلس شورىٰ وئيله.

دوه کاله پس په افغانستان کښې د روس فوجونه داخل شول. په پاکستان د نظام صلواة او زکواة ترمخه د ډالرو باران شورو شو. د پښتنو او بلوچو غوندې قومونه چې ځان به ورته په زکواة اخستلو بد ښکارېدۀ دامريکې نه راغلي د زکواة په رقم ئې جنګونه شوروکړل او د جهادپه نامه باندې د اسلامي ملکونو نه مالي او جاني امداد وغوښتے شو، چې په هغې کښې د امريکې او يورپ او نورو ملکونو بهترينې وسلې لکه سټېن ګنې، بلوپائے او کلاشنکوفې يواځې په افغانستان

کښې نه بلکې د درې په بازارونو کښې ښکاره باره خرڅېدلې. جهادي مشران راغلل په پېښور کښې دېره شول او دا عربي مشران چې مالي او جاني امدادونه ورته د امریکې د لوري نه شوي وو، اسامه بن لادن او ایمن الزواهري غوندې خلق ئې په پېښور کښې زمونږه مېلمانۀ کړل.

په ۱۹۶۸ء کښې یو ښۀ لیکوال او ترجمان چې ئې امید پېدا شو چې امریکه د دوېم جنګ عظیم نه پس په خپله یو عظیم طاقت دے، چې ۷ فیصده ابادي ده او د دنیا پنځوس فیصده وسائل هم د امریکې ترلاسه دي. مونږه له پکار دي چې دا ګېپ نور هم سېوا کړو او مونږه په دې کښې انساني همدردۍ او نور فضولیات او جمهوري ملکونه خپل مخ نیوي ته پرېږدو او د ټولې دنیا ټول وسائل کۀ په زور وي او کۀ په رضا وي چې زمونږه ترلاسه شي، چې زمونږه ابادي هم راپاتې شي او دغه شان امریکې ته او د امریکې هر یو فرد ته فائده ورسي. د هغه وخت نه راواخله تر دې وخته امریکه هم په هغه مقام ولاړه ده. نن ئې هم په ټولو وسائلو کښې پنځۀ کم سل فیصده حاصل کړې دي او د پنځۀ فیصدو د پاره ئې کوششونه جاري دي.

په ۱۹۶۶ء کښې په انډونېشیا کښې سهارتو راوستل او هلته په فوجي بغاوت کښې پنځۀ لکه کسان وژل، د نوو نوو غټو کارخانو په نامه باندې انډونېشیا قرضدارے کول او هغوي ځان ته کښېنول. په ۱۹۷۰ء کښې په چیلي کښې یو منتخب صدر وژل او د هغۀ په ځاے د خپلې خوښې جرنېل کښېنول او بیا په ۱۹۸۰ء کښې د جهاد په نامه روسي طاقت ختمول، ټول اسلامي قوتونه په افغانستان کښې غونډول، د دهشت ګردۍ په نامه هغه ختمول دا فقط دغه یو لوري ته اشارې دي چې څۀ رنګ به د ټولې دنیا وسائل زمونږه ترلاسه شي او ټوله دنیا سره د مسلمانانو زمونږه طاقت او زمونږه بدمعاشي ومني.

اسلامي پوهان دانشوران د عیسایانو او یهودیانو د اهمو فیصلو کتابونه نۀ ګوري، دغه شان زمونږ د پاکستان د مذهبي پارټو مشران او دیني عالمان د دغه کتابونو کتونکو ته هم د کافر په نظر ګوري. په ۱۹۸۰ء کښې په برطانیه کښې د لیبر حکومت په خپلو پالیسو کښې د بدلون ترمخه د معاشي بدحالۍ ښکار شول او د پاؤنډ قیمت هم پرېوتلو. د لیبر په کارخانو کښې د هړتالونو په حواله د امدن کارخانې بندې شوې، تر دې حده چې د کلو په کارخانو کښې هم لیبر په هړتال وۀ. په داسې حالاتو کښې د برطانیې انټلي جنټس (M I 6) چې د دنیا بهترینه انټلي جنټس اداره ده، د دنیا دوه لوے طاقتونه یعني روس او امریکې ته خپلې ایجنسۍ جوړې کړې وې لکه سي ائي اے او کے جي بي. دوي برطانیې حکومت ته ووئیل چې نن په ایشیا او افریقه کښې جنګونه د ملکونو ترمینځه روان دي. هر څومره جنګونه چې کېږي دا په معلوماتو باندې ګټلې شي. چونکې مونږه په دغه ملکونو بادشاهي کړې ده، د دوي د اندروني حالاتو نه ښۀ خبر یُو او د دوي ټولې کمزورۍ راته ښې معلومې دي. اوس د دوي نه دا فائده اخستې شو چې په دې دواړو ملکونو خپله وسله خرڅه کړو په دغه غټو طاقتونو چې کوم په دې جنګونو کښې ملوث دي زیات رقم چې کوم یو راکوي په هغۀ به معلومات خرڅ کړو.

د هغه وخت لیبر پارټۍ ورسره دا خبره ونۀ منله هرکله چې الیکشن وشو او کنزرویټیو راغلل د هغې نه پس تېچر دا خبره ومنله چرته ئې د جنګ معلومات په امریکه باندې خرڅ کړل لکه انګولا او موزمبیق هلته به د امریکې ملګرو جنګ وګټلو. په دې دوران کښې به برطانیې په دواړو ملکونو باندې وسله هم خرڅوله او کوشش به ئې دا وۀ چې جنګ دې اوږد شي او زمونږ زیاتې نه زیاته وسله خرڅه شي.

په ۱۹۸۹ء کښې چې څۀ وخت روس په افغانستان کښې داخل شو نو د برطانيې دا معلومات د دواړو ملکونو د پاره انتهائي ضروري وو او د دې معلوماتو د پاره ئې هرڅومره رقم ورکولو خو امريکې برطانيې ته د دوي د طبعې د خبرو د منلو هم پېشکش وکړو. هغه دا چې کۀ چرې دا معلومات تاسو په روس خرخ کړل نو تاسو سره به زړې معاهدې ختمې کړو او برطانيې ته به د دشمن په نظر ګورو. دغسې په ۱۹۸۹ء کښې د ګټې کولو کارخانو کښې په امريکه کښې، برطانيې ته بې رقمه حصې ملاو شوې چې په هغې کښې د کوکاکولااو پيپسي، د موټرو جهازونو کارخانې هم شاملې وې.

امريکنيان کم عقل خلق وو چې د معاهدې نه پس برطانيې ترې نه پوښتنه وکړه چې په افغانستان کښې څۀ غواړے هغوي ورته ووئيل کابل غواړو، دوي ورته ووئيل کابل خو په يوه ګېنټه کښې قبضه کېږي او د پاکستان پرې په اختتو نهايت دوه درې ورځې لګي. خو مونږه ته خپله تجربه، خپل تاريخ او خپل معلومات واضحه کوي چې کابل نيول اسان دي خو وتل ترې نه ګران دي او کۀ تاسو چرې زمونږه په مشوره باندې عمل وکړلو چې دې جنګ له لس کاله دوام ورکړئ، نو زمونږه تاسو سره دا وعده ده چې په دغه لس کاله کښې به درته ټول روس ختم کړو هرکله چې روس ختم کړو بيا مونږه په دغه عوض کښې ستاسو نه څۀ نۀ غواړو او د دې جنګ د اوږدولو فائدې زمونږ د لاسه ځي، امريکې ته ئې ترمخه کړه.

وړومبے دا چې دا جنګ به د اسلام او د جهاد په نامه کېږي نو خاص د عربو ملکونو او د اسرائيلو ترمېنځه په جنګ کښې چې شک او شبهې په نوم په يو بل پېدا شوي دي هغه به ختمې شي. وائي به چې امريکه د جهاد په نامه باندې په افغانستان کښې د مسلمانانو سره

امداد کوي. د دوي نيت زمونږه د پاره ښهٔ دے او په کومو عربو ملکونو کښې چې د تېلو وسائل دي او ستاسو دا خواهش دے چې دا به په زور نيسو هغوي به د خپلې دفاع د پاره په خوشحالئ ستاسو فوجونه راولي او په خپلو ملکونو کښې به ئې ډېره کړي. دغه شان د هغوي وسائل به په پُرامن طريقه ستاسو ترلاسه شي. بله دا چې د ټولو اسلامي ملکونو به د روس نه هغه خوف پېدا شي چې روس سره د وسلې معاهدې شوې دي، هغه به هم ختمې شي، بيا به زمونږ نه او ستاسو نه د وسلې اخستلو کوششونه کوي. بله دا چې په افغانستان کښې مونږه په خپله نهٔ جنګېږو، البته په دې جنګ کښې چې روس کومه وسله استعمالوي، مونږ ته به د هغې وسلې پته ولګي چې دا وسله څهٔ رنګ جوړه شوې ده او په دې کښې څومره طاقت دے؟ بله دا چې دا وسله به د لسو کلونو په دوران کښې په افغانستان کښې په افغانانو باندې ضائع شي. بله دا چې زمونږه او ستاسو دا فائده مشترکه ده، هغه داچې زمونږه اصلي دشمن روس نهٔ دے بلکې مسلمانان دے چې مونږه په افغانستان کښې چې څومره جنګي مسلمانان دي چې د مذهب په نامه باندې د کافر سره په جنګ فخر کوي، هغه به ټول په افغانستان کښې راغونډ شي هسې به هم دغه برخه زمونږه په ذريعه اخلي، خو د دوي پېژنګلو به هم وشي د سبا د پاره به د دوي په ختمولو کښې مونږه ته اسانتيا وي، په ځاے د اسلامي ملکونو چې په دې خلقو پسې ګرځو او جنګي مسلمانان پېدا کوو، دوي به ټول يو ځاے ته راغونډ کړو، اول به په دوي روس ختم کړو، څهٔ خلق به په دغه جنګ کښې د دوي ختم شي، جنت ته به لاړ شي او چې کوم خلق پاتې شي، هغه به ورپسې مونږه تر جنته ولېږو. دا خلق ختمول مونږه ته د مسلمانانو نه د لښې ويستلو په شکل کښې

ښکاري. په ټولو اسلامي ملکونو کښې چې کوم بقایا پاتې دي دا بې لشې ماکوان دي، ښځه په خوشحالۍ به زمونږه غلامي قبوله کړي یعني دا ټول پلاننګ د هغوي صحیح وځ او په صحیح طریقه ئې ترسره کولو، فقط لشې والاخلق لا پاتې دي چې د دوي د ارادو نه برعکس ورځ تر ورځې زیاتیږي. هغه یواځې په افغانستان کښې نه بلکې د عراق او لبنان غوندې ملکونو کښې ئې لشې پیدا کړي.

په اسلامي ملکونو کښې سیوا د ایران نه داسې ملک نشته چې د هغې وسائل د امریکې او د هغې د اتحادیانو ترلاسه نه وي. د روس چې کومه حصه د افغانستان سره په بارډر پرته ده او ټول اسلامي ممالک دي، په دې کښې د تېلو او ګېسونو ډېرې لویې او غټې ذخیرې پرتې دي. روس د دې ملکونو نه پائپونه ماسکو، یوکرائین او کیوبا ته رسولي دي نو د دغې نه په اوچه باندې دا پائپونه یورپ ته هم ورکولے شي خو دغه لاره د امریکې د پاره ډېره اوږده ده او که څه فائده ورکوي، هغه به یورپ ته ورکوي. امریکې ته د ټولو نه نزدې او فائده منده د ایران په لاره دغه پائپونه سمندر ته غورزول دي.

په موجوده حالاتو کښې دغه دوه لارې ممکنې نه دي. په افغانستان کښې چې تر کومې پورې یو مضبوط حکومت راغلے نه وي او پُر امن حالات ئې پیدا کړے نه وي نو د پائپونو بوتلو اراده په افغانستان باندې فضول ده.

د برهان الدین رباني د صدارت په وخت کښې په افغانستان کښې د یونیکال او نورو بین الاقوامي ادارو چې هغه د پټرولو او ګېسونو په کارونو کښې ملوث دي ورسره ئې معاهده کړې وه، چې مونږه به د افغانستان په لاره دا پائپونه پریږدو. چونکې د رباني حکومت په افغانستان کښې څه حکومت نه وځ او دغه پائپونه د ټولو

صوبو نه تېرېدل او په دغه صوبو کښې اکثریت هم د پښتنو وۀ چې د رباني حکومت ئې نۀ منلو.

د بې نظیر دحکومت په دوران کښې هم دا معاهدې شوې دي، چې ستاسو پائپونه به مونږه په دې لاره پرېږدو چونکې په دوي ډېره تادي وه زور ئې لګولے وۀ، وئیل ئې ستاسو پائپونه ولې نۀ راځي؟ هغوي ورته ووئیل په کومه لاردافغانستان چې پائپونه رسول پکاردي، په هغه لاره د رباني کنټرول نشته. نصیرالله بابر هم په دغه حکومت کښې وزیر وۀ، هغۀ ووئیل چې په دغه لاره د پائپونو رسولو زۀ ګارنټي درکوم البته زما سره د قومي سفارتخانو نه خلق ولېږئ زۀ به هم په دغه لار په کومه لار چې تاسو پائپونه راوستل غواړئ هغوي سره به د ټولې قافلې لاړ شم، بیا به پرې راشم چې دا ثابته شي چې په افغانستان کښې څۀ مشکلات نشته. خو چې هرکله دا پروګرام ناکام شو، بابر صاحب دا نمائندګان او طالبان سره مخامخ کړل، ورته ئې ووئیل کۀ تاسو او مونږه د دې طالبانو سره امداد وکړو نو دوي به د دې قابل شي چې په ټول افغانستان به دوي حکومت وکړي. هرکله چې د هغوي حکومت راغے د نوي فیصد نه زیاته حصه د دوي ترلاسه راغله. د دې مقصد حاصلولود پاره چې په ټولو غلطو کارونو طالبانو د امریکې خُلۀ بنده کړې وه، کۀ د ۱۱/۹ حالات نما شوے نۀ وے نو تراوسه پورې به د دوي دا مقصدهم تر سره شوے وۀ خو د مالي او جاني امداد په شکل کښې د عربو نه راغلے اسامه چې په افغانستان کښې د طالبانو مېلمه وۀ، ۱۱/۹ او په امریکه کښې د دماکو دعوه پرې وشوه، د امریکې دا خیال وۀ چې طالبان خو زمونږه د لاس جوړ شوي خلق دي او ښۀ مسلمانان هم دي، چې څۀ رنګ صلح حدیبیه رسول (ص) د خدائے د کافرانو سره کړې وه، چې څوک په جنګ کښې زمونږه نه په تېښته

باندې تر تاسو درشي هغه به مونږ له راکوئ. لهذا د صلح حديبيه په حواله اسامه بن لادن مونږ له راکړئ، خو د شاه حسين بادشاه وروراو د پاکستان ډېرو ښو ښو عالمانو چا چې ورته صلح حديبيه په ګوته کړې وه، د هغې باوجود ئې اسامه ورنهٔ کړلو او په جواب کښې ئې ووئيل دا به د مسلمانانو روايت وي خو د پښتنو دا روايت نهٔ دے، څوک چې زمونږه په ځاے کښې پناه واخلي ترڅو پورې چې زمونږه کورنۍ پرې مړې شوې نهٔ وي تر هغې پورې په ژوندانهٔ باندې هغه مېلمه واپس نهٔ ورکوو. د هغه رواياتو په بنياد دهٔ له مونږ دلته پناه ورکړې ده او دې اوس د امريکې او د هغې د اتحاديانو سره جنګېږي.

عجيبه خبره دا ترمخه راشي چا چې جوړ کړي وو، چاچې پاللي ووهم هغوي ئې دختمولو کوشش کوي. په داسې حالاتو کښې پاکستان هم عجيبه حالاتو سره مخ شو. دېرش کاله د افغانستان سره په ټولو مصيبتونو کښې شريک وهٔ مهاجرئې دېرش کاله په خپله خاوره وساتل او هم ئې وپالل او د روس سره د جنګ په دوران کښې د مجاهدينو ټول مشران په پېښور کښې پراتهٔ وو او د پاکستان فوجي امداد او د خلقو تر مخه د روس غوندې طاقت نه ځانونه خلاصول د پښتنو د صوبې خلق چې سل په سل فيصده مسلمانان دي، د روس خلاف په جهاد کښې د خپلو پښتنو ورونړو سره اوږه په اوږه جنګېدلي دي او شهيدان شول. د پاکستان مسلمان ګاونډي ورور سره په دې جهاد کښې برابره حصه اخستې ده. د جنګ د هر قسمه تاوان بالخصوص پاکستان ته او زمونږه صوبې ته ورسېدو او فائده ئې هندوستان ته ورسېده. د پاکستان فوج ته او د پاکستان خلقو ته د افغانستان خلق نن د نفرت په نظر ګوري او د دوي په ښو فېصلو شک کوي.

پاکستان او امريکې دواړو په شريکه طالبان په افغانستان

کښې د امن د پاره جوړ کړي وو او تربیت ئې ورکړے وۀ. دغه طالبان یواځې طاقت پاتې شوے وۀ، په افغانستان کښې امن راوستل او دپاکستان سره ښۀ تعلق ساتلو امیدونه وابسته وو. نن د پاکستان هغه فوج ته حواله شوے دے چې اوس ئې ختم کړئ. دغه شان امریکه مونږ ته وائي چې تر کومې پورې دا بچي تاسو لوے کړي وو او تاسو پاللي وو او تاسو تربیت کړي وو، هغه په خپل لاس ختم کړئ. اوس د پاکستان واکدارانو د ویرې نه دا فېصله کولې نۀ شوه چې مونږه خپل ځان وساتو، خپلې کرسۍ وساتو، اسلام وساتو او کۀ خپل بچي وساتو او کۀ د خپلو کرسو ساتلو د پاره خپل بچي مړ کړو؟

آیا څۀ رنګ دافغانستان خلق د پاکستان مشرانو ته د نفرت په بنیادګوري. د دنیاټول ازادخودمختارملکونه اودهغې مشران یعني هر یو د خپل ملک دپاره داسې پالیسۍ جوړوي چې هغه هم د هغې ملک په ګټه تمامېږي. په دې کښې د هغه ملک د وسېدونکو د اکثریت مرضي هم شامله وي. په جمهوري نظام کښې باربار د الېکشنونو په ذریعه عوام دخپلې رائې اظهارکوي. پاکستان په ټوله دنیا کښې واحد داسې ملک دے چې د مذهب په نامه جوړ شوےاو ببل شوے دے. دا هم د تاریخ یو تریخ حقیقت دے چې په هغه وخت کښې د هندوستان ټولومذهبي پارټود مذهب په نامه د دې د جوړېدو مخالفت کړے دے. لکه جمیعت علمائے هند او جومات اسلامي هم د دې جوړونکو خلقو باندې د کفر فتوې ورکړې وې او دا وئیل چې دغه خانانو، نوابانو ته کلیمې هم نۀ ورځي، څنو به وئیل چې په پاکستان کښې چې څومره ملسمانان دي د دې په دوه هومره مسلمانان په هندوستان کښې دي او د هندوانو په رحم وکرم پاتې دي. څنو به وئیل چې هندوستان کښې مونږ په شریکه پاتې شو نو مونږه به دا باقي هندوان مسلمانان کړو.

د ۱۹۸۰ء نه پس دا کار د امریکي او برطانیې دانشوران ترسره کوي چې د سلطان صلاح الدین ایوبي د وخت نه راواخله تر سن دوه زره پورې د دوي ټول پنځوس کلیزه پروګرامونه هم په دغه وختونو کښې ترسره شوي دي چې په دوه زره او دوه زره یو کښې د دوي د مشرانو د وېناګانو په حواله دریم جنګ عظیم شورو شوے دے او دا د دهشت ګردئ په نامه شورو دے چې د مسلمان نه علاوه ئې په بل چا ګوته اېښې نۀ ده. د بدقسمتئ نه چې دا لر ډېر وسائل چې کوم امریکي ترلاسه کړي نۀ هغه څۀ په ایران کښې دي او څۀ د روس نه ازاد شوي ملکونو لکه تاجکستان، ازبکستان چې ټول مسلمانان دي، دغه وسائل خپل لاس ته د راوستو د پاره په افغانستان کښې امن ضروري دے خو داسې امن چې د دوي د مقرر کرده خلقو د لاس د لاندې راشي او بیا د پاکستان په لار دغه پائپونه تر سمندر راورسوي.

په افغانستان کښې امن او د امریکې فوج پاتې کېدل د ایران د حالاتو سمولو د پاره او ځاے په ځاے کښې دا اخري وسائل قبضه کولو د پاره هم دا ضروري دے. په بلوچستان کښې حالات خرابول هم په دغه لور باندې یو قدم دے چې د امریکې فوج خو دلته کښې راشي او د بلوچیانو زمکې قبضه کړي. دا ځکه چې د هغوي پوله هم د ایران سره لګېدلې ده بل په بلوچستان کښې خپله هم د ګېسونو، پټرولو ذخیرې موجودې دي ځکه د دهشت ګردئ خلاف دا جهاد چې د امریکې پوهان ورته دریم عظیم جنګ وائي، د بلوچستان قبائیل او زمونږه صوبه چې ترکوئټې پورې په کښې پښتانۀ دي، د دې علاقو دا جنګ شورو شوے دے او هم په دې علاقو به ختمېږي. د پاکستان او افغانستان دیني عالمان فقط په خُلۀ وائي مونږه د امریکې خلاف یُو خو په ناپوهئ کښې خپلو صحیح خبرو ته عملي جامه اغوستې نۀ شي

ځکه چې د جنګ په حالاتو کښې لږه ناپوهي د دوي ټول عالم اسلام ته ډېر نقصان رسولے شي. د ټولو غټو پارټو مذهبي مشران په پاکستان کښې او په افغانستان کښې پښتانۀ دي. په اسلامي ملکونو کښې ښکاره جاره ایران د امریکې خلاف په صف کښې ولاړ دے چې د انګرېزانو وفادارو ایجنټانو د شیعه ګانو په نامه باندې د پاکستان او افغانستان سني مسلمانانو د فقهې په نامه باندې په مخالفو اړخونو کښې ودرولي وو چې نن هم په هنګو، پاړاچنار، ډې ائي خان او بنو غوندې ځایونو کښې د شیعه او سني فسادونو قیصه روانه ده.

ماځکه د دغه دیني پارټو مشرانو ته اشاره وکړه چې ټول پښتانۀ دي او پښتانۀ وائي چې زما د دشمن دشمن زما بهترین دوست دے. په حقیقت کښې کۀ دوي امریکې ته د دشمن په نظر ګوري کۀ ایرانیان کافر هم دي، خو زمونږه د دشمن دشمن دے او د امریکې په جنګ کښې زمونږه بهترین دوست کېدے شي. کوم دیني عالمان چې پاکستان کښې په قبائیلي علاقوکښې د شیعه سُني فسادونه جوړوي، هغوي فقط د امریکې امدادکوي ځکه چې د امریکې دشمن کمزورے کوي. هم دغه مشران په پاکستان کښې یوه بله واضحه غلطي کوي چې دوي ټول پاکستان ته په یو نظر ګوري او د ټول پاکستان د پاره ئې یو شان پالیسۍ جوړې کړې دي. تاریخ ګواه دے چې سندهـ او پنجاب ټول عمر د هندوستان سره په هرڅۀ کښې شریک پاتې شوي دي، د دوي تاریخ، ژبه، ثقافت، کلچراو مذهبي روایات نن هم د هغه دي کوم چې په هندوستان کښې د وسېدونکو قومونو دي. زمونږ د صوبې او د بلوچستان تاریخ د افغانستان سره شریک پاتې شوے دے او زمونږه مذهب، روایات، ژبه او کلچر یو وو او یو دے.

زمونږ خلقو ټول عمر شمال مغرب ته کتلي دي او د دې علاقو

نه په ښکته تلي دي، یواځې هندوستان نه بلکې په ټوله ایشیا کښې ئې دا دوه مذهبونه خوارهٔ کړي دي. اشوکاوائي زما نیکونه د بامیان نه راغلي ووځکه په ټوله دنیاکښې د ټولو نه غټه مجسمه په بامیان کښې جوړه وه. بدهـ مت د اشوکا په وخت کښې خور شوے دے .دهٔ وئیل زما داسې قوم دے چې دکوره په بهر خوشحاله دے ځکه چې دوي د سیند د لارې تجارت کوي ځکه د ټولې ایشیا لارې ګودرې ورته معلومې دي. د بامیان نه راواخله تر ټیکسلا پورې علاقه ده، په هره دره او په هره ضلع کښې د بدهـ اثرات اوس هم پراتهٔ دي. زمونږه چارسده د ګندهارا اولنۍ دارالخلافه وه چې دا دیحٰی علیه السلام د پیدائش نه پنځهٔ سوه کاله مخکښې او د هغهٔ د رحلت نه شپېتهٔ کاله وروستو یعني شپږ سوه کاله دارالخلافه پاتې شوې ده. د کنشکا په وخت کښې دارالخلافه تر پېښوره لاړه او پنځهٔ سوه کاله پېښور چې په هغه وخت ئې ورته کنکشن پور وئیل د دې نه وروستو ځلور سوه کاله دریمه دارالخلافه هونډ (هنډ) وه، د هونډ نه راواخله تر تخت بهائي پورې اثرات موجود دي. په ټول هندوستان کښې بلکې په ټوله ایشیا کښې چې د اوبو لارې ورته معلومې دي او په دغه وختونو کښې ابادۍ هم د سیندونو په غاړو وې نو بدهـ مت ئې په دغو علاقو کښې خور کړو او چې کله مسلمانان شول نو په دغو ځایونو کښې ئې اسلام خور کړو. هم دغه وجه ده چې په ټوله ایشیا کښې او په کوم ځاے کښې چې بدهـ مت والاوي نو هلته به ورسره مسلمان هم وي او کهٔ د ایشیا زړې نقشې وګورو او د اوبو هغه لارې معلومې کړو نو ثابته به شي چې دا دواړه مذهبونه د یو قسم خلقو د لاسه راغلي دي، فقط دومره ده چرته کښې بدهـ مت والا کم دي، مسلمانان زیات دي، چرته کښې بدهـ مت والا زیات دي مسلمانان کم دي. زمونږه مذهبي مشران او عالمان نهٔ د دې تاریخونو

نه خبر دي او نۀ ئې کتلي دي او نۀ پرې ځان پوهوي. حالانکې انګرېزانو به وئيل کۀ چرې دا خلق مونږه عیسایان کړل، په زور یا په رضا نو په ټول هندوستان کښې او په ټوله اېشیا کښې زمونږه مذهب خورېدے شي. هم د دغې په حواله روس افغانستان ته رانتوتو، خیال ئې دا وۀ کۀ زمونږه نظریه دوي قبوله کړي ټولې دنیا ته به ئې هم دوي ورسوي. حالانکې نورو ملکونو ورله دا پېغورونه ورکول چې چرته روس او چرته افغانستان غوندې وروستو پاتې ملک؟ هم دغه ارمان د امریکې هم دے چې د هغوي په پالیسۍ کښې دا یو اخري خنډ دے. کوم دربم جنګ عظیم چې هغوي د افغانستان نه د مسلمان خلاف شورو کړے دے د هغې مقصد هم دا دے. هرکله کۀ مونږه دلته ګټه ور شو دا لکه چې مونږه د ټولې دنیا د مسلمانانو ګټه وکړه.

لارډ ماؤنټ بېټن:

لارډ ماؤنټ بېټن د هندوستان وروستے وائسرائے وۀ. د هغۀ یو سېکرټري د هغه وخت د یاداشتونو په شکل کښې یو کتاب لیکلے وۀ هغه لیکي چې: انګرېزانو دوېم جنګ عظیم ګټلے وۀ خو د دغه جنګ ترمخه د برطانیې ملا ماته وه، خو کوشش ئې دا وۀ چې مونږه دې زر تر زره د هندوستان نه وځو او د هندوستان تقسیم په سیاسي پارټو او د هغې په مشرانو باندې پرېږدو، بیا ئې خپله خوښه ده چې څۀ ترې نه جوړوي. په دغه وخت کښې امریکې ته هم د ځان پته لګېدلې وه چې زۀ هم یو طاقت یم، یو قوت یم او په راتلونکي وخت کښې به زمونږه د روس او چین سره مسئلې ترمخه کېږي. د انرېګزانو د مشرانو نه ئې پوښتنه وکړه هر کله چې تاسو هندوستان ازاد کړئ آیا د هندوستان مشران به سبا له زمونږ سره د روس او چین خلاف ودرېږي؟ هغوي

ورته واضحه کړه دا تپوس ترې نه په خپله وکړئ. د امریکې ځنې مشرانو د نهرو سره په دې باره کښې ولیدل او خپله رائې ئې ورته په ګوته کړه. نهرو ورته ووئیل مونږه ډېر په مشکله ځان د یوې غلامۍ نه خلاص کړو. زمونږ عوام به چرې هم دې ته تیار نهٔ شي چې ځان دې په بله غلامۍ کښې بوخت کړي. دې د هندوستان مشرانو او نهرو امریکنیانو ته ووئیل چې مونږ به هر هغه کار کوو چې د هندوستان او د هندوستان د عوامو په کښې فائده وي.

د دې خبرو سره امریکنیان بد ذهنه شول، د انګرېزانو مشرانو ته ئې په ګوته کړل چې د هندوستان په ماتولو کښې زمونږ فائده ده. هغه دا چې نوے پاکستان چې جوړېږي د دوي به د حکومت د چلولو د پاره ډېر ضرورتونه وي. کهٔ د دغه ضرورتونو د پوره کولو ورسره مونږه وعده وکړو بیا خو زمونږ سره په هره معامله کښې ځنګ په ځنګ ولاړ وي. خو پکار دي چې د هغه پاکستان د چین سره بارډر وي. دغه شان د هغه وخت نه د ګلګت او چترال اړخونه د چین سره په بارډر پراتهٔ دي. دا لیکونکے یوه بله خبره هم کوي هغه دا چې د انګرېزانو په دې زړهٔ نهٔ وهٔ چې هندوستان دې مات شي خو چې هر کله د هندوستان د ماتولو فېصله وشوه د انګرېزانو دا خیال وهٔ چې د پښتنو مشران به هم د خپلې صوبې او د نوي ملک د ازادۍ خبره وکړي. د ماونټ بېټن د ایلچي په حواله چې پېښور کښې د کمشنر په کور کښې ئې مشران بېل بېل سره ولیدل او دا خبره ئې ورته ترمخه کړه چې هندوستان ماتېږي او پاکستان جوړېږي نو تاسو په کښې د خپل ازاد وطن خبره نهٔ کوئ؟ د دې صوبې نور مشران هم د مسلم لیګ سره تړلي دي، د دوي دا خیال وهٔ چې باچاخان به زمونږه سره په دې خبره کښې ملګرتیا وکړي. هر کله چې د ډاکټر خانصاحب او د باچا خان سره ئې لیدل کتل وشول، هغهٔ

ورسره هم دا خبره ونۀ منله. باچاخان ووئیل ګاندهي زماسره وعده کړې ده چې هندوستان به نۀ ماتېږي. د انګرېزانو ایلچي په دې باره کښې ووئیل چې مونږه خو د هندوستان د ماتېدو تاریخ مقرر کړے دے. عنقریب ده چې په هغه تاریخ د دې ملکونو د ازادۍ اعلان وکړو. ډاکټر خانصاحب ووئیل نهرو زما د سبق ملګرے دے او زمونږه د کورنۍ سره ئې نزدې تعلق هم دے، کۀ داسې څۀ خبره وه نو هغۀ به خامخا ماته کړې وه. دغه شان وائسرائے د دې صوبې د مشرانو نه د ملاقاتونو پوښتنه وکړه، فقط په دوو الفاظو کښې ئې د قهره دا خبره ختمه کړه: **They are anogantand stupied** یعني د انګرېزانو دا خیال وۀ چې مسلمانانو په هندوستان زر کاله بادشاهي کړې ده دا مسلمانان بادشاهان د پښتنو په مرسته بادشاهان جوړ شوي دي، نو دا خلق په هندوستان کښې پائېدے نۀ شي او نۀ په پاکستان کښې پائېدے شي. د دوي عادتونه، د دوي رسمونه رواجونه هرڅۀ د هندوستان د خلقو نه بدل دي. انګرېزانو چې د دې علاقې تاریخ ښۀ مطالعه کړے وۀ نو دې خلقو ته ئې د اباسین د هغې غاړې خلق ووئیل او باقي خلق د هندوستان ئې د دې غاړې ګڼل.

د چین یو لیکوال او تاریخ دان او د یونان یو لیکوال دواړه د ګندهارا په باره کښې لیکي د اباسین مغرب ته، شمال مغرب ته او جنوب مغرب ته تر بامیانه پورې ګندهارا پرته ده. دغه شان انګرېزانو هم د اباسین د دې غاړې خلقو ته د ګندهارا ترمخه په هغې زړو سترګو کتلي دي، ځکه د انګرېزانو زمونږه سره دا همدردي وه چې په هندوستان کښې به نور واړۀ واړۀ قومونه ازادېږي نو کۀ دوي ځان له یو ازاد وړوکے ملک جوړ کړي نو په دوي زمونږه د تېرو سلو یونیم سلو

کالو د ظلمونو ازاله به وشي یعني هغه چې مخکښې مونږه کوم ظلمونه د دې ځاے په خلقو کړي دي.

په ۱۹۴۷ء کښې پاکستان په وجود کښې راغے. مخکښې چې کومې اسمبلۍ جوړې شوې وې هغه وخت په صوبه سرحد کښې د ډاکټر خانصاحب حکومت وۀ او په مرکز کښې باچا خان د قومي اسمبلۍ ممبر وۀ. د پاکستان په وړومبي قانون ساز اسمبلۍ کښې باچاخان وئیلي وو چې مونږه تراوسه پورې پاکستان نۀ منلو، مونږه وئیل دا د هندوانو تقسیم نۀ دے، البته دا د مسلمان تقسیم دے، خو چې پاکستان جوړ شو او زمونږه علاقه په کښې راغله، نو اوس ئې منو. بله دا چې هرې صوبې ته خودمختاري ورکړئ نو د هرې صوبې خپل خپل مشر به د خپلې صوبې د ښۀ کولو د پاره محنت او هلې ځلې شورو کړي، چې هره صوبه ښه شي پاکستان به خود بخود ښۀ شي.

د ۱۹۴۰ء قرارداد پاکستان کښې په واضحوټکو کښې لیکلے شوي دي چې هرې صوبې ته به مکمل اختیار وي او کۀ هره یوه صوبه د خفګان په توګه بېلېدل غواړي نو بېلېدې شي. هرکله چې دباچاخان د خُلې نه دا خبره په اسمبلۍ کښې ووته نو د ټولوپه غوږونو باندې بده ولګېده، ټولو ووئیل دا د ګاندهي جي ملګرے دے، پاکستان ماتول غواړي. څۀ رنګ چې په دې کتاب کښې مخکښې واضحه شوي دي چې دا د هغې خلقو ایجاد دے چې د هندوستان نه راغلي وو او په هغه ځاے کښې نوابۍ او جاګیرونه ئې ورته پرېښودلي وو، دغې خلقو دلته د مضبوط مرکزخبره کوله یعني هغې خلقو چې د پاکستان د یوې صوبې هم وسېدونکي نۀ وو او په پاکستان کښې ئې چرته هم مرکز نۀ وۀ نو د خپل مرکز د مضبوطولو د پاره او ځان له د مرکز جوړولو په ځاے د مضبوط پاکستان د مرکز خبره وړاندې کړه خو د پاکستان په

اسمبلۍ کښې د جاګیردارو، نوابانو اکثریت وۀ، ټولې خبرې ئې په انګریزۍ ژبه کښې کولې. د باچا خان دا ماحول خوښ نۀ شو، د دغه اسمبلۍ د رکنیت نه ئې استعفیٰ ورکړه. بیا د باچا خان په دغه سیټ غني خان تر اسمبلۍ لاړۀ. بقول غني خان په مونږه پسې په دې صوبه کښې د پښتونستان د ازادۍ خبره ګرمه وه او قیوم خان هم په مونږه راوتپله. لیاقت علي خان یوه ورځ زما نه پوښتنه وکړه چې د پښتونستان دا خبره څۀ رنګه ده او څوک ئې کوي؟ ما جواب ورکړو چې مونږ د دې ملک نه د انګریزانو نامه ختمول غوښتله، هغه نامه ختمه شوه. اوس کۀ زمونږه د دې صوبې پښتونستان نامه ږدي یا څۀ بل څۀ نامه ورله ږدي خو چې کم از کم دې صوبې له خپله نامه ورکړي او دویمه صوبائي خودمختاري ورکړي نو دا به ډېره ښه وي. مونږه د پاکستان په چوکاټ کښې دننه وسېدل غواړو. لیاقت علي خان په دې باره کښې ووئیل دا خو جائزې مطالبې دي البته ستاسو په صوبه کښې خو د مسلم لیګ حکومت دے. ما وئیل هم د هغوي د پاره صوبائي خودمختاري غواړو. لیاقت علي خان واضحه کړه چې د راتلونکې اسمبلۍ په اجلاس کښې دا مطالبې وړاندې کړه، مونږه ئې درسره ضرور منو. په دې دوران کښې د لیاقت علي خان پي اے او د اسمبلۍ یو ممبر جدا شول، سره ښېله خبره ئې وکړه. د هغې نه پس ماته رامخامخ شول، وئیل دا مطالبې مونږ تاسره د اسمبلۍ په اجلاس کښې منو، خو د باچاخان د لاس یو تحریري خط هم د ځان سره راوړه چې مونږه پښتونستان د پاکستان په چوکاټ کښې دننه غواړو.

غني خان: د باچا خان لیکلے خط خو به راوړم خو زمونږه په صوبه کښې د قیوم خان حکومت دے، ما هغه د دې خط راوړلو ته نۀ پرېږدي، ما به تنګوي.

لیاقت علي خان: دا زما سېکرټري دے د دهٔ نامه هم لیاقت علي ده، دې په لاهور کښې وي چې تاته څهٔ مشکلات وي، دې به ستا امداد کوي. د اسمبلۍ اجلاس په هغه ورځو کښې په کراچۍ کښې کېدهٔ. لیاقت علي خان دوباره واضحه کړه چې د باچاخان تحریري خط راوړے نو زما دې سېکرټري ته ئې حواله کړه. هرکله چې د اسمبلۍ اجلاس کېږي مونږه ستاسره دا مطالبې ضرور منو.

غني خان: د دې خبرو نه پس ډېر په خوشحالۍ تر کلي راغلم او زړهٔ کښې مې وئیل چې دا خو به د پښتنو دوه غټې مطالبې حل شي. بیا مې باچاخان ته دا خبره تر غوږو کړه.

باچاخان: د دې د پاره به د پارټۍ د جنرل کونسل اجلاس راغواړو. د هغوي نه به پوښتنه کوو چې آیا دا خط ورکړو او کهٔ نا؟ د پارټۍ په دې خبرو درې اجلاسونه ترسره شول. د ډېر بحث مباحثې نه پس دا فېصله وشوه چې خط ورکول پکار دي. چا به وئیل دا لیکل پکار دي، چا به وئیل هغه لیکل پکار دي او ډېرو کسانو لا زما په خُلهٔ باندې اعتبار هم نهٔ کوهٔ چې لیاقت علي خان به په رښتیا داسې وئیلے وي؟

د خط په الفاظو چې څهٔ وخت اختلاف راغے زهٔ په غصه کښې پاڅېدم، په هغه ورځو کښې خط کتابت په انګرېزۍ ژبه کښې کېدهٔ، وئیل مې کهٔ زما نه علاوه څوک په انګرېزۍ ژبه ښهٔ پوهېږي هغه دې دا خط ولیکي او کهٔ ستاسو خوښه وي نو زهٔ به دا خط ولیکم او تاسو ته به ئې ترمخه کړم چې تاسو ئې منظور کړئ بیا به پرې باچاخان دستخط وکړي، زهٔ به ئې بیا ورسوم. په ساده ساده الفاظو کښې مې ولیکل چې صوبائي خودمختاري غواړو او د دې صوبې په وسائلو خپل اختیار غواړو. څلور څیزونه دې د مرکز ترلاسه وي: دفاع،

کرنسي، فارن پالیسي او کمیونیکېشن. د دې نه علاوه نور هرڅهٔ به د صوبې سره وي او دا هرڅهٔ به د پاکستان په چوکاټ کښې دننه وي.

د خط لیکلو په وخت کښې دا فېصله وشوه چې دا خط به یواځې غني خان نهٔ اوړي، قاضي صاحب او امیراحمد خان به ورسره هم ځي. دهغې په سباله مونږدرې واړه سره د باچاخان د خط لاهور ته روان شو. یوځل پولیس په نوښار کښې ونیولو، لس ګېنټې ئې ایسار کړو، بیا ئې په اټک کښې ونیولو او دا تپوسونه ئې زمونږ نه کول چرته روان یئ؟ څهٔ د پاره ځئ؟ ستاسو ترمېنځه څهٔ خبره شوې ده او دا چا سره شوې ده؟

ماته لیاقت علي خان هسې هم وئیلي وو کهٔ د پولیس نه درته شکایت وي نو زما دغه سېکرټري چې په لاهور کښې دے پولیس ته هم د دهٔ نامه اخله ورته وایه د هغهٔ سره مې کار دے چې هغهٔ ته پته لګي ضرور به ستا امداد کوي. دغسې د لسو ګېنټو په ځاے مونږ تر لاهوره په دوو ورځو کښې ورسېدو. مونږ درې واړه ملګري چې د ماښامي اشنایان هم وو، د دوي هرڅهٔ ته زړهٔ کېدلو خو شومان هم وو، تاوان ته شوي نهٔ وو، هسې هم په ټوله لاره ئې زما مازغهٔ خراب کړي وو، هم دا ئې وئیل سوال نهٔ پېدا کېږي چې پنجابیان زمونږ سره دا مطالبې ومني. چې څهٔ وخت د لیاقت علي خان پي اے لیاقت علي له تر لاهوره ورسېدو هغهٔ ډېر په روڼ تندي زمونږ سره سترې مشې وکړل. زمونږ د پاره ئې چائې ووئیله خو زما د دې ملګرو خُلې نهٔ ودرېدلې او د هغهٔ سره ئې بحث مباحثې شورو کړې وې. په پنجابیانو پسې ئې خبرې شورو کړې وې هغهٔ ورته په ډېره خوږه لهجه کښې ووئیل تاسو زمونږه مېلمانهٔ راغلي یئ او زمونږه وروڼه یئ، سرکاري مېلمانهٔ هم

یئ او تاسو به ستومانه هم یئ ستاسو د پاره مونږ په هوټل کښې انتظام کړے دے، هلته کښې لاړ شئ سبا له سحر به ماله راشئ.

ما د لیاقت علي خان سکېرټري په دفتر کښې قصداً سیګرټ پرېښودل. هر کله چې مونږه د دفتر نه بهر راووتو څۀ مېنځه پورې لاړو ملګروته مې ووئیل زۀ واپس تر هغې دفتره ورځم، زما نه سیګرټ پاتې شوي دي. یواځې ورغلم هغه سېکرټري ته مې واضحه کړه مونږ به سباله تردفتره راځوخو زماد دغو ملګرو مازغۀ خراب دي، د دوي سره بحث مباحثې مۀ کوه فقط دومره ورته ووایه چې د باچاخان خط چې د چاسره وي هغه راکړئ او بیا د هغې رسید ورکړه چې دا خط ماته ملاؤ شو. بیا مونږ ته ووایئ چې تاسو زمونږ مېلمانۀ یئ چې څو ورځې ستاسو خوښه وي هم په دغه هوټل کښې تېرې کړئ. اوس زما ضروري کار دے چرته روان یم، هر کله چې فارغ شم بیا به هوټل ته درشم.

مونږ د هغه وېنا په حواله تر هوټله راغلو، زما ملګرو ټوله شپه په خبرو باندې روڼه کړه دا ئې وئیل دا خو پنجابے سېکرټري دے دۀ ته به سبا له دا وایو کۀ د دې جواب ئې راکړو بیا به ورته دا وایو ماته خو علم وۀ چې هغه ما په هرڅۀ پوهه کړے دے. زۀ ښۀ په ارام اودۀ شوم دوي ته مې ووئیل سبا له به ګورو.

غرض دا چې شپه تېره شوه سحر سبا له ورغلو لیاقت علي سېکرټري هم هغسې وکړل چې څۀ رنګ ورته ما وئیلي وو دغه شان زما ملګرو ټوله شپه په خبرو کولو روڼه کړې وه هغه خبرې ئې په زړۀ پاتې شوې. هم دغه وجه وه چې غصه ئې نوره هم سېوا شوه. دا عادت زمونږ په ټولو ملګرو کښې موجود وۀ چې فضول او بې مطلبه خبرو باندې خپل وخت ضائع کوي. دغه شان اصلي لاره او مطلبي خبرې ترې نه په ځاے پاتې شي. هرکله چې زما دې ملګرو کلي ته د تلو د واپسۍ

خبره وکړه ما ورته ووئیل زما ښځه په دهلي کښې ده زۀ به د لاهور نه دهلي ته لاړ شم چې د اسمبلۍ سېشن کله شورو کېږي هغه ورځې له به واپس راشم.

تقریباً یوه میاشت پس چې تر خپل کلي راتلم په نوښار کښې ګرفتار شوم چې تر جېله پورې لاړم زمونږه ملګري په جېل کښې پراتۀ وو. ما د هغوي نه تپوس وکړو ولې خبر خو دے بیا څۀ چل شوے دے؟ هغوي ووئیل چې قاضي صاحب او امیرمحمد ښتګه د لاهور نه واپس راغلل د پارټۍ ټول مشران ئې په دې اګاه کړل چې په لاهور کښې زمونږه ډېره بې عزتي شوې ده، د باچاخان خط ئې زمونږ نه په زور ترلاسه کړو، د دفتره ئې په بې عزتۍ رابهر کړو، هډو د خبرو کولو موقعه ئې رانۀ کړه. زمونږه د دې دومره بې عزتۍ نه دا ثابتېږي چې دا پنجابیان مونږه په دوکه کښې ساتي، مونږه هسې شرموي. سوال نۀ پېدا کېږي چې زمونږه دا مطالبې دوي حل کړي. په دغه خبرو ئې ځاے په ځاے جلسې جلوسونه شورو کړي وو. چې هغې د هنګامو شکل اختیار کړو. دغه شان د پښتنو دا دوه اهمې مطالبې چې لیاقت علي خان زما سره منلې وې او د اسمبلۍ په راتلونکي اجلاس کښې ئې د ترسره کولو وعده کړې وه، د دې دوو کسانو د زیاتي او د انا په وجه پاتې شوې.

پاکستان وړومبے لس کاله د یوملک په حېثیت په تاریخ کښې ډېر بېروني امداد ته حاجتمند وۀ او هندوستان هم دې پروپېګنډو له زور ورکړے وۀ چې دا ملک پاتې کېدے نۀ شي. دا د شکو ډېرۍ ده، په یوه لته ختمېږي. زمونږه د دې صوبې مشر یعني باچاخان هم د دې سره متفق وۀ چې دا ملک ختمېدو والا دے بیا به دا یو هندوستان وي. په هغه وخت کښې زمونږه دا صوبه تر کوئټې پورې وه، د دوي

دغه خبرو او پروپیګنډو بې اعتمادي پیدا کړه او هغه بې اعتمادۍ زمونږ په دې صوبه کښې په ګڼلو ووټونو حکومتونه بدل کړل. په دغه دوران کښې د روس او امریکې او چین اوکمیونستانو ملکونو د خطرې د خپل طرف د مضبوطولو د پاره سېنټو او سېټو جوړول شول. په دې کښې اول د هندوستان مشرانو سره خبرې اترې وشوې دا ئې کوشش وۀ چې هندوستان دې په دې کښې شامل کړې ځکه چې هندوستان یو لوے ملک وۀ او دغه کمیونسټو ملکونو سره ئې پولې هم شریکې وې. دلته د پاکستان د مشرانو سره نوره خطره هم پیدا شوه، کۀ چرې په دغه معاهدو کښې هندوستان راغے نو هندوستان ته به د پاکستان ماتول نور هم اسان شي.

په دغه وخت کښې نهرو امریکې ته په صفا واضحو الفاظو کښې انکار وکړو، هغۀ ووئیل دا زمونږه ګاونډي ملکونه دي، زۀ په دې کښې امریکې سره شرکت نۀ کوم او خپل نان الائینمنټ تحریک ئې شورو کړو. په دې کښې ئې د ایشیا هغه ملکونه د ځان سره شامل کړل کومو چې وئیل مونږه به د وروروليۍ تعلق د هر چا سره ساتو خو د جنګ په حالاتو کښې به د چاسره امداد نۀ کوو. د دې باوجود هم د امریکې دا کوشش وۀ چې د پاکستان په مقابله کښې دې د هندوستان سره ښۀ تعلق وساتي. په دغه دوران کښې پاکستان امریکې ته بې شماره دورې شورو کړې وې، سرکاري خلق ئې لېږل. په دې غرض چې امریکه دې پاکستان ته مخ راواړوي او په ټولو معاهدو کښې ورسره شامل شي خو امریکې بیا هم نۀ منله تر دې حده پورې چې لیاقت علي خان په خپل تقریر کښې امریکې له دمکي ورکړله او تاریخ ئې وزته په ګوته کړو کۀ چرې تاسو په دغه تاریخ زمونږ سره خبرې ونۀ کړې بیا به ارو مرو مونږه د روس سره خبرې شورو کړو. دا هم د تاریخ یو تریخ

حقیقت دے چې د هغې تاریخ نه دوه ورځې مخکښې لیاقت علي خان قتل شولو د هغهٔ د مرګ نه پس چې د دغه تحقیقاتو د پاره کوم کمېشن ټاکلے شوے وهٔ هغوي د هغې تحقیقاتو په هر اړخ مخ ګرځولے دے خو په دې خبره ئې غور نهٔ دے کړے.

د لیاقت علي خان نه پس آئیني بحران پېدا شو، حکومتونه جوړېدل، ماتېدل، آئینونه جوړېدل ماتېدل، تر دې حده پورې چې په ۱۹۵۸ء کښې مارشل لاء راغله او ایوب خان اقتدار تر لاسه کړو. د پاکستان دغه لسو یولسو کالو په ژوند کښې نهٔ خو سیاسي ادارې مضبوطې شوې وې او نهٔ جمهوریت ته څهٔ فائده ورسېده. البته سیاسي مشران عوامو ته ښهٔ په ګوته شول. د ټولو سیاسي پارټو مشران جاګیردارو او نوابانو د هغوي ټولې هلې ځلې د خپلو جاګیرونو د مضبوطولو او د تحفظ د پاره وې. دغه شان د یو فوجي جرنېل په راتلو عوام خوشحاله وو.

هرکله چې په پاکستان کښې مارشل لاء راغلې ده او فوجي جرنېل راغلے دے نو سیاسي مشرانو او عوامو ورته ډېر ښهٔ وئیلي دي یعني د قوم د نجات لاره ئې نمانځلې ده. بیا د دغه جرنېلانو نه دوي خپل ځان په جلسو جلوسونو د قوم او ملک په ډېرو قربانو او تحریکونو خلاص کړے دے بلکې ایوب خان هم د ډېرو ښو ښو کارونو بنیادونه اېښودي وو. اول ئې په پاکستان کښې پلاننګ کمېشن جوړ کړو چې پنځهٔ کاله کښې به دا کار کوو. په پاکستان کښې ئې د غټو سرمایه دارو نشاندهي وکړه چې دویشت خاندانونه ئې عوامو ته په ګوته کړل چې په هغې کښې اوولس خاندانه د هندوستان مهاجر راغلي وو او پنځهٔ د دې وطن نوابان چې کارخانې ئې هم لرلې، زرعي اصلاحات ئې وکړل یعني هر یو سړي سره به د درې

سوو جریبو نه زیاته اوبهٔ خوري زمکه نهٔ وي. د بنیادي جمهوریت ترمخه ئې کلي په کلي الیکشن وکړل، د ممبرانو چېرمېنانو په شکل کښې ئې نوي قومي نمائندګان راپیدا کړل. په دغه ممبرانو باندې ئې هم د قومي اسمبلۍ ممبران خوښ کړل او جوړ کړل او هم ئې پرې صدارتي الیکشن وکړلو.

د مشرقي پاکستان لیډرانو او عوامو د خپل حق غوښتنه وکړه. هغوي وئیل مونږه درې شپېتهٔ فیصده یو او نور پاکستان اووهٔ دېرش فیصده دے، دغه شان د پاکستان امدن او مشري مونږ ته په دغه بنیاد راکړئ. دا خیال ئې هم ښکاره کړلو چې د پاکستان زیاته ګټه په درامداتو کښې د وریژو او د پټ سن (سڼ) ده چې دا زمونږه د مشرقي پاکستان پیداوار دے. دغه شان د پاکستان په صدارتي کرسۍ کښې، ریلوے کښې، په جهازونو کښې، په فوج کښې، په پولیس کښې دې د درې شپېتو په بنیاد مونږ ته حصې راکړې شي.

ایوب خان څلور واړه صوبې ختمې کړې او یوه صوبه ئې جوړه کړه او د برابرۍ په بنیاد ئې په پنځوس پنځوس د هغې صوبې مشران رضا کړل او یو ته ئې مشرقي پاکستان ووئیل او بل ته ئې مغربي پاکستان ووئیل. د ۱۹۷۰ء پورې هغوي ته په یو شي کښې لس فیصده حصه هم نهٔ ده ورکړې شوې. ایوب خان سره د دې ښو ښو کارونو ښو ښو پلاننګونو او ښو ښو ادارو څکه ناکام شو چې حکومت چلولو والا، ادارو چلولو والا د دهٔ دا پروګرامونه په خپلو پښو نهٔ ودرول. د دغې ادارو سي ایس پي افسران وو او کهٔ جرنیلان وو څهٔ د هندوستان د شاهي کورنو خلق وو، څهٔ د پاکستان د نوابانو او جاګیردارانو بچي وو. دې خلقو د ځانه ځنګه زمکې اخستې او بل له ئې ورکړې وې. درې درې سوه جریبه زمکې ئې د یو یو بچي په نامه ولیکله او درې درې

سوه جریبه زمکې ئې د ښځو په نامه ولیکلې. د هغې نه پس ئې د خپلو ناظرانو او د هغوي د بچو په نامو ولیکلې، دغسې ډېرې زمکې ئې په فرضي نامو باندې ولیکلې، د کارخانو د پاره چې څوک د بېنک نه قرضې اخلي نو د هغې ګارنټي ورکوي او خپلې زمکې ورسره ضمانت کښې جمع کوي. دا دومره زيات رقم وۀ چې په پاکستان کښې صرف پنځو کورنو سره وۀ او د هغوي دومره زمکې وې چې هغوي د هغې رقم په عوض کښې ورکړې او د مهاجرو د پاره دا قانون جوړ شو چې دا د هندوستان نه راغلي خلق دي او د دوي زمکې هلته پاتې شوې دي نو دوي ته چې کومې قرضې ملاوېږي دوي به هم هغه کارخانې په ګارنټۍ کښې ورکوي. دغه شان هر مهاجر چې د څۀ کار د پاره څومره پېسې د بېنک نه اخلي او څومره ئې اخستې دي، هغه تراوسه پورې په دغه پېسو چلېږي يعني د دې پاره څۀ ليکلے قانون نشته. چونکې بېنکنګ کونسل ټول عمر د مهاجرو ترلاسه پاتې شوے دے او د مختلفو بېنکونو قرضې ورکولو ادارو مشران ټول مهاجر دي ځکه دوي ته په دې قرضو اخستو کښې څۀ تکليف نۀ وي. په نورو ملکونو کښې چې د پاکستان سفارتخانې دي په دغه سفارتخانو کښې پنځۀ نوي فيصده مهاجر دي. د ټولو نه غټ سټاک ايکسچېنج په کراچۍ کښې دے يعني چې مهاجرو سره حصه دار نۀ شي نو د ملک نه بهر څۀ شے ويستے شي او نۀ دې ملک ته راوړے شي يعني په درامدات او برامدات دواړو باندې د دوي قبضه ده.

دا د ايوب د دور هغه ښۀ پلاننګونه وو چې د مهاجرو افسرانو ترلاسه شو اونتيجې ئې خرابې اوختې. د مضبوط مرکز په نامه باندې د صوبو حق غوښتو والا کله دا برداشت کولے شو چې مشرقي پاکستان ته دې خپل حق ورکړې. د برابرۍ په بنياد خو د هغوي سره وعده شوې وه

چې پنځوس فیصده به ضرور درکوو خو په نوکرو کښې بلکې په یوه اداره کښې هم د هغوي د لس فیصدو نه زیات خلق نهٔ وو. دغه شان د هغوي ګیلې نورې هم زیاتې شوې د غدارۍ او د سازش په کېس کښې شیخ مجیب هم ونیوے شو او د ملک په دواړو حصو کښې هنګامې، جلسې جلوسونه د ایوب خان خلاف شورو شول، چې د ایوب خان په یوه جلسه کښې په ایوب خان ګولۍ هم وچلېدې. اخر ایوب خان دې ته مجبور شو چې یحیٰ خان ته ئې اقتدار حواله کړو. یحیٰ خان صوبې بیا بحال کړې او د الېکشن کولو وعده ئې هم وکړه او سیاسي بندیان ئې ازاد کړل خوچې زمونږ صوبه په ون یونټ کښې د شاملېدو نه مخکښې د چتراله تر بولانه پورې وه چې کوئټه په کښې هم شامله وه. بیا هم په دغه موجوده حالت کښې پاتې شوه یعني کوئټه او بولان بلوچستان صوبه کښې شامل شول. د یحیٰ خان په ټولو کارونو کښې د ټولو نه ښه او غټه کارنامه په پاکستان کښې صفا او ازاد الېکشن کول وو.

په ۱۹۷۰ء کښې داسې ازادانه او پاک الېکشن نهٔ د دغې نه مخکښې چرته شوے دے او نهٔ بیا شوے دے. د دغه الېکشن په نتیجه کښې د درې شپېتو دابادۍ په بنیاد باندې په درې سوو سیټونو کښې د یو سل اویاؤ نه لږه زیاته کېده چې صرف دوه سیټونه د عوامي لیګ نه بهر وو. دغه شان د ۹۹ فیصد نه زیات ووټونه عوامي لیګ واخستل. عوامي لیګ ټول الېکشن په شپږ پوائنټ ایجنډه باندې کړے وۀ. په شپږ پوائنټ ایجنډه کښې مکمل صوبائي خودمختاري وه. د دغې نه شل کاله مخکښې چې کومې زیاتۍ د هغوي سره شوې وې په شپږ پوائنټ ایجنډه کښې د هغې ازاله هم وه. زمونږ د صوبې او د بلوچستان د سیاسي پارټو مشران هم د هغوي په کټه باندې خوشحاله وو. د پاکستان په تاریخ کښې ورته په اول ځل د خپل حق د

ملاوېدو رېا ترمخه شوې وه. په هغه وخت مهاجرو خپله پارټي نۀ وه جوړه کړې خو په پیپلز پارټۍ کښې د ېر زیات مهاجر وو لکه معراج محمدخان، مبشرحسن وغېره بېوروکرېسي ټوله د مهاجرو وه. فوج د پنجابیانو وۀ، په جرنېلانو کښې د بنګالیانو هیڅوک نۀ وو. دغه شان فوج او بېوروکرېسي نۀ صوبوته خپل اختیار ورکولو اونۀ د پاکستان د اقتدار واګې داسې خلقو له ورکولو ته تیار وو چې هغه دخلقو په خوښه راغلي وو. ولې چې بیا به د دوي سره د دېرشو کالو حساب وکړي او د پاکستان د حقیقي وسېدونکو حق به ترې نه غواړي.

په صوبو کښې چې کوم حکومتونه د دغې الېکشن تر مخه راتلل د هغې اکثریت د دغې صوبو خلق وو او د خپلې صوبې حق ئې خامخا غوښتو. دغه افسران او جرنېلان ټول په ډاګه پاتې کېدل. بتهو خپله هم د سنده وسېدونکے وۀ خو د سنده په لویو لویو ښارونو ئې مهاجر ودرولي وو. دغه شان په پنډۍ کښې او په لاهور کښې په ټول پنجاب کښې ئې مهاجرو ته کافي نمائندګي ورکړې وه. یحيٰ خان ئې هم په دې قائل کړو کۀ هرکله مونږ اقتدار شېخ مجیب ته حواله کړو نو پاکستان به پنځۀ ټکړې شي. یعني هره صوبه به په خپله خاوره خپل اختیار لري دغه شان د مضبوط مرکز خبره چې فوج او بېوروکرېسي روانه کړې ده دا به ختمه شي. دغه شان مشرقي پاکستان ته ئې فوج ولېږلو. شېخ مجیب د اسلام اباد په ځاے په ډهاکه کښې د وړومبي اجلاس کولو خواهشمند وۀ او چې تر اسلام اباده راتلو په ډهاکه کښې ګرفتار شو. د اسلام اباد نه ئې تر جېله پورې راوستو. بیا د فوج خلاف په مشرقي پاکستان کښې عوام راپاڅېدل او د شلو لکو عوامو د قربانو په نتیجه کښې هغه خلق د مغربي پاکستان نه جدا شول چاچې پاکستان جوړ کړے وۀ.

د شېخ مجیب د ګرفتارۍ په وخت کښې د یو جرنېل خبرې په اخبارونو کښې شائع کېدې. د هغۀ نه تپوس وشو چې شېخ مجیب له ۹۹ فیصده ووټونه عوامو ورکړي دي هغه تاسو ګرفتار کړلو، اوس دغه عوامو سره به څۀ کوئ؟ آیا دوي به په جېلونو ننباسئ کۀ وژل به غواړي؟ هغۀ جواب ورکړلو زمونږ په عوامو څۀ کار نشته دے په زور وي او کۀ په رضا وي دا خاوره به زمونږ سره وي. نن په دې باقي پاکستان کښې هم داسې ښکاري چې د دوي دې خاورې ته حاجت دے، ځکه چې د دوي خو خپله خاوره نشته دے نو د دې خاورې خلق به یا وژني یا به ئې هجرت کولو ته تیاروي. په امریکه کښې هم د امریکې خلق د یو شي حقدار نۀ دي نن امریکه د مختلفو ځایونو نه راغلي مهاجرو ترلاسه ده. دغه شان د پاکستان نه هم مهاجرستان جوړ دے. مهاجرو سره زمونږ څۀ دشمني نشته دے یو انسان دے چې د خراب نه خراب کور کښې وسېږي او تۀ ئې ترې نه په زور وباسې، په هغه کور پسې به ضرور هغه خفه وي.

په دې ملک کښې په لکهونو مهاجر کوم چې بې کوره شوي او کډې په سر پاکستان ته راتلل په لارو کښې بې تعداده ووژلي شول. زمونږ د هغوي سره همدردي ده خو چې د کومو خلقو د لاسه قتل شول او کومو خلقو چې د دوي په سر تجارت درلود د خپل ځان د پاره د یو مارکیټ جوړولو د پاره ئې په لکونو خلق بې کوره او بې ځایه قتل کړل. د پاکستان د جوړېدو نه پس په دې فکر کښې وو چې پاکستان به پاتې شي او کۀ پاتې به نۀ شي؟ د دې ملک د وسېدونکي په حېث دا خبره ذهن ته راځي چې پاکستان به ښۀ شي او کۀ ښۀ به نۀ شي او په څۀ به ښۀ کېږي، آیا دا به د نورو ملکونو په شان ترقي وکړي او کۀ نه؟ آیا د ترقۍ په لاره ګامزن دے او کۀ نه؟ او د دې وجوهات څۀ دي؟ هر

پاکستاني له پکار دي چې د ځانه دا سوال وکړي.

مونږه چې د دې کتاب په لیکلو وئیلو باندې دومره وخت ضائع کوو د دې هم فقط دغه مقصد دے خو زما په خیال چې یو مریض تر ډاکټره لاړ شي اول ئې ډاکټر معائنه کوي یعني چې د دۀ څۀ مرض دے، چې د مرض صحیح پته ئې ولګي نو د هغه مرض علاج اسان شي، بیا د دغه مرض علاج هر ډاکټر کولے شي. تر اوسه پورې مونږه ته د دې مرض علاج یو ډاکټر په ګوته نۀ کړو، زمونږه تاریخ دانو هم د دروغو نه کار اخستے دے، نۀ پوهېږم چې د دغه مشرانو په غلطو فېصلو ئې پرده ولې اچولې ده؟ آیا دغه خلق زمونږ د دشمنانو ملګري دي، د خپلې صوبې په حواله چې زمونږه څومره تاریخي شخصیات دي، چې انګرېزانو به ورته غداران وئیل، هغه د پاکستان په کتابونو کښې تراوسه پورې غداران دي. د مثال په توګه حاجي صاحب ترنګزئي، ملا پاوند، فقیر ایپي، عجب خان افریدے، اېمل خان وغېره. تر دې حده پورې چې باچاخان او غني خان د دې خبرې تصدیق کوي چې زمونږه ملک لاازاد شوے نۀ دے. ملکونه چې ازاد شي او د کومو خلقو نه ازاد شي، د هغوي ملګرو له خلق سزا ورکوي، په دار ئې خېژوي، په کورونو ورله اور لګوي. زمونږ په ملک کښې چې انګرېزانو چاله خانۍ او نوابۍ ورکړې دي، د هغوي بچي تر اوسه پورې په مونږه حکومتونه کوي او په اهمو کرسو تعینات دي ځکه زۀ دا وایم چې د دې مرض تحقیق پکار دے چې آیا دا مرض څۀ دے. زما نه وړاندې هم ډېر خلق په دې مرض پوهه وو او اوس هم داسې ډېر خلق شته چې زما نه پرې ښۀ پوهـ دي او زما سره په دې تحقیقاتو کښې امداد هم کوي خو د وېرې نه رښتیا نۀ شي وئیلے. ما ته په دې باندې د دوي خاموش پاتې کېدل هم لویه ګناه ښکاري. په دې مزید چپ پاتې کېدل

د قوم او ملک سره دوکه ده. یوه ورځ مې یو جج ملګري ته وئیل د هغې فلاني فېصله دې غلطه کړې ده، د خر په ځاے دې کولال داغلے دے، دا خو زما د کلي مسئله ده دواړه فریقه زۀ ډېر ښۀ پېژنم، جج وئیل کۀ زما په ځاے په دې کرسۍ تۀ چرې ناست وے تا به هم داسې فېصله کړې وه، ځکه چې ستا د قول په حواله په دې سړي دعوه د دروغو شوې ده، بیا دوه کسان چې د موقعې ګواهان دي هغوي ګواهي کړې ده، هغوي هم دروغژن شول، بیا اووۀ کسانو چې کوم شهادت کړے وۀ چې دوي عېن په موقعه موجود وو، مونږه لیدلي دي او دا دوه ګواهان ورسره ولاړ وو نو دغه هم دروغژن شول یعني د مړي فریقېنو دا دعوه د دروغو کړې ده. هر کله چې دعوه هم د دروغو شي، شهادتونه هم د دروغو شي، ضروري ده چې زما قیصه به د دروغو وي. ثابته شوه چې په پاکستان کښې تاریخ د دروغو ښودلے شي یعني رښتیا تاریخ نۀ ښائي. په زرګونو مدحه خوانان په دغې شهادت کوي او د ګواهانو نامې د دروغو اخلي. کۀ زمونږه موجوده نسل په تعلیمي ادارو کښې دغه د دروغو تاریخ ګوري سبا به دوي څۀ رنګ رښتیا فېصلې وکړي. دا ډېره ضروري ده چې مونږه دې د خپل تاریخ د هرې واقعې صحیح تحقیقات وکړو او د رښتیاؤ نه رښتیا خپل راتلونکي نسل ته پرېږدو، کم از کم د دې جوګه خو به شي چې صحیح فېصله به وکړي یعني دا خو به نۀ وائي چې مونږه ته صحیح فېصله او تاریخ مخکښې مشرانو تر مخه کړے نۀ دے.

په مشرقي پاکستان کښې خاورې نیولو والا جرنېل سره د یو لکھ فوجي ملګرو وسله وغورزوله او د هندوستان په جېل کښې بندیان شو. یحیٰی خان ته فوجي جرنېلانو مشوره ورکړه چې مزید په نور جنګ کولو کښې خرابېږو، د دې نه به ښه دا وي چې اقتدار بټهو ته

حواله کړو. دغه شان د پاکستان په تاریخ کښې په اول ځل یو سول چیف مارشل ایډمنسټر مقرر شو او هغه مسئلې چې فوجي جرنېلانو نۀ شوې حل کولې هغه سیاستدانانو حل کړې یعني شمله معاهده وشوه، یو لاکهه فوج واپس راغے او د هندوستان سره پاتې مسئلې سره د کشمیر د خبرو اترو کولو په ذریعه د حل کولو وعدې وشوې. په دغه دوران کښې بنګله دېش هم جوړ شو، څۀ وخت پس پاکستان هم په رسمي توګه ومنلو. بټهو وئیل زۀ نوے پاکستان جوړوم، دې ملک ته ئې یو متفقه آئین ورکړو چې د پاکستان د ټولو پارټو د مشرانو یعني د بلوچو او د پښتنو دستخطونه پرې هم موجود دي. قوم پرستو لیډرانو په آئین کښې راوستل چې لس کاله پس به صوبائي خودمختاری ته لاره جوړوي. دا هم په آئین کښې راغلل کۀ بیا د پاره یو فوجي جرنېل د فوج په ذریعه په اقتدار قابض کېدلو نو هغۀ له به د پانسۍ سزا ورکولې شي. دا بېله خبره ده چې قوم له داسې متفقه آئین چا ورکړو هغه یو فوجي جرنېل پانسي کړو.

د بټهو صاحب سره زما په مختلفو ځایونو کښې ملاقاتونه شوي وو چې په ۶۷، ۶۸ کښې د ایوب خان د کابینې نه ووتو، په پنډۍ کښې په انټرکانټیننټل هوټل کښې دېره وۀ. د مختلفو کالجونو د یونینونو صدرانو پسې، سېکټرانو پسې ئې دعوت نامې ولېږلې چې نن شپه خوراک څښاک به ستاسو زما سره وي. زمونږه د کالج صدر جهانګیر مغل ماته تر غوږ کړل چې بټهو صاحب له اردو ژبه سمه نۀ ورځي او مونږه ته انګریزي ژبه سمه نۀ راځي، تاته په انګریزۍ ژبه کښې ښۀ عبور حاصل دے، زمونږه سره د ترجمان په حیث لاړ شه.

چې څۀ وخت ورغلو هغه وخت بټهو د تاشقند د معاهدې په نامه باندې خبرې راخستې وې، زۀ او زما ملګري موجود وو او د بټهو

په ملګرو کښې ممتاز بټهو، مصطفٰی کهر او حيات محمدخان شېرپاؤ موجود وو، ما د بټهو سره د خپلو ملګرو تعارف وکړو، بټهو صاحب راته ووې تاخو زما سره خپل تعارف ونۀ کړلو، زما ملګرو ورته زما په ځائے ووئيل چې دې په ګارډن کالج کښې د پښتنو د يونين جرنل سېکرټري دے. بټهو صاحب ووئيل زما دا شوق وۀ چې کالجونو ته درشم چې ستاسو خبرې واورم او زۀ درته هم د خپل زړۀ حال ووايم خو په ما پابندي ده ځکه مجبور شوم چې تاسو دلته کښې راوغواړم. ما خو پيپل پارټي جوړه کړې ده او غواړم چې په سټوډنټانو کښې هم د دې يو تنظيم وي. تاسو ته په پيپل سټوډنټس فيډرېشن کښې د شاملېدو دعوت درکوم.

سټوډنټانو ورته ووئيل زمونږه خو نور ډېر ملګري دي، د هغوي سره به په دې باره کښې صلاح مشوره کوو کۀ راضي شول د هغې نه پس به تاسو له دعوت درکړو. بټهو صاحب ووئيل کۀ تاسو چرې دعوت راکړئ زۀ بيا هم درتلے نۀ شم. البته ښه به دا وي چې تاسو او ستاسو ملګري زما په حواله څۀ تپوسونه کول غواړي نو هغه په کاغذ باندې ليکلي راولېږئ، زما کمره په دې هوټل کښې په وړومبي چهت کښې بهر اړخ ته ده، زۀ به اول د وړومبي چهت د کمرې نه ووځم او ستاسو د سوالونو جوابونه به تاسو ته په شريکه درکړم.

واپس چې سټوډنټان تر کالجه راغلل خپلو کښې ئې صلاح مشوره وکړه چې سبا له به دغه ځائے ته ورځو ځکه چې بټهو صاحب مونږ ته د خپلو سوالونو جوابونه راکوي. په سباله چې ورغلل هلکانو ترې نه د تاشقند په باره کښې او ايوب خان سره د اختلاف په باره کښې تپوسونه وکړل. ځنې هلکانو ترې نه د ذاتي سوالونو جوابونه وغوښتل او ما ورته د هغې ترجمه کوله. د پولي ټيکنيک د يونين

صدر پرویز رشید ځنې نورو هلکانو ورسره په هغه وخت په پیپل پارټۍ کښې اعلان وکړو بیا ئې زما طرف ته مخ راستون کړلو ماته ئې ووئیل تۀ په پیپل سټوډنټس فیډریشن کښې د شاملیدو اعلان ولې نۀ کوے؟ ما جواب ورکړو چې زما سیاست سره شوق نشته، زۀ لا تعلیم کوم هرکله چې ایم اے وکړم، هغۀ وئیل چې د تعلیم نه خو منع نشته دے، ورسره سیاست هم کوه او خپل تنظیم هم چلوه. ما ورته دوباره ووئیل په سیاست کښې مې باچاخان ډېر خوښ دے چې تعلیم پوره کړم او تر خپل کلي لاړ شم، د هغې نه پس به د سیاست زدکړه کوم. هغۀ ووئیل د کوم ځاے وسېدونکے یې؟ ما ووئیل د چارسدې وسېدونکے یم، هغۀ حیات خان ته وکتل ورته ئې ووئیل دا خو ستا کلي والا دے.

حیات خان: په چارسده کښې د کوم ځاے یې؟

ما ووئیل: د پړانګو یم، هغۀ ووئیل د پړانګو وصال خان پېژنې؟ ما ووئیل هغه زما مشر ورور دے، هغه پاڅېدلو راترغاړه وتو وئیل ئې، وصال خان، سکندرخان، محمداعظم خان مونږه په یو ځاے کښې سبق وئیلے دے.

حیات خان: باچا خان دې ولې دومره خوښ دے؟

ما وئیل د پښتون قام د پرمختګ خبرې کوي. بټهو صاحب په دغه دوران کښې د بل چا سره په خبرو اترو وۀ خو زمونږه خبرو ته ئې هم خیال وۀ یو دم ئې ووئیل زۀ خو هم سندهے یم، زما هم خپل قوم خوښ دے ما ډېر څۀ د باچاخان په باره کښې د خلقو نه اورېدلي دي، هم هغې اورېدلو ته مې خیال دے چې عملي جامه ورواغوندم او په څۀ مې عمل هم کړے دے. د مثال په توګه په ۱۹۴۰ء کښې پښتون رساله چاپ کېده په هغې کښې لیکلي وو چې مونږه د کانګرس سره ملګري یُو خو ځان ته خدائي خدمتګار وایو. هر کله چې په دې نامه پابندي

عائد شوه او مونږه خپله پارټي په وجود کښې راوسته مونږ وئيل هغې له به خلق نامه ږدو. خلق په پښتو ژبه کښې څهٔ ته وائي؟ ما جواب ورکړلو عوامو ته، په انګرېزی ژبه کښې ورته څهٔ وائي؟ ما ووئيل "پيپل" بټهو صاحب ووئيل ځکه ما د خپلې پارټۍ پيپل نامه کښېښودہ.

بټهو: تاته داپته شته چې د پښتونستان د جنډې رنګ څنګه دے؟

ما وئيل نه.

بټهو: د پښتونستان د جنډې درې رنګونه دي، سور، تور او شين. د دغې رنګونو نه ما خپلې پارټۍ له جنډه جوړه کړه. د باچاخان د پارټۍ د جنډې رنګ سور دے او د کانګرس د پارټۍ د جنډې رنګ هم سور دے. باچاخان د ګاندهي نقل کوي او د هندوستان پروګرامونه سرته رسول غواړي. کهٔ هغه د پښتنو په مسئلو حل کولو کښې مخلص وهٔ، نو د پښتونستان د رنګ جنډه ئې ولې نهٔ لګوله؟ البته زهٔ سندهي نېشنلسټ يم. هرکله چې زهٔ تر اقتداره راغلم نو دا به درته ثابت کړم چې سندهيانوته به ټول خپل حقونه تر لاسه کوم. باچاخان د يوې صوبې د اقتدار خواهشمند دے او زهٔ د ټول پاکستان کرسۍ ته ځان رسول غواړم او د پاکستان کرسۍ د پنجابي فوج او بيوروکرېسي تر لاسه ده او عوام ئې د هندوستاني خلقو نه نفرت او په کشمير باندې د جنګ کولو خواهشمند دي. هرکله چې زهٔ د پاکستان تر کرسۍ ورسم نو د سندهـ سره به زهٔ نور څهٔ ښهٔ وکړم.

ماته د هغهٔ دا خبرې يادې دي په ۱۹۷۳ء کښې چې آئين جوړ شو او د سندهـ صوبائي اسمبلۍ اعلان وکړو چې په سندهـ کښې به سرکاري ژبه سندهي وي په سندهۍ ژبه کښې رسالې او اخبارونه بې تپوسه چاپ کېدل او زمونږه په صوبه کښې د باچاخان د پارټۍ وارثانو

اردو ژبه سرکاري وګرځوله. دغه شان بقول مرحوم سیدالیاس باچه چې جي ایم سید په نیپ کښې زمونږه د ډېر وخت ملګرے پاتې شوے وۀ، زما همځولتیا کښې هم وۀ بلکې زما سره ئې ډېره ازادي وه. په ۱۹۷۲ء کښې زمونږه حجرې ته راغے، دا خبره ئې زما تر غوږه کړه چې بټهو زۀ اسلام اباد ته راغوښتلے وم، په دې غرض چې تاله پکار دي چې تۀ د سندهو دېش اواز اوچت کړے او هم ئې بلېنک چک راکړلو. ما ترې نه انکار وکړلو، ما جواب ورکړلو چې زۀ به پرې لږه صلاح کوم. الیاس باچه وائي هغۀ ووئیل چې تر کراچۍ واپس تلے نۀ شم د دې صلاح د پاره تاله راغلم ځکه چې بټهو هم بې اعتباره غوندې دے زما پرې ډېر باور نشته دے. ما ورته ووې داسې مطالبې ورته تر مخې کړه چې تاته څۀ څۀ ښکاري د دې سره سره ورته ووایه چې تر سندهـ ئې راواستوه کۀ تر سندهـ ئې راستولے بیا خو بټهو باوري دے، رښتیا به وائي او کۀ سندهـ ته ئې رانۀ وستے بیا خو دروغژن دے، بې اعتباره به وي. الیاس باچه وائي تر اسلام اباد پورې ورسره زۀ هم لاړم، چې دې بټهو ته مخامخ شو د پنځوسو تیوټا جیپانو او د پنځوسو لاکهو روپو مطالبه ئې ورته وړاندې کړه. بټهو ورته واضحه کړه چې تۀ تر کراچۍ څۀ رنګ رسې، ستا په ځاے کښې به پنځوس جیپان ولاړ وي او د پنځوسو لاکهو روپو دا بلېنک چِک هم واخله او کۀ د دې نه علاوه نور رقم ته ضرورت وي هغه رقم هم په دې کښې ولیکه او خپله ئې د بېنک نه وصول کړه.

بټهو صاحب چې کومې خبرې زما سره په پنډۍ کښې په هوټل کښې کړې وې چې زۀ تر کرسۍ ورسم نو زۀ سندهے یم، زۀ به سندهیانو ته خپل حق ورکوم، رښتیا ئې وئیلي وو د هغې خبرو سرته د رسولو کوشش ئې کړے دے.

د بټهو صاحب سره دوېم ملاقات

په ۱۹۷۱ء کښې ما د پنډۍ د ګارډن کالج نه بي اے وکړه. تر لاهوره پورې لاړم، په یونیورسټۍ کښې مې په فلسفه ډیپارټمنټ کښې داخله واخسته. زما خپله هم دا شوق وۀ چې زۀ دې په نفسیاتو کښې داخله واخلم. زما د ګارډن کالج نه تلے ملګرے خاص کر راجه انور ماته واضحه کړه چې ما په خپله هم په فلسفه ډیپارټمنټ کښې داخله اخستې ده. تاله هم پکار دي چې په فلسفه ډیپارټمنټ کښې داخله واخلې، ځکه چې د ټولې دنیا د سیاستونو نه به هم خبر شو او کۀ بیا سیاسي مېدان ته وځو نو د دغې فلسفې پوهه به مونږ له فائده راکوي. په هغه وخت کښې په سټوډنټانو کښې د اسلامي جمیعت طلبه چې د جومات اسلامي د طالبانو یوه ډله وه یو فعال تنظیم وۀ او د پنجاب په یونیورسټۍ کښې ئې ټول عمر الېکشن ګټلے وۀ. دغه شان چې د ټولو ډیپارټمنټونو الېکشن به کېدۀ نو په اکثریت سره به الېکشن هم دوي ګټلو. زمونږه اکثریتي ملګري ازاد خیاله وو او سوشلسټ نظریې سره تړلي وو او نېشنل فېډرېشن سره ئې تعلق درلود. دا فېډرېشن هم نوے نوے جوړ شوے وۀ. د مصطفیٰ کهر او د پیپل پارټۍ د نورو مشرانو د امدادونو باوجود د اهمیت جوګه نۀ وۀ. په دغه وختونو کښې مونږه هم د وړو وړو تنظیمونو نه خلق راغونډ کړل او وائي پي ایف پیپل فرنټ مونږه جوړ کړلو.

عزیزالحق اټامک انرجي کمېشن کښې نوکر وۀ چې په کنېډا کښې ئې په فزکس کښې پي ایچ ډي ډائریکټرېټ کړے وۀ. دې به هلته کښې د دوو ورځو د پاره راتللو او مونږ له ئې درس و تدریس راکولو او د سوالونو جوابونه به ئې راکول. دغه شان د مزدورانو تنظیمونو ته ئې

هم درس و تدریس ورکولو او د کسانانو تنظیمونه ئې هم جوړ کړل. د دوي د دغې تعلق ترمخه د هغې مزدورانو ورونه عزیزان چا چې زمونږه سره په یونیورسټۍ کښې تعلیم کولو هغه هم په وائي پي ایف کښې داخلو جینکو سره تعلق جوړ کړلو. دغه شان په یوځو میاشتو کښې وائي پي ایف د جمیعت طلبه د مقابلې جوګه شو. د یونیورسټۍ د الیکشن نه مخکښې به د مختلفو ډیپارټمنټونو الیکشن کېدلو. په دغه ډیپارټمنټونو کښې ۶۰ فیصده الیکشن مونږه وګټلو.

جاوېد هاشمي چې د جمیعت طلبه کنډیډېټ وؤ په فلسفه ډیپارټمنټ کښې زمونږه سره یو ځاے پاتې شوے هم وؤ د فلسفې ډیپارټمنټ الیکشن ترې نه زمونږه یوې ملګرې امتیاز بانو وګټهٔ. یو خوا ته جمیعت طلبه دا خطره محسوسه کړه چې وائي پي ایف مخ په وړاندې روان دے بل خوا ته پیپل فیډرېشن وئیل زمونږه حکومت دے دوي دې زمونږه سره شامل شي او زمونږه د ملګرو دا خواهش وؤ چې مونږه دې یواځې او ازاد پاتې شو ځکه چې په دغه دوران کښې د یونیورسټۍ الیکشن شورو شوے وؤ او زهٔ ئې د وائي پي ایف د لوري د ټول کمېشن مشر ارګنائزر وټاکلم. په دغه الیکشن کښې د جمیعت طلبه سره څو وارې زمونږه جنګونه هم وشول چې نوبت ئې تر ګولو چلېدو پورې هم تلے وؤ.

بل خوا ته د پیپل پارټۍ دا مدعا وه چې زمونږه دا ملګري د ځان سره ملګري کړئ نو مونږه به تاسو سره هر قسمه امداد کوو ځکه چې مونږه به د دغې دواړو طرفو مخالفت کوؤ. بیا زمونږه جلوسونه ډېر زیات لوے شول ځکه چې بې تعداده ښځې هم زمونږه سره ملګرې شولې. سرې جامې به ئې اغوستې وې او سرې لوپټې به ئې د سرونو نه تاؤ کړې وې او نعرې ئې وهلې، تقریرونه ئې هم کول. زمونږه دا مید

پیدا شو چې دا الېکشن به ضرور ګټو په دغه دوران کښې به مونږه هره ورځ نوے نوے یو پمفلټ ویستو او د شپې به مونږه د دغې کالج د هلکانو بېلې بېلې کمرې ته رسولو. د الېکشن نه دوه ورځې مخکښې چې ما دغه پمفلټ د هلکانو تر کمرو رسولو هم په دغه دولس نیمې بجې پولیس ګرفتار کړم او سمدستي ئې تر مصطفٰی کهر بوتلم. په یوه ځان له کمره کښې ناست وم، په دې کښې کهر راغے او په ډېره سخته لهجه کښې ئې ووئیل: تهٔ ولې نهٔ سمېږې؟ ما جواب ورکړلو زهٔ خو سم یم، اخر دا چې زما د کمرې نه بهر ووتو د هغې نه نیمه ګېنټه پس بټهو صاحب واپس راغلو. بټهو زما سره په ډېر روڼ تندي سترې مشې وکړل. دا ئې ووئیل تهٔ هغه زلمے نهٔ یې چې په هوټل کښې زما سره ملاو شوے وے او د باچاخان په حواله دې زما سره خبرې اترې کړې وې؟ ما وئیل هم هغه یم. هغهٔ وئیل بیا خو دې ماته دروغ وئیلي وو. ما وئیل څهٔ دروغ؟ هغهٔ وئیل دا چې زما د سیاست سره شوق نشته بل دا چې زهٔ لا تعلیم کوم چې تعلیم پوره کړم کلي ته به ځم هلته به د باچا خان سیاست کوم. اوس د پنجاب یونیورسټۍ ته راغلے یې خپله پارټي دې جوړه کړه، دا راته ووایه چې ولې دا سیاست نهٔ دے او دلته په پنجاب کښې باچاخان څهٔ کوي او په پنجاب کښې ئې څهٔ کار دے؟ ما وئیل لاهور خو د پاکستان زړهٔ دے، ما په فلسفه کښې ایډمشن د زدکړې د پاره اخستے دے او پارټي جوړول د هغې سیاست یوه حصه ده. بټهو صاحب واضحه کړه چې زمونږ سره څهٔ امداد کولے شې؟ ما وئیل اوس خو الېکشن ته دوه ورځې پاتې دي اوس خو هیڅ نهٔ کېږي بله دا چې زما نور ډېر ملګري دي د هغوي سره به صلاح مشوره هم کول غواړي. کهٔ د الېکشن کولو نه پس دے دا خیال وهٔ او په دې باره کښې خبرې اترې کول غواړې ما سره د خپلو ملګرو راوغواړه په دې باره کښې به

خبرې اترې وکړو خو په دې طریقه نا لګه دا تا چې نن زۀ په څۀ طریقه راغوښتلے یم.

کهر په دې دوران کښې وئیل ستا څۀ مسئلې دي چې مونږه درته هغه حل کړو؟ ووایه کۀ نور هم څۀ غوارې؟ زما د جواب ورکولو نه مخکښې ورته بټهو ووئیل دا رنګ خلق نۀ خرڅيږي او نۀ د چا نه ویریږي. ماته ئې ووئیل چې هرکله ستا خواهش پېدا شو نېغ په نېغه ماله راځه ځکه چې زما هم ستا په شان خلق خوښ دي چې نۀ د چا نه ویریږي او نۀ د چا نه شرمیږي او هر چا ته مخامخ خبره کوي او کهر ته ئې مخ ستون کړلو وې وئیل دې چې چا دلته کښې راوستلے دے هغوي ته ئې حواله کړه چې تر خپل ځایه ئې ورسوي.

د بټهو صاحب سره دریم ملاقات:

په ۱۹۷۲ء کښې مونږه درې ملګري وو او درې واړو دا صلاح وکړه چې پنډۍ کښې څۀ کاروبار شورو کوو. خو د هغې کاروبار د پاره به د ځاے ضرورت وي. مونږه درې واړه ملګري لونډان وو چې چاته به معلومه شوه چې لونډان دي، ښځې بچي ورسره نشته نو په کرایه راله چا ځاے او کور هم نۀ راکولو. په دغه دوران کښې څلورم ملګرے هم زمونږه سره شریک شولو چې هغه د چرګانو ډاکټر هم وۀ. هغۀ وئیل د پنډۍ او اسلام اباد ترمېنځه فوجیانو د چرګانو فارمونه جوړ کړي دي، ښۀ مزېدار کورونه په کښې هم شته دے. د اوبو د پاره ټیوب ویلونه په کښې هم شته او ورسره لس لس جریبه زمکه هم شته دے، چې په یو جریب کښې کور او د چرګانو فارم دے او اتۀ نهۀ جریبه زمکه خالي پرته ده او د یو یو ځاے درې زره روپۍ کرایه ده. کۀ ستاسو چرې خوښه وي دا کرائي به شریکه ورکوو او هم به د چرګانو کاروبار په

کښې سره کوو. د يو چرګوټي قيمت اتۀ انې دے چې يوه مياشت ساتنه او پالنه ئې وشي بيا ترې نه غټ چرګ جوړ شوے وي. په دغه فارم کښې د پنځوسو زرو چرګانو د ساتنې او پالنې ګنجائش شته دے.

مونږ څلور واړه ملګري راغونډ شو په شريکه مو شل زره چرګوټي واخستل، ورسره ورسره زمونږ دا شوق هم پېدا شولو چې د کرکيلې کار هم شورو کړو. د دغه فارمونو سره خوا کښې کچه ابادي وه، چې د صوابۍ يو بوډا په کښې دېره وۀ چې زامنو ئې په دولس خرونو کاروبار کوو. زۀ هغه بوډا له ورغلم ما ورته ووې کۀ په زميدارۍ چرې پوهېږې زمونږه سره اتۀ جريبه زمکه خالي پرته ده. په دې کښې به خبرې وکړو او تۀ راته صرف طريقه ښايه مونږه به دا پټي په خپله جوړوو او هم به ئې کرُو او هم به ئې ساتنه کوو. هغه بوډا ډېر ښۀ سړے وۀ، د بدقسمتۍ نه ښځه او خاوند دواړه افيميان وو خو د حد نه زيات افيم ئې خوړل. زما سره راغے وئيل ئې د زميدارۍ په ټول کاروبار ښۀ پوهېږم د کرکيلې کار به درته په ګوته کوم، زۀ به تاسو سره يم او زما زامن په خپلو خرونو خپله مزدوري کوي ښۀ خوشحاله دي، زما لاسونه او پښې سم دي هر کار درله کولے شم خو په اوبۀ خور کښې دې نۀ يم د اوبۀ خور ذمه واري ستاسو ده.

پټي مو سره وکتل ځنګلي بوټي په کښې ولاړ وو، مونږه نۀ پېژندل. بوډا وئيل دا د بنګو بوټي دي او ډېر ښۀ بوټي دي. مونږه وئيل د دې فائده څۀ ده؟ دې له چې په اوبو کښې په اور جوش ورکړے، شربت ترې نه جوړ کړه هغه شربت سحر او ماښام نوش کوه، د ګرمۍ نه به بچ يې. اخر دا چې يوه ورځ ئې د بنګو نه شرنت جوړ کړو او په مونږه څلور واړو ملګرو ئې نوش کړو.

هر کله چې مونږ په ټريکټر باندې دغه زمکه سموله، بوډا وئيل دا پولې به لويې لويې پرېږدو چې د بنګو دا بوټي بچ پاتې شي او په نوره زمکه چې ستاسو څۀ خوښ وي هغه به پرې وکړو. غرض دا چې پټي کرلو ته جوړ شو. اوس د بوډا بابا سره صلاح مشوره کوو چې داسې د کرلو شے راته وښايه چې فائده ئې زياته وي. بوډا وئيل افيم ډېره ګټه کوي پکار دي چې افيم پرې وکرو او د نورو سبزو د کرلو وخت هم نۀ دے. اخر دا چې د پنډۍ او اسلام تر مېنځه په اتۀ جريبه زمکه باندې د چرګانو فارم سره مونږه افيم وکرل. زمونږ دغه ځاے د لونډانو په ډېره مشهور شو. څۀ رنګ چې زۀ د ستار او رباب وهلو شوقي وم دغه شان زما پنجابيانو ملګرو له د پنجاب شاعران ملنګان راتلل، ډول سُرنا به هم ورسره وو، يوه شپه به د وارث شاه بهلے شاه کلامونه د ستار او رباب سره وئيلے کېدل او په بله شپه به د خوشحال بابا او رحمان بابا کلامونه د ستار او رباب سره وئيلے کېدل.

د سندھ، پنجاب او سرحد درې ملنګان داسې وو چې هغوي زمونږ سره ډېره شول، چرس خو به هر وخت څښلے شول او ډېر به هم وو، د پښتنو ټرکونو والا چې به په پنډۍ اسلام کښې شپه راغله نو مونږ له به ډېرې ته راتلل، زمونږ په ځاے کښې نۀ کټونه وو او نۀ کرسۍ وې البته کمرې به مونږه ښۀ صفا سوترا ساتلې وې او ښۀ ډېر بالښتونه مونږ اخستي وو او چې هر يو کس به راتلو نو د ځان سره به ئې په خپله خوښه سبزي او غوښه راوړل او چرګان زمونږ سره ښۀ ډېر وو، زمونږ محفل به اکثر د شپې يوولس بجې شورو کېدلو او د سحر تر بانګ پورې به روان وۀ. دغه شان زمونږ پروګرام د شپې شورو دے څۀ ګورو چې د پوليس درې ګاډي راغلل او مونږ څوارلس کسان ئې ګاډي ته وخېژولو چې د چا په پښو څپلۍ وې او څوک پښې ابلې پښې

وو. مونږه وئیل چې تر جېله به مونږه بوځي، چې دا ګاډي د ټولو جېلونو نه ورتېر شول نو زمونږه یو ملګري ووئیل چې جېلونه خو پاتې شو، زمونږ د پاره ئې جوړې څۀ سپېشل جېل خوښ کړے دے، دا خبرې سره کوو چې په دې کښې په صدارتي محل ورننوتو. بټهو صاحب ویښ وۀ، د خوب په جامو کښې په چمن کښې ګرځېدۀ، په دې کښې ایس پي ورغے بټهو ته ئې ووئیل پټهانے خان مې درله راوستلو.

پټهانے خان زمونږ سره یو خوش اواز ملنګ وۀ په میاشتو میاشتوبه زمونږسره دېره وۀ. هرکله چې بټهوته مخامخ شولو نو بټهو د هغۀ دواړه لاسونه ښکل کړل، په سندهی ژبه کښې ورته لګیاوۀ، ما خو په تاپسې ټول پاکستان وکتلوسندهـ او پنجاب یعني په ټولو تانو کښې مې ستا په حواله خبره کړې ده چې پټهانے خان زما د پاره راپېدا کړۍ او تاته مې هم وئیلي دي چې پنډۍ او اسلام اباد ته راځې نو ماله راځه.

پټهانے خان ووئیل زۀ ملنګ سړے یم، د ملنګانو په محفلونو کښې خوشحاله یم او تۀ خو زمونږ بادشاه یې وایه ستا څۀ حکم دے؟

بټهو صېب تاو راتاو شو پټهانے خان ته ئې وئیل دا خو دې ماته کنځل وکړل، خبر دے چې تۀ کوم ځاے ته راځې ماته اطلاع راکوه هلته کښې به زۀ درځم.

پټهانے خان ووئیل: زۀ چې چاسره وم هغه ستا پولیس والا نن په زور راوستلي دي او دلته کښې ولاړ دي. بټهو صاحب هغه د لاسه ونیولو او دواړه تر زمونږه راغلل، بټهو صاحب زمونږ د ټولو ملګرو نه معافي وغوښتله، وئیل ئې زۀ پټهانے خان پسې ګرځېدم، خو پولیس تاسو په غلطۍ کښې راوستلي یئ. اوس زۀ پټهانے خان اورم کۀ تاسو په خوشحالۍ پاتې کېږئ نو ټول به ئې په شریکه واورو او کۀ تر خپل

ځایه مو زړۀ کېږي نو پولیس والا به تاسو تر خپل ځایه ورسوي. په دې کښې زۀ ورمخامخ شوم، پټهانړے خان مونږ په خپل ځاے کښې اوربدلو خو ستا پولیس زمونږ ټول پروګرام خراب تراب کړو. بټهو صاحب چې ماته وکتل وې زما خو دا سوبم ځل دے چې تاسره کتل کېږي، تۀ خو عجیبه سړے يې او په عجیبه عجیبه ځایونو کښې زما او ستا ملاقاتونه کېږي. زۀ ئې د لاسه ونیولم او په بل لاس ئې پټهانړے ونیولو وئیل ئې راځئ پټهانړے خان به نن په شریکه اورو او زمونږ ټولو ملګرو ته ئې واضحه کړه چې دلته کښې هر قسم نشه موجوده ده، د چا چې څۀ قسم نشه لګي هغه به ورته ملاوېږي ځکه چې نن په ښۀ موډ کښې پټهانړے خان واورو.

پټهانړے خان کښېناستو، بټهو ته ئې ووئیل بغېر د چرسو څښنو نه خو زۀ وېنا کولے نۀ شم، هغۀ پولیس والا ته غږ کړو ایس پي په یوه منډه راغے اول ورته بټهو کنځل وکړل بیا ئې ورته ووئیل چې زما غوندې سړے په ټول پاکستان کښې پټهانړے خان پسې ګرځي او منتونه ورته کوي چې ترما راشه او بیا هم نۀ راځي او د دغه خلقو سره پاتې کېږي نو دغه به هم څۀ خلق وي. د دوي نه زر تر زره معافي وغواړه او بیا لاړ شه د پټهانړے خان د پاره چرس راپېدا کړه.

پټهانړے خان ووئیل د دوي چرس به زما کار ونۀ کړي زمونږ په هغې فارم کښې یو ټرک والا نوي چرس راوړي دي، زما د پاره دې د هغې ټرک والا نه چرس راوړي. پولیس والا سره زمونږ د درې څلورو ملګرو تر هغې فارم لاړل، هغه چرس ئې راوړل په دغه دوران کښې مونږ ته د خبرو کولو موقعه هم تر لاسه راغله، خو د بټهو صاحب ذهن ته حېران وم زما ټولې خبرې ئې یادې وې. په ډېر طنزیه انداز کښې راته وائي دا جوړ ستا د نوې قسم زدکړې کلاس دے یعني په دې

کلاس کښې دې هم داخله اخستې ده. ما جواب ورکړو په دې کلاس کښې خو زما پوره شپږ میاشتې وشوې، دا راته ووایه تاسو څومره جوماتونه په دې کلاس کښې پاس کړي دي؟ ډېر وخت ئې په خړت خړت خندل هغه ناست خلق ورته هم متوجهٔ شول او ښهٔ په ډوبه نشه کښې هم وهٔ. یوه لطیفه ئې بیان کړه چې ما په انګلېنډ کښې تعلیم کولو هلته کښې زما سره یو هندو ملګرے وهٔ هغهٔ به په یو مضمون کښې پوره کورس وکړلو او د هغې نه پس به پاس شولو دوباره به ئې په بل مضمون کښې داخله واخسته. لس شل کاله ئې په هغې کلاس کښې تېر کړل. یوه ورځ ترې نه ما پوښتنه وکړه چې دلته کښې ستا د ټول عمر د سبق وئیلو اراده ده؟ هغهٔ جواب راکړو علم درياب دے چې څومره ډېرې غوپې په کښې وهې، هومره خوند کوي. تا هم په هغې نمونه دا خبره وکړه چې زما خو په دې کلاس کښې شپږ میاشتې وشوې خو تا په کښې څومره غوپې وهلې دي؟ خو د شاعرۍ او موسیقۍ علم یو داسې درياب دے چې یو عاشق سړے په دې پوهېږي او لږه ډېره نشه ورسره هم وکړي نو د موسیقۍ هر اواز او د شاعر هر لفظ د سړي په زړهٔ داسې لګي لکه چې دا هغه لګیا وي. د ژوند په هره لحظه کښې د عشق د محبت په ازمېښتونو کښې ځان اچول پکار دي. د دغه درد محسوسولو د پاره پکار دي چې سړے لوبغاړے وي نه چې فقط تماشګیر وي. د ژوند نه خوند اخستو د پاره په عشق کښې ځان مبتلا کول پکار دي خو د دې غوپې څوک شمارلې نهٔ شي.

ماته ئې ووئیل تهٔ د پټهانے خان په ژبه پوهېږې؟ ځکه چې دې خو په سندهۍ او سرائیکۍ ژبه کښې وینا کوي، ما ورته وئیل زما ملګري شته دے هغوي ماته د دې ژبو ترجمه کوي البته د پټهانے خان

په اواز کښې چې کوم سوز دے او هغه سوز له چې ئې کوم ملنګي طرزونه ورکړي دي هغه چې په هره ژبه کښې وېنا کوي نو خوند کوي.

پټهانے خان چې څۀ وخت چرس وڅښل بټهو ته ئې ووئیل څۀ درته ووایم، هغۀ ورته ووئیل دا ووایه:

"میرا عشق بهی تو، میرا یار بهی تو"

د دغې نه ئې شورو وکړه، دغه شان د نورو کلامونو د وئیلو په مېنځ مېنځ کښې اواز ورکولو چې دغه بیا ووایه، چې د سحر اذان وشولو، پولیس ته ئې ووئیل دوي تر خپل ځایه ورسوه او پټهانے خان به زما سره پاتې شي، پټهانے خان ووئیل زۀ دلته کښې خفه یم زۀ د دوي سره ځم او اوس خو زما ځاے تاسو ته معلوم شولو، هرکله چې ستا ضرورت وي پولیس رالیږه زۀ به ورسره راځم.

د بټهو صاحب دور حکومت او د هغۀ کارنامې:

د ۱۹۶۹ء متفقه آئین (شمله معاهده) د هغې په نتیجه کښې یو لکهـ فوج د هندوستان نه راتلل او د هندوستان سره سره د کشمیر ټولې مسئلې په خبرو اترو حل کول. اسلامي سربراه کانفرنس، اېټمي پلانټ، قادیانے اقلیت کښې ګرځول. کۀ د دغې آئین په حواله د دۀ دې ښو کارونو ته د یو پښتون په نظر وکتلے شي د مثال په توګه د ۱۹۷۳ء آئین کښې چې لس کاله پس به صوبائي خودمختاري ورکوو، د یو لکهـ فوج په هندوستان کښې بندیز، دلته په پاکستان کښې د بېورو کرېسي خُلې چپ کړې وې، بټهو ته دا موقعه تر لاسه شوه چې ازاده خارجه پالیسي او د دې ملک د جوړولو په حق کښې د ترقۍ او د عوامو په خوښه فیصلې وکړې، اسلامي سربراه کانفرنس رابلل، روس، امریکې او چین ته جواب وۀ چې دا یو نوے پاکستان

جوړېږي او د ټولې دنیا مسلم امه یو کېږي او په خپلو پښو ودرېږي. چونکې ټول اسلامي سربراهان بټهو صاحب راغونډ کړل، د دې سره سره د هر لوري نه د بټهو د ختمېدو سازشونه هم شورو شول. په دې کښې د بټهو خپلې غلطۍ هم شاملې دي. د مثال په توګه پښتانۀ او بلوچ دوه داسې قومونه دي چې په رضا درسره تر دوزخه پورې ځي خو په زور درسره جنت ته هم نۀ ځي. بټهو صاحب چې کومې فېصلې د دوي د ښو د پاره کړې وې هغه ئې کله په زور منلې، په دغه دوران کښې فوج هم واپس راغلے وۀ او بېوروکرېسي هم خپل زاړۀ کرتبونه شورو کړل. بټهو ته ئې دا خبره هم ترمخه کړه چې هرکله کۀ مونږ دوي ته صوبائي خودمختاري ورکړو او د دغې صوبو مشران خودداره فېصلې وکړي نو مرکز به کمزورے شي. تۀ به فقط د دوو صوبو وزیراعظم پاتې شې. د هغې نه پس ئې په یوه صوبه کښې د نېشنل عوامي پارټۍ حکومت ختم کړلو او دوېمې صوبې احتجاجاً استعفاګانې ورکړې.

د پاکستان د ماتولو او د پښتونستان د جوړولو په سازش کښې ټول مشران ګرفتار شول. په فوجي عدالت کښې پرې کېسونه شورو شول. بلوچستان ته ئې فوج ولېږلو او په دې صوبه کښې د بمونو خلاصولو سلسله شورو شوه. په فوجي عدالت کښې یو مشر کرنېل عدالتي کاروائي شورو کړه. د ملزمانو نه ئې لیکلي جوابونه وغوښتل. د عطاء الله مېنګل د خُلې وېنا ده چې اول خو عدالت د نېشنل عوامي پارټۍ د ولي خان مشري قبوله کړه.

ولي خان چې د نېشنل عوامي پارټۍ د لوري نه کوم بیان لیکلے وۀ په هغې کښې دا لیک وو چې نۀ ما او نۀ زما پلار د پښتنو د ازادۍ خبره کړې ده او نۀ دا پښتونستان الفاظ زمونږه دي.

پښتونستان خو په اول ځل د قیوم خان په کتاب "ګولډاپنډ ګن" کښې لیکلے شوے دے خو چې هرکله قیوم خان د کانګرس نه راووتلو او په مسلم لیګ کښې شامل شو او د دې صوبې وزیر اعلی شو، نو د وزیر اعلی په حېث اولنے سرکاري کار ئې دا وۀ چې خپل کتاب ئې بند کړو او د دوکانونو نه ئې خپل کتابونه اخستل او سېزل ئې او پښتونستان نامه ئې په مونږه راوتپله. زما پلار ټول عمر کانګرس سره د یو هندوستان خبره کړې وه او انګرېزانو چې کله په هندوستان کښې د صوبو د خودمختارۍ خبره کړې ده زما پلار او کانګرس د هغې مخالفت کړے دے.

په ۱۹۴۵ء او ۱۹۴۶ء کښې چې د کابل د حکومت او د انګرېزانو ترمېنځه چې خط او کتابت شوے وۀ، د افغانستان بادشاهانو د انګرېزانو نه مطالبه کړې وه کۀ چرې تاسو هندوستان له ازادي ورکوئ نو مونږ له په کښې خپله حصه واپس راکړئ، دغې خبرو انګرېزانو او کانګرس دواړو مخالفت کړے وۀ او ډېر په سختۍ ئې د کابل بادشاه ته ووئیل چې د دې خبرو نه ګرېز وکړه. عطاء الله مېنګل ووئیل چې مونږ ټولو بلوچیانو ولي خان ته ووئیل کۀ ستا دا خبرې د عدالت نه د خلاصولو د پاره وي بیا خو سمه ده، خو مونږ بلوچیان خو ځکه په نېشنل پارټۍ کښې شامل شوي یو چې مونږ د پاکستان نه بلوچ ازادول غواړو او ستاسو پښتانۀ ازادول غواړو نو ځکه زمونږ او ستاسو لارې یو دي.

ولي خان واضحه کړه، چې نۀ زما پلار د پښتنو د ازادولو خبره کړې ده او نۀ ما کړې ده، دا خبره ما د ځان د خلاصولو د پاره کړې نۀ ده دا حقیقت دے، مونږ په پاکستان کښې د صوبائي خودمختارۍ خبره کړې ده او بیا ئې هم کوو.

مېنګل ووئیل زمونږ د بلوچو ملګري په دې خبره خفه شول، وئیل ئې بیا خو زمونږ لارې جدا دي.

هرکله چې عدالت ته دا ثابته شوه چې بلوچو او ولي خان په جېل کښې خپلې لارې جدا کړې دي نو د بلوچو نه ئې جدا بیان وغوښتلو. زمونږه ټولو ملګرو سره فکر شولو چې بلوچ خو دروغ نۀ وائي او دا وخت او حالات داسې دي چې رښتیا وینا هم کولې نۀ شي. مونږ د خپل لورې نه په دغه باره کښې د بلوچو یو سردار ور ولېږلو چې دې به د ټولو ملګرو د لورې نه جواب ورکړي. زمونږه دغه ملګري د عدالت نه سوال وکړلو چې مونږ تاسو د کومې ګناه تر مخه په جېل کښې اچولي یُو؟ د عدالت کرنېل واضحه کړه تاسو د پاکستان د نظریې مخالفت کړے دے. زمونږ هغې سردار ووئیل چې مونږ ته خو علم نشته دے چې د نظریه پاکستان مطلب څۀ دے؟

کۀ تاسو لږه مهرباني وکړه او زمونږه په علم کښې مو راوستل چې نظریه پاکستان دې ته وائي، د عدالت کرنېل ووئیل د دې خبرې علم خو ماته هم نشته دے البته اوس د چائیو څښلو وقفه کېدونکې ده، زۀ به هم د دې خبرو تپوس د مشرانو نه وکړم چې په دې باره کښې هغوي څۀ وائي؟

هرکله چې د چائیو څښلو د وقفې نه پس عدالت کښې هغه کرنېل په کرسۍ کښېناستلو، زمونږه د بلوچو هغه سردار ډېر په ادب او احترام ورمخکښې شو او تپوس ئې وکړو، ستاسو مشران په دغې باره کښې څۀ وائي؟ کرنېل صاحب وئیل چې مونږ ته هم دا علم نشته چې نظریه پاکستان څۀ شے دے او څۀ ته وائي؟ زمونږ د بلوچو هغه سردار عدالت ته واضحه کړه چې ډېره ښه ده چې هرکله تاسو ته پته ولګي د هغې نه پس مونږ ته تر جېل تحریري راولېږئ بیا به مونږ تاسو

ته تحریري جواب درکړو. دغه شان د جېل یوه سخته مرحله په خېر خېریت ترسره شوه او عدالت تر اخره وخته پورې تحریري جواب رانهٔ کړو چې نظریه پاکستان څهٔ شے دے؟ او څهٔ ته وائي؟.

بتهو پسې په سندهـ او پنجاب کښې عوام راپاڅېدل او د شرعي نظام د نافذ کولو د پاره د امریکې ملګري هم ورسره ملګري شو. د قادیانانو کورونه عوامو سېزل، په دغه باره کښې بتهو دا فېصله وکړه چې قادیانان ئې په اقلیت کښې وګرځول، د هفتې اتوار په ځائے ئې د جمعې په ورځ چُتي مقرر کړه، څهٔ رنګ چې په اسلامي ملکونو کښې ورکولے شي، په شرابو او کلبونو ئې پابندي عائد کړه.

د ولي خان د خُلې وېنا ده چې په روژه کښې د مخالفو ډلو د ورځې لس بجې یو شریک اجلاس په لاهور کښې رابللے شوے وهٔ چې کوم لیډر به خپل بیان ختم کړو نو نوابزاده نصرالله خان به د سګار نه تک هم ویستلو او اواز ئې کولو نظام مصطفٰی کا کیا بنے ګا؟ یعني سېوا د یوځو مذهبي مشرانو نه د هیچا روژه نهٔ وه.

د بتهو صاحب په حکم کلبونه بندول، په شرابو څښلو پابندي عائد کول، د جمعې په ورځ چُتي مقررول، قادیانے اقلیت کښې ګرځول مخالفو ډلو کمزوري وګڼله، د شریعت په نامه مزاحمت زیاتول او د الېکشن کولو اواز ئې وکړو. د ۱۹۷۷ء الېکشن ته ئې د دهاندلو الېکشن ووئیلو، حالات ئې دومره خراب کړل چې د ډېر وخت نه اوړې ناست فوج او بېوروکرېسي د پاره بانه جوړه شوه او ضیاالحق په درېو میاشتو کښې دننه د انتخاباتو او د احتساب کولو وعده وکړه.

سیاسي لیډرانو ته علم وهٔ کهٔ دوباره صحیح الېکشن وشي نو بیا هم پیپل پارټي الېکشن ګټي ځکه ضیاالحق له سیاسي لیډرانو دا مشوره ورکړه چې درې میاشتې وخت د احتساب کولو د پاره کم دے

چې ترکومې د ټولو احتساب ترسره شوے نۀ وي تر هغې پورې انتخاباتو ته غاړه مۀ ږده او د احتساب په بانه په بټهو باندې د مرګ مقدمه هم دائر شوه چې په ایف ائي ار کښې ئې نامه ټاکل شوې وه. بټهو صاحب څۀ وخت په جېل کښې په خپل تقرير کښې وئيلي وو چې زۀ ډېر کمزورے يم، خو دا کرسۍ ډېره مضبوطه ده. هرکله چې ضياالحق ترې نه کرسۍ ترلاسه کړه، ضياالحق بيا مضبوط شو. د پاکستان داسې کرسۍ ده چې په چا کښې ئې حيا پرېښې نۀ ده چې څۀ وخت ترې نه ځي، په بې عزتۍ ترې نه رخصت اخلي. په پېښور کښې نثارخان ايډوکېټ چې د پيپل پارټۍ باني رکن وۀ او په کور کلي کښې ئې د پيپل پارټۍ د سنټرل کمېټۍ اجلاس رابللے وۀ، په دې غرض چې په هغې کښې د بټهو د جېل نه په راخلاصولو او تحريک شورو کولو خبرې اترې وشي، په دغه دوران کښې د پيپل پارټۍ په مشرانو باندې پابندي هم وه او څۀ مشران خو د ويرې نه هډو راغلي هم نۀ وو او چې کوم راغلي وو هغوي کښې اکثريت د داسې مشرانو وۀ چې هغوي د اقتدار د پاره تر هرې پارټۍ زغلېدل او څۀ په کښې سرکاري هغه خلق وو چې وروستو د ضياالحق په کابينه کښې څۀ په صوبه کښې وزيران شول او د چا خبرو د سرکار سره سمون ونۀ خوړۀ، هغه ټول تر ډېې ائي خان جېل ولړلي شول، څۀ اهم او صحيح ملګري نثارخان سره شپې ته پاتې شول او څۀ ملګرو ورله په پټه ځان د شپې د پاره ور رسولے وۀ.

نثارخان زما د ترۀ زوے وۀ او ساندو مې هم وۀ، په دغه وجه د خوراک څښاک انتظام زما ترلاسه وۀ. دغې راغلو مېلمنو په ما باندې سوال وکړلو چې تۀ خو هم د بټهو په باره کښې خپل خيال ښرګند کړه. ما ورته صفا ووئيل بټهو صاحب له پانسي ورکوي. هغوي وئيل زمونږ او ستا خيال سره يو دے، خو بټهو په دې خبره څوک مطمئن کولے نۀ

شي، هغه بالکل دا خبره نهٔ مني، فقط دا وائي ضياالحق ماله پانسي راکولے نهٔ شي. ما وئيل ضياالحق پانسي نهٔ ورکوي، امريکه به پانسي ورکوي خو بټهو دا هم نهٔ منل. اخر هغې ملګرو وئيل ضياالحق خو ورته هم وئيلي دي چې معافي وغواړه فرانس يا امريکې ته به دې ولېږو هغه بيا هم انکاري وهٔ. لب لباب دا چې دې ملګرو خپلو کښې دا فېصله وکړه چې په دې باره کښې بټهو صاحب له ملاقات د پاره ورځو، خپله غاړه به پرې خلاصه کړو، په ډاګه به ورته ووايو چې زمونږه سل فيصده دا يقين دے چې تاته پانسي درکوي کهٔ د دې ملک نه چرې بهر لاړے، نو ښه به وي ځکه چې دا تحريکونه د بهر ملکونو نه هم ډېر ښهٔ چلېدے شي، خو زما په خيال دغه مېلمانهٔ ملګري د بټهو صاحب د ملاقات نه مخکښې د ډي ائي خان جېل ته ولېږلي شول. د هغې نه پس ضياالحق ټولو سياستدانانو ته هرکلے ووې او جومات اسلامي ورسره ځان په هر کار کښې ترغاړه کړلو. رحمان بابا وائي:

عقل مهٔ غواړه رحمانه بخت ترې ښهٔ دے
عـقـل مـنـد د بـخـتـورو غـلامـان دي

ضياالحق په ۱۹۷۷ء کښې راغے او په ۱۹۷۸ء کښې ئې د احتساب عمل جاري کړو. د نظام زکواة او نظام صلواة خبره ئې هم شورو کړې وه. په دې هم په ۱۹۷۸ء کښې په افغانستان کښې انقلابي تبديلي راغله. د روسيانو ملګرو په اقتدار قبضه وکړه چې هغوي ترسره نهٔ کړه نو يو کال پس فوجيان سره د روس راغلل. کوم سياستدانو چې د بټهو خلاف په يو پليټ فارم پارټۍ راغونډې کړې او د جمهوريت د بحال کولو تحريک ئې شورو کړو، په لاهور کښې يو ميټنګ وهٔ زهٔ په کښې موجود وم چې د سندهـ يو قوم پرست ليډر په تقرير کښې ووئيل

زۀ په خپله هم څۀ ښۀ مسلمان نۀ یم خو زما موجوده لس ښځې دي چې ثلور په کښې مهاجرې دي. هم دغه وجه ده چې زۀ د مهاجرو نه زيات واقف يم او مهاجر ډير ښۀ پېژنم. دا داسې خلق دي چې ضرورت ئې درته پيښ وي په منتونو او په زارو په درته سر وي، ټول دوستان به تاله په سفارش کښې راولي چې په دې هم کار ونۀ شي بيا به خپل خپلوان درله په سفارش کښې راولي، چې په دې هم کار ونۀ شي بيا به ښځه او بچي تر کوره در ولي، ژاړي به هم او منتونه به درته هم کوي. اخر چې مجبوره دې کړي او هغه کار ورله ترسره کړے. د هغې نه پس په يو بل لاس واچوي، وائي "سالے کو اُلّو بنايا" يعني ګوره بې وقوف مې ترې نه جوړ کړو. ضياالحق مهاجر دے کۀ تاسو ټول دلته کښې راغونډ شئ او بيا هم يو خدا ے پاک به ترې نه تاسو خلاصوي.

يو بل فوجي ريټائرډ ملګرے چې فوجي نمائنده هم وۀ د ضياالحق تر څنګه پاتې شوے وۀ. هغۀ وئيل چې ضياالحق په اردن کښې د پاکستان په سفارتخانه کښې ملټري اتاشي وۀ، په دغه وخت کښې د فلسطينيانو او شاه حسين ترمينځه جنګونه کېدل. ضياالحق د شاه حسين تر غوږ تېره کړه چې زما د پاره د پاکستان فوج يو ډويژن راطلب کړه، زۀ به دې د دے غمه خلاص کړم. هغه رښتيا وه چې پاکستاني فوج تر اردن لاړلو، شاه حسين ئې د غمه خلاص کړلو، د هغې نه پس شاه حسين بټهو صاحب ته د دۀ په باره کښې سفارش وکړو چې دۀ له وخت زيات ورکړه او جرنيل ئې کړه. بټهو صاحب د شاه حسين دغه خبرې ومنلې. دلته کښې جرنل ګل حسن او داسې نور جرنيلان چې خودداره وو او چاپلوس هم نۀ وو، ضياالحق ئې جرنيل خوښ کړلو ځکه چې دې بې انتها چاپلوس وۀ.

بټهو صاحب چې به کوم ځاے ته په دوره تللو ضیاالحق ته به مخکښې علم وۀ، هلته کښې به ئې د دۀ د پاره ټول د عیاشۍ سامان برابر کړے وۀ. یوه ورځ په اخبار کښې د بټهو د خاندان ټول تصویرونه موجود وو چې زامن ئې سره د بې نظیرې په هغې کښې موجود وو، ضیاالحق په هغې تصویر کښې د کمانډر ان چیف په یونیفارم کښې په زمکه ناست دے، بټهو هم دا ګڼل چې دا یو مهاجر سړے دے او انتهائي کمزورے او بې ځوکه دے، دې ماته نقصان راکولے نۀ شي خو مهاجر سړے چاپلوسي عار نۀ ګڼي، دغه شان یو بل ته ډغرې ورکوي. د پښتنو یو مشهور متل دے "خر پلار کړه مطلب پرې بار کړه" عابدالله جان د صوابۍ یو ډېر ښۀ لیکوال دے، په امریکه او په کنېډا کښې ئې تعلیم کړے دے. په "ستېپس مېن" کښې ئې هفته واري مضمون راتلو. هغۀ د ضیاالحق په باره کښې وئیل چې ضیاالحق ډېر ښۀ مسلمان وۀ، د اسلام د پاره ئې ډېر ښۀ کارونه کړي دي او مشرف ډېر خراب سړے دے. دۀ د هغۀ ټول کارونه ختم کړل. ما ورته ووئیل په هغه وخت کښې د امریکې یو مسلمان جرنېل ته ضرورت وۀ چې په افغانستان کښې د روس خلاف جهاد وکړي او د پاکستان عوام ورسره هم امداد وکړي. د هغې نه پس د امریکې یو بل جرنېل ته ضرورت وۀ چې په پاکستان او افغانستان کښې د هغه وخت پاتې شوے خلق ختم کړي او هغه ادارې هم ختمې کړي کومې چې په هغه وخت کښې جوړې شوې وې. نن سبا چې سیاسي لیډران ځان تر کرسۍ رسوي، د امریکې په رضا به وي کۀ پلار ئې ورله ولې نۀ وي وژلے.

ضیاالحق د امریکې مسلمان وۀ او ځکه چې په هغه وخت هغې ته د مسلمان ضرورت وۀ او کېدے شي چې مشرف د ضیاالحق نه ښۀ مسلمان وي نو دې وخت کښې امریکې ته د یو لبرل او ازاد خیاله سړي ضرورت دے چې د ضیا الحق باقیات ختم کړي.

د ضياالحق دور حکومت:

د ضياالحق په دور حکومت کښې د پښتنو د دوو سوو کلونو خوبونه او ارمانونه د دغه وخت په دوو درېو برخو کښې پراتۀ پښتانۀ د دوي د يو ځاے کېدو خوبونه، د دوي د خاورې د يو ځاے کېدو خوبونه، په وينو او زوو او په نفرتونو باندې بدل کړل. د امريکې د پاره په افغانستان کښې جهاد کول او د امريکې بېن الاقوامي غوښتنې سر ته رسولو د پاره د يو تاريخ، د يو کلچر، د يوې ژبې او د يو خاندان دوه ورونړه په خپلو کښې د مذهب په نامه وجنګول. د وينو او کلاشنکوف کلچر او ثقافت ئې په وراثت کښې ور وسپارلو او د افغانانو په نامه ئې خپله کرسۍ مضبوطه کړه او د ډالرو د امداد لاندې ئې پاکستاني فوج ته د امريکې ايجنډه ور وسپارله.

د پنجاب يو ليکوال احمد رشيد چې په طالبانو ئې يو کتاب ليکلے دے چې د افغانستان په نامه باندې اول امداد د ډالرو په شکل کښې يا د خوراک په شکل کښې يا د نورو امدادونو په شکل کښې راغلے دے. نوي فيصده پاکستاني فوج هضم کړے دے او لس فيصده تر افغانستانه رسېدلے دے. د افغانستان څوارلس ډلې او د هغې جنګي مشران په کلونو باندې په پېښور کښې پراتۀ وو او په افغانستان کښې د دماکو او د نورو تخريب کارۍ کارونه ئې شورو کړي وو. د هغې په بدل کښې د افغانستان حکومت د روس په امداد باندې په پېښور کښې بمونه خلاصول شورو کړل. دغه شان امريکې د کابل پښتانۀ وژل او روس د پېښور پښتانۀ وژل. د امريکې خلقو په فخر وئيل چې دا جنګ به تر اخري افغانه پورې جاري وي.

هر جرنېل چې په پاکستان کښې تر اقتداره راغلے دے نو پاکستاني عوام له ئې دا تاثر ورکړے دے کۀ زۀ نۀ يم نو پاکستان به

هم نۀ وي او بېوروکرېسي د پښوا نه هم دې خبرې له هوا ورکوي. د جرنېل صاحب اقتدار مضبوطولو سره امداد کوي، امریکه یواځې په پاکستان کښې نه بلکې په ټولو اسلامي ملکونو کښې ننوته، بې جنګه بې جدله ئې ډېر اسلامي ملکونه قبضه کړل ځکه چې امریکې د مسلمانانو د پاره جهاد کولو. روس چې هرکله د افغانستان نه خپل فوج وویستلو نو ضیاالحق په پاکستان کښې خوشحالۍ شورو کړې او دا ئې ووئیل روس مونږه د افغانستان نه وویستلو او چې تر کومه پورې د روسیانو دا ملګري په افغانستان کښې موجود وي، نو جنګ به جاري وي. په دغه دوران کښې د ډیورنډ لائن د پولې نه دې خوا ته وسېدونکو افغانانو او د هغوي د مشرانو ډېر عجیبه کردار پاتې شوے دے. زمونږ په صوبه کښې د پښتون په نامه سیاست کولو والا په اخباري بیانونو او په تقریرونو د وېناګانو تر حده پورې د افغان ورور سره امداد کړے دے.

څۀ وخت چې افغانستان ته د افغانستان په نامه نورمحمد ترکی راغلو، څۀ موده پس ورپسې حفیظ الله امین احمدزے راغلو، یو غلجے پښتون وۀ او بل محمدزے پښتون وۀ. په هغه وخت کښې قوم پرستو مشرانو به دې ته خانه جنګي وئیله او ورسره ئې دا هم وئیل چې مونږ د کمیونسټانو سره ملګرتیا نۀ کوو. هرکله چې ببرک تاجک راغلو، نو ببرک ولي بهائي بهائي نعرې ئې شورو کړې ځکه چې هغه د روس په امداد راغلے وۀ او نورمحمد ترکی او حفیظ الله امین روس ته وئیلي وو چې مونږ خپله دفاع په خپله کولے شو.

دغه شان د دغه جنګ په دوران کښې د افغانستان نه راغلے مهاجرو پښتنو مونږ ته ډېرې ګیلې وکړې، هغه دا چې د دغه کورنۍ خلق چې کله هم تر افغانستان راغلي دي نو مونږ ئې ډېر دارومدار او

خاطر کړے دے او د خپلو بادشاهانو نه زیات مو ورته د عزت په سترګو کتلي دي، دوي کۀ دلته کښې زمونږ څۀ امداد کولے نۀ شو نو دومره خو پکار وو چې زمونږ په سر ئې لاس راښکلے وے چې کم از کم دې زیاتي ته ئې زیاتے وئیلے وے نو نۀ دوي زمونږ تر کېمپونو راغلل او نۀ ئې زمونږ سره د همدردۍ اظهار وکړو. البته په مونږ پورې ئې خندا او مذاق وکړل، وائي تاسو په تېښته راغلي یئ واپس تر خپل وطن لاړ شئ.

په پېښور کښې چې د جهادي ډلو کوم پښتانۀ مشران وو د مثال په توګه ګلبدین، محمدي، سیاف زمونږ د مشرانو د دوي سره نۀ لګېده، اکثر ئې د دوي خلاف خبرې کولې. رباني، مجددي او مسعود غوندې خلقو ته ئې ښۀ وئیل. دې خبرو اترو په پښتنو کښې دا تاثر پېدا کړو چې د دې صوبې پښتانۀ مشران په مسلمانۍ او په کمیونستۍ نۀ دي خو هسې د پښتون مخالفت کوي. د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین مخالفت او د ببرک کارمل سره یاري، دې خبرو اترو د دوي خپل ایمان ښکاره کړو او هغه تاریخي حقیقتونه چې زمونږ غوندې خلقو نۀ منل چې د دوي ټول عمر پښتون دشمن خلقو سره تعلق پاتې شوے دے. تاریخي حقیقتونه ئې دې خبرو اترو رابرسېره کړل. د افغانستان په باره کښې دا فېصله وشوه چې مجددي به د لږ وخت د پاره مشر کړو، د هغې نه پس به رباني ته دا مشري حواله کړو. هر کله چې رباني اقتدار ترلاسه کړو او وخت ئې پوره شو بیا ئې اقتدار نۀ پرېښودۀ. دغه شان په افغانستان کښې د شلو لکهو پښتنو په قربانو یو تاجک د افغانستان صدر وټاکلے شو. د رباني او مسعود د طالبانو تر راتلو پورې پاتې شولو. په دغه وخت کښې په پاکستان کښې هم ډېره تبدیلي راغله. د روس د ماتېدو اثر په هغې اتحادي ملکونو

باندې هم پرېوتو ځکه چې هلته کښې هم اتحادي تنظيمونه جوړ شوي وو لکه ازبکستان کښې، تاجکستان کښې، ترکمانستان کښې، د دې نوي ملکونو د روس نه د رابېل شوې مشرانوهم دا خطره محسوسه کړه چې دوي د جهاد په نامه باندې زمونږ په ملکونو کښې هم حکومتونه راوستے شي. پاکستان هم دا جهادي قوتونه ځايولے نۀ شول خو د دوي ترمخه کشميراوچيچنياغوندې ملکونو کښې جهادونه شورو شول. نو روسي ملکونو دوباره روس ته اپيل وکړو چې زمونږ سره امداد وکړئ او د دې سره ئې د امريکې نه ګيله وکړه چې ستاسو د لاس جوړ شوي جهاديان زمونږ لوري ته راوړي.

امريکې دا خبره د ضياالحق تر غوږه کړه چې زمونږ مقصد خو اوس ترسره شوے دے. د دغې ملکونو نه دا جهاديان منع کړه، ضياالحق د لسو کالونو د جنګ نه پس چې د پاکستاني فوج په کښې هرقسمه تاوان شوے وۀ او د افغان مشري رباني ته ترلاسه شوه، چې تاجکو او هندوستان سره ئې ښۀ تعلق درلود. پاکستان د هر قسمه تاوانونو نه پس هيروئين او کلاشنکوف کلچر او په خپله خاوره باندې دېرش لکهه مهاجر ساتل او د رباني غوندې سړے ئې په افغانستان کښې په دې غرض راوست چې د هندوستان سره ښۀ تعلق ساتي، ضياالحق ځکه د امريکې دغه خبرو ته تيار نۀ شو چې په پاکستان کښې د وزيرانو تحقيقاتونه چرې هم په صحيح معنو کښې ترسره شوي نۀ دي. ضياالحق هم په يوه هوائي حادثه کښې سره د ښو ښو فوځي جرنېلانو سره د امريکې د سفيره په حق ورسېدل.

هم په دغه کال په پاکستان کښې اليکشن وشو، د بې نظير پيپل پارټۍ چې مسلسل ئې د ضياالحق مخالفت کړے وۀ په اقتدار کښې راغله د امريکې سره ئې د هغې خبرو د سر ته رسولو وعدې

وکړې کومې وعدې چې ضیاالحق تر سره کړې نۀ وې. د ضیاالحق د لسو کلونو په دور کښې مولیانو د اسلام په نامه باندې ځائے په ځائے اډې جوړې کړې وې. دوي داخبره برداشت کولے نۀ شوه چې دضیاالحق دلسوکلونو د دور نه پس دې د پاکستان یوه ښځه وزیراعظمه وټاکلې شي او بیا بېوروکرېسي کښې د پخوا نه د سیاسي خلقو مخالفت کولو او د بې نظیرې په اقتدار هم خفه وو او د دوو کالو دغه اقتدار ئې د کرپشن په تورونو باندې ختم کړو. دوباره الېکشن وشو اسلامي جمهوري اتحاد باندې نواز شریف اقتدار ترلاسه کړو.

نواز شریف ډېر ښۀ تاجر وۀ بل د ضیاالحق په لاسو کښې لوېدلے سړے وۀ او ډېر ښۀ پښتانۀ ئې په ډېر لږ امداد د ځان سره ملګري کړل. نواز شریف هم سیاسي لیډر وۀ، په سیاسي بنیادونو باندې د بېوروکرېسي خوښ نۀ وۀ هغه هم په دغه الزاماتو د اقتداره برطرف کړے شو.

بې نظیرې دوباره اقتدار ترلاسه کړو په دغه دوران کښې د ډېرو کوششونو باوجود د افغانستان په سیاست کښې د پاکستان عمل دخل کمزورے وۀ. د پاکستان د لوري چې به چا ټرک کښې سامان تر افغانستانه اوړلو په لاره کښې به ترې نه مختلفو لسو تنظیمونو پېسې اخستلې. دې خوا ته دېرش لکهه افغانان هم په پاکستان کښې وسېدل خو د افغانستان حکومت د پاکستان نه زیات هندوستان ته مائل وۀ. د روس نه نوي ازاد شوي ملکونو کښې د تېلو او ګېسونو ډېرې ذخیرې پرتې وې چې یونیکال او نورو کمپنو د هغې ملکونو سره معاهدې وکړلې. چې د تېلو ذخیرې به د افغانستان په لاره پاکستان ته او بیا د پاکستان نه تر ګرمو اوبو ورسوي ځکه چې پاکستان ته هم په دې کښې ډېره فائده وه. نصیرالله بابر صاحب په هغه

وخت کښې وزیر داخله وۀ، د لارې د صفا کولو په غرض هغۀ ګارنټي هم ورکړه چې په اخره کښې دا خبره تر طالبانو ورسېده. یونیکال چې کوم رقم د اېډورټائز منټ د پاره مختص کړے وۀ هغه رقم ئې د طالبانو ترلاسه کړلو او په افغانستان کښې د یو مضبوط حکومت جوړولو په غرض د پاکستان د فوج په شریکه باندې د طالبانو سره امداد شورو شو. طالبانو په یو کال کښې دننه دنن درې حصې افغانستان تر لاسه کړو، اخر داسې وخت راغلو چې سېوا د پنجشېر نه د افغانستان ټوله علاقه د طالبانو تر لاسه شوه او د روس نه ازاد شوي ملکونه کوم چې د دوي نه مخکښې هم په خطره کښې وو نور هم په خطره کښې شول. سره د روس ئې احمدشاه مسعود سره ښکاره باره امداد شورو کړلو دلته په پاکستان کښې هم حکومت بدل شولو.

نوازشریف په دوتهائي اکثریت ترمخه راغلو او په آئین کښې ئې ترمیم وکړلو. د صدر نه ئې اختیارات ترلاسه کړل، په کومو اختیاراتو به چې وزیراعظم ماتېدلو، څۀ رنګ چې وړاندې لیکلي شوي دي چې نواز شریف د ضیاالحق د ګوتو جوړ سیاستدان وۀ او د مذهبي جوماتونو مرسته هم ورسره وه او بل لوري ته د پاکستان په لویو لویو شخصیاتو باندې د امریکې څۀ کار نشته دے او دا درې خبرې ئې ټولو ملکونو ته ترمخه کړې دي کۀ دا درې خبرې په تاسو کښې چرې موجود وي نو مونږ به تاسو سره ملګرتیا ته تیار نۀ یو. بنیاد پرستي، منشیات او اېټمي ټېکنالوژي. دا هغوي ته پته وه چې نواز شریف سره د مذهبي پارټو ملګرتیا شته دے نو هغۀ د ایټم بم د جوړولو کامیابې تجربې هم وکړې.

په افغانستان کښې د اسامه بن لادن د دهشت ګردۍ کارونه تر نورو ملکونو ورسېدل. دې خوا ته د پاکستان په افغانستان کښې د

طالبانو نه علاوه نور ملګري پاتې نۀ شول. پاکستان تر اخره وخته دا کوشش وکړو چې طالبان دې د امریکې نه بچ پاتې شي. د پاکستان ډېر وفدونه د طالبانو سره په دې غرض ملاو شو او مذهبي حوالې ئې هم ورکړې چې امریکې ته د اسامه بن لادن په ورکولو کښې زمونږ او ستاسو کامیابي ده. طالبانو د دې خبرې نه بیخي انکار وکړو هغوي وئیل په دې کښې شک نشته دے چې مونږه مسلمانان یُو خو پښتانۀ هم یُو چې زمونږ په ځاے کښې ځوک پناه واخلي هغه په یو قیمت دشمن ته واپس ورکولو ته تیار نۀ یُو.

په پاکستان کښې نواز شریف سره د دوتهائي اکثریت او سره د ترمیمه برطرف شو او جرنېل مشرف د پاکستان د بچ کولو او د امریکې نه د ساتلو په بانه باندې د طالبانو ختمولو اراده وکړه چې تراوسه پورې لګیا دي چې د پاکستان ټولې قوم پرستې پارټۍ په دغه جنګ کښې د امریکې په لوري ولاړې دي. د پاکستان فوج چې د طالبانو په جوړولو او ساتلو کښې پوره برخه اخستې وه، نن لګیا دي دوي د هغه خلقو مخالفت کوي حالانکې دا هم منې چې په افغانستان کښې د طالبانونه علاوه زمونږبل ملګرے نشته اوامریکه په دې شک هم کوي او یوه مجبوري ئې هم ګڼي. ټولې قوم پرستې پارټۍ چې نن امریکې سره ولاړې دي چې د پښتو کولو وخت راغلو نو پښتو ئې په ډاګه پرېښوده چې په کومو خلقو پورې ئې ټول عمر خندا او ټوقې کولې چې دا مولیان دي دوي په څۀ پوهېږي نه او په پښتو کولو هم نۀ پوهېږي هم د هغې خلقو د لاسه یوه داسې کارنامه وشوه چې پښتون قوم به ئې نسل تر نسل یاد ساتي یعني خپل حکومت ئې پرې ختم کړلو خو د پښتون روایات ئې ژوندي وساتل. پښتانۀ کۀ په سیاست پوهېږي کۀ نۀ پوهېږي خو په پره جمبه ډېر ښۀ پوهېږي. دا درېم عالمي

جنګ د ے چې زما په کور کښې سره کېږي او د برش کاله ئې سره پوره کېږي. هر پښتون په دې مجبوروي که سبا زما څۀ ذاتي خبره راشي نو په دې جنګ کښې به د چا سره ولاړ يم. امريکې خو ټولو ملکونو ته ښکاره جاره وئيلي دي چې په دې جنګ کښې کوم ملکونه زما سره ولاړ دي هغه زما دوستان دي او چې کوم ملکونه زما سره ولاړ نۀ دي هغه زما دشمنان دي.

هرکله چې زمونږ جرنېلان هره فېصله کوي هغه به د پاکستان په فائده کښې او که په نقصان کښې وي خو زمونږه به د پښتون په حېث په کښې څۀ کردار وي، آيا زمونږه قوم پرستې پارټۍ به چرته د خپل قوم د ترقۍ خبره وکړي او که نه زمونږه د قوم د تقدير فېصله نن زمونږه په لاس کښې نۀ ده او نۀ جنګ زمونږه په لاس کښې د ے او نۀ امن راوستے شو. د پښتويومشهور متل د ے چې "بې غېرته مري او زارۍ ئې پاتې کېږي" د پخوانو مشرانو د حجرو يوه خبره مې تر خياله راځي، هغوي به وئيل چې نر سړے د جنګ په وخت کښې اواز کوي زما ملګري څوک دي او بې غېرته وائي زۀ د چا ملګرے يم؟

د پاکستان په شپېتۀ کاله ژوند کښې د جناح نه راواخله تر مشرفه پورې په ټولو اعلی حکامو باندې مونږه لړه لړه تبصره وکړه ځکه چې زما په نظر کښې د پاکستان د جوړېدو نه پس تر اوسه پورې د يو مياشتې د پاره د اقتدار تبديلي نۀ ده راغلې، البته د شکلونو بدلون شوے د ے. په سرنامه کښې ليکلي شوي دي چې د هندوستان نوابانو، جاګيردارانو او سرمايه دارانو د هندو سرمايه دارو سره په کولاؤ منډۍ کښې مقابله کولې نۀ شوه. د يو بېل مارکيټ د جوړولو ضرورت وۀ چې په هغې کښې مسلمان سرمايه دار په خپلو کښې د خپلې سرمايې وېش کوي. بل خوا ته د کانګرس پارټۍ نوابانو په خپل

منشور کښې دا خبره واضحه کړې وه. چونکې نهرو په خپله هم د ډېر مال حال خاوند وۀ خو د ټولو نه سختې خبرې به په دې باره کښې هم هغۀ کولې. هغۀ وئیل کۀ مونږه ازاد هندوستان غواړو نو نوابۍ او جاګیرونه به مخکښې ختمول غواړي چې کوم کارونه د هندوستان او عوامو په فائده کښې نۀ وي هغه ختمول پکار دي. دا خلق د سازشونو جرړې دي، دا خلق د کلبونو بلد دي، د انګرېزانو وفادار دي او سازشونه ټول عمر په محلونو کښې کړي چې ترڅو پورې دا نوابۍ ختمې شوې نۀ وي نو په هندوستان کښې به ټول عمر د سازشونو خطره وي. هم دغه نوابانو په هندوستان کښې اخري سازش د پاکستان د جوړولو په شکل کښې وکړلو، پاکستان هم دغه خلقو جوړ کړو کۀ په هندوستان کښې ئې نوابۍ ختمې شوې نو په پاکستان کښې هغوي يو په لس د نغدو په شکل کښې واخستې.

د نوابو او جاګیرونو تقسیم د اقتدار په شکل کښې د دوي ترلاسه راغلو، دغه شان د یورپ نه چې انګرېزان راغلي خلق وو خپل ځان ئې د دوي نه ازاد کړو یعني د هندوستان راغلي سل یو نیم سل کاله د انګرېزانو غلامان پاتې شول او چې ځان ئې ازاد کړلو هر کله چې د هندوستان نه راغلل نو د دغې جاګیردارو او نوابانو ترلاسه ورغلل شپېتۀ کاله د دوي غلامان پاتې شول، انګرېزانو د هندوستان د پاره داسې قانونونه تیار کړي وو چې په کوم قانون باندې غلامان په ښه طریقه باندې ساتلې شي. چونکې دوي هم د بهر نه راغلي خلق وو، پنجابي، سندهي په غلامۍ کښې د ساتلو د پاره هم دغه قانون د ټولو نه غوره ښکارېدلو. حالانکې د پاکستان په ۱۹۴۰ء قرارداد پاکستان کښې په لاهور کښې په واضحو الفاظو کښې لیکلي شوي دي چې مونږ د هندوستان شمال مغرب ته مسلمان اکثریتي صوبو کښې او

بنګال دې ټولو صوبو ته مکمله ازادي غواړو يعني ازاد ملکونه ترې جوړول غواړو. په دې ټول قرار داد کښې د سره د پاکستان ټکے نشته يعني تر دغه وخته پورې د پاکستان جواز نۀ وۀ ځکه چې ۱۹۳۶ ـ ۳۷ کښې د الېکشن بائللو په وجه مسلم لیګ د پاکستان نوم نۀ شو اخستے. دغسې د ۱۹۴۶ء الېکشن بیا په دې درېو صوبو کښې بائلو او په بنګال کښې په دو تهائي اکثریت مسلم لیګ وګټلو ځکه چې بنګالیانو صرف د بنګال د ازادۍ يعني ازاد ملک د پاره مسلم لیګ له ووټ ورکړے وۀ ځکه چې دوي وئیل مونږ بنګال يو ازاد ملک جوړوو. د ۱۹۴۶ء د الېکشن نه پس جناح صېب وئیل چې دا خلق پاکستان نۀ غواړي نو زۀ ئې پرې په زور نۀ شم جوړولے ځکه نو هغه دومره خفه وۀ چې خپل بېګ ئې اخستے وۀ او لندن ته خپل د وکالت پرېکټس له تللو خو د سنټرل انډیا نوابونو کومو چې ځان د پاره يوه بېله منډۍ پاکستان جوړولو نو هغوي جناح صېب لندن ته د تللو نه پاتې کړۀ او جناح صېب ته ئې دا هم ووې چې تا په ووټونو پاکستان غوښتلو نو د بنګال ابادي د دې درېواړو صوبو نه زياته ده او په بنګال کښې مسلم لیګ نوي فيصده ووټ اخستے وۀ. دې درېو صوبو کښې ئې چرته لس فيصده او چرته دولس فيصده ووټ اخستے وۀ. د بنګال د مسلم لیګ ووټونه او د دې درېواړو صوبو ووټونه يو ځاے کړو نو دا د پنځۀ پنځوس فيصده نه زيات راځي نو دوي د ۱۹۴۶ء د الېکشن نه پس د مسلم لیګ اجلاس په دهلي کښې وکړۀ هغې ته ئې د بنګال د مسلم لیګ هغۀ ښۀ ښۀ مشران نۀ وو راغوښتي د چا چې د پاکستان د نوم سره اتفاق نۀ وۀ او هغې ته ئې د مسلم لیګ نمائنده اجلاس ووې ځکه چې د پارټۍ مشران ئې نۀ وو راغوښتي بلکې خاص نمائندګان ئې راغوښتي وو. د نبګال هغه نمائندګان هم دوي سره په دې رضا نۀ

وو چې د پاکستان د پاره دې مونږه خپله ازادئ بائلو خو دوي ورته واضحه کړه چې ستاسو او زمونږه ووټونه يو ځاے کړو نو دا د پنځوس فيصدو نه زيات دي نو مونږ به پرې ځان له پاکستان هم جوړ کړو تاسو به مونږ سره په دې پاکستان کښې شريک يئ کۀ بيا هم يوه صوبه د دغې قانون ترمخه خوشحاله نۀ وي نو خپل ځان بېلولې شي خو دا په هندوستان کښې د انګرېزانو وفادار غلامان پاتې شوې وو، دوي ته تراوسه پورې د انګرېزانو لباس، ژبه، کلچر د مسلمانانو د هر شي نه ښۀ ښکاري او بيا بلوچي، سندهي او پنجابي پورې خو خندا او ټوقې کوي. حالانکې هم د دغې قومونو زمکې دي چې موجوده پاکستان پرې جوړ دے او دوي ئې بادشاهان دي. يوه اداره په پاکستان کښې داسې نشته دے چې په هغې کښې د ګرېډ ۱۸ نه په بره افسرانو کښې شپېتۀ فيصده مهاجر نۀ وي بلکې داسې ادارې شته دے چې په هغې کښې د نوي (۹۰) فيصد نه هم زيات مهاجر دي. کۀ خداے مۀ که چرته پنجابي يا پښتون په دغه منصب تعينات شي نو دوي ورپسې ولګي په ارام ئې هله پرېږدي چې هغه خپل قوم پرېږدي او د دوي ژبه او کلچر خپل کړي يعني چې د دوي په شان شي ځکه زۀ وايم چې په پاکستان کښې د اقتدار تبديلي راغلې نۀ ده او نۀ په پاکستان کښې د پاکستان وسېدونکي د ازادۍ په خوند پوه شوي دي خو يو بادشاه لاړ شي او د هغۀ وفادار د هغۀ په ځاے بادشاه شي.

مونږ نن ټول د هغې وفادارو غلامانو غلامان يو. پښتو کښې يو متل دے "خواره شې وينځې چې د وينځې پښې به وينځې" په پاکستان کښې د بټهو او ايوب خان په دور کښې حکومتونو کښې د دې دواړو په ورومبي ځوکلونو کښې د پاکستان د خوشحالۍ او د ترقۍ ځۀ فېصلې شوې وې خو دې دواړه هم دغې مخکنو دورونو

کښې د مهاجرو ګرفت کمزورے کړے وۀ خو دا دواړه بیا هم دوي عملي کارونو ته پرېښودې نۀ دي. نن هم داسې یوه اداره نشته دے چې هغه به د دوي ترلاسه نۀ وي. په پاکستان کښې فقط دوي سوچه پاکستانیان دي، مونږ خپلو مشرانو د انګرېزانو او هندوانو نه ازاد کړو خو د سوچه پاکستانیانو نه به څۀ رنګ پاکستان ازاد شي؟ اکثر د دوي مشرانو به په ورکوتوالي زمونږ نه په سکول کښې تپوسونه کول چې تاسو پښتانۀ يئ او کۀ مسلمانان يئ؟ او کۀ چا به ووئیل چې زۀ پښتون یم نو دوي به ورپورې وخندل، کۀ چا به ورته ووئیل چې زۀ مسلمان یم نو هم دوي به ورپورې وخندل. مونږ ټول ملګري یوه ورځ راغونډ شو او د هغې استاذ په سر مونږه پرنسپل ته شکایت وکړو، پرنسپل هغه استاذان راوغوښتل ورته ئې ووئیل دا هلکان دي، ناپوه دي، تاسو له پوهې د پاره راځي چې دوي دا وائي نو تاسو ورپورې خندا کوئ او کۀ هغه وائي نو هم ورپورې خندا کوئ لهذا دوي په دې پوهه کړئ.

په دغه وخت کښې په دغه سکول کښې درې استاذان مهاجر وو هغوي وئیل د دې صحیح جواب دا دے چې نۀ پښتون یم او نۀ مسلمان یم، زۀ پاکستانے یم او د جناح صاحب په اسمبلۍ کښې د وړومبي تقریر حواله ئې راکړه. هندو هندو پاتې نۀ شو او مسلمان مسلمان پاتې نۀ شو اوس مونږ ټول پاکستانیان یُو.

مونږ په دې اوس پوه شو چې دوي به دا سوال ولې کولو؟ دوي خو په خپله نۀ پنجابیان دي، نۀ سندهیان دي او نۀ مسلمانان دي. د یونان یو زوړ فلسفي وئیلي وو چې زۀ هم کم عقل یم او تۀ هم کم عقل یې خو زۀ ستا نه ښۀ یم ځکه چې ماته دا علم دے چې زۀ کم عقل یم د هغې په حواله زۀ هم وایم چې زۀ هم غلام یم، پنجابے هم غلام دے،

سندھے هم غلام دے، خو زۀ د دوي نه ښۀ یم ځکه چې ماته دا پته ده چې مونږ غلامان یُو.

د مسلمانانو او عیسایانو د جنګونو تاریخ خو ډېر زیات اوږد دے خو چې اسلام کله تر سپین پورې ورسېدلو نو د یورپ بادشاهانو سره خطره پېدا شوه چې دا خلق یواځې د بادشاهۍ اوږے نۀ دي، د دوي د بادشاهۍ شاته یوه نظریه پرته ده او هغه نظریه د مذهب په بنیادونو باندې ښه مضبوطه ولاړه ده. په کوم رفتار باندې چې دا مذهب خلق خوښوي هرکله کۀ دغه مذهب په یورپ کښې خور شو نو زمونږ بادشاهي به خود بخود ختمه شي. دغه شان عیسایانو د صلیبي جنګونو اغاز وکړو. د جنګونو نه پس ئې مشوره وکړه چې دا مسلمانان د تُورې په زور مونږ ختمولے نۀ شو او کۀ چرې مسلمانان ختم کړو نو مذهب ئې ختمولے نۀ شو البته په دوستانه ماحول کښې ختمېدے شي. په مزه مزه چې په دوي کښې نفاق پېدا کړو او فرقې په کښې جوړې کړو او د دوي بادشاهان په نشو عیاشو تماشو باندې اموخته کړو، دا یوه طریقه ده چې دوي به پرې ختمېږي. د دغې صلیبي جنګونو وروستو د مسلمانانو د بادشاهانو په تعلق کښې چې مسلمانانو ته کوم نقصان رسېدلے دے دغه نقصانونه په ټولو صلیبي جنګونو کښې ور رسېدلي نۀ دي. د تجارت او تعلقاتو زیاتولو په نتیجه کښې ئې خپل فوجونه عربي او ایشیائي ملکونو ته واستول. د عربي بادشاهانو د عیاشو او تماشو نه یعني د دې کمزورو نه ئې دا فائدې واخستې چې د نولسمې صدۍ په شورو کښې تقریباً ټول ملکونه د دوي تر لاسه راغلل.

یو فرانسوي لیکوال چې وروستو مسلمان هم شو او په ځان ئې داود نامه کښېښوده د عیسایانو بادشاهانو د یوې غونډې په باره

کښې ليکي چې دوي دا فېصله وکړه چې مکه او مدينه تر کومه پورې زمونږ ترلاسه شوې نۀ وي تر هغې پورې دا وئيلے نۀ شو چې زمونږه او د دوي جنګ ختم شو. د انګرېزانو يو مشر په دې باره کښې ووئيل د عربيانو يو سرتېز او ډاکو چې د عربو بادشاهان ترې نه خوف زده وي هغه زمونږه خاص ملګرے دے، د مکې مدينې دا زمکې به د عربو نه بېلې کړو او دغې خپل ملګري ته به ئې ترلاسه کړو. چونکې په دغه وخت کښې د عربو ملکونه د دوي سره وو نو د مکې مدينې او د دې خواوشا د نورو پاکو علاقو نه ئې يو بېل ملک جوړ کړو او خپل ملګري شاه سعود ته ئې ترلاسه کړو ځکه نن واړه سعودي عرب وائي چې تراوسه پورې د شاه سعود ټول خاندان د عيسايانو او انګرېزانو وفادار دے، چې امريکه ورله هم ملک ساتي او هم د هغوي بادشاهان ساتي. اسلامي ملکونو د ځان د پاره په شريکه يو خليفه ساتلے وۀ چې په ترکو کښې د هغۀ د ختمولو فېصله په دې وجه وشوه چې د هغۀ نه دوي ته خطره وه، هسې نه چې دې د جهاد اعلان وکړي بيا خو به د ټولې دنيا مسلمانان په مونږ پسې يو شان راپاځي. د هغې خليفه د ختمېدو نه پس دغې انګرېزانو د ټولو اسلامي ملکونو بادشاهان ترلاسه کړل، سېوا د ايران نه په ټولو اسلامي ملکونو کښې د دوي هغه خلق نن هم ناست دي.

د دوي لا د خلافت د ختمېدو خوشحالي ختمې شوې نۀ وې چې په ۱۹۱۷ء کښې په روس کښې انقلاب راغے او کميونسټان په اقتدار کښې راغلل. د روس يو سر په يورپ او بل په ايشيا کښې وۀ، کميونسټو د کارګرانو د بادشاهۍ خبره کوله، دوي وئيل د کارخانې مزدور يو منظم قوت دے، د دوي په لاسونو به په مختلفو ملکونو کښې انقلابونه راحي. د يورپ په ملکونو کښې په هغه وخت کښې د

روس نه کارخانې زیاتې وې چونکې د کمیونستو د انقلابونو بنیاد د کارخانې د مزدور په سر وۀ، یورپي ملکونو ته د کمیونستو نه د خپلې بادشاهۍ د ختمېدو خطره شوه. په خپلو نظامونو کښې دوي تبدیلۍ راوستلې او سرمایه داري نظام سره ئې جمهوریت وتړلو. دوي وئیل دا نظام ښۀ دے په دې نظام کښې به عوام په خپله خوښه خپل نمائندګان په جمهوري طریقه باندې راولي. دغه عوام به د ملک د اقتدار او د خلقو د طبعې فېصلې کوي، نو په یورپي ملکونو کښې په لاطیني امریکه کښې او په ایشیا کښې کمیونستې او سوشلستې پارټۍ جوړې شوې او ډېرې په ترقۍ روانې وې او څنې یورپي ملکونو کښې په جمهوري طریقه عوامو په اقتدار کښې راوستل دوباره د دوي د پاره عیسایان کښېناستل چې روس کښې به کمیونزم په څۀ رنګ ختم کړو؟ دغې غونډې دا خیال ظاهر کړو چې دا کمیونزم فقط د مذهب په نامه ختمېدے شي، خو زمونږه مذهبونه زاړۀ شوي دي او جنګ کولو د پاره کم عقل خلق هم پکار دي. هغه خلق چې د مذهب په نامه باندې سر ورکوي دا جنګ صرف مسلمانان کولے شي. انګرېزانو وئیل زمونږ دشمن کمیونسټ نۀ دے بلکې زمونږ اصلي دشمن مسلمان دے. په دې جنګ کښې به مسلمان ختم شي او هم به د کمیونستو نه خلاص شو خو چې اسلامي بادشاهان مکمل زمونږ ترلاسه وي نو عوام به ئې د جهاد په نامه باندې د روس په ضد رضا کړو او بادشاهان ئې هسې هم زمونږ ترلاسه دي او زمونږ منونکي ملګري دي. بل په دې کښې چې کوم خلق د اسلام په نامه سر ورکوي هغوي به په یو ځاے کښې راغونډ شي، زمونږ ترنظره به هم راشي او چې کوم خلق د دغې جنګ نه بچ پاتې شي او څۀ لشه په کښې وي او زمونږ سره ملګرتیا نۀ کوي نو هغوي به په خپله سره ختم کړو.

د امریکې یو سرکاري لیکوال توماس فریډمن په ۲۰۰۰ء کښې وائي چې دا دریم جنګ عظیم شورو دے، د مسلمان د دهشت ګردۍ په نامه باندې هر ځاے کښې جنګ جاري دے. افغانستان سل کاله وړاندې په ۱۸۹۳ء کښې چې د امیر عبدالرحمٰن چې څۀ وخت د ډیورنډ لائن فیصله کوله نو عوامو ته ئې غږ کړو ډیورنډلائن ما د سلو کالو په اجاره ورکړلو یعني داسې ئې وګڼله چې د پښتنو بادشاه مونږ د سلو کالو د پاره په اجاره باندې د انګرېزانو په غلامۍ کښې ورکړي یُو. په افغانستان کښې پنځۀ شپېتۀ فیصده پښتانۀ دي او ۳۵ فیصده تاجک، ترکمن، ازبک، هزاره او نور دي، ژبه ئې فارسي ده. مونږ ټول پښتانۀ دوي ته فارسي وان وایو. د دغې فارسي وانو دا ګیله وه چې ټول عمر پښتنو په مونږه بادشاهي کړې ده او د امیر عبدالرحمٰن نه واخله تر ظاهرشاه پورې ټول محمدزي پښتانۀ دي او زمونږ بادشاهان دي یعني عجیبه خبره دا ده چې د امیرعبدالرحمٰن نه راواخله تر ظاهر شاه پورې یو تن له پښتو ژبه نۀ ورځي او نۀ په پښتو ژبه خبرې کولې شي او د پښتون په نامه ورته ځان سپک ښکاري او ټولې رشتې ئې په تاجکو او ازبکو کښې کړې دي او د هغوي کلچر ئې خپل ګرځولے دے چې څۀ رنګ دغه فارسي وان پښتون ته "افغان غل" وائي. دغه شان دوي هم پښتنو ته په دغه نظر ګوري.

د دغې بادشاهانو دفتري او سرکاري ژبه فارسي ګرځول شوې دي چې دوي ورته "دري" وائي. په سرکاري دفترونو او په ټولو محکمو کښې مشري د دغې فارسي وانو ترلاسه ده، وزارتونه د فارسي وانو ترلاسه دي او د ملک پالیسۍ هم د دوي ترلاسه پاتې شوې دي. کۀ هغه د محمدزو حکومت وۀ تر داود خانه پورې او کۀ هغه د ببرک کارمل او رباني حکومت وۀ. د کمیونستهاو مسلمانانو ترلاسه وو، په افغانستان

کښې د نورمحمدتره کي، حفیظ الله امین ډاکټرنجیب الله او د طالبانو په حکومت کښې لیکل، وئیل او لوستل په پښتو ژبه کښې شورو شوي دي. دا عجیبه اتفاق دے او کۀ سازش دے کۀ دا زمونږه نصیب دے چې په ښکته پښتنو کښې انګرېزانو چاله زمکې او جائدادونه ورکړي وو ورسره ئې دا هم لیکلي وو چې درې نسله پښتون نۀ وي نو هغۀ له به زمکې ورکوو. د انګرېزانو په وخت کښې دوي هم زمونږ بادشاهان وو خو دوي د انګرېزانو وفادار غلامان هم وو او د پاکستان په ۷۱ کاله تاریخ کښې هم زمونږه شاهي کورنۍ پاتې شوې دي.

په بره افغانستان کښې د محمدزو د بادشاهانو نه راواخله تر امیر عبدالرحمٰن او تر داود خانه پورې پلار په نیکۀ نۀ پښتو ژبه ورتله، نۀ د پښتو د تاریخ او ثقافت نه خبر وو. د پښتنو قمیص او پرتوګ ته ئې سپک کتل چې کوم پښتون له به فارسي ژبه نۀ ورتله، هغه ئې د خپلو محلونو په شاوخوا کښې هم نۀ پرېښودلو، د فارسي وانو مشران لکه رباني غوندې سړے چې د حزب اسلامي مشر هم وۀ یوه ورځ ترې نه یو خپل ملګري تپوس وکړو چې د جنګ د پاره دې پښتانۀ لېږلي دي او د فېصلو کولو په وخت کښې دې د ځان سره فارسي وان کښېنولي وي، دا ولې؟ رباني ووئیل سپي د جنګ کولو د پاره وي او فېصلې زما د بېروني دنیا د مشرانو سره وي نو د هغې فېصلې کولو ترمېنځه خو سپي کښېنولے نۀ شم. دغه سپي ما د جنګ د پاره ساتلي دي دوي جنګ ښۀ کولے شي.

دې خوا ته انګرېزانو چې کوم پښتانۀ زمونږ مشران کړي وو تر اوسه پورې دمختلفوپارټو په شکل کښې هغوي ته هم انګرېزانو وئیلي دي چې پښتون درنه د ښې ورځې خاوند نۀ شي، تر دې حده ئې ورته وئیلي دي چې پښتون درته د ځانه دله جوړ کړي او ستا هره خبره هم

مني بيا هم ورسره ښېګړه ونۀ کړي ځکه کۀ په دۀ کښې يوه ورځ پښتو او غېرت راغے نو ستا سر به د تنې پورې نۀ وي. په افغانستان کښې هم د بهر نه راغلے قومونه تاجک او ازبک وغېره چې د افغانستان د پاره مهاجر دي، ټول عمر په ايوان اقتدار کښې پاتې شوي دي او پښتنو سره ئې د بغض او کينې او نفرت په بنياد باندې د دوي د خرابولو فېصلې کړې دي. د سرکار او طاقت په ذريعه ئې خپله ژبه او خپل کلچر په دوي منلے دے او د دوي تاريخي شخصياتو ته ئې د غلو او ډاکو نامې ورکړې دي. دغه شان د دې خوا ته پښتنو چې انګرېزانو ترې نه د خپله لاسه د بهر نه راغلي خلقو د پاره د دې ځاے د پښتنو زمکې ورکړې وې، خانۍ او نوابۍ ئې ورکړې وې، د دغې سياسي پارټو مشرانو د مشرۍ په بنياد باندې د خېر ښېګړې کار تراوسه پورې نۀ دے کړے. په داسې حالاتو کښې نن هم دا مسئله ترمخه ده چې د دغه خانانو چاپلوسي وکړو چې په منت او زارۍ د پښتنو د خېر ښېګړې په لاره روان کړو او کۀ په افغانستان کښې رباني ته او يا نورو فارسي وانو ته غپ غپ سره وکړو. پخوا اسلامي عالمانو وئيلي وو چې جنګ به د خېبر نه شورو کېږي، هغوي د عربو خېبر ته اشاره کړې وه خو زما په خيال دا جنګ زمونږه د خېبر نه شورو شوے دے. انګرېز خو وائي دا درېم جنګ عظيم شورو دے. جنګ د پښتنو په علاقه دے چې ځۀ پښتانۀ په کښې د امريکې په ملګرتيا کښې مري او ځۀ به په کښې د مسلمانانو په ملګرتيا کښې مري او د دواړو اړخونو مشري به مهاجر کوي. مونږ به پرې ورځو او صرف غپ غپ به سره کوو.

هېمفرے او دهغۀ خرافات پاکستان کښې ډېرو خلقو مطالعه کړي دي، اورم چې وهابيت دهغه وخت نه د عربو په زمکه شورو شوے دے، انګرېزانو چې هېمفرے د کوم مقصد د پاره لېږلے وۀ، چې په

مسلمانانو کښې دې نورې فرقې جوړې شي او مسلمانان په زیاتو ډلو کښې تقسیم شي او د وهابیت په نامه باندې د یوبل مرګونو ته تیار شي. یواځې هېمفرے نه بلکې بې شماره انګرېزان یهودیان انګرېزانو په ټولو اسلامي ملکونو کښې خوارهٔ کړي وو. څهٔ وخت چې د برطانیې حکومت په عروج کښې وهٔ نو هر لس کاله پس ئې دغې لیبرلو ایجنټانو پسې د انټلي جنټس ډیپارټمنټ نه افسران لیږل چې دوي دا ثابته کړي چې دا ایجنټان مونږدځهٔ کاردپاره لیږلي دي آیاهغه کار ترسره کوي کهٔ نه. په هېمفرے پسې چې کوم کسان لیږلي شوي وو هغوي په واپسي رپورټ کښې وائي چې هېمفرے خو مسلمان شوے دے ځکه چې د هغې علاقې بادشاهان، شهزادګان او عالمان ترې نه ګېر چاپېره ناست وي او په وهابي فقه باندې ورسره خبرې اترې کوي یعنې هغه اوس زمونږ د کاره وتلے دے او مسلمان شوے هم دے رپورټ اورېدونکے وائي هغهٔ چې کوم کار په کومه طریقه شورو کړے دے لس کاله پس به د هغهٔ د هغې کار نتیجه ووځي او د هغې فائدې به یواځې برطانیې ته نه بلکې د دنیا عیسایانو او یهودیانو ته ترلاسه کېږي. خو د برطانیې د دوېم جنګ عظیم نه پس دغه ملکونو ته ازادي ورکولې او هم په دې مسلمانانو کښې ئې وفادار غلامان داسې پرېښودلي وو چې تر اوسه پورې د دوي د پاره د دغه ایجنسۍ کار کوي.

بل خوا ته په عربو کښې د یهودیانو د پاره یو بېل ملک جوړ شوے وهٔ چې هغې ته اسرائیل وائي او د عربو په نورو اسلامي ملکونو کښې چې د عیسایانو او یهودیانو کوم مسلمانان وفادار ایجنټان پراتهٔ دي هغوي په مختلفو حربو باندې په غلطه طریقه باندې جوړ شوي ملک ته فائده رسوي. په پاکستان کښې هم دغې وفادارو پاکستان جوړ کړے وهٔ، د جوړېدو نه پس ئې تراوسه پورې د ملک

ټولې فیصلې په لندن او په واشنګټن کښې کېږي. په پاکستان او په افغانستان کښې هم نن د پټو اېجنسو بې شماره ایجنټان مذهبي جنګونه په فرقو باندې د عالمانو ترمېنحه کېږي، په جوماتونو کښې کېږي او فرقو زیاتولو له جنګونو کښې هوا ورکوي. زمونږ پښتانهٔ کهٔ په افغانستان کښې دي او کهٔ زمونږه په صوبه کښې دي په جوماتونو کښې چې څوک هم ورته پردۍ ژبه کښې تقریر وکړي هغه کهٔ په عربۍ ژبه کښې وي، کهٔ فارسۍ ژبه کښې وي او کهٔ په اردو ژبه کښې وي، دوي خپلو کښې یو تربله وګوري وائي ډېر ښهٔ تقریر ئې وکړو او ډېر ښهٔ عالم وهٔ. دا د "را" ایجنټان په افغانستان کښې په فارسۍ ژبه کښې او پښتو ژبه کښې د عربۍ ترجمې کوي او په پاکستان کښې په پښتو ژبه کښې او په اردو ژبه کښې د عربۍ ترجمې کوي. افغانستان د جنګ د پاره د ټولې دنیا نه د جهان په نامه باندې مسلمانان راغلي دي چې د هندوستان نه په کښې هم راغلي دي او بیا په افغانستان کښې پاتې شوي دي، د داسې رنګ خلقو به څهٔ رنګ پته لګي چې دا د القاعده شریک ملګري دي او کهٔ آیا دا د طالبانو شریک ملګري دي او کهٔ د هندوستان د "را" ایجنټان دي حکه چې خودکشه حملې پښتون ذهن بالکل نهٔ اخلي وائي چې دا د بزدله قومونو نخښې دي او هر څوک چې بزدله وي، هغه به ظالم وي او بیا دا خودکشه حملې چې زمونږه په علاقو کښې زمونږه د مسلمانانو ماشومان بې ګناه سره مري داهم د داسې بزدله قومونو مشران زمونږ د اتلسو شلو کالو زلمي خودکشه حملو او غلطو کارونو ته تیاروي. هرکله کهٔ د دوي نیت چرې صفا وهٔ او په رښتیا مسلمانان وو آیا داسې زلمیان به ئې د عیسایانو او یهودیانو د جنګ د پاره تیار کړي وو او تر هغې وخته پورې به ئې ایسار کړي وو دا رنګ بندوبست به ئې ورلره کړے وهٔ، یهودیانو او

عیسایانو پسې به ئې هغې ملکونو ته لېږلي وو په کومو ملکونو کښې چې د خودکشه حملو ضرورت دے.

د افغانستان او د روس په جنګ کښې په وړومبي ځل چې څۀ رنګ برطانیې امریکې له مشوره ورکړې وه چې دا جنګ دې اوږد شي نو یوه فائده ئې دا ده چې د روس وسله به په افغانانو باندې ضائع شي دغه شان چې نن کوم خلق خودکشه حملو ته تیاروي، دا د مسلمانانو وسله به په مسلمانانو باندې ضائع شي په دې خیال باندې چې مونږه هرکله راځو نو دا وسله به ختمه شوې وي. د انګرېزانو خو د خبرو او د شکل نه پته لګي ځکه چې دوي په شریکه د هندوستان د "را" ایجنټان په پاکستان، افغانستان او په قبائیلي علاقو کښې خوارۀ کړي دي چې د پاکستان سرکاري ژبه اردو ده او دغه خلق په اردو ژبه باندې ښۀ پوهېږي او زمونږ ځوان کُول بې لارې کوي او زمونږه ښه وسله په غلطو خلقو باندې ازمائي.

په ۱۹۶۵ء کښې د پاکستان او هندوستان په جنګ کښې یوه افواه خوره شوه چې هندوستان دلته کښې خپل ایجنټان رالېږلي دي او ځاے په ځاے ئې خوارۀ کړي دي. هرکله کۀ چا وپېژندل یا د چا په داسې خلقو شک راغلو نو دستي دې ورله لاس تړي او پولیس ته دې حواله کوي.

په هغه وخت کښې د امد و رفت ذریعې هم ښې نۀ وې چې په مېلمه باندې به چرته په بل کلي کښې شپه راغله چې تر حجرې او تر جوماته به تلو نو خلقو به پرې شک کولو په دې باره کښې خلقو د عالمانو نه پوښتنه وکړه چې مونږ ته به د داسې خلقو پته څۀ رنګ لګي چې ایا دا هندو دے او کۀ مسلمان دے؟ عالمانو د دې په جواب کښې ووئیل چې وۀ ئې ګورئ چې "سنت" وي مسلمان به وي او چې

"سنت" نهٔ وي هغه به هندو وي. اوس هم د افغانستان ورونړو له او قبائیلي ورونړو له او د دې ځاے ورونړو له پکار دي چې په مدرسو کښې داسې عالمان چې د بهر نه راغلي دي چې مشکوکه وي او ځوان کُول بې لارې کوي، پکار دي چې مشران ورمخکښې کړي او دغه عالمان وګوري چې آیا دا هندوان دي او کهٔ مسلمانان دي؟

په پیپل پارټۍ کښې د شمولیت دعوت:

د ۱۹۷۷ء په شورو کښې په ماپسې د پیپل پارټۍ دوه اهم کارکنان او د بټهوصاحب ډېرقریبي دوستان چې یو د بېګم نصرت بټهو سېکرټري راجه انور او بل نصرالله خان خټک چې څهٔ وخت وزیراعلیٰ وهٔ، د هغهٔ سره سېکرټري وهٔ، پروېز رشید دا خبره ئې زما تر غوږه کړه چې بټهو صاحب ستا په حقله وائي چې دا سړے د ځان سره ملګرے کړئ او کهٔ نهٔ ملګرے کېږي بیا ئې ختم کړئ.

نهٔ پوهېږم چې دا خبره ئې په ښهٔ نیت کوله او کهٔ زهٔ ئې د خوف او ویرې په جال کښې راوستم. راجه انور او پروېز رشید پنډۍ کښې په ګارډن کالج کښې زما ملګري هم پاتې شوي وو او غوښتل ئې چې د حیات محمدخان کمے پوره شي. ما د دوي د دې خبرو په حواله واضحه کړله چې بې شکه چې ستاسو نیت روغ دے خو د حیات خان ورور د فوج نه استعفیٰ ورکړې ده. پیپل پارټۍ ته به اوس د خپل ورور په ځاے هغه راځي او زهٔ د پیپل پارټۍ د غریبانانو فلسفه د خانانو او نوابانو د فائدې د پاره په استعمال کښې راوستلے نهٔ شم. هغوي وئیل هغه یو فوجي سړے دے په سیاست هم نهٔ پوهېږي ما ورته دوباره وونیل زما نور ملګري په افغانستان کښې دي، زهٔ به د هغوي سره

صلاح مشوره کوم، زما د کلي وطن خلق هم ورسره دي، نهٔ پوهېږم چې هلته کښې څهٔ روان دي؟

د دې خبرو نه پس تر افغانستان پورې لاړم هلته کښې اجمل خټک سره ملاو شوم. د ګرمۍ موسم وۀ خټک صاحب د افغانستان په سياست باندې ډېرې تفصيلي خبرې اترې وکړې. ما ورته د جلال اباد په کېمپونو کښې چې زمونږ د علاقې کوم خلق پراتهٔ دي، د هغوي ګيلې معنې تر مخه کړې. ما ته دا علم نهٔ وۀ چې د اجمل خټک سره په دغه وخت کښې ناست مېلمانهٔ د خلق او پرچم پارټۍ مشران دي. خټک صاحب ووئيل چې د کېمپونوملګرو څهٔ وئيل ما ووئيل چې اوس تاسره مېلمانهٔ دي بيا به سره دا خبرې وکړو. خټک صاحب ووئيل دا خو کوربانهٔ دي، وايه هغوي څهٔ وئيل؟ ما ورته تر غوږه کړه چې هغوي ځاے په ځاے په ډېوالونو ليکلي شوي دي چې درې غلهٔ اجمل، اعظم او هدايت او په دې کېمپونو کښې هغه کسان دي چې په پاکستان کښې پرې د بمونو خلاصولو دعوې شوې دي. چونکې تهٔ مشر يې نو دغه خلق دا ګڼي چې دا هرڅهٔ ستا په صلاح او مشوره باندې کېږي. په دې کښې د پرچم پارټۍ نور مشران هم راغلل، بيا وروستو ترې نه خبر شوم چې دا يو ببرک کارمل وۀ، بل عنايتا او بل اميراکبر خېبر وۀ. دوي وئيل مونږ د پښتونستان د ورځې د مبارکۍ د پاره راغلي يو چونکې په مونږه پابندي په هغه ورځ راتلل راته مشکل دي، ځکه دوه ورځې مخکښې راغلو. د جلال اباد د خلقو د ګيلو د ثبوت د پاره چې زهٔ په دې کښې نهٔ يم د اعظم هوتي لاسليک راوښودلو چې په کښې اجمل خټک ته ليکلي وو، چې ځان بيمار کړه سبا له د پښتونستان د ورځې تقرير کولو د پاره مهٔ راځه. هغه تقرير به زهٔ په خپله کوم. په دې باره کښې خټک ماته ووئيل تهٔ هسې هم د چارسدې نه راغلے يې تهٔ

اعظم ته ووایه چې ولي خان وئیلي دي اجمل خټک ته ووایه چې د پښتونستان د ورځې تقریر به ته کوې. ما ووئیل زهٔ دروغ نهٔ شم وئیلے، البته زهٔ به په خپله اعظم خان ته دا خبره وکړم چې د پښتونستان د ورځې تقریر به اجمل خټک وکړي شائد چې زما دا خبره ومني.

هرکله چې اعظم هوتي ته دا خبره ما ترمخه کړه هغهٔ ووئیل بالکل دا تقریر دې اجمل خټک وکړي. هرکله چې اجمل خټک د پښتونستان د ورځې د تقریر د پاره تلو نو زهٔ هم ورسره وم. د خټک د تقریر کولو نه پس مازیګر د ګډاګانو د ملي اتڼ او بیا د لوبو او سندرو د شپې تر ناوخته پورې پروګرامونه وو. زهٔ د خټک صاحب سره په وړومبي سیټونو باندې ناست وم چې کومې سندرې غاړې به خپله سندره ختمه کړه، بیا به د اجمل خټک تر مخه حاضره شوه. د تاجکو د روایاتو په حواله باندې به اجمل خټک ښکل کړه. په وار وار به مونږه تولې ښکل کړې. خټک صاحب دوره درې ځله ماته ووئیل داسې ښکلول مهٔ کوه او چکونه هم مهٔ لګوه، ما وئیل په محفل کښې په اول ځل جینۍ ښکلوم. په دې کښې اعظم هوتي سره د ملګرو ماله دعوت راکړو چې زما سره زما ترځایه لاړ شه، دا سندر غاړې واړه ما تر خپل ځایه راغوښتلي دي. په دې خبره باندې اجمل خټک لا تندے هم ګونجې کړلو ځکه چې اجمل خټک ماته اول وئیلي وو تا له د ښکلولو چل نهٔ درځي. په دې باره کښې اعظم ووئیل دا کابلیان خلق دي د مینې په چل نهٔ پوهېږي، تر کوره ئې بوځه خپل زړهٔ خوشحاله وه.

د هغې شپې په سحر اجمل خټک د خوب نه راپاڅېدلو، وئیل ئې د خلقیانو مشران حفیظ الله امین سره د ملګرو راغلے دے، چونکې په چارسده کښې زما تعلق د مزدور کسان پارټۍ سره وهٔ اجمل خټک د هغې په حواله زما تعارف د هغوي سره وکړو او خپلې نمبرې

ئې هم زياتولې، چې يوائې نېشنل پارټي نه بلکې سوشلسټ او کميونسټ هم ماله راځي. هغوي بيا زما نه دا تپوسونه کول چې ستا مخکښې څۀ اراده ده؟ د دې نه پس څۀ کول غواړې؟ ما ورته ووئيل د برطانيې او کنېډا کالجونو ته مې کاغذونه استولي دي، زړۀ مې غواړي چې هلته کښې داخله وکړم. هغوي سره د اجمل خټک ماته واضحه کړه چې د افغانستان سټوډنټانو په جرمني کښې ډېر ښۀ تنظيمونه جوړ کړي دي، ستا په ورتلو باندې به هلته کښې دا تنظيمونه هم فعال شي او تۀ به هم د پښتنو د ازادۍ او خپلواکۍ په تحريکونو کښې برخه واخلې.

ما هم اراده وکړه، په جرمني کښې مې لياقت نومے يو ملګرے وۀ چونکې دلته کښې خلقيان او پرچميان يو ځاے شوي وو او يوه پارټي ئې وه، دوي ماته د هغې ځاے د مختلفو تنظيمونو په نامو خطونه راکړل. دوي وئيل د رسېدو سره سره هغوي ته دا هم ووايه چې تاسو هم دا جدا ګروپونه يو ځاے کړئ. چې په افغانستان کښې مې د ترکي په لاره باندې د جرمني ټکټ ترلاسه کړلو، په وروستۍ ورځ باندې د کابل په ښار کښې ګرځېدم، وېښتۀ مې هم لوے شوے وو، د يو نائي تر دوکانه ورغل په دې خيال چې وېښتۀ جوړ کړم. نائي وئيل څۀ رنګ وېښتۀ درله جوړ کړم؟ ما وئيل چې دلته کښې څۀ رنګ فېشن وي. اول ئې زما د سر په وېښتو سپرې وکړه، ډېره شېبه ئې زما سر مالش کړو، مالش ئې ډېر خوند راکړو، بيا ئې په شا لوري ګومنځه ووهله او د مخې د لوري نه ئې پرې چاړۀ راښکله. ما ورته وئيل دا خو دې ګنجے کړم! چې ستا د خُلې وېنا ده چې دلته کښې څۀ رنګ فېشن وي، د هغې فېشن په حواله مې تاله وېښتۀ جوړ کړل. ما ورته وئيل دا لاڅۀ رنګ فېشن دے؟ هغۀ وئيل بهر په شيشه کښې وګوره نو تاته به

ثابته شي چې دلته کښې دا فېشن دے او که نۀ دے. ما چې بهر په شیشه کښې وکتل په رښتیا باندې ماته ثابته شوه چې دلته کښې دا فېشن دے. ما د هغۀ نه پوښتنه وکړه دلته کښې دا فېشن ولې دے؟ هغۀ وئیل دلته کښې داود خان ګنجے دے، دلته کښې خلق د بادشاه په شان وېښتۀ جوړوي، چې د هغۀ څۀ رنګ فېشن وي، هغه فېشن دوي هم اختیاروي.

ډېره موده پس دربانې په دورحکومت کښې مې دغه کمیونسټ په لویو لویو ږیرو کښې ولیدل، چې طالبان راغلل نو ږیرې ئې سره اوږدې کړې وې او مسئلې ئې زمونږ د عالمانو نه ښې ښې کولې.

په ترکي کښې مې په وېزه کښې دوه ورځې پاتې شوې وې په دغه ورځو کښې مې د ترکي د عیاشۍ او دکلبونو صفتونه اورېدلي وو، چې د ترکي د جهازونو د اډې نه بهر لاړم، زۀ د نورو خلقو په شان ټېکسي ته په نمبر کښې ولاړ وم زما په نصیب کښې یو زوړ ټېکسي ورسېدلو چې ډرائېور ئې ډېر ښۀ مسلمان وۀ. د یو بل په ژبه سره هم نۀ پوهېدو خو په تلو کښې ئې په لاره خبرې شورو کړلې. هغۀ وئیل پاکستان او پاکستان هغۀ وئیل مسلمان او مسلمان د هغې نه پس ئې په لاس کښې لاس راکړلو، ډېر خوشحاله شو، وئیل ئې د ټولې ترکي سېل به زۀ په تا کوم. په هوټل کښې ئې زما د پاره کمره تړلاسه کړه، هغۀ وئیل دمه وکړه زۀ به یوه ګېنټه پس په تاپسې راځم، چې تا د سېل د پاره بوځم چې کوم خوا ته دې خوښه وي په هغه لور باندې به دې بوځم. ما دمه وکړه، کپړې مې هم بدلې کړې، په یوه ګېنټه پس هم هغه ډرائېور راغے، زما دا خیال وۀ چې د عیاشو ټول ځایونه به دۀ ته معلوم وي. اول کښې ئې د ټول استنبول جوماتونه په ما وکتل، ورسره ورسره ئې د هغې تاریخونه تعریفونه هم بیانول او په ما ئې دوه دوه رکعته

نفلونه هم کول. په دغه وخت کښې زهٔ نهٔ پوهېږم چې دهٔ ته څهٔ رنګ ووایم چې ما د عیاشو ځایونو ته بوځه، په اشارو باندې مې ډېر کوشش وکړو ما اورېدلي وو چې ترکي قومونونه ډېر مشهور دي چې ښځې په کښې سړو له مالش کوي، چې پوه شو د دې نه پس ئې یو مشهور او زوړ حمام ته بوتلم چې په هغې د هرې ژبې یو لسټ لګېدلے وهٔ، چې په هر قسمه مالشونه ورسره په بړاس باندې لمبېدل، یو یو ئې ماته ښودلو، وئیل ئې چې ستا کوم یو خوښ وي، دا خو د بهر خبرې وې چې سره تېرې شوې هرکله چې تر حمام وردننه شوم د ښځو د مالش کولو په کښې هډو نامه نهٔ وه. دغه شوق مې هم ترسره نهٔ شولو. په غصه کښې د هغې حمام نه بهر ووتم او دې ډرائېور ته مې په پوزه ګوته کښېښودله، په لاسونو مې ورته د ګډاګانو اشارې وکړې چې دغسې مقام ته مې بوځه. ډرائېور ووئیل اوس پوهه شوم په استنبول کښې د ټولو هوټلونه یو اوچت هوټل وهٔ چې د هغې په اخري چهت باندې یو لوے ګول هال وهٔ چې هم په کښې خوراکونه کېدل او هم په کښې ګډاګانې کېدې. هغوي لویې لویې قومي ثقافتي محرارې اغوستلې وې یعني دغلته مې هم خواهش ترسره نهٔ شو، ډرائېور ته مې ووئیل ما تر خپل ځایه ورسوه چې اودهٔ شم او ارام وکړم، چې ډرائېور تر خپله ځایه بوتل، هغهٔ وئیل سبا له څهٔ وخت راشم؟ ما وئیل سبا له مهٔ راځه ځکه چې زهٔ روان یم. هغهٔ بار بار زما نه تپوسونه کول، چې تهٔ جوړ خفه یې؟ ما وئیل خفه نهٔ یم البته خوب پوره کوم، سباله به جهاز ته خېژم، جرمني ته به ځم، چې کرائي مې ورکوله هغهٔ انکار وکړو، هغهٔ وئیل زما ورور یې. غرض دا چې ډرائېور لاړلو زهٔ اودهٔ شوم چې سحر لس لس نیمې بجې د خوب نه پاڅېدم ما ناشته کوله چې په دې کښې د هوټل نوکر راغلو وائي ستا یو مېلمه راغلے دے، دوه درې

ګېنتې وشوې چې ستا په انتظار کښې ناست دے، ما اجازت ورکړو اواز ورته وکړه چې راشي، هرکله چې رابنکاره شو هغه ډرائېور وۀ. ما ورته وئیل ما خو تاته پرون وئیلي وو چې سباله مۀ راځه ځکه چې زۀ روان یم. هغۀ ووئیل بالکل تاسو وئیلي وو، ژړغونے غونډې هم شو، وئیل ئې ما ستا د پاره نن په خپله اهل خانه د خوراک ښنباک انتظام کړے دے، ټول بچي مې د سکول نه پاتې کړي دي، د دې پاره چې نن به یو مېلمه راځي چې سره په یو ځاے خوراک ښنباک وکړو. د خوراک ښنباک کولو نه پس مې ترې نه تپوس وکړو چې اخر تا څۀ محسوس کړل چې زۀ څوک یم؟ هغۀ وئیل چې څۀ وخت په راتلو کښې مې په نظر راغلے تا په سر باندې چاړۀ رابنکلې وه، زما ترۀ او د هغۀ زوے د حج نه راغلي وو هغوي هم په سرونو چړې سره رابنکلې وې. بلکې تا وئیل زۀ مسلمان یم زړۀ کښې مې وئیل تۀ جوړې هم د حج نه راغلے یې.

د هغې نه پس سره د ډرائېوره ټوله کورنۍ زما سره تر جهازونو اډې راغله او زۀ ئې رخصت کړم. چې تر جرمنه ورسېدم هلته کښې مې ټېکسي ډرائېور له د خپل ملګري لیاقت پته ورکړه چې د هغۀ تر کوره لاړم، دروازه مې ووهله، د هغې کوره یو جرمنے راووتلو، ما ترې نه د لیاقت پوښتنه وکړه، هغۀ وئیل لیاقت خو نشته دے ما وئیل تۀ خو پښتون یې ځکه چې پښتو ژبه درځي، کۀ لیاقت نشته دے تۀ خو موجود یې، هغه په خندا شو په خندا کښې وائي ستا په ژبه باندې نۀ پوهېږم. ډېرې ورځې وروستو ماته ثابته شوه چې جرمنیان نشته ته "نشدا" وائي. اخرپه سبا لیاقت راپېدا کړو. اول مې ورته د ببرک کارمل او حفیظ الله امین خطونه وښودل چې د اجمل خټک لاس لیک په کښې هم وۀ. لیاقت ووئیل اجمل خټک خو فقط ستا تعریفونه لیکلي دي، البته دوي ته ئې دا هم لیکلي دي چې دۀ سره امداد کوئ،

بیا ئې د رحیم ځدران سره ملاو کړم چې د خلق د پارټۍ د سټوډنټانو مشر وۀ، دوي ټول په فرانکفورټ ښار کښې وو خو رحیم ځدران ماته واضحه کړه چې د پرچم د سټوډنټانو مشر په بون کښې اوسي، دغه شان هغه بل خط ما او رحیم ځدران تر بون تر بریالي یوړو. د هغۀ سره د هغۀ په کور کښې مونږ داوړو شپه وکړه. بریالے فارسي وان وۀ د ببرک کارمل رشته دار هم وۀ، د یوې جرمنۍ یهودې سره ئې وادۀ کړے وۀ. د ایران او افغانستان سره ئې د قالینونو کاروبار کولو او په بون کښې په یو لوے کور کښې استوګن وۀ. رحیم ځدران د خلقیانو د لوري د سټوډنټانو مشر وۀ خو پښتون هم وۀ، په کېمسټرۍ کښې ئې پي ایچ ډي کړې وه، په کالج کښې ئې سټوډنټانو ته سبق ښودلو. د فرانکفورټ په ښار کښې په هاسټل کښې په یوه وړه کمره کښې وسېدلو. د میاشتې تنخوا ئې زمونږه په شان په خوارو بې روزګارو پښتنو خرچ کوله.

په فرانکفورټ کښې چې کوم ملګري وسېدل، تقریباً د پرش کسان په کښې افغانان ووا و تقریباً پنځۀ ویشت کسان زمونږه د صوبې پښتانۀ وو په کارخانو کښې ئې مزدورۍ کولې. دې ملګرو ماته د ډېر قدر او احترام په نظر کتل، کۀ یو خواته د اجمل خټک د خط د تعریفونو وجه وه نو بل خوا ته د خلقیانو او د پرچمیانو د مشرانو د خطونو په نتیجه کښې د دوي یو والي زما قدر او عزت نور هم سېوا کړو.

یوه ورځ دا ملګري د نصیحت په توګه ماته وائي دا پاکستان یا افغانستان نۀ دے چې هر یو کار به په زور کوے، دلته په جرمنه کښې کۀ ریل ګاډي ته خېژې، کۀ بس ته خېژې یا د سنیما ټکټ اخلې، په لائن کښې به ودرېږې، د خپل نمبر انتظار به کوے، هرکله کۀ زور دې اختیار کړو نو دا جرمنیان ډېر خراب خلق دي، خفه به دې کړي. په

دې باره کښې ما جواب ورکړو چې جرمنیان خو ډېر ښهٔ خلق دي ځکه چې زما ډېر قدر او عزت کوي. هرکله چې د هرځۀ د پاره په لائن کښې ودرېږم څوک نه څوک مې د لاسه ونیسي او د ټول لائن نه مې وړاندې کړي، چې په رېل ګاډي یا په بس کښې مې ولاړ ووینې څوک نه څوک پاڅي ماته خپل سیټ پرېږدي. د دې نه علاوه دوه درې ورځې مې په یو هوټل کښې خوراک څښاک وکړو، هغوي زما نه د هغې بل هم وصول نۀ کړو. ملګرو ووئیل دا د نۀ منلو خبره ده. کبیر ستوري زما په سر لاس راښکلو، په نفسیاتو کښې ئې پي ایچ ډي کړې وه او په خندا شو، هغۀ وئیل مونږه پاګلانو له چاړۀ په سر د دې د پاره راکاړو چې پېژندګلو ئې کېږي او انشورنس کمپنۍ والا د هغۀ په قمیص، پرتوګ یا په پتلون خپل نمبر لیکلے وي چې په هر ځائے کښې دې خوراک څښاک وکړي، هغوي هغه نمبر د ځان سره ولیکي د دۀ هغه بل بیا انشورنس کمپنې ورکوي، تۀ خو هم ماته پاګل ښکارې، تا چاړۀ په سر باندې ولې راښکلې ده، ځکه هوټل والاستا نه بل نۀ اخلي، ځکه ستا عزت کوي او په لائن کښې دې هم نۀ ودروي.

په جرمني کښې په یونیورسټۍ کښې د نفسیاتو په څانګه کښې سبق، د شپې په یوه پرائیوېټ اداره کښې د جرمنۍ ژبې د زدکړې په غرض سبق، دغه شان په پنډۍ کښې څلور کاله سبق، د لاهور په یونیورسټۍ کښې سبق او بیا ډپلومې حاصلولو په غرض د څوانۍ په وخت کښې سبق او د زدکړې د پاره د خپل کلي وطن نه بهر راتلل. په پنجاب کښې تعلیم حاصلولو سره پښتو او پښتونولي په ما کښې راغله، د پنجابیانو تعصب او خودغرضۍ خپلې پښتو او پښتونولۍ باندې کلک کړم. جرمني ته په تلو کښې زمونږه د صوبې او د افغانستان نه راغلي پښتنو د دنیا تاریخ او د دنیا په ملتونو باندې

د پښتنو موجوده مقام جوړول او د دې د پاره هلې ځلې مونږ شورو کړې. د عیسایانو او یهودیانو په سرمایه دارانه نظام کښې د وسپدلو سره زمونږه دین او ایمان په نورو مذهبونو باندې نور هم مضبوط شو یعني په پنجاب کښې تعلیم حاصلولو او وسپدلو سره پښتون شوم او د جرمني تعلیم حاصلولو او وسپدلو سره مسلمان شوم.

د افغانستان نه راغلي پښتنو مسلمانانو به زمونږه سره پښتو ژبه وئیله چې په کښې به ترې نه د فارسۍ او جرمنۍ ژبو الفاظ هم راتلل او زمونږ د پاکستان نه راغلي پښتنو چې به پښتو ژبه وئیله د هغوي نه به په کښې د اردو او انګرېزۍ ژبې الفاظ راتلل. مثلاً چې مونږ به هغوي ته وئیل: په ۱۹۳۰ء کښې دا معامله شوې ده نو هغوي به ۱۹۳۰ء لاځۀ ته وائي مونږ به وئیل انګرېزي کال نولس سوه دېرشم، هغوي به وئیل اوس پښتو ژبه شوله. دغه شان هغوي به کله نه کله وئیل: متاسفانه، مونږ به وئیل ځۀ ته وائي هغوي به وئیل د بده مرغه یا د بدقسمتۍ نه، دغه شان د هغوي د پښتو ژبې نه فارسي او جرمني ووته او زمونږ د پښتو ژبې نه اردو او انګرېزي ووته. دغه شان یوه سوچه پښتو ترمېنځه راغله چې دواړه سره ښۀ پرې پوهېدو او د دواړو مورنۍ ژبه هم وه. د دې سره زمونږه شریک دا سوچ راپېدا شولو چې زمونږ په مورنۍ ژبه کښې د اردو، فارسۍ او انګرېزۍ ژبو اثر ولې دے؟ دا ځکه چې مونږه د درېواړو ژبو د خاوندانو غلامان پاتې شوي یو او اوس هم غلامان یُو.

د روس یو پوهان وئیلي وو چې د غلامۍ نه ځان خلاصول اسان کار دے چې څوک د ازادۍ مبارزه کوي یوه ورځ به ضرور ازاد شي خو د ذهني غلامۍ نه ځان خلاصول ډېر ګران کار دے ځکه دې ازادۍ نه وړاندې ضروري ده چې سړے دې د ذهني غلامۍ نه ځان ازاد کړي. په ټول

جرمني کښې مې ټولو پښتنو له دعوت ورکړو، په هغه دعوت نامه باندې دوه پنځوس کسان راغلل. د بلوچو او پښتنو په نامه باندې مونږه د ملي ازادۍ یو تنظیم جوړ کړو او په دې پروګرام کښې دوه بلوچ هم زما سره ملګري وو. اول د خپلو علاقو د تاریخ معلوملو سلسله وه او بیا مونږه چې په کومو حالاتو کښې سره پراتهٔ یُو د هغې په باره کښې د معلوماتو د راغونډولو خبره وه. د دنیا په نورو ملکونو کښې د ازادۍ غړونه او د هغوي کوم تنظیمونه چې په جرمني کښې موجود وو د هغوي سره مونږ رابطې جوړې کړې. زمونږ دا کوشش وۀ چې د دې نه دې زدکړه وکړو. د فرانکفورټ په ښار کښې وسېدونکي پښتانۀ شل یا پنځوس کسان د هفتې په ورځ په یو باغ کښې سره راغونډېدلو ځکه چې د هیچا سره دومره لوے ځاے او کمره نۀ وه چې دا کسان په کښې راغونډ شوي وے. مونږ خپل تاریخ د ډېرو دشمنانو سره ترمخه کړي یُو خو ځوک هم په دې کښې تر اوسه پورې کامیاب شوي نۀ دي سېوا د انګرېزانو نه چې زمونږ ملک ئې درې ټکړې کړے دے.

په ۱۸۹۳ء کښې انګرېزانو په اول ځل افغانستان دوه ټکړې کړو چې یو لور ئې د کابلیانو په نامه باندې بللو او بل لور ئې په پېښوریانو باندې بللو او د دواړو تر مېنځه ئې سراسري قبائیلي علاقه جات کړل. دغه پښتانۀ ئې په درېم شکل کښې د پښتنو راوستل، چې دا قبائیل دي او د دوي به خپل قانون وي، چې نۀ به ورسره د کابل څۀ کار وي او نۀ به ورسره د پېښور څۀ کار وي. البته زمونږه د لاس د لاندې به وي. هرکله چې یحیٰ خان په ۱۹۶۸ء کښې ون یونټ مات کړو او صوبې ئې بحال کړې، نو زمونږ صوبه او د کوئټې طرف ئې د بلوچستان سره شامل کړل. دغه شان پاکستان د انګرېزانو د درېو ټکړو نه پښتون څلور ټکړې شو.

په جرمني کښې به په باغ کښې سره ناست وو او په دې به مو سوچ کولو چې دا ځلور ټکړې به څۀ رنګ يو وحدت شي؟ سل يونيم سل کاله د غلامۍ زمونږ پښتو ژبه کښې دومره بدلون راوستے دے چې د دې ځلورو ټکړو پښتانۀ د يو بل په پښتو ژبه نۀ پوهېدل. چابه خپل تاريخ ثقافت او کلچر د هندوستان سره شريک ګڼۀ او چا به د ايران سره. زمونږ دا محفلونه به د هفتې په ورځ د ګپ شپ نه شورو کېدل او د خپلو خپلو علاقو لطيفې او ټوقې ټقالې به مونږ د يوبل سره کولې او ازادې خنداګانې به وې. د هفتې په ورځ به يو دوه سټوډنټانې هم دغه باغ ته راتللې. دغه دواړو جينکو يو بل سره په مغلياتو باندې کاغذونه کول. هرکله چې بلې هفتې له دغه باغ ته راغلې مونږ ته ئې ووئيل تاسو هره هفته دلته کښې دوه درې ګېنټې وخت ضائع کوے، خوشحالۍ او خنداګانې سره وکړے او بيا ځئ، د کوم ځاے يئ او دا څۀ قسمه خلق يئ او کۀ فقط د دې د پاره راځئ، ما ورته ووئيل تاسو په خپله وايئ چې مونږ ستاسو تر نظره څۀ رنګ خلق ښکارو؟ هغوي وئيل جرمني کښې خو دومره وزګار خلق نشته او نۀ دومره وخت د چاسره شته چې هغوي دې د تشې خندا د پاره راغونډېږي او درې ځلور ګېنټې وخت دې ضائع کوي البته په يورپ کښې په مختلفو ملکونو کښې شاه کورنۍ دي، هغه خلقو ته حکومتونه هسې پېسې ورکوي، هغوي سره د داسې محفلونو او خنداګانو وخت وي او يا پاګلان وي چې وزګار هم وي او تنخواګانې حکومت ورکوي. زمونږ ذهن ته راغلل چې تاسو نه تپوس وکړو چې تاسو شهزادګان يئ او کۀ پاګلان؟ ما هغوي ته ووئيل ټول پښتانۀ يُو او هم شهزادګان يُو او هم پاګلان يُو. ځکه شهزادګان يو چې مونږ غلامي نۀ پېژنو او د دغې تر مخه پاګلان هم يُو. هغوي وئيل د کوم ملک نه راغلي يئ؟ ما وئيل يو

قوم او یو خلق یُو خو انګرېزانو تقسیم کړي یُو ځۀ کسان د افغانستان په پاسپورټ دلته کښې راغلي دي او ځۀ د پاکستان. هغوي ووئیل تاسو خو د کردو په شان نۀ ښکارے، کرد هم یو زورور قوم دے چې حکومتونو ته هر وخت مسئلې جوړوي نو هغوي په درې ځایه تقسیم شول ، چې نن ځۀ په عراق کښې پراتۀ دي، ځۀ په ایران کښې پراتۀ دي او ترکي کښې پراتۀ دي او د یو ځاے کېدو امکان ئې نشته. ما ورته ووئیل مونږ د دوي نه هم زورور خلق یُو ځکه چې مونږه په څلورو ټکړو باندې تقسیم شوي یُو. ځکه مونږ دا فېصله وکړه چې اول دا څلور ټکړې یو ځاے کول پکار دي، چې مونږ یو قوم یُو، زمونږ یو تاریخ دے، یو کلچر، یو ثقافت دے، زمونږ تاریخي پُولې هم سره معلومې دي ځکه زمونږ د مبارزې اول قدم وحدت دے.

په جرمني کښې مې اول شل ورځې د لیاقت ملګري سره تېرې کړې. لیاقت په سوات کښې دګورتے وسېدونکے وۀ. یوه پښه ئې لنډه ده ګوډ هم دے، ما به سیګرټ ښنلو د سیګرټ ایره به کله یو پله پرېوته کله بل پله او هغۀ به دغه ایرې صفا کولې. اکثر ایردان به ئې رامخې ته کړو وئیل به ئې دا ایره په دې کښې غورزوه، کله نه کله به د هغۀ خبره زما د فکر نه ووتله د سیګرټ ایره به د ایره دان نه ښکته پرېوته. هغه به خپلې ډیوټۍ له سحر تلو او مازیګر به راتللو، په وېلډنګ کولو کښې ورته ښۀ مهارت حاصل وه، د اوسپنې په کارخانه کښې وېلډر وۀ. څلور ورځې پس ئې راته ووئیل دلته کښې ستا نوره مېلمستیا ترسره شوه. نن د دې کمرې صفائي وکړه او د خوراک ښناک انتظام هم ستا په غاړه دے. ما ترې نه تپوس وکړو چې غوښه په کوم ځاے کښې ملاوېږي؟ هغۀ وئیل کچه غوښه خو ډېره لږې ملاوېږي او تۀ په غوښه باندې نۀ پوهېږې او خیال کوه هسې نه چرته د

سوُر غوښه راوړې. البته دلته په هر دوکان کښې پخه تیاره غوښه په ډبو کښې ملاوېږي. ما وئیل په جرمنۍ کښې د غوښې څۀ نامه ده؟ هغۀ ووئیل "فلش".

هرکله چې لیاقت ډیوټۍ له لاړو ما د کمرې صفائي وکړه، لوښي مې صفا کړل، د هغې نه پس غوښې پسې بازار ته لاړم، دوه ډبي مې د غوښې واخستل چې په ډبي د پاسه "غونډ فلش" لیکلي شوي وو، ټماټر، مصالحه وغېره مې ورته برابر کړل او پخه مې کړه. خپله حصه مې وخوړه د هغۀ حصه مې د هغۀ د پاره پرېښوده، چې هغه د ډیوټۍ نه واپس راغلو روټۍ مې ورته مخې ته کښېښوده چې هغۀ یوڅو نوړۍ تر ستوني تېرې کړې، هغۀ وئیل د څۀ غوښه دې راوړې ده؟ ما وئیل ډبي بند غوښه مې راوړې ده، د ډبي د پاسه "فلش" لیکلي شوي دي. هغۀ وئیل هغه ډبے ماته ښکاره کړه، چې ډبے مې ورته وښودلو هغۀ وئیل په ډبي باندې خو "غونډ فلش" لیکلي شوي دي. په خپله دې هم د سپي غوښه وخوړه او په ما باندې دې هم د سپي غوښه وخوړه او سیګرټ ئې ولګولو. ما ورته ایره دان کښېښودلو لیاقت ایره دان د خپلې مې نه لرې کړو، هغۀ وئیل یوه ورځ دې د کمرې صفائي وکړه نو نن ایره دان زما مخې ته ږدې، البته د کمرې صفائي دې ډېره ښه کړې ده، د لوښو صفائي دې ښه نۀ ده کړې. ما وئیل لوښو وینځلو خو زما په لاس درد پېدا کړو. هغۀ وئیل دلته کښې د چا نوکر نۀ وي، هرڅوک خپل کار په خپله کوي او هر سړے د خپل کار د پاره خپل ذهن جوړوي او هغه کار ته لاس اچوي چې ترسره کولے ئې شي او د ځان د پاره څۀ نوکري هم وګوره، ځکه چې دلته کښې وزګار سړي ته خلق ډېر په سپک نظر ګوري. دلته صرف یهودیان په پېسو باندې پېسې پېدا کوي، هغوي وزګار دي د جرمني خلق یهودیانو ته هم په سپک نظر ګوري.

دوي وائي موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته وئیلي دي کۀ هرکله تاسو زما په خبرو باندې عمل وکړو نو ټوله دنیا به ستاسو خدمت کوي او تاسو به بادشاهي کوے او خلق به ستاسو لاس ته ناست وي. د هټلر په وخت کښې خو د یهودیانو نه د خلقو دومره نفرت وۀ چې ټول ئې وژل. زمونږ د وطن په خانانو کښې هم دا عادتونه موجود دي کۀ اوبۀ ئې خوا کښې پرتې وي بل چا ته وائي یا نوکر ته به وائي دا اوبۀ راکړه! په اوبو راخستلو ورته هم ځان بد ښکاري. یهودیان د سرمایې نه سرمایه جوړوي چې نن د ټولې دنیا بېنکونه لکه ائي ایم ایف او ورلډ بېنک او داسې نورې ادارې چې تولو ملکونو له قرضې ورکوي، د یهودیانو ترلاسه دي، په کښې حصه دار هم دي. دغه شان ټوله دنیا ئې قرضدارې هم ده. زمونږه خانان د سرمایې په چل هم نۀ پوهېږي چې څۀ په پیسو باندې پیسې وګټو او د لاسو پښو کار هم نۀ کوي، نو دا هم هغه بې غېرته یهودیان دي.

په جرمني کښې د ولي خان سره ملاقات:

په دغه دوران کښې خبر شو چې ولي خان لندن ته راغلے او د ظهیر افریدي په ځاے کښې دېره دے. اول مې د ظهیر افریدي د ځاے د فون نمبر معلوم کړو او بیا مونږ د خپل لوري نه دوه کسان په دې غرض ور ولېږل چې د سوالونو دا فهرست یوسي. هرکله چې مونږ ورشو او د دې جوابونه راکړي.

مونږ چې د څۀ مقصد د پاره سوالونه لیکلي وو او هغۀ د هغې کوم جوابونه راکړل، په هغې ئې بې حده مایوسه کړو. زمونږ د هغې ځاے شپېتۀ پښتانۀ ملګري د نیمې نه زیات زمونږ نه خفه شو. د پښتونستان په باره کښې د یو سوال په جواب کښې ولي خان ووئیل:

بابا ناجوړه شوے وۀ چې د تپوس د پاره ورغلو په یو دعوت کښې مېوندوال چې د افغانستان وزیراعظم وۀ هغۀ وئیل چې د پښتونستان د جوړولو به څۀ کېږي؟ ما جواب ورکړو چې پښتونستان خو ستاسو خبره ده، البته ما په دې پوه کړه چې پښتونستان تاسو ترکومه پورې ورسولو څکه چې زمونږه پارټي دا خبره کوي نۀ زۀ دا خبره کوم، نۀ زما پلار دا خبره کوي. کۀ چرې تاسو د پښتنو نه په دې خبره ځان خلاصول غواړئ او پښتنو ته د یوې حصې په نظر کښې نه بلکې د پاکستان په نظر ګورئ او دا ټکړه د ځان نه بېله ګڼئ، دغه خواهش خو ستاسو د پاره انګرېزانو پخوا پوره کړے دے. هغوي ترې نه مخکښې د هندوستان یوه ټکړه بېله کړه اوس هغه ځاے د پاکستان سره په تقسیم کښې راغے په تشه نامه باندې اوس څۀ د پاره جنګونه سره وکړو. مخکښې د انګرېزانو بچي وو، هغوي خپله نامه ورکړه اوس د پاکستان بچي شو، نو د هغوي خوښه ده کۀ زوړ نوم ورکوي او کۀ بله نامه ورله خوښوي او دوباره ئې واضحه کړه چې نۀ زما پلار د ازاد پښتونستان خبره کړې ده او نۀ زۀ دا خبره کوم.

مونږ د کوئټې د علاقې په بلوچستان کښې د شاملېدو تپوس ترې نه وکړو، چې په ۱۹۷۳ء کښې په ائین کښې د بلوچو او پښتنو دستخطونه دي چې بلوچستان د بلوچو په حېثیت ومنلے شو. دا خو دې د هغې ځاے د پښتنو حېثیت ختم کړلو، هغۀ ووئیل پاکستان مات شوے وۀ یو لاکهـ فوج په هندوستان کښې بندي وۀ، زمونږ د دې خبرو کولو سره مزید د پاکستان د ماتېدو خطره پېدا کېده، ما نۀ غوښتل چې پاکستان دې مات شي. البته د ۱۹۷۳ء په ائین کښې بتهو زما سره منلي دي چې لس کاله پس به صوبائي خودمختاري ورکوو.

جوابونه ئې لنډ لنډ د متلونو په شکل کښې ورکړل، د برګې سپې او سپي مثال ئې ورکولو، د دې د پاره چې مونږه ته وائي چې تاسو مخکښې ځان خلاص کړئ، بیا به نورې خبرې سره کوو. زمونږه دا خیال وۀ چې ورته ووایو چې تۀ بیا زمونږه د څۀ مشر یې؟ خو مشر وۀ مونږ دا خبره مناسب ونۀ ګڼله او د ډېرې غصې نه مو ترې نور تپوسونه ونۀ کړل. هغۀ باربار وئیل د بل چا کۀ څۀ سوال وي؟ ټولو ملګرو په ما باندې سفارښتنه وکړه چې باقي تپوسونه ترې نه تۀ وکړه، ما د موضوع د بدلولو د پاره ترې نه ذاتي تپوسونه وکړل، چې د باچا خان او خدائي خدمتګارو نامې ترې نه لرې کړې، د پښتنو په سیاست کښې تا څۀ کړي دي؟

ولي خان وئیل: د ۱۹۷۰ء په الیکشن کښې د چارسدې نه کامیاب شوم، په قومي اسمبلۍ کښې د حزب اختلاف مشر وټاکلے شوم.

ما وئیل په چارسده کښې خدائي خدمتګار ډېر زیات دي او تۀ د باچا خان زوے یې ځکه خلقو ووټ در کړے دے. دوباره مې ووئیل تا د پښتنو د پاره ذاتي څۀ کړي دي؟

هغۀ ووئیل تۀ د کوم ځاے یې؟ ما وئیل د چارسدې یم، هغۀ ووئیل زۀ پوه شوم چې دا رنګ تپوسونه اکثر د چارسدې خلق کوي او دا خبره ئې د سپي په کوټې ختمه کړه.

جرمني په ټوله دنیا واحد داسې ملک دے چې په خپل قوم او قومیت فخر کوي. انګریزان دوي ته جرمنیان وائي، لاطیني امریکې والا فارسي وان او فرانسیسیان ورته المان وائي او دوي خپل ځان ته "دوچ" او خپلې ژبې ته "دوچي" وائي. تعلیم په کښې تقریباً سل فیصده دے. زۀ چې هلته کښې موجود وم نو انګریزي ژبه ضروري وه کۀ چا جرمني انګریزي ژبه زده کړې هم وه کۀ چا به پرې سوال په انګریزۍ ژبه

كنبي وكړو نوجواب به ئې په خپله جرمنى. ژبه كنبي وركولو چې چا به ورته وئيل انګرېزي ژبه درځي؟ هغۀ به وئيل بالكل انګرېزي راځي خو دا به ئې هم وئيل چې څوک زمونږ ملک ته راشي نو زمونږ ژبه به زده كوي. مونږ سره به زمونږ په ژبه كنبي خبرې كوي. مونږ چې د هغوي تر ملک لاړو نو د هغوي ژبه به زده كوو، د هغوي په ژبه كنبي به د هغوي سره خبرې كوو نن څكه ټوله دنيا جرمنه ته ښۀ قوم پرست وائي.

د دوو عالمي جنګونو شورو د دوي نه شوې وه، چې اټلي او جاپان ورسره بيا هم ملګرتيا كړې وه. ۱۹۳۵ء كنبي هټلر خپل قوم ته د خطاب كولو په دوران كنبي ووئيل چې د وړومبي جنګ عظيم فيصلي واضحه نۀ دي، د وسلې بندېز يو طرفيزے پكار نۀ دے، د يو طرفيزي بندېز سره امن راتلے نۀ شي، كۀ چرې د دوي دا مطلب وي چې په ټوله دنيا كنبي دې يو شان امن راشي بيا پكار دي چې په ټوله دنيا كنبي په ټولو ملكونو باندې يو شان وسله بنده شي او هغه مسئلې چې د ملكونو تر مينځه پرتې دي چې ترڅو پورې حل شوې نۀ وي نو امن نۀ شي راتلے. لكه څۀ رنګ چې زمونږ د فرانس سره په سار باندې كومه مسئله وه، په مونږ باندې د وسلو بندولو سره، د وسلو د كارخانو بندولو سره يونيم لاكهه جرمنيان بې روزګاره شو. د امن په معاهده كنبي دا هم ليكلي شوي وو چې د امن د معاهدې ترمخه چې د كومو ملكونو نقصان شوے دے هغه به په شريكه ترسره كوو خو دا څوک ووائي چې دا څوک وو. 'آيا د دې معاهدې د الفاظو نه به خپل خپل مطلب وباسي او كۀ دا ئې مطلب وۀ چې ټول ملكونه به امريكه ښه كوي، بيا خو پكار دي چې دا تپوس د ولسن نه وكړو چې د دې معاهدې كولو څۀ مطلب وۀ؟ كۀ په معاهده باندې فقط دستخطونه كول وي زۀ به پرې سل دستخطونه وكړم خو چې په عمل كنبي ماته

ثابته شي چې دا فېصلې زمونږه ملک ته زمونږه قوم ته نقصان رسوي نو زما د زړهٔ فېصله به په هغه وخت کښې کېږي.

د جنګ کولو په دوران کښې څلور پنځهٔ کاله مخکښې خپل فوج ته په خپل تقرير کښې وائي چې د ایشیا او د افریقې ټول ملکونه د برطانیې او د فرانس غلامان دي، مونږه دا جنګ یواځې د خپلې ازادۍ د پاره نهٔ کوو چې ګني مونږ ازاد ېږو، چې دا جنګ وګټو نو دې خلقو ته به ثابته شي بلکې ټولې دنیا ته به دا ثابته شي چې رښتونے امن په دنیا کښې څهٔ رنګ راځي؟ او زهٔ خپله هم دا سوچ لرم کهٔ دا جنګ چرې جرمني ګټلے وے، نو بیا به څهٔ وو؟

په ستمبر ۱۹۶۱ء کښې د امریکې صدر کنیډي د روس د کامیاب ایټم بم جوړولو او دماکې او د برلن ترمېنځه مسئلو باندې خبرې اترې وکړې. په دغه وخت کښې د اقوام متحده سېکرټري د جهاز په یوه حادثه کښې په حق رسېدلے وهٔ، دهٔ ووئیل مونږ یواځې دې د پاره راغونډ شوي نهٔ یُو چې د یو ښهٔ سړي په مرګ باندې غمرازي وکړو بلکې په دې به هم سره خبرې اترې وکړو چې اقوام متحده به ژوندے پاتې شي او کهٔ نه؟ دا قسمه اداره مخکښې هم مونږ د امن راوستو د پاره جوړه کړې وه چې د دویم جنګ عظیم سره هغه اداره هم ختمه شوه، نن بیا د جنګ هغه فضا د بمونو د ټسټ کولو په شکل کښې دوباره جوړېږي. د دې ټسټونو کولو سره به فضا دومره خرابه شي چې، د هغې ځاے د خواوشا وسېدونکو ته به ژوند تېرولو کښې مشکلات وي. بل خوا به یوه مقابله د ګاونډي ملکونو سره پېدا کړي. کهٔ نن دا وسله د دنیا د دوو درېو ملکونو سره ده، بیا به هر یو ملک دا کوشش کوي چې دا وسله او دا ټېکنالوژي دې مونږ هم حاصله کړو. کهٔ هرکله دا نیو کلیئر جنګ شورو شو او ایټم بمونه او هائیډروجن بمونه

د دواړو اړخونو نه چلېږي نو يو روغ انسان به پاتې نۀ شي. آيا اقوام متحده دا طاقت لرلے شي چې په دغه ملکونو باندې دا جنګ بند کړي، ځکه چې دا اداره خو مونږ هم د دې مقصد د پاره جوړه کړې وه چې په دنيا کښې دې نور جنګونه ونۀ شي. د دې طاقت خو مونږ هر يو ملک له پکار دي چې د دې ممبر وي چې د خپل فوج يوه حصه اقوام متحده ته حواله کړي، چې په کوم ځائے کښې د جنګ حالات جوړېږي د دې شريک فوج په امداد باندې به په هغې بندېز لګوي. خو جنګ په وسله کېږي پکار دي چې کوم ملکونه وسله جوړوي، هغوي په خپلو کښې راغونډ شي او واړه سره معاهده وکړي چې دا ايټمي وسله دې اول کمه کړي او بيا ئې بيخي ختمه کړي او دغه شان د دې وسلو جوړولو چل نورو ملکونو ته نۀ ښائي او کۀ د دې باوجود د يو ملک سره دا وسله وي نو د هغوي نه دې په زور اخلي. دا داسې وسلې دي چې انسانيت د سره ختموي او دا جنګ بيا هيڅوک ودرولے نۀ شي، جنګ په وسله کېږي چې وسله نۀ وي نو جنګ به په څۀ کېږي؟ بيا چې د ملکونو ترمېنځه کومې تنازعې دي هغه به د اقوام متحده په طاقت باندې په اسانه ختمېږي. زۀ د روس مشرانو ته اپيل کوم چې راځئ مونږ او تاسو په خپلو کښې دا رنګ معاهده وکړو چې اول دا نوې تجربې بندې کړو، چې زمونږ سره او تاسو سره څومره وسله ده، په مزه مزه هغه کمه کړو. هرکله چې زمونږ او ستاسو په يو بل باندې اعتبار پېدا شي بيا به ټوله وسله بيخي ختمه کړو. دغه نيوکليئر ټېکنالوژي چې په کوم کوم ځائے کښې د انسان د فائدې د پاره استعمالېدے شي فقط هم هغه کار ترې نه واخلو. دا د وېرې او خوف خبره نۀ ده کۀ چرې دا رنګ ونۀ کړو نو ستاسو او زمونږ بچي به ژوند په خوف او وېره کښې تېروي.

په ټوله دنیا کښې د هر لوري نه دا اوازونه دي چې دا وسلې دې ختمې شي او په ټوله دنیا کښې دې امن راشي، سېوا د امریکې د مشرانو نه چې هغوي امن د ټیکنالوژۍ په طاقت باندې راولي او هر وخت په خوف او ویره کښې هم وي. هم د دغه جنګ په باره کښې د امریکې یو لیکوال دومس فریډمېن ورته دریم جنګ عظیم وائي. کاش! چې د کنیډي دا خبره دوي منلې وے. زمونږ رسول الله (ص) د جنګ نه پس د کافرانو سره یوه معاهده کړې وه چې په اسلامي تاریخ کښې په صلح حدیبیه باندې مشهوره ده. د امن راوستلو د خاطره ئې ټول شرطونه ومنل تر دې حده پورې چې د معاهدې کولو په وخت د نومو لیکلو په وخت کښې نامه محمد رسول الله لیکلې شوې وه، کافرانو پرې اواز وکړو چې دې خو مونږ د رسول په حېث نۀ منو، د دې په ځائے دې محمد بن عبدالله ولیکي. هغوي ترې نه دغه نامه لرې کړه. چونکې دا معاهده حضرت علي (رض) لیکلې وه هغۀ وئیل زۀ خو رسول الله منم ځکه په دې نامه باندې قلم راښکلې نۀ شم، په دغه وخت کښې رسول د خدا ے ووئیل ماته خپله نامه لیکلې وښایئ زۀ به پرې خپله کرښه راکاږم یعني خپله ئې پرې کرښه راښکله، چې کافران لاړل، اصحابو کرامو ترې نه په ډېر خفګان پوښتنه وکړه چې مونږ خو په دوي دومره کمزوري نۀ یُو چې تاسو د دوي ټول شرطونه ومنل؟ زمونږ په دې کښې څۀ فائده ده؟ هغوي (رسول الله ص) ورته وفرمائیل په امن کښې ۀ د خدا ے پاک پېغام تر خلقو رسولے شم او په جنګ کښې د خدا ے پاک پېغام تر خلقو رسېد ے نۀ شي، چې جنګ نۀ وي مونږ او تاسو به په شریکه د خدا ے پاک حکمونه تر خلقو ورسوو. عنقریب ده چې زما د دې شرطونو منلو فائدې ستاسو ترمخه راشي. په دې کښې د کافرانو د لوري نه په دوي کښې قتل وشولو چې په هغې باندې هغه

معاهده ماته شوه، کافرانو ډېر عذرونه وړاندې کړل چې دا قتل زمونږ نه په غلطۍ کښې شوے دے، بیا هیڅا د کافرانو عذرونه نۀ منل. هرکله چې تر مدینې روان شول، د جنګ په ځائے ورته د مدینې خلق راووتل او غارې ئې ورکولې، یو یو مشر ئې راتللو او کلمه ئې وئیله. په دنیا کښې چې څومره نظریې خورې شوې دي نو د امن په ذریعه خورې شوې دي. نن د خوف او ویرې په نامه باندې چې کوم جنګ روان دے، د دنیا د پوهانو نه ئې خپلې نظریې هېرې کړې دي، په جنګ کښې پوه او ناپوه دواړه په یو سر باندې حسابېږي، د نظریې په ځائے باندې د هر سړي نه دا تپوس کېږي چې د کوم لورې نه ولاړ یې؟

د دنیا ازاد ملکونه د خپل ملک فېصلې په ګټه او په تاوان باندې کوي. د پاکستان ټولې فېصلې د برطانیې او امریکې په ایما باندې شوې دي. زمونږ ټول مشران تر اوسه پورې د دغه خلقو ذهني غلامان دي. په پښتنو کښې حجره یوه داسې اداره ده چې په دې کښې د ناستو مشرانو، کشرانو یوه مسلسل زدکړه جاري وي. تاریخ، ثقافت، پښتو او پښتونولي د متلونو په ذریعه زده کوي، چې هغه قیصه خو لاړه شي هېره شي خو متلونه د چانه نۀ هېرېږي. هر سړے د خپل پلار نیکۀ د تورزنۍ قیصې کوي او یا د خپلو علاقو د زورورو خلقو او بدمعاشانو خبرې اترې کوي. د بدمعاشانو په لاس قتلونه، اغوا برائے تاوان، څنې وخت په ښۀ انداز کښې راولي. دغه شان د اغوا والا په سر باندې پیسې غوښتل دا هم وائي چې د فلاني سره پیسې دي څکه ترې نه پیسې غواړم. بله دا چې ډېر مال څوک پیدا کوي نو عموماً ډېر مال بې غېرته سړے پیدا کوي. دا هم وائي چې په غریبانانو کښې په سلو کسانو کښې یو کس بې غېرته وي او په خانانو کښې په سلو کسانو کښې یو کس غېرتي وي. هرکله چې د یو غریب د

لاسه د بې غېرتۍ کار وشي هغه وائي غریب خو خدائے کړے دله چا کړے؟

د دنیا په ټولو ملکونو باندې د ټولو نه غټه بدمعاشي امریکه ده او زمونږ په ملکونو کښې اکثریت د غریبانانو دے هم دغه د پښتو په الفاظو کښې ورته وایو. افغانستان هم زمونږ ملک دے بلکې د دنیا غریب ترین ملک دے. د طالبانو دې چار ښۀ وي چې څۀ لږ ډېر مخ ئې په لاړو کړو.

په۱۹۷۷ءکښې د کمیونستانو ملکونو په کیوبا کښې یو کانګرس وۀ، د ټولې دنیا د ټولو ملکونو نه په کښې په زرګونو سټوډنټان هم راغلي وو. ډېره لویه علاقه ئې د انتظام د پاره ورکړې وه، ځائے په ځائے په کښې لاوډسپیکرې لګېدلے وے او ورسره د خوراک څښاک انتظام هم موجود وۀ او د هغې په مېنځ کښې ئې یو لوے سټېج جوړ کړے وۀ، چې هغې باندې په وار وار د مختلفو ملکونو سټوډنټانو د خپلو علاقو په باره کښې تقریرونه کول. ټولو ملګرو وئیل د افغانستان او پاکستان مسئلې یو شان دي، زمونږه د لوري نه او د خپل لوري نه تۀ تقریر وکړه، د شپې درې څلور ګېنټې د پاکستان مسئلې او په افغانستان کښې پېښې مسئلې مونږ په کاغذ باندې ولیکلې چې د هغې نه دولس صفحې جوړې شوې. هغوي وئیل په انګرېزۍ کښې ستا لیکل ښۀ دي، اول دا په انګرېزۍ ژبه کښې ترجمه کړه او په خپله ئې په تقریر کښې وړاندې کړه. په دویمه ورځ په غرمه کښې زما نمبر راغے چې په سټېج باندې په کومه نامه باندې اواز کېدلو ورپسې ئې د دریو کسانو نامې هم اخستې چې دوي دې تیار اوسي چې په دې پسې د فلانې ملک د فلانې نمبر دے او دغه کسان دې سټېج ته رانزدې شي، زما نامه ئې په دریم نمبر کښې واخسته.

په دغه وخت کښې مونږ په يو هوټل کښې چائې څښله، ملګرو وئيل ځان ورنژدې کړه ځکه چې د دوو کسانو نه وروستو ستا نمبر دے. نور ملګري په هوټل کښې پاتې شول البته يو ملګرے زما سره لاړو، دوه نمبره مخکښې د چيلي يوه جينۍ سټوډنټه وه، هغه په خپل نمبر باندې راپاڅېده، هغې وئيل ما له خو ډېرې خبرې نۀ راځي او نۀ په نظريو باندې پوهېږم. ماته دا هم پته نۀ لګي چې زۀ کميونسټه يم کۀ کېپټلسټه يم؟ خو خپل ضرورت دلته کښې راوستلې يم، د خپل ملک او قوم ضرورت تر دې ځايه رارسولې يم. زۀ د چيلي يو وړوکي ملک سره تعلق ساتم، زمونږ په ملک کښې يوځو کاله مخکښې په ښه جمهوري طريقه باندې اليکشن وشو چې د عوامو د اکثريت په حواله د سوشلسټ پارټۍ يو مشر الندے وټاکلے شو، چې بې انتها ښۀ سړے وۀ، د عوامو ډېر خوښ وۀ او ملک ئې هم د ترقۍ په لاره باندې روان کړے وۀ خو امريکې يو جرنېل راوستلو او الندے ئې قتل کړو چې جرنېل په فينوسيشټ باندې سوشلسټان هم مړۀ کړل او څۀ ئې په جېلونو کښې بندي کړل. د فوج په زور باندې ناست دے چې امريکه ورته څۀ وائي هم هغسې کوي، زمونږ د چيلي ځوانانو سټوډنټانو يوه انډر ګراونډ پارټي جوړه کړه چې تر سټوډنټانو محدود وه. يو خبره دلته کښې سره کوو هغه دا چې د دې جرنېل نه مونږه په څۀ رنګ نجات ومومو او کوم ملک او د هغې عوام به زمونږ سره په دې کښې ملګرتيا وکړي. دا د امريکې سړے دے، په دې خبره باندې مونږ ټول متفق يُو چې بس روسيان مونږ د دې غمه خلاصولے شي، روسيان کميونسټ دي او د هغوي ملګري هم ټول کميونسټ دي، زۀ دوباره وايم چې زۀ کميونسټه نۀ يم خو د خپل ملک او قوم خېر غواړم او تاسو

ټولو حاضرينو ته اپيل کوم چې زمونږ سره امداد وکړئ او د دې امريکني جرنېل نه مونږه خلاص کړئ.

هغه جينۍ د سټېج نه راکوزه شوه وربسې د فرانس د يو سټوډنټ وار وۀ، وربسې زما وار راغے، ما هغې خپل افغان ملګري ته تر غوږه کړل چې د دې جينۍ دا خبرې خو زما ډېرې خوښې شوې ځکه چې لږې خبرې ئې وکړې خو د مقصد نه ډکې خبرې ئې وکړې. زما هم دا خيال دے چې په دغه رنګ خبرې زۀ هم وکړم، دولس ديارلس صفحې چې مونږ ليکلې دي دا ټکړې پښتانۀ چې دلته کښې ضياالحق او هلته کښې داود خان دلته کښې دا مسئلې او هلته کښې هغه مسئلې، يوه ګېنټه وخت په دې څۀ د پاره ضائع کوو؟ هغۀ وئيل دا خو ټولو ملګرو شريک ليکلے تقرير دے کۀ دغه ليکلے تقرير چرې ونۀ کړې نو هغوي به خفه شي. خو اخره کښې دواړه ملګري په دې باندې راضي شو چې اول به وايم چې په پاکستان کښې او په افغانستان کښې وسېدونکو پښتنو سټوډنټانو په شريکه خپلې مسئلې راغونډې کړې دي او په دې کاغذنو باندې تحرير شوي دي. کۀ ستاسو کتابي شکل ورکولو ته خيال وي، نو په دې کاغذونو کښې د دغه ټولو مسئلو تاريخ پروت دے او دا به ډېره ښه وي چې کتابي شکل ورکړي، ولې چې دا ډېرې اوږدې مسئلې دي.

ستاسو وخت ضائع کول نۀ غواړم البته يوڅو غټې او اهمې خبرې به درته زباني وکړم بيا مې د چيلي د هغې جينۍ غونډې تقرير وکړو چې اول خو انګرېزانو زمونږ ملک په درېو ټکړو باندې تقسيم کړو او نن د امريکې په خوښه زمونږ سياسي ليډران په جېلونو کښې پراتۀ دي او فوجي جرنېلانو ته ئې زمونږ حکومت سپارلے دے. زۀ هم کميونسټ نۀ يم، خو د ذهني غلامۍ نه د انګرېزانو او امريکنيانو

مونږ هم روس خلاصولے شي، هم د هغې ترمخه ستاسو په محفل کښې ناست یُو. زمونږ سیاسي لیډرانو هسې هم په بوسو کښې اوبۀ بوتلي دي لکه رحمت شاه سائل چې وائي:

مرم د تندې مرم خو د ژوندون اوبۀ ترې څښې نۀ شم
دا جام د مودو مودو نسکور دے په دې خاوره کښې

زما دا خیال وۀ چې زما ملګري به زما نه په دې تقریر کولو باندې خفه وي، خو په ځائے د دې هغوي زیات خوشحاله شو او دا ئې ووئیل چې تا په خپل تقریر کښې زمونږه عکاسي واضحه کړې ده او د مقصد نه ډک تقریر دې وکړو. د جرمني نه به مونږ په پښتو ژبه کښې دوه رسالې چاپ کولے یوه هفته واره "سپرغۍ" او بله به میاشتنۍ وه د "ستورې" په نامه باندې یادېده. مونږ تولو ملګرو په خپلو کښې دا فېصله کړې وه چې هر یو ملګرے به خپله خپله قیصه په دې کښې لیکي. ما وئیل زۀ په پښتو ژبه کښې لیکل کولے نۀ شم هغوي حېران شول چې ټولې خبرې د پښتو پښتونولۍ پښتو ژبه کښې کوې او لیکل نۀ درځي! هم هغه ملګرو زما سره امداد وکړو د پښتو ژبې په لیکلو، لوستلو ئې پوهه کړم. د فارسۍ یو ټائپ مونږه واخستو چې د هغې ترمخه راته لیکل نور هم اسان شو.

یوه ورځې په رېل ګاډي کښې ناوخته راتلم ټکټ مې هم نۀ وۀ اخستے چې بې ټکټه ونیولے شوم، نو سره د پاسپورټ ټول کاغذات ئې زما نه ترلاسه کړل او دوه ورځې پس ئې تاریخ راکړلو چې تر فلاني ځایه راشه. ما د خپل ځائے خپلو ملګرو ته خپله ټوله قیصه تېره کړه، هغوي تر وکیل بوتلم، په فونکي نامه باندې مشهور وۀ، د ټولو پښتنو کېسو نه به هم دۀ کول.

وکیل: ایا په بېنک کښې ستا څۀ رقم شته؟ ما ورته ووې زۀ فقط پنځۀ مارکه لرم. بېنک والاوائي کۀ دا چرې وباسې اکاونټ دې ختمېږي.
وکیل: دلته کښې دې د نوکرۍ د پاره چرته درخواستونه ورکړي دي؟
زۀ: درې ځایه کښې مې درخواستونه ورکړي دي.
وکیل: د هغې ثبوتونه شته دے؟
زۀ: دا ثبوتونه واخله.
وکیل: ایا په تاپسې د نوکرۍ د پاره تر اوسه پورې لېټر راغلے دے؟
زۀ: تراوسه پورې راغلے نۀ دے.
وکیل: د سوالونو جوابونو د پاره ئې راغوښتلے وے یعنې شوز لیپ والادا هغه اداره ده چې بې روزګارو له هفته په هفته خېرات ورکوي.
زۀ: چې تر جرمنۍ راغلم دوه میاشتې پس دغه ادارې ته ورغلے یم، درخواست مې هم ورکړے وۀ.
وکیل: په تا ئې څۀ سوالونه کړي وو او تا څۀ رنګ جوابونه ورکړي وو؟ ما ته ووایه چې د ځان سره ئې ولیکم.
زۀ: دغه ادارې په ما باندې سوال وکړو چې تا دوه میاشتې مخکښې درخواست ولې نۀ ورکوۀ. ما د کلي نه ځان سره رقم راوړے وۀ چې هغه ختم شو ځکه مې دوه میاشتې پس درخواست ورکړلو چې زما د پاره د نوکرۍ بندوبست هم وکړئ.

په دغه دفتر کښې یوه ښځه ناسته وه هغې ووئیل دا دوه میاشتې تا څۀ رنګ ګوزاره اختیار کړې وه؟ هم هغسې ګوزاره اوس هم کوه او یوه بله اداره ئې راته ترمخه کړه چې هلته کښې د نوکرۍ د پاره ورشه.
وکیل: دا خو دې ډېر ښۀ کېس دے، دا د هر حکومت فرض دي چې د هر سړي د پاره د روزګار بندوبست وکړي او یا پیسې ورکړي. زۀ خو

ستا دا کېس په دې بنیاد باندې چلوم چې ایا د چا سره پېسې نهٔ وې نو هغه ګنهګار دے او لا پېسې هم نهٔ ورکوئ. د دې نه علاوه پاسپورټ او کاغذونه ترې نه هم تاسو ترلاسه کړې دي.

ماسره دوه ملګري پښتانهٔ نور هم د ترجمان په حېث تللي وو چې وکیل ترې نه سوال وکړو نو هغوي سره وخاندل. ما د هغوي نه تپوس وکړو چې وکیل صاحب څهٔ وائي؟ هغوي ووئیل وکیل صاحب وائي دا زما ذاتي سوال دے. خو دوي بیا هم یو تر بله کتل وئیل ئې زمونږ هم دا سوال ذهن ته راغلو چې دلته کښې تا دوه میاشتې په خپلو پېسو باندې تېرې کړې نو بیا دا درې میاشتې څهٔ رنګ تا بې پېسو تېرې کړې؟

ما وئیل په فرانکفورټ کښې پنځهٔ پنځوس ملګري پښتانهٔ نور هم اوسي او د هغه ټولو ملګرو د ټېلي فون نمبرې ما له په یادو راځي، په دې کښې وویشت کسان سټوډنټان دي او باقي مزدوران دي ، ما ته دا هم علم دے چې هغوي په کوم کوم ځاے کښې مزدوري کوي او د څهٔ وخت نه د څهٔ وخت پورې په ډیوټۍ وي؟ او د ډیوټۍ نه پس په څومره وخت کښې تر کوره پورې رسي؟ هر کله چې تر کوره راشي نو د ځان د پاره د خوراک څښاک انتظام کوي، زهٔ چې څهٔ وخت اورېے شم نو خپله ډائرې وګورم چې کوم یو ملګرے به تر کوره راغلے وي؟ چې هلته ورشم نو هغه بې انتها خوشحاله شي او دا هم وائي قسمت دې ښهٔ دے په تیاره د پاسه راغلے چې خوراک څښاک سره وکړو بیا زما د پاره د سیګرټو ډبے هم راواخلي، چې ترڅو پورې ناست یُو ګپ شپ سره لګوو، دغسې دوه میاشتې پس زما د یو ملګري سره یوه ورځ راځي. کهٔ چرې تاسو دې وکیل ته د دې خبرو ترجمه وکړه چې په ټوله دنیا کښې یو پښتون قوم دے چې د مېلمه په راتلو او

مېلمستيا باندې خوشحالېږي او زحمت ئې نۀ ګڼي رحمت ئې ګڼي او د مېلمه د راتلو احسان هم مني او هر چاته په خوشحالۍ او فخر وائي چې فلاني ماله دومره وخت راکړو، زما سره ئې شپه تېره کړه.

هرکله چې يوه مياشت تر مېنځه تېره شوه وکيل مبارکي راکړه، وئيل ئې هغه کېس دې وګټلو، مبارک شه. ټول کارډونه ئې راکړل او وئيل ئې په ټول جرمني کښې مفت ګرځه او کۀ د دې د پاسه دې څوک نيسي زما دا کارډ ورته ښايه. ما په عدالت کښې ثابته کړه چې د چاسره پېسې نۀ وې هغه ګنهګار نۀ دے يعني دا ګناه نۀ ده چې ترکومې پورې ئې ستا د پاره د روزګار بندوبست کړے نۀ وې نو تر هغې پورې مفت ګرځه. د رخصت راکولو په وخت ئې ووئيل زما د وکالت فيس؟

ما ورته ووئيل چې تاسو خو دا ثابته کړه چې د چاسره پېسې نۀ وې نو دا ګناه نۀ ده. زما هغې دوو ملګرو ورته ووئيل مونږ اول ستا د پاره د مېلمستيا بندوبست کوو هغه ملګري به چنده وکړي تاسو ته به خپل فيس ترلاسه شي.

هرکله چې د مېلمستيا د پاره وکيل صاحب تشريف راوړلو. د مېلمستيا نه پس د فيس اخستلو نه هغۀ انکار وکړلو او دا ئې هم ووئيل تاسو پښتانۀ ډېر ښۀ خلق ماته ښکاره شوے ځکه چې په مخامخ سپينه وېنا کوے او ماته ئې ووئيل چې هرکله تاته نوکري ملاو شي بيابه ستا نه فيس واخلم.

د هغې نه پس يو ايراني يهودي سره مې د قالينونو په دوکان کښې څلور مياشتې کار وکړو، خو تنخوا ئې ډېره کمه وه، بچت مې په کښې نۀ شو کولے چې د وکيل د پاره په کښې فيس وباسم، زما لياقت ملګري ډېره ښه مزدوري کوله، بچت ئې ډېر کولو، هغۀ خپل بچت د

دې د پاره جمع کړې وه چې زه به په کلي کښې واده کوم او دلته کښې به د ځان سره ښځه راولم. د هغه نه مې د وکيل د فيس د پاره پيسې واخستې او ليکلے خط مې ورکړو چې ځې نو زمونږ تر ځايه ورشه د دې خط په ښودلو به تاته خپل رقم ترلاسه شي.

هرکله چې وکيل له د فيس ورکولو په نيت باندې لاړم، په هغه وخت کښې وکيل ووئيل، نوکري درته په کوم ځاے کښې ملاو شوه؟ ما ورله د ايراني يهودي د دوکان پته ورکړه هغه وئيل دا خو يهوديان دي، دوي خو د مزدور نه دولس ديارلس ګېنټې کار اخلي او تنخوا ډېره کمه ورکوي تا په دغه تنخوا کښې بچت څنګه وکړو؟ دغه روزګار د غلا هم دے او ما له په کښې لافيس هم راکوے، البته زه به ستا د پاره سرکاري کار وګورم چې قانوني د اتو ګېنټو ډيوټي وي او تنخوا ئې هم ډېره وي او نصيحت ئې راته وکړو چې د يهوديانو سره روزګار مه کوه ځکه چې دوي ډېر غرور کوونکي خلق دي، دوي د موسیٰ عليه السلام د خبرو نه غلطه فائده اخستې ده، د هغه په حواله باندې وائي زما خبرې د خداے خبرې دي که هرکله زما په دې خبرو باندې تاسو عمل وکړو نو دا دنيا به هم ستاسو ښه شي او هغه دنيا هم، او په دې دنيا کښې به بادشاهي هم ستاسو ترلاسه وي او ټوله دنيا به هم ستاسو لاس ته ناسته وي او ستاسو خدمت به کوي. نو دا ټول مالدار خلق دي، د پيسو نه پيسې جوړوي او اکثر په خلقو باندې د غلا کارونه کوي چې کار ترې نه زيات اخلي او تنخوا کمه ورکوي او دلته کښې جرمنيان وزګار سړي ته په سپک نظر ګوري او د بې روزګارو خلقو مزغو ته د شيطان جاله وائي. په روزګار کښې ښه او خراب نه وي او چې کوم يو سړے مزدور ته په سپک نظر ګوري هغه په خپله سپک وي. جرمنيان او د هغوي عادتونه ډېر ښه دي بې غروره خلق دي، وائي چې په خپل

لاس باندې څوک ګټه وکړي هغه ګټه په هغه سړي کښې خود اعتمادي پیدا کړي او جرمنیان په خپل قوم باندې مئین خلق دي، چې څوک په پیسو باندې پیسې پیدا کوي او خپله روزګار نۀ کوي، د هغوي نه نفرت کوي.

یو کتاب ئې راکړلو چې په جرمنۍ ژبه کښې لیکلے شوے وۀ نامه ئې وه "د سړک د پاسه حکومت" په هغه کتاب کښې دا لیک وو چې د هندوستان نه شمال مغرب ته تر افغانستانه پورې چې تر مینځه ئې قبائیلي علاقې راځي په هغې کښې انګریزانو دا خبره منلې وه چې زمونږ حکومت د سړک د پاسه دے، بلکې قبائیلو خو ترې نه لیکلي اخستلي وو چې د سړک د پاسه څۀ کېږي د هغې سره به ستاسو تعلق وي او کۀ د سړک نه اخوا او یا دې خوا څۀ وشو د هغې به زمونږ سره تعلق وي بلکې په دغه مسئلو کښې ستاسو ګوتې وهل نۀ منو. خاص کر دغه کتاب ئې د دې خیز د ښودلو د پاره راکړلو چې ماته دا علم دے چې سل یونیم سل کاله حکومت تاسو د انګریزانو سره په جنګونو کښې تېر کړے دے او بیا ئې د هغې جنګ په باره کښې ذکر هم وکړو په کوم کښې چې دیارلس زره فوج یو په یو وژلے شوے وۀ ډاکټر برډن ئې د حال وئیلو د پاره ژوندے ساتلے وۀ چې دې به خپلو مشرانو ته د لیدلو سترګو حالات بیانوي.

ما ورته ووئیل په جرمنۍ ژبه باندې خو زۀ ډېر نۀ پوهېږم البته په انګریزۍ ژبه کښې کۀ درسره داسې کتاب وي هغه راته راکړه. یو بل په انګریزۍ ژبه کښې لیکلے شوے کتاب ئې راکړو چې د افغانستان او زمونږ د دې صوبې د غرونو په باره کښې لیکلے شوے وۀ، د سوات، ایبټ اباد او مانسهرې د غرونو ذکر په کښې موجود وۀ. د دې غرونو په حواله لیکي چې: په دې کښې د دنیا هر قسمه

معدنیات موجود دي او سره د ګېسونو دومره زیات دي چې هرکله د دې نوې ټېکنالوژۍ نه فائده واخلي کۀ چرې هم ستاسو واک اختیار په دغه ځایونو باندې راغے نو دا به په ټوله دنیا کښې مالدار ترینه علاقه وي. ما ورته په ګپ شپ کښې ووئیل کۀ مونږه ازاد ووٚ او زمونږ واک اختیار وۀ نو د مزدورۍ د پاره به دلته راتللو؟

په جرمني کښې د پښو وسپدونکے یو ډاکټر وۀ، په نفسیاتو کښې ډېر زیات ماهر وۀ، د ډاکټرۍ کورس ئې په امریکه کښې کړے وۀ او د هغۀ ښځې هم په امریکه کښې د مزغو د ډاکټرۍ کورس کړے وۀ چې د جرمني وسپدونکې وه. ډاکټر علي خان او ښځې ئې په فرانکفورټ ښار کښې ښۀ هسپتال لرلو، په جرمنۍ او انګرېزۍ ژبو باندې دواړه ښۀ پوهېدل. ما ورسره په خپله په هغه هسپتال کښې څو میاشتې نوکري کړې وه، چې زما د نفسیاتو د کورس یوه حصه وه.

دوه میاشتې پس مې یوه چُټي واخسته په هیل براؤن کښې زما یو پنجابے ملګرے وۀ چې ما او هغۀ به د زمرودو کاروبار شریک کولو. هغۀ له لاړم د پاکستان او د کابل پنجشېره چې کوم زمرود مونږ د ځان سره اوړي وو هغه نیم زما سره پراتۀ وو او نیم د هغۀ سره پراتۀ وو. هغۀ وئیل ما خپله حصه زمرود په هیل براؤن کښې په ډېر ښۀ سړي په ډېر ښۀ قیمت خرڅ کړل کۀ ستا خوښه وي تۀ خپله حصه زمرود هم د ځان سره راوړه چې په دۀ ئې خرڅ کړو.

هرکله چې زمرود ما د ځان سره یوړل او د هغۀ تر کوره ورسېدم د هغۀ یو ګاونډۍ ښځې راته ووئیل هغۀ خو ایکسیډنټ کړے دے په هسپتال کښې پروت دے البته دا سوال جواب ئې پرېښودلے دے چې زما یو ملګرے به راځي هغه له زما د کمرې چابي ورکړه او هغۀ له زما د موټر چابي هم ورکړه او سبا له مازیګر دې په هسپتال کښې پنځۀ

بجې زما سره لیدل کتل وکړي. هرکله چې تر هسپتاله ورغلم ځۀ ګورم چې د سر نه واخله تر پښو پورې پلپستر شوے دے، تر دې حده پورې چې خبرې ئې هم سمې کولې نۀ شوې، هغۀ وئيل د خبرو کولو نه وتلے يم البته يو قلم او کاغذ راکړه چې ټول حالات درته وليکم.

د لاس ليک تحرير ئې دا وۀ چې دوه ورځې مخکښې د هفتې په ورځ د اتوار په شپه باندې په دې ځائے کښې يو مشهور هوټل دے چې د مالک نامه ئې "الفانسو" ده او د سيسلي وسېدونکے دے. ما اورېدلي وو چې دې د هر قسمه غمو شوقي دے او د لاس په ګوتو ئې د هر قسمه غمو ګوتې دي. ما چې خپل مختلف قسمه زمرود وروښودل نو ډېر خوشحاله شو او ډېر ئې خوښ شو. غمي زما وو او قيمت ئې هغۀ يو لاکهـ مارکه مقرر کړو، الفانسو ووئيل کۀ چرې دا غمي کټ شوے وے نو بيا د دې قيمت دوه لکهو مارکو نه هم سېوا وۀ. ما ورته ستا د غمو په باره کښې ووئيل چې نيم زمرود زما ملګري سره دي شائد چې هغه غمي کټ کړے شوے وي. هغۀ وئيل هغه ملګري ته دې ووايه چې راشي او د ځان سره هغه پاتې زمرود راوړي. کۀ چرې کټ شوے وي هغۀ له به د يو لاکهـ مارکو نه زيات قيمت ورکړم او ماله ئې د خپلو زمرودو يو لاکهـ مارکه راکړل.

ما سمدستي تاته ټېلي فون وکړو په هغې مارکو کښې مې په ځۀ باندې دا موټر واخستو چې په کوم موټر کښې تۀ نن راغلے يې او باقي رقم مې په بېنک کښې داخل کړو. هرکله چې مې تاته ټېلي فون وکړو او تا وئيل چې د هفتې په ورځ به زۀ درځم زۀ د ډېرې خوشحالۍ نه دهغۀ تر دوکانه لاړم، ما هغۀ ته ووئيل زما هغه ملګرے به د هفتې په ورځ ماښام راځي. هغۀ پنځۀ شپږ ملازمانو ته غږ وکړو دۀ هغوي ته ووئيل دې ښۀ کوښمال کړئ ځکه دۀ ماسره پرون دوکه کړې ده. دۀ په

ماباندې خراب زمرود په يو لاکهـ مارک خرڅ کړي دي. ما ووئيل تا خو په لاکهـ مارکه زما نه په خپله اخستي دي او تا په خپله دا قيمت مقرر کړے دے. زۀ خو نن دې د پاره راغلے يم چې زما هغه ملګرے نن نور زمرود ستا د پاره راوړي. هغۀ وئيل زۀ بېګا په نشه کښې وم زر تر زره ماله خپل رقم راکړه. ما وئيل رقم خو ما په بېنک کښې داخل کړے دے هغه به درله بله ورځ راوړم، دېرش زره مارکه ما سره وو هغه ئې زما نه تر لاسه کړل او ماته ئې وئيل ځومره دروغ وايې چې دا مارک درسره دي، پکار دي چې هغه نور هم درسره وي. ملازمانو ته ئې وئيل نور ئې هم ګوښمال کړئ. هغوي په کوتکو باندې برابر ووهلم او د دوکان نه ئې بهر ګوزار کړم او نوټس ئې راکړو کۀ هغه باقي رقم دې رانۀ وړلو نو دا رنګ وهل به نور خورې.

پنجابي ملګري ليکلي راکړل چې دا موټر هم الفانسو هوټل والاله ورکړه او د بېنک نه هغه رقم په دې چِک وباسه هغه هم ورکړه، هسې نه چې دلته کښې راپسې راشي او نور مې ووهي.

هرکله چې د هسپتال نه واپس د هغۀ تر کوره راغلم د دۀ هغه ګاونډۍ ښځه مې په دې غرض راوغوښته چې ماته د الفانسو هوټل وښائي. هغه زما سره لاړه هغه هوټل کښې مو خوراک څښاک وکړو، د هغه هوټل د ملازمانو نه مې د هوټل د مالک پوښتنه وکړه، هغوي وئيل د هغۀ د ملاقات د پاره به مونږ وخت درکړو، د هغې نه پس به تاسره ملاقات کوي.

هغوي سبا له پنځۀ بجې د ملاقات کولو وخت راکړو، چې هوټل نه په واپسۍ کښې راتلو هغې جينۍ راته وئيل دا خو ډېر خطرناک سړے دے د دۀ سره څۀ د پاره ملاوېږې؟ زۀ پوهـ شوم چې زما پنجابي ملګري دې جينۍ ته خپل حال نۀ دے وئيلے، ما هغې جينۍ

ته واضحه کړه چې زۀ دۀ سره د کاروبار کولو په سلسله کښې ملاوېږم، هغې جینۍ وئیل د دۀ خو ټول کاروبار دو نمبر دے، تاسو ورسره د کوم روزګار په سلسله کښې ملاوېږئ؟

ما وئیل زۀ د زمرودو د غمو د کاڼو کاروبار کوم، هغې وئیل په دۀ باندې د حکومت بې شماره ټېکسونه پورې دي هغه حکومت له نۀ ورکوي، دا سړے دلته کښې لوے بدمعاش ګڼلے شي. ما ورته ووئیل بیا خو پکار دي چې زما د پاره چرته کښې وسله وګورې ځکه چې دا رنګ سړي سره خو بې وسلې ملاوېدل پکار نۀ دي.

لنډه داچې د وسلې تر دوکان لاړو، دغې ګاونډۍ جینۍ وئیل چې دلته کښې د چا سره پرمټ نۀ وي هغۀ باندې وسله نۀ خرڅېږي البته په فلاني ځاے کښې دوکان دے هلته زړې وسلې بې پرمټه خرڅېږي. اخر دا چې د زړو وسلو تر دوکان لاړو. په ۱۹۴۲ء کښې یو جرمنۍ تماچه جوړه شوې وه چې په هغه نمونه تماچه ماسره په کلي کښې هم وه او هر وخت به په کلي کښې ماسره موجوده وه، یعني زما لاس پرې ښۀ بلد وۀ. هغه د دوکانداره په لس مارکه ترلاسه کړه. دوباره مې دوکاندار ته وئیل کارتوسونه هم راواخله. هغۀ وئیل کاروتوسونه نشته دے او نۀ دلته کښې خرڅېږي ما جواب ورکړو چې تماچه اخستل خو بیا فضول دي؟ دوکاندار وئیل دا تماچې زمونږ نه ډرامو او فلمونو والا اخلي البته مونږ سره د دې د پاره د تشو دارو نه ډک کارتوس شته خو ګولۍ په کښې نۀ وي خو ډزې برابر کوي او بله دا چې کارتوس هم خُلې ته ورخېژي د هغې باوجود ئې شپېلۍ په قلايۍ بنده کړې وي چې د تشو دارو لمبه هم چاته نقصان ورنۀ کړي.

د تماچې اخستو سره ئې لس کارتوسونه هم راکړل چې هغه تماچه نن هم زما سره ده او ډېر ښۀ کار کوي. هغې جینۍ وئیل ولې تۀ

د فلمونو ډرامو کاروبار هم کوې؟ ما وئیل دا تماچه زمونږ په کلي کښې ډېر خلق خوښوي، دا به زۀ د ځان سره کلي ته وړم.

په سبا له مې دا سوچونه کول چې د هوټل دې مالک سره به څۀ رنګ ملاوېږم او څۀ به ورسره کوم؟ پنجابي ملګري خو د بېنک چک راکړے دے چې د هوټل مالک ته ټول رقم واپس کړه خو رقم ورکول زما خيال نۀ وۀ، ځکه چې دۀ زياتے هم کړے دے او پنجابے لا په هسپتال کښې پروت دے او د دې د پاسه به لا رقم ورکوم. ګرانه ده خو د ماشوموالي نه مې تربيت داسې شوے دے چې بدمعاشي کول راته د وخت د سره غلط فعل ښکاري خو د چا بدمعاشي منل راته د هغې نه زيات غلط ښکاري. هغه جينۍ ووئيل زما د ډيوټۍ کولو وخت دے زۀ سحر اتۀ بجې ډيوټۍ له ځم او مازيګر څلور بجې واپس راځم، ستا څۀ پروګرام دے؟ ما وئيل زۀ به تر څلورو بجو پورې خوب کوم، هرکله چې تۀ د ډيوټۍ نه واپس راشې نو زما سره به تر دې هوټله پورې ځې ځکه چې دا هوټل زۀ دوباره نۀ شم معلومولے.

هرکله چې هغه جينۍ د ډيوټۍ نه واپس راغله پوره په پنځۀ بجې تر هوټله پورې لاړو. دې جينۍ ته مې وئيل تۀ واپس خپل کور ته ځه. د هوټل د مالک په دغه هوټل کښې درې چهته لاندې شيشه بند دفتر وۀ، چې ورغلم اول ئې د پېژندګلو پوښتنه وکړه. دوباره ئې وئيل په کومه ژبه باندې پوهېږې؟ ما وئيل په انګرېزۍ ژبه باندې خبرې کوم، زما نامه ارشد ده پاکستانے يم او نن سبا د زمرودو کاروبار کوم. زما د يو ملګري نه تا د برش زره مارکه په زور اخستي دي، وهلے دې هم دے چې د هغې وهلو د لاسه نن په هسپتال کښې پروت دے.

هغۀ وئيل ستا هغې ملګري ته زما اويازره مارکه نور هم کېږي کۀ تۀ چرې د هغۀ ملګرے يې نو بقايا اويازره مارکه تر ماپورې

راورسوه هسې نه چې دوباره په وهلو کښې مړ شي. ما ووئیل هغه د پرش زره مارکه ما له واپس راکړه چې کوم تا د هغهٔ نه په زور اخستي دي او کهٔ تهٔ چرې انسان یې او د انسانیت خیال ساتې نو پکار دي چې هغهٔ له د هسپتال تاوان هم ورکړې.

اول خو ئې ماته ډېر وران وران وکتل بیا ئې وئیل کهٔ ور نهٔ کړم نو بیا؟

ما ووئیل ما خو درته خبره وکړه چې زما ملګرے دے یا ماله د هغهٔ د پرش زره مارکه واپس راکړه او یا مې دا رنګ ووهه لکه څهٔ رنګ چې دې زما هغه ملګرے وهلے دے.

الفانسو ووئیل هغهٔ زما سره زیاتے کړے دے تا زما سره زیاتے کړے نهٔ دے سبا تر دولسو بجو پورې ماله بقایا رقم راوړه او راشه.

ما وئیل سمه ده سبا له به راشم خو په هغه د پرش زرو مارکو پسې به راځم.

ماښام کښې پنجابي ملګري له تپوس د پاره ورغلم او دا خبره مې ورته هم وکړه، هغهٔ وئیل ما خو تاته د بېنک چِک در کړے دے شکر وباسه چې لاوهلے ئې نهٔ یې، دا مارکه واپس ورکړه.

د شپې د ځان سره دا سوچونه کوم چې پنجابي ملګرے مې وائي چې رقم واپس ورکړه او پردے وطن دے، دلته کښې د پنجابي د پاره ولې پښتو وکړم؟ دوباره مې خیال راغلے چې دا خو ډېره بې غېرتي ده چې په داسې حالاتو کښې لا پېسې هم ورکړم. اخر دا چې د ځان د خلاصولو د پاره مې تماچه راواخسته. منت زاري به ورته وکړم، کهٔ د پنجابي رقم ئې بیا هم رانهٔ کړلو بیا به زهٔ دا رقم ورکړم.

چې څهٔ رنګ هوټل ته د هغهٔ شیشه بند دفتر ته ورغلم د دفتر نه بهر ټول خلق ښکاریدل، د هوټل مالک الفانسو په ډېره غصه کښې چاسره په ټېلي فون لګیا وهٔ چې څهٔ رنګ زهٔ دفتر ته ورننوتم، په غصه

کښې ئې ټېلي فون کښېښنودۀ او ماته ئې په غصه کښې ووئیل، تۀ بیا راغلې؟ په دې کښې ئې په ټلې باندې لاس کښېښنودلو چې ما په شیشه کښې وکتل پنځۀ شپږ کسان پرانستې متې راروان وو، زۀ پوه شوم چې دوي خو زما په وهلو پسې راغلل، زۀ د مېز نه ورتاؤ شوم، تماچه مې لاس کښې ونیوه، کارتوس مې ور وخېژلو، په سر باندې مې ورله تماچه کښېښنوده، هغۀ یوه لویه چغه د خُلې نه وویسته، چې په ما باندې ګوزار ونۀ کړې، حکم کوه زۀ څۀ وکړم؟ ما وئیل هغه د برش زره مارکه ماته وشماره.

هغۀ چې مارکونه شمارل ما سوچ کوۀ چې بهر به څۀ رنګ وځم؟ چې د برش زره مارکه مې ترلاسه کړل دوباره ئې ووئیل: نور حکم؟

ما وئیل شل زره مارکه جرمانه راکړه، چې هغه مې وصول کړل بیا ئې وئیل بل حکم؟ ماوئیل پولیس ته ټېلي فون وکړه، کۀ ستا په ټېلي فون باندې په یو منټ کښې پولیس رانغې ما به ویشتې یې او دا کوتک مار دې هم د دفتر نه بهر کړه. سمدستې ئې د دفتر نه سړي بهر کړل او پولیس هم زر راغې، پولیس د راتلو سره په ما باندې تماچه کښېښنوده، ما وئیل تاسو زما په حکم باندې راغوښتلي شوي یئ. چې څۀ رنګ پولیس زما نه تماچه ترلاسه کړه او تماچې ته ئې په غور وکتل نو په خندا شو. ما ورته ټوله قیصه تېره کړه چې زما ملګرے ئې وهلے دے اوس هم په هسپتال کښې پروت دے او لا د برش زره مارکه ئې هم د هغۀ نه اخستي دي. هرکله چې ما د دۀ نه د هغې مارکونو مطالبه وکړه چې هغه راکړه، دۀ د ټلې په ذریعه پنځۀ شپږ کوتکمار په ماپسې راوستل کومو چې زما ملګرے وهلے دے، ما دۀ له په سر باندې تماچه کښېښنوده، مخکښې مې ترې نه د ملګري هغه د برش زره

مارکه واخستل، دوباره مې خیال شو چې د دوي نه زهٔ د دې ځاے نه وتلے نهٔ شم بیا مې په دهٔ باندې تاسو ته ټېلي فون وکړو.

د پولیس یو مشر راغے مونږ دواړو ته ئې لاسو کښې هتکړۍ واچولې او د پولیس په حراست کښې د پولیس تر دفتره لاړلو. هلته کښې د پولیس هغه مشر وئیل هسې خو تهٔ د انعام قابل یې ځکه چې زمونږ پوره یو کال وشو چې په دهٔ پسې ګرځو او زمونږ په لاس نهٔ راځي او نن د لوبو په تماچه ستا په ذریعه مونږ ونیولو.

الفانسو چې د دروغو د تماچې نامه تر غوږه شوه ډېر په غصه باندې ئې ماته وکتل او د بدمعاشۍ په لهجه کښې ووئیل. په ما باندې خو د پېسو د ټېکس کېس دے سبا له به پېسې ورکړم خلاص به شم خو بیا به تهٔ زما نه څهٔ رنګ خلاصېږې؟

پولیس وئیل په دې باره کښې زمونږ قانون وائي چې هرکله تا په چا باندې د مرګ ویره تېره کړه، د هغې د زرو مارکو نه واخله تر یو لاکھ مارکوپورې جرمانه ده او ځنې وخت کښې جېل هم کېدے شي. البته دا هم کېدے شي چې مجسټرېټ دې هسې پرېږدي چې مونږ ورته ستا دا قیصه تېره کړو او تاله انعام هم درکړي او کهٔ ستا رضا وي چې زهٔ ځمه او بیا واپس نهٔ راځم نو تا به مونږ زر مارکه جرمانه کړو.

ما وئیل زهٔ زر مارکه چاله ورکول نهٔ غواړم ما مجسټرېټ ته حواله کړئ او زما دا قیصه ورته هم تېره کړئ ځکه چې دې بدمعاش ستاسو مخامخ ماله دمکي هم راکړه چې مجسټرېټ ماله اجازت راکړي چې د نقلي وسلې په ځاے کم از کم اصلي وسله د ځان د حفاظت کولو د پاره ګرځولے شم. پولیس جواب راکړو دا کوشش به ستا د پاره هم وکړو. هغه ئې حوالات ته دننه کړو او زهٔ ئې د دفتر بلې کمرې ته بوتلم. د دې د پاره چې دا خبره درته د هغهٔ په مخامخ ونهٔ کړو

پولیس وئیل دلته کښې تاله پرمټ ځوک هم درکولے نۀ شي. البته په دې کاغذونو باندې دستخط وکړه او خپله پته پرې مکمل ولیکه. تا مونږ هسې هم پرېږدو البته په تاپسې په درې موټرو کښې هغې هوټل ته مونږ دولس کسان درغلي يُو نو کۀ مجسټرېټ د هغې څۀ جرمانه لګوي هغه جرمانه به مونږ ادا کړو او تۀ چې په فرانکفورټ ښار کښې چې په کوم ځاے کښې وسېږې د هغه ځاے پولیس ته به اطلاع ورکړو چې ستا حفاظت کوي.

ما ورته وئیل چې پرمټ کېدے نۀ شي نو هغه خپله تماچه خو راکړئ. هغوي وئیل مونږ په عدالت کښې دا ښایو هرکله چې کېس ختم شي خپله تماچه به تاته حواله شي.

هغه تماچه ئې په میاشت کښې راوړه، د هغې نه پس یوه ورځ نیمه مې د پنجابي ملګري سره تېره کړه، هغۀ ته مې دا ټول حالات بیان کړل، خو پنجابے بیا هم ویرېدلو، هغۀ وئیل کۀ اوس څۀ رقم زما نه غواړې. ما پنجابي ته واضحه کړه چې د هغۀ د رقم ستا سره اوس څۀ کار نشته، دا معامله اوس زما او د هغۀ ده. هغۀ وئیل نیم رقم ستا شو او نیم زما، ما ورته ووې اویازره مارکه چې کوم ستا په بېنک کښې دي هغه ستا شو، کوم دېرش زره مارکه چې ما د الفانسو نه وصول کړي دي هغه زما شو چې کوم وخت ترې نه واپس راتلم نو د هغې نوے موټر چابي ئې راکړه چې دا هم ستا شو او چې کوم وخت کښې د دې لوري نه تلم نو د یو ملګري نه مې د کرایې د پاره قرض پېسې اخستې وې او د هغې طرف نه د پنجابي ملګري په نوي موټر کښې سره د پنځوسو زرو مارکو راغلم. ټولو ملګرو مې وئیل نۀ دې د ټېلي فون نمبر او نۀ دې څۀ پته پرېښې وه ځکه چې ډاکټر علي خان او د هغۀ ښځه په تاپسې درې ورځې راتلل مونږ ته ئې وئیل هرکله چې راشي نو

زمونږ سره دې په ټېلي فون رابطه وکړي.

اخر د علي خان کور ته مې ټېلي فون وکړو، د ډاکټر علي خان ډاکټرې ښځې ټېلي فون اوچت کړو، وئيل ئې سمدستي زمونږ تر کوره راشه. هرکله چې هلته ورغلم نو هسپتال ته ئې روان کړم، د هغوي په هسپتال کښې پنځوس ماشومان وو، ډاکټرې وئيل دوي په تاپسې په دارنګ خفه دي چې د خفګان نه خوراک څښاک نۀ کوي او هر وخت ورته د خوب کولو د پاره ستنې وهو.

دا ذهني مريضان ماشومان په اصل کښې څوک د پنځويشتو کالو دے او څوک د څلورويشتو کالو دے، څوک د شلو کالو دے، خو د دوي مازغۀ وده نۀ کوي نو ذهني عمر د چا شپږ کاله وۀ، د چا پنځۀ کاله وۀ د چا لس يولس کاله وۀ، په قد باندې ټول شپږ فټي وو او په وجود باندې ښۀ غټ او تندرست وو ځکه چې دوي فقط خوراک څښاک کولو بل څۀ کار ئې نۀ وۀ.

هرکله چې زۀ هسپتال ته ورغلم په دې ماشومانو کښې څۀ په منډه راغلل او دغه شپږ فټي ماشوم زما ترغېږې راټوپ کړو، زۀ ئې راګوزار کړم، څوک مې په پښو باندې ناست وو او څوک مې په خېټه باندې ناست وو، د علي خان ډاکټرې ښځې وئيل دوي دې ولې د ځان سره په دا رنګ بلدول چې اوس بې ستا نه خوراک څښاک هم نۀ کوي. په دې وجه مونږ وايو چې تۀ دلته کښې مستقل پاتې شه، ځومره تنخوا چې تۀ غواړې تاته به ملاوېږي. ما وئيل زما خو يوه مياشت کورس پاتې دے، وريسې امتحان دے، بيا به خپل کلي ته ځم. ډاکټرې وئيل تاته د څۀ کمے دے چې کلي ته ځې؟ البته کۀ زړۀ دې غواړي نو خپل ټول خاندان دلته کښې راوستے شې او زمونږه د کوره هم ورله ښۀ کور اخستے شې او تنخوا به هم ستا په طبيعت باندې تاته ملاوېږي. چې ما

د دې هرڅهٔ باوجود انکار وکړو. ډاکټر علي خان خپلې ډاکټرې ښځې ته ووئیل چې دې خو په خُلهٔ باندې حال نهٔ وائي البته عادتونه ئې ګوره چې ذهن د بادشاهانو لري دا پته نهٔ لګي چې دې په خپل کلي وطن کښې څهٔ رتبه لري؟

ډاکټرې دوباره ووئیل اخر په کلي کښې ستا څهٔ دي؟ تهٔ په څهٔ پسې ځې؟ ما وئیل په کلي کښې زمونږ حجره ده، کچه دېوالونه ئې دي، یوڅو جولنګۍ کټونه په کښې پراتهٔ وي چې په هغې کښې زهٔ اودهٔ شم او ډېر خوب او ارام په کښې وکړم لکه څوک چې د ټولې دنیا بادشاه وي او بالکل غم ئې نهٔ وي.

ډاکټرې وئیل د هسپتال دا ذهني مریضان ماشومان به په تاپسې مړهٔ شي. کهٔ خامخا ځې او نهٔ پاتې کېږې بیا د هرې ورځې په ځائے دې ماشومانو سره څلور ورځې پس ملاوېږه بیا ورو ورو هفته پس ملاوېږه د دې سره ورو ورو ستا تعلق د دوي سره ختم شي.

ما وئیل زمونږ په کلي کښې خو پاګلان خلق کاڼو وولي او څوک ئې په پړو باندې تړي او دلته کښې د دې ماشومانو د پاره ښهٔ ښهٔ هسپتالونه او ښهٔ علاجونه شته دے او ستاسو په شان ښهٔ ډاکټران هم شته دے. هلته کښې زمونږ روغ خلق د خپلو روزمره مشکلاتو او تکلیفونو دلاسه لېوني کېږي. هرکله کهٔ زهٔ دلته کښې نور پاتې شوم نو د دې سپکنډونو او منتهونو د لاسه به لېونے شم. هغوي وئیل د سپکنډونو د لاسه به څهٔ رنګ لېونے شې؟ ما وئیل نن زما دریمه ورځ ده چې دلته کښې د ډیوټۍ د پاره راځم نو شل منټه کښې مې دلته رارسوي، یوه ورځې هم په دغه رنګ د ډیوټۍ د پاره راتلم، هغه ګاډي له پنځهٔ منټه کم یعني لېټ راورسېدم رېل ګاډے تلے وهٔ، په بله ورځ

دغه ګاډي له یو منټ وروستو ورسېدم هم ګاډے تلے وۀ. نن هم پنځۀ منټه لېټ ورغلم هم ګاډے تلے وۀ.

ډاکټرې وئیل پنځۀ منټه مخکښې راروانېږه.

ما وئیل زۀ پاکستاني خېبر میل او د خوښکو د ګاډي بلد یم، خېبر میل چې د پېښور نه تر کراچۍ پورې ځي په یوه ورځ کښې سړے تر لاهوره رسوي او په بله ورځ ئې تر کراچۍ رسوي او هره ورځ په اخبار کښې راځي چې د شپې پنځۀ منټه د پاسه اتۀ بجې به کراچۍ ته روانېږي. هرکله چې دا ګاډے د پېښور نه کراچۍ ته روان شوے دے نو د نهۀ بجو نه مخکښې روان شوے نۀ دے. بل ګاډے دے چې مونږ ورته بس وایو چې د چارسدې نه تر نوښاره پورې په ورځ کښې دوه پېرې کوي. ټوله لاره پنځویشت کلومیټره ده دا بس د خوښکو او د نیستې په لاره تر نوښاره ځي. کۀ د خوښکو په روډ باندې یا د نیستې په روډ باندې څوک هم اشاره ورکړي، هغه بس اتال کړي، بس واله تۀ صبر وکړه مېلمانۀ راځي تر نوښاره ئې بوځه. ډرائېور وائي مېلمانۀ کوم ځائے دي؟ ماته خو هغوي نۀ ښکاري، هغه وائي په کور کښې چائیو ښنبو ته ناست دي چې چائې وښنبي بیا به تاسره ځي. نو مونږه د داقسمه ګاډو عادت خلق یُو چې زمونږ مېلمه ته هم یوه ګېنټه ایسار وي. دلته کښې خو ستاسو ګاډي یو سېکنډ هم چاته نۀ ایسارېږي.

علي خان ډاکټر ووئیل آیا دغه پروګرام تۀ ښۀ ګڼے او کۀ بد؟

ما وئیل هلته کښې مشینان مونږ خپل تابع کړي دي، زمونږ په طبع باندې ودرېږي او روانېږي، تاسو خپل ځان د دغه مشینانو تابع کړے دے ځکه چې تاسو ته د یو سېکنډ د پاره نۀ ایسارېږي. دغه شان دا خلق زما تر نظره انسان په نظر نۀ راځي دوي هم ماته د مشینانو په شان ښکاري.

ډاکټر وئيل دا خو دې ډېره دلچسپه خبره وکړه، زۀ پوه شومه چې تا په دير سپيګل رساله کښې کوم يو مضمون ليکلے وۀ ايا په هغې باندې جرمنيان ولې خفه شوي وو او ستا په لاس ليک ئې تنقيدونه کول. ما ورته واضحه کړه چې هغوي دا تنقيدونه کول چې د ايشيا نه څوک راغلے دے، دې زمونږ تهذيب ته، زمونږ تمدن ته په سپک نظر ګوري ځکه چې ما په هغې مضمون کښې ليکلي وو چې په جرمني او جاپان غوندې ملکونو باندې د دوېم جنګ عظيم نه پس وسله بنده شوه نو د دوي ټول خيالونه کارخانو پله وګرځېدل او د کارخانو په ټيکنالوژۍ کښې ئې مهارت حاصل کړو، د ټولې دنيا مارکيټ ئې تر لاسه کړو، خو د دې سره سره په انساني اخلاقو باندې د ټولې دنيا نه لاندې راپرېوتل. بيخي خانداني پروګرامونه ئې ختم شو، دې ته هم سوچ پکار دے چې انسان، انسان پاتې نۀ شي نو د دۀ د کارخانو ټيکنالوژي به چاته فائده رسوي؟ د دې په ثبوت کښې مې د يوې ښځې او خاوند نه يعني د دواړو نه په مختلفو وختونو کښې انټروي ترلاسه کړې وه او بيا په مضمون کښې چاپ شوې هم وه. د هغې حواله مې ورکړه چې ښځه او خاوند دواړه سره يو ځاے ناست وو، ډېر ښکلے کور ئې وۀ، په ظاهره باندې ډېره خوشحاله کورنۍ ښکارېده، د هغوي نه مې تپوس وکړو چې په تاسو په ټول ژوند کښې د خفګان وختونه کوم کوم راغلي دي؟ خاوند ئې ووئيل دا زما درېمه ښځه ده، زما د وړومبۍ ښځې نه دوه بچي دي، دغه شان ښځې ئې ووئيل دا زما څلورم خاوند دے، د دۀ نه مخکښې درې خاوندان پرېښودلي دي. زما د دوېم خاوند نه يو بچے وۀ او د درېم خاوند نه هم يو بچے وۀ. دغه شان زما بچي د دې موجوده خاوند بچي نۀ دي او د دۀ بچي زما بچي نۀ دي. د چُټۍ په ورځ زما دا خاوند تر خپلو بچو ځي او زۀ تر خپلو بچو

ځم، دې دا کوشش کوي چې په داسې ورځ تر خپلو بچو لاړ شي چې په هغه ورځ ورپسې خپله مور راغلې نۀ وي. دغسې مونږ دا خپل بچې تر خپل کوره راوستے نۀ شو. دغه وخت زمونږ ټولو وختونو نه د خفګان باعث وي. زمونږ د دواړو عمرونه داسې وخت له رسېدلي دي چې د خپلو غلطو احساس راسره وي خو د هغې غلطو د ختمولو ځۀ لاره مونږ ته نۀ ښکاري ځکه چې ژوند په مخه روان دے. هغه زوړ ژوند اوس واپس نۀ راځي. د سرکار د اعداد و شمار نه دا خبره ثابته ده چې د شلو فیصدو نه کمې ښځې ټول عمر د یو خاوند سره تېروي. کورونه او خاندانونه د یوې ښځې او د یو خاوند نه جوړېږي، هغوي خپل بچي په یو کور کښې ساتلے نۀ شي. دغه شان وړاندې یو کور وي بیا ترې نه خاندان جوړ شي او چې زیاتېږي زیاتېږي بیا ترې نه یو قوم جوړ شي.

ما ورته وئیل تۀ مسلمان یې، خدائے پاک په قرآن کښې وائي ما د یوې ښځې او یو سړي نه پېدا کړے او بیا مې په بېلو قبیلو کښې او په قومونو کښې تقسیم کړے چې ستاسو پېژندګلو وشي. زۀ وایم جرمنیان په خپله قوم پرستۍ کښې ډېر مشهور دي یعني د دوي دا نسل چې لوے شي په سرکاري خرچونو باندې تعلیم او تربیت هم حاصل کړي، په سرکاري توګه ئې علاج معالجه هم کېږي خو خپل مور او پلار نۀ پېژني. حېراني ده چې دوي به خپله پېژندګلو ځۀ رنګ کوي؟ د هغې نه پس د روس او افغانستان په لاره خپل کلي ته راغلم.

په پاکستان کښې زمونږ اکثر خلق خپله صوبه پرېږدي او په سندھ او پنجاب کښې مزدوري کوي او د دې ځائے په غرونو کښې چې ګېس او یا نور معدنیات دریافت شي نو مرکزي حکومت ئې خپل ملکیت وګرځوي او د قانون په نامه باندې چې په کومه صوبه کښې دریافت شوي وي هغې له د رائلټي حق هم نۀ ورکوي.

په سوات کښې د زمرودو د کانونو چې مرکزي حکومت ئې اختیار مند وۀ پنځلس کاله مخکښې بندشوي دي. وائي چې په دې مونږه تاوان وکړو. په پاکستان کښې ټولې صوبې په سوونو کلونو مخکښې جوړې شوې دي دپاکستان یو اویاکاله وشو چې جوړ شوے دے خو د دغې صوبې وسېدونکو ته هم هیڅ فائده نۀ ده ورکړې شوې او نۀ ئې د دې په ګټه کښې شامله کړې ده. په دې ګټه کښې د بېورو کرېسي او د فوج یوڅو جرنېلان او یا د هغې خاندانونو خلق چې کوم د انګرېزانو وفادار غلامان وو او د جاګیرونو ترمخه ئې خانۍ او نوابۍ ورکړې دي په پنجاب کښې چودهریان دي، په سندهـ کښې وډېره دي.

د جرمني د لائبرېرو نه په دغه رنګ ډېر کتابونه سره د پښتو ژبې د رسالو چې هفته وارې او میاشتیزې مونږه چاپ کولې، هرکله چې واپسي تر وطنه راتلم د روس او افغانستان په لاره باندې تر کابله راغلم. خپلو ملګرو ډېرې تحفې راکړې وې، بېلې بېلې تحفې مې په کابل کښې د هغوي تر کورونو ورسولې چې د چا په نامو باندې راکړې شوې وې. د پښتو ژبې د کتابونو تحفه چې اجمل خټک ترلاسه کړه نو حېران پاتې شو او وې وئیل چې مونږ خو تراوسه پورې په کاتبانو باندې د پښتو ژبې لیکل کوو تاسو په جرمني کښې د پښتو ژبې د لیکلو د پاره ټائپ څۀ رنګ پېدا کړو؟ مونږ ووئیل دا د فارسۍ ژبې د لیکلو ټائپ مونږ د پښتو ژبې د لیکلو د پاره په استعمال کښې راوستلو. په خندا کښې مې ووئیل ښاپېرک په "خ" باندې لیکو ځکه چې "ښ" په کښې نشته.

بیا لاړو جلال اباد ته هلته کښې د پښتو ژبې تاریخي کتابونه باچا خان د ټولو ملګرو د لورې تحفې ترمخه کړې. او نور مې یو هلک زما سره په دغه ملاقات کښې موجود وۀ انورباچاد مردان هغه

وسپړونکے وۀ چې په چا باندې د حیات خان د مرګ دعوه شوې وه.
باچاخان چې د پښتو ژبې کتابونه وکتل، ډېر خوشحاله شو وې وئیل زما ډېر وخت نه دا اراده وه چې زۀ به د پښتو ژبې یو اخبار شائع کوم او د هغې د پاره مې د پښتو ژبې په ترسته کښې پیسې محفوظې اېښې دي، خو چې ماته ستاسو غوندې خلق ملاو شول، زۀ د پښتو ژبې د اخبار شائع کولو ته سبا هم تیار یم.

ما ووئیل زمونږ غوندې ملګري خوستاسوډېر دي تاسود پښتو ژبې اخبار په هغوي باندې ولې نۀ شائع کولو؟ هغۀ وئیل دغه ملګري د اخبار په چلولو باندې نۀ پوهېږي او چې کوم خلق پرې پوهېږي هغه بزنس مېنان خلق دي اخبار ته د ګټې او تاوان په نظر ګوري، د دې د پاره ستاسو غوندې خلق پکار دي چې صحیح نظریه هم لري او صحیح مقصد هم لري او خپل ټول وخت دې له ورکړي چې خپله خبره تر خلقو ورسوي. د ګټې تاوان په سوچ باندې نه. ما وئیل دا ملګري خو په جرمني کښې دي او زیات په کښې سټوډنټان دي او زیات کسان په کښې د افغانستان دي چې په جرمني کښې مزدوري کوي او دا هم ممکنه نۀ ده چې د جرمني نه دې ستا د پښتو ژبې اخبار شورو شي.آیا د کابل نه دا کوشش پکار نۀ دے چې په اجمل خټک باندې د دې ځاے نه د پښتو ژبې اخبار شورو کړئ؟ هغۀ وئیل اجمل خټک خو د "شهباز" اخبار یوه پاڼه چلولې نۀ شوه، نو ټول اخبار به څۀ رنګ چلوي؟ لانن سبا خو د تره کي په حکومت کښې ناست دے د هغوي بنۀ وائي او په مونږ پسې خبرې کوي او یو کتاب ئې په مونږ پسې لیکلے هم دے خو خلقیان وائي اجمل خټک د دې کتاب رهنمائي کړې ده.

ما وئیل دا کتاب خو د کتلو دے دا به په کوم ځاے کښې ملاو شي چې دا هم مطالعه کړو او نامه ئې څۀ ده؟

باچاخان وئیل نامه ئې ده "دوسره خانان" نن سبا د خلقیانو حکومت دے په بازار کښې به درته په لاس راشي.

ما باچاخان ته ووئیل دوسره خانان ئې چاته وئیلي دي؟

هغۀ وئیل دا ئې مونږه ته وئیلي دي لکه خان عبدالغفار خان، خان عبدالولي خان.

د دې خبرو کولو سره انور ماته وکتل او مُسکے هم شو ځکه چې د کابل نه د راتلو په وخت کښې اجمل خټک زما سره تر موټره پورې راغلو او درې ځله ئې دا خبره وکړه چې کلي ته لاړ شې نو د دې خانانو په پارټۍ کښې به نۀ شاملېږې ځکه چې عنقریب ده چې زۀ او افراسیاب هم درشو هلته کښې به خپله پارټي جوړه کړو او په دې دوسره خانانو پسې نور نۀ ځو.

مونږ باچاخان ته دا خبرې ونۀ کړې البته دا پوښتنه ترې نه مونږه وکړه چې د خلقیانو د حکومت په باره کښې ستاسو څۀ خیال دے؟ باچاخان وئیل نورمحمدتره کۍ تر ما پورې راغلے وۀ، ما ورته ووئیل دا انقلاب نۀ دے، کۀ لږه غلطي دې وکړه نو دلته کښې به خانه جنګي شورو شي او دلته کښې اکثریت هم د پښتنو دے او ټول مسلمانان دي. هرکله چې په روس کښې انقلاب راغے نو اول ئې خپله روسي ژبه په کرسۍ باندې تعینات کړه، مخکښې به هلته خلقو انګریزي او فرانسیسي ژبه وئیله او فخر به ئې پرې کولو او خپلې ژبې ته ئې په ښۀ نظر نۀ کتل.

نورمحمد تره کۍ په دې باره کښې ووئیل زۀ خو په خپله غلجے پښتون یم او دلته کښې ستاسو مخکښې د محمدزو حکومت وۀ چې ټول خاندان کښې یو فرد له هم پښتو ژبه نۀ ورتله. باچاخان د نورمحمد تره کۍ او د خلقیانو په باره کښې څۀ ښۀ تاثر نۀ درلود البته

وئیل ئې دا نور خلق یعني ببرک کارمل، عنایت او میراکبر خېبر دغه ښهٔ خلق دي او هوښیار خلق هم دي چې دغه ټول پرچمیان وو.

څهٔ رنګ چې په جرمني کښې مونږ د ولي خان نه تپوسونه کړي وو په هغه رنګ تپوسونه مونږ د دهٔ نه هم وکړل چې تاسو د پښتنو د پاره او د پښتو ژبې د پرمختګ د پاره څهٔ کړي دي؟ هغهٔ وئیل پښتون رساله مونږه چلولې ده. ما وئیل دا خو د ۱۹۴۰ء خبره ده، د دې نه مخکښې وایه؟ هغهٔ وئیل ازاد سکولونه مونږه جوړ کړي وو، چې تاریخ، ثقافت او کلچر او خپل مذهب ئې په پښتو ژبه کښې ښودل او ما خپل بچي هم په هغې سکول کښې داخل کړي وو خو انګرېزانو په مونږه باندې هغه سکولونه بند کړل او څهٔ د مولیانو د پروپېګنډهو د لاسه چې هغوي به لادا هم وئیل" سبق د مدرسې وائي د پاره د پېسې وائي جنت کښې ئې ځائے نهٔ وي په دوزخ کښې به غوپې وهي". . د کانګرس او د کانګرس د مشرانو په باره کښې ترې نه مونږه څو تپوسونه وکړل چې دوي د پښتنو د پاره څهٔ کړي دي؟ هغهٔ وئیل ما خو په خپل کتاب کښې ورکړي دي چې ګاندهي او پټېل زما سره دوکه کړې ده او تر اخره وخته پورې ئې په دوکه کښې ساتلے وم، چې پاکستان جوړېدے نهٔ شي. مونږ ورته ووئیل د اول نه د کانګرس سره ولې شاملېدے؟ هغهٔ وئیل مسلم لیګ ډېر وروستو جوړ شوے دے کانګرس د ټول هندوستان پارټي وه او ټول مسلمانان لیډران چې وروستو ئې پارټۍ جوړې کړې سره د جناح او سره د علامه اقبال مخکښې په کانګرس کښې وو تر اخر وخته پورې ډېر ښهٔ ښهٔ مسلمانان په کانګرس کښې پاتې شول. څو څو کرته مونږه دا کوشش کړے دے چې د مسلم لیګ سره خبرې اترې وکړو خو زمونږه په ذهن کښې دا خبره وه چې انګرېز دې د دې وطن نه وروک شي د هغې نه پس

به مونږه ازاد شو. مسلم لیګو وئیل زمونږ د انګرېز سره مسئله نۀ ده، زمونږ مسئله د هندوانو سره ده چې د هندوانو سره مونږ په یو ځائے کښې وسېدے نۀ شو.

دغه خبره زمونږ ذهن نۀ اخسته بلکې زمونږه یو ملګري ورسره په دې خبره باندې حلق هم تریخ کړو چې زرګونه کلونه ورسره مونږ پاتې شوے یو اوس څۀ چل وشو چې شریک پاتې کېدے نۀ شو. هغۀ ووئیل مونږه مسلمانان یُو، زمونږه رسمونه رواجونه بېل دي او د دوي بېل دي. زمونږه ملګري ورته واضحه کړه چې اسلام زمونږ د علاقو نه په دې لوري راغلے دے کۀ نن دا په کروړونو مسلمانان وینئ دا مونږ د هندوانو نه مسلمانان کړي دي یو داسې مسلمان به ماته په ګوته کړے چې تراوسه پورې دوي هندو کړے وي البته ستاسو چې کومه علاقه په خیال کښې ده چې په پاکستان کښې به دا راځي کۀ دغه چرې هم راشي بیا به هم په کروړونو مسلمانان په هندوستان کښې پاتې شي. دا خو بیا د هندوستان تقسیم نۀ دے البته د مسلمانانو تقسیم دے.

مونږ ورته ووئیل دغه مذهبي خبره خو د هندوستان ټولو پارټو کړې ده. هغۀ وئیل بې شکه مونږ داسې د مذهب چاپ په ځان باندې نۀ لګولو ځکه چې زمونږ په علاقه کښې د مولیانو او میاګانو اکثریت د انګرېزانو سره وۀ او د هغوي د پاره ئې په مونږ باندې د کفر فتوې لګولې وې. مذهبي جوماتونو هم د یو هندوستان خبره کوله او د کانګرس هم دغه مدعا وه. مونږ وئیل تاسو پښتانۀ د علاقې ټول خپل تاریخ د مسلمانانو سره ولې نۀ شریکوۀ، په دې خبره باندې غصه شو وې وئیل تاسو خو د پاکستاني اخبار په شان مانه تپوسونه کوے. ما وئیل اوس د جرمني نه راغلم، د چارسدې یم، مور پلار مې دواړه پښتانۀ دي، نۀ میا یم او نۀ ملا یم او نۀ اخبار والا یم، مونږ پښتانۀ یُو

خاص کر مونږ د پښتنو په باره کښې تپوسونه کوو تاسو د پښتنو د مشر په حېث باندې کانګرس پښتنو ته څۀ فائدې ورکولې چې هغه دې نورو سیاسي او مذهبي پارټو نۀ ورکولې؟ هغۀ ووئیل کانګرس د هندوستان د ټولو نه لویه پارټي وه چې هرکله به الیکشن کېدو نو په اکثریت کښې به کانګرس راتلو، د انګرېزانو د ویستلو خبره هم کانګرس شورو کړې وه دغه د ازادۍ لهر چې ټول هندوستان کښې یو شان خور وۀ هغې د عوامو اکثریت کانګرس طرف ته مائل کړے وۀ، کۀ مسلمانان وو او کۀ نور خلق او کۀ نورو مذهبونو والا وو، بل د کانګرس پارټۍ ائین سیکولر بنیاد باندې جوړ وۀ. د هندوستان ټولو صوبو ته مکمل اختیار ورکړے وۀ چې د الیکشن په بنیادونو په جمهوري طریقه صوبائي حکومتونه د عوامو په خوښه باندې ترمېنځه راشي بیا د هغوي خوښه ده چې د خپلې صوبې د ترقۍ د پاره څۀ قسمه ائین او قانون غواړي هغه جوړولے شي.

د ازادۍ نه پس کانګرس ثابته کړه چې په هندوستان کښې ټولې صوبې خودمختاره دي چې په خپله صوبه کښې څۀ قسمه قانون نافذ کول غواړي هغه نافذ کولے شي. د وفاق سره چې څۀ مسئله راشي نو د هغې صوبې مشران کۀ هغه فیصله کوي چې هغه د هغې صوبې په ګټه باندې تمامېږي. د صوبو د ازادۍ او خودمختارۍ تر مخه هندوستان ورځ تر ورځه د ترقۍ په لار باندې ګامزن دے او د صوبو ترقي د هندوستان وفاق له ګټه ورکوي. وفاق ئې نور هم مضبوط کړلو. ما ورته دوباره دا خبره وکړله چې زۀ ستا نه د هندوستان او د کانګرس تپوسونه کول نۀ غواړم زۀ ستا نه د پښتون د مشر په حېث تپوس کوم چې د پښتنو په کانګرس کښې د شاملېدو څۀ ګټه وه او د دې نورو پارټو سره په شاملېدو کښې څۀ نقصان وۀ؟

باچاخان: کانګرس د هندوستان د ټولو پارټو نه لويه پارټي وه. د اليکشن ترمخه به هم دوي په اقتدار کښې راتلل او مونږ به په صوبه کښې خپل اليکشن ګټلے شو چې په صوبه کښې زمونږه حکومت وۀ او په مرکز کښې د کانګرس حکومت وۀ نو زمونږ صوبې به ډېره ترقي کړې وه. ما وئيل تاسو دې طرف ته نۀ کتل چې پاکستان جوړ شي نو زمونږ به څۀ حال وي؟ هغۀ ووئيل د انګرېزانو د ازادۍ نه يو کال وړاندې يعني په ۱۹۴۶ء کښې په دهلي کښې د کانګرس يوه غونډه وه چې په هغې کښې ګاندهي او پټېل زما سره وعده کړې وه چې هندوستان به ماتېدو ته نۀ پرېږدو ځکه خو ما په خپل کتاب کښې ليکلي دي چې ګاندهي او پټېل زما سره دوکه کړې ده، بلکې دا مې هم د غصې نه ليکلي دي چې مونږ ئې شرمخانو ته حواله کړو او د هغوي په رحم وکرم ئې پرېښودلو کۀ چرې يو کال ئې مخکښې مونږ ته وئيلي وو نو مونږ به د ځان د پاره څۀ بندوبست کړے وۀ.

مونږ وئيل د پښتونستان دا خبره څۀ رنګ شورو شوې ده؟

هغۀ وئيل د پارټۍ کارکنان هم راغونډ شوي وو په بنو کښې په ۱۹۴۶ء کښې د ووټونو په اکثريت باندې د ازاد پښتونستان اعلان وشو خو ما په هغه وخت کښې هم د دې خبرې مخالفت کړے دے او اوس ئې هم مخالفت کوم، ځکه چې ماته دا خبره سمه نۀ ښکارېده. مونږ نۀ د هندوستان د ازادې صوبې مطالبه کړې ده او نۀ د پاکستان د ازادې صوبې خبره کړې ده البته زمونږ په پارټۍ کښې د ځنو پښتنو دا خيال وۀ چې دا دې ځان له يوه ازاده صوبه شي او زما بيا هم دا خيال وۀ چې پاکستان به ټول عمر ژوندے پاتې نۀ شي او کۀ چرې ژوندے پاتې شو او د کانګرس په شان هرې صوبې ته خودمختاري ورکړي نو په وفاق کښې د وسېدو سره زمونږ د صوبې ګټه وه.

ما وئیل د افغانستان سره خو هم د ډېر پخوا نه تعلقات دي دوي خو هم پاکستان په رسمیت باندې منلے نۀ دے.

هغۀ وئیل د ازادۍ په وخت کښې ئې دا وئیلي وو چې زمونږ ځۀ حصه زمکه پاکستان کښې شامله ده چې انګرېزانو زمونږ نه په زور باندې اخستې وه چې تر کوم وخته پورې دا تنازعه ختمه شوې نۀ وي نو ترهغې وخته پورې مونږ پاکستان په رسمیت باندې نۀ منو.

مونږ ورته ووئیل کۀ دا خبره تاسو د دوي سره برابر کړې وه نو ښه به نۀ وې؟

هغۀ وئیل هندوستان سره پاتې شوې علاقو کښې سره د پاکستانه جمهوري حکومتونه مېنځ ته راغلل چې دا الېکشن په ۱۹۴۶ء کښې شوے او هرکله په صوبه کښې زمونږه حکومت راغلے وۀ او په افغانستان کښې شاهي حکومت وۀ نو مونږ ته د خراب نه خراب جمهوري نظام د باشاهت نه ښۀ ښکارېدو.

هرکله چې زۀ به جلال اباد ته لاړم په یو لوے کور کښې د شاهي مېلمه په حېث باندې به پاتې کېدم او اکثر به ځان له وسېدم. ظاهر شاه یوه ورځې خپل وزیران راولېږل. ما ورته دا ګیله وکړه چې تاسو په ما باندې پهره ولې ودرولې ده او ما بهر هم نۀ پرېږدے چې خپل پښتانۀ ورونړه ووینم او نۀ هغوي ماته راپرېږدے چې ما ووینې او په خپلو کښې ځۀ صلاح مشوره وکړو. د دې پابندو نه خو د هندوستان او پاکستان جېل هم زما دپاره ښۀ وۀ دخلقوسره به مې په جېل کښې رابطې کېدې، دبهرنه به راسره هم ملاقاتونه کېدل. وزیرانووئیل مونږه بادشاه رالېږلے یُو تۀ خو زمونږه ملي مشر یې بادشاه وائې چې دۀ ته ځۀ تکلیف وي ما دې اګاه کړي او کۀ چرې بیمار وي او په ټوله دنیا کښې کوم یو ملک ته د علاج د پاره ځي چې هلته کښې ئې ولېږو. زۀ پوه

شوم او ما اوربدلے هم وو چې د کابل بادشاهان د پښتنو نه ویرېږي او ستا نه هم په دې وجه باندې خوف کوي هسې نه چې د دې ځاے پښتانۀ په مونږ پسې راپاڅوي، مطلب مې دا دے چې د کابل بادشاهان هم د پښتنو په مسئلو کښې مخلص نۀ وو، د دې مجبورۍ د لاسه مونږ ځان د کانګرس سره تړلے وۀ او هغوي هم زمونږ سره دوکه وکړه.

پرې کړې پوزه:

(د حجرې يوه عبرتناکه قيصه)

په يو زوړ قبرستان کښې چا اواز وکړو چې دلته کښې په لحد کښې يوه ښځه پرته ده کفن پرې باندې هم نشته او ژوندۍ هم ده. ډېر خلق په دغه موقع باندې راجمع شول يو کس تر لحده سر ورښکته کړلو د هغې ښځې سره په لاس کښې چاړۀ وه سمدستي ئې ترې نه پوزه پرې کړه. هغې سړي په پوزه باندې لاس اېښے وۀ او په يو منډه باندې د هغې لحدنه راووتلو. دغه شان د ډېروخلقو نه ئې پوزې پرې کړې وې. په اخره کښې چا يو سپين ږيرے ورګوزار کړو چې د هغۀ نه ئې هم پوزه پرې کړه. هغه د قبر نه بهر راووتلو او ټولو حاضرينو ته ئې واضحه کړه چې د دغې ښځې سره خو په لاس کښې چاړۀ ده زما په پوزه ئې ګوزار وکړو.

چې سپين ږيري دا حال ووئيلو په دې کښې بل يو کس هم اواز وکړو چې دې ښځې زما نه هم پوزه پرې کړې ده. دغه شان ټول پوزه پرې کړي راټول شو وئيل ئې دې خو زمونږ د ټولو نه پوزې پرې کړې دي، دې ښځې له سزا ورکول پکار دي. سپين ږيري ووئيل اول دې هغه کس ځان وښائي چې اول ئې د چا نه پوزه پرې کړې ده. چې اولنے پوزه پرې کړي رامخکښې شو سپين ږيري ووئيل ستا د دې پرې کړې پوزې سزا

به دې ښځې له ورکړو د باقي چې ځومره پوزې پرې کړې شوې دي د هغې سزا به تاله درکړو. هغۀ ووئیل دا ولې؟ سپین ږیري ووئیل تۀ وړومبے سړے وے چې تانه ئې پوزه پرې کړه کۀ تا چرې دې نورو ته حال وئیلے وۀ چې دې ښځې زما نه پوزه پرې کړې ده نو دا نور خلق به بچ پاتې شوي وو.

د پښتنو د حجرې دا خبرې او د پښتو متلونه د دې مقصد د پاره وئیلي شوي دي چې خلق ترې نه عبرت واخلي چې په کومه کنده کښې تۀ پرېوتلے یې او هغه کنده بل ته په نظر باندې راولے نو بل ځوک خو به په کښې نۀ پرېوځي. مونږ پښتو کښې د ټولو نه خراب عادت هم دا دے چې په ځان باندې د پردې اچولو په نامه خپلې غلطۍ او خامۍ د کشرانو نه پټې وساتو. بیا دغه رنګ غلطۍ زمونږه هغه نسل باربار کوي او چې کله پرې پوه شي هغه هم دغه رنګ په ځان پرده واچوي. دغه شان دغه غلطي پټه پاتې شي.

د مثال په توګه باندې احمدشاه میاصیب او عبدالاکبرخان اکبر صیب دواړه ښۀ لائق او پوهه خلق وو احمدشاه میاصیب وکیل وۀ او عبدالاکبرخان اکبر ډېر ښۀ ادیب او شاعر وۀ او د ډېرو کتابونو لیکونکے هم وۀ په ۱۹۲۹ء کښې ئې د خدائي خدمتګارو د پارټۍ بنیاد اېښودے وۀ او د هغې د پاره ئې آئین جوړ کړے وۀ چې ځاے په ځاے او کلي په کلي به دا جرګې جوړوو او دا جرګې به په حجرو او جوماتونو باندې ګرځي او خلقو ته به وائي چې مونږه د پښتنو کور جوړول غواړو. د هندوستان ټولو قومونو د ځان د پاره سیاسي پارټۍ او نور تنظیمونه جوړ کړي دي چې د قوم سره صلاح مشوره باندې د قوم د ښېګړې کارونه وکړي او د هندوستان د نورو قومونو په صف کښې راشي. دوي د ځلوېښتو مشرانو یوه جرګه جوړه کړه چې زمونږ

ترمېنځه کومه مسئله راځي نو دا ځلوېښت مشران به د هغې فېصله کوي. په کومو کلو کښې چې جرګې جوړې شوې دي هرکله کۀ هغوي سره راغونډ شي نو هغوي بیا په لویه جرګه بللے شي. په دغه وخت کښې په ۱۹۳۱ء کښې باچاخان تر دلي لاړو ګاندهي او نهرو سره ئې د پښتنو دا تنظیم په کانګرس کښې شامل کړو خپله جنډا او نامه ئې ختمه کړله.

خدائي خدمتګاروته ئې د کانګرس رضاکاروتنظیم ووئیلواو د جرګې مشرانوته ئې د کانګرس په کمېټو کښې دشاملېدو خبره وړاندې کړه چې ډېرو کسانو ته په کانګرس کښې عهدې هم ملاو شوې. احمدشاه میا او عبدالاکبرخان چې د تنظیم صدر او سېکرټري هم وو دا جرګې راوبللې او په هغې کښې ئې د باچاخان نه دا تپوس هم وکړو چې تا زمونږ د صلاح مشورې نه بغېر دا جرګې او اصلاح افاغنه تنظیم او خدائي خدمتګار ځۀ د پاره په کانګرس کښې ضم کړل. مونږ خو د کانګرس په ملګرتیا باندې خفه یُو او غواړو چې د هغوي سره دې په شریکه باندې د انګرېزانو نه د ازادۍ مطالبه وکړو خو د خپل تنظیم د لاندې ځکه چې دا زمونږ وطن دے، دا زمونږه خلق دي، د دې وطن د خلقو په مسئلو باندې مونږه ښۀ پوهېږو، کانګرس د ټول هندوستان پارټي ده هرکله چې مونږ په دې کښې ضم شو نو مونږ به د دوي د ټولو فېصلو تابع یُو او زمونږ د خلقو د پاره فېصلې به هم دوي کوي. خو باچاخان د دوي دا خبره ونۀ منله. البته وئیل ئې دوي په ما باندې بې ګناه الزامونه لګوي، په پارټۍ کښې کار کول نۀ غواړي د پارټۍ نه د وتلو د پاره بانې لټوي، خلقو هم د باچاخان دغه خبرو ته رښتیا ووې.

د احمد شاه میا او عبدالاکبر خان یعني د صدر او جرنل سېکرټري په خبرو باندې ئې ځۀ کار ونۀ لرلو. تاریخ په خپله ثابته کړه

چې د احمدشاه میا او عبدالاکبر خان خبره صحیح وه.

باچاخان په خپل کتاب کښې په خپله وائي ګاندهي او پټېل زما سره دوکه کړې ده. د دوېم جنګ عظیم نه پس چې انګرېزانو ځان د هندوستانه خلاصولو نو کانګرس او د هندوستان نورو پارټو ته ئې مختلف تجویزونه وړاندې کړل چې په هغې کښې کېبینټ پلان او کرپس کمېشن قابل ذکر دي. په یو وخت کښې د دې فېصله وشوه چې د هندوستان ټولو صوبو ته به خودمختاري ورکوو او دا صوبه چې د خپل مذهب، د رسمونو او رواجونو مطابق د ځان د پاره څۀ قسمه قانون غواړي هغوي ته به اجازت وي، چې هغه دې ځان د پاره جوړ کړي. د کانګرس د لوري نه عبدالکلام ازاد چې هغه د کانګرس صدر هم وۀ، نهرو او نور ملګري دې خبرې ته تیار شول.

مسلم لیګ چې جناح او لیاقت علي خان ئې نمائندګي کوله هم په دې خبره راضي شول خو ګاندهي چې په دې خبره باندې خفه وۀ، د ختمولو د پاره ئې قسم قسم بانې لټولې. وئیل ئې چې هرکله ټولو صوبو ته مکمل خودمختاري ورکړو نو هندوستان خو به په شلو ټکړو تقسیم شي. انګرېزانو چې د ځان د پاره په هندوستان کښې څۀ رنګ مضبوط مرکز ساتلے دے مونږه هم هغه شان مرکز په هندوستان کښې ساتل غواړو او صوبو ته خودمختاري نۀ ورکوو. کانګرس پارټۍ په دې خبره باندې یوه اهمه غونډه راوبلله چې په هغې کښې د کانګرس ټولو مشرانو د ګاندهي دې خبرې ته غلطه ووئیله، تر دې حده پورې چې ګاندهي د کانګرس پارټۍ نه استعفٰی ورکړه فقط یو باچا خان د ګاندهي جي ملګرتیا وکړه چې د کانګرس ټولو مشرانو په طنزیه انداز کښې ووئیل چې باچاخان خو د ګډې په رنګ په ګاندهي پسې په هر لوري ځي. دې خو د هندوستان او د ګاندهي د هندوانو نه زیات

وفادار دے. په دې تجویز کښې زیاته ګټه د پښتنو دې صوبې ته راتلله. د هندوستان د ازادۍ نه مخکښې د پښتنو دې صوبې ته مکمله خودمختاري او ازادي ملاوېده خو فقط ګاندهي او باچاخان ئې مخالفت کړے وۀ.

جناح صیب د هندوستان د مسلمانانو خېر غوښتلو او بهر ئې خپلو ملګرو ته وئیلے وو چې په هره صوبه کښې خپل واک اختیار قایم شي چې هغوي سره د خپل ځان د پاره د قانون جوړولو اختیار هم وي چې په کومو صوبو کښې د مسلمانانو اکثریت دے نو هغوي دې په دغه صوبو کښې د خپل مذهب د رسمونو رواجونو مطابق قانون جوړ کړي. دغه شان د هندوانو او مسلمانانو ترمېنځه به جنګونه هم ونۀ شي او هندوستان به مات نۀ شي او مسلمانانو ته به خپل حق هم ترلاسه شي. جناح صیب چې په کومه خبره باندې خپله رضا ښکاره کوله ګاندهي به د هغې مخالفت کولو او چې ګاندهي په کوم لوري باندې تللو باچاخان به وریسې په پټو سترګو تللو. د بنګال مسلمانان په دې خبره باندې هم ډېر خوشحاله ووکۀ دا خبره چرې منلې شوې وې نو نۀ به پاکستان جوړ شوے وے او نۀ به د بنګله دېش د جوړېدو څۀ ضرورت پاتې شوے وۀ. په دغه وخت کښې باچاخان د پښتنو د ضرورت نه واقف وۀ او نۀ د دغه وخت د حالاتو نه خبر وۀ. د انګرېزانو او کانګرس ترمېنځه کومې خبرې چې کېدې او په دې کښې چې زمونږ د صوبې په حواله کومې خبرې کېدې، د دې خبرو نه باچاخان هډو ځان خبر کړے نۀ وۀ. د انګرېزانو په زړۀ کښې دا وو چې دا خو د کانګرس پارټۍ یو فرد دے په دغه وجه ئې د کانګرس د مشرانو سره خبرې اترې کولې. میا احمدشاه او عبدالاکبرخان په دې وجه د باچاخان نه خفه شوي وو کۀ چرې د دوي ځان له تنظیم وے لکه خدائي خدمتګار

نو د دې صوبې په فېصلو کښې به انګرېزانو دوې سره صلاح مشورې کولې او کانګرس به هم ورسره صلاح مشوره کوله. په پښتو کښې یو متل دے چې "رشتیا رشتیا کېږي نو دروغو به کلي روان کړي وي" د هندوستان او د پاکستان د ماتېدو نه درې میاشتې مخکښې چې د ډاکټر خانصاحب د وزارت د ماتېدو خبره شوه نو دوي په بنو کښې د پښتونستان قرارداد پاس کړو. په هندوستان کښې د یوې ازادې صوبې مطالبه ئې هم وکړه او د کانګرس مشرانو ته ئې هم دا خبره وړاندې کړه هغوي د شېطانۍ د پاره دوي ته ووئیل ستاسو مطالبه صحیح ده خو په ښکاره باندې مونږ ستاسو امداد نۀ شو کولے او نۀ په ښکاره ستاسو ملګرتیا کولے شو. د هندوستان او پاکستان د جوړېدو نه مخکښې چې د کانګرس په اخري اجلاس کښې نهرو دا اعلان وکړو چې پاکستان مونږ ومنۀ، باچاخان ووئیل تاسو خو مونږ د شرمخانو په خُلۀ کښې ورکړو دا خو تاسو مونږ په تیارۀ کښې وساتلو دا خو تاسو مونږ سره دوکه وکړه. باچاخان عبدالکلام ازاد سره په خوا کښې ناست وۀ او بار بار ئې ووئیل چې مونږ له اوس څۀ کول پکار دي؟

هغۀ ورته ووئیل زما خو دا مشوره ده چې اوس خو په مسلم لیګ کښې شامل شه نو ښۀ به پاتې شي په دې باره کښې انګرېزانو او کانګرس ډېر کوشش وکړو چې مسلم لیګ سره دې د دوي رابطه وشي. د ډاکټر خان صاحب هم دا زړۀ وۀ خو باچاخان په یوه لاره باندې ګاندهي نۀ پرېښودلو. نهرو ووئیل چې کومه پښنه زخمي وي د جوړېدو امکان ئې نۀ وي هغه پښنه څان نه پرې کول پکار دي. دا پاکستان یو کال هم پاتې کېدے نۀ شي. د پاکستان جوړېدو د پاره دوي صوبې په مېنځ باندې نیمې کړلې یعني بنګال او پنجاب.

جناح صېب په خپلو خبرو کښې ووئیل تاسو خو اکثریتي

صوبې د مسلمانانو زمونږ نه ترلاسه کړې وې اوس چې کوم پاکستان مونږ ته سپارے د دې غوبنه ټوله تاسو کانګرس له ورکړه او تش هډوکي مو مونږ ته پرېښودل. داسې پاکستان زمونږ پکار نۀ دے.

ګاندهي باچاخان له پټې تسلۍ ورکولې چې خبر دے مونږ به تاسو سره د افغانستان او کشمیر د لارې امداد کوو. د باچاخان ټوله کورنۍ تراوسه پورې په دې طمع کښې پراتۀ دي چې د ضرورت په وخت کښې به هندوستان مونږ سره امداد کوي.

داولسمې صدۍ تراخره پورې تقریباًټولومسلمانانوددنیا نیمې حصې ته اسلام رسولے وۀ اود ایشیا او د افریقې او د یورپ څنو ملکونو کښې مضبوط حکومتونه کول. د مسلمان په حېث د دوي بادشاهۍ وې. په نولسمه صدۍ کښې د مسلمانانو زوال شورو شوے دے پنځوس کاله کښې دننه د انګرېزانو، فرانسویانو او پرتګال د غلامۍ د لاندې راغلل. دمسلمان په حېث به د هر مسلمان په زړۀ کښې دا خبره راپورته کېږي چې آیا زمونږ د دغې وخت په بادشاهانو کښې غلطۍ وې او کۀ دغه نظام چې په دغه ملکونو کښې رائج وۀ، دا غلط وۀ؟

د دې تر تفصیل پورې تلے نۀ دي حالانکې دا د دوو درېو سوو کالو تاریخ دے، د دې تاریخ حوالې مونږ د انګرېزانو او د فرانسویانو د کتابونو نه ورکوو، ځکه چې تاریخ بس هغوي لیکلے دے او نتیجه ئې دا ورکوي چې اسلامي نظام خراب دے. کۀ مونږ د دوي دا تاریخ غلط ثابتوو نو د هغې د پاره مونږ سره څۀ ثبوت نشته دے.

په تېرو دوو سوو کالوکښې زمونږ ډېرو ښو ښو لیکوالو او پوهانو له ئې ایمانونه کمزوري کړي وو. هم دغه وجه ده چې د یورپ او امریکې د لورې نه دا اوازونه راځي چې تعلیم عام کړئ او تعلیم زیات کړئ. دوي ته دا ښه پته ده چې تعلیم یافته طبقه په ثبوتو پسې ګرځي او

ثبوتونه هغه دي چې مونږ ورکړي دي. البته مونږ دا یو ثبوت ښکاره باره ورکولے شو چې زمونږ په وطن کښې کوم خلق غریبانان وي او بې تعلیمه هم وي هغوي ښۀ کلک مسلمانان وي، د مضبوط ایمانونو خاوندان هم وي. دغه شان چې سړے اسلامي تاریخ ته ګوري نو په اول سر کښې د رسول د خدا ے هغه وینا او د خدایه هغه سوال چې په دوو عمرانو (یعني عمر ابن خطاب، عمر ابن حشام(ابوجهل)) کښې یو زما ملګرے کړه. هرکله چې دغه کورونو ته پته ولګېده چې اسلام خو په ټول عربو کښې خورېږي او بادشاهي به د مسلمان تر لاسه وي د دغې نه پس ټول مالدار خلق په اسلام کښې شامل شول. دغلته کښې بیا د سړي ذهن ته راشي چې آیا اسلامي نظام کښې خلل دے او کۀ په خلقو کښې دے. د عیسیٰ علیه السلام په ژوند باندې یو څو کسانو د هغۀ سره مذهب قبول کړے وۀ او د رسول د خدا ے په ژوند باندې یوائې عربو نه بلکې ایشیا او افریقې او نورو ملکونو ته د اسلام پېغام رسېدلے وۀ. خلفاء راشدینو ته چې کوم نظام د نبي ﷺ نه په وراثت کښې پاتې شوے وۀ، د هغې مثالونه تراوسه پورې مونږ ورکوو. په هغې مثالونو کښې او نورو مثالونو کښې دا فرق دے چې هغوي ته به د قومي نوعیت کومه مسئله پېښه شوه نو هغوي به د قرآن او د حدیث په رڼا کښې د هغې رهنمائي کوله یعني د یو نظام په لوري ئې پرمختګ درلود. د هغې نه پس چې څومره راغلي دي نو هغوي تر خپل ذاته پورې پرمختګ کړے دے یعني د دوي فېصلې به داسې مسئلو کښې دا رنګ وې چې دا زما تر ذاته فائده رسوي او کۀ نقصان رسوي او د کومې خبرې سره به بادشاهي نوره مضبوطه شي. یعني د دوي ټولې فېصلې د خپلې بادشاهۍ د مضبوطو د پاره وې د خدا ے د نظام د مضبوطولو د پاره نۀ وې. زمونږ عالمان د دغو غلطو د پاسه غلطۍ

کوي او هغه غلطۍ په داسې شکل کښې ظاهروي چې د سړي د یزید سره همدردي پیدا شي وائي چې یزید خو د خپلې مجبورۍ د لاسه امام حسن (رض) او امام حسین (رض) شهیدان کړے دي. کۀ دغه رنګ نۀ وے شوے نو د هغۀ بادشاهي به په کوم رنګ مضبوطېده؟

دغه رنګ اوس وائي چې مشرف خپله بادشاهي مضبوطوي نو ضروري ده چې ټولې مدرسې به ختموي. دغه مدرسو والاچې کومو د ټولو بادشاهانو سره ملګرتیا کړې ده چې دوي د بادشاهۍ د مضبوطولو د پاره هرڅۀ کوي دا جائز دي بیا خو دې دوي دا هم ومني چې دا مدرسې ختمول هم جائز دي. د الزام نه بغیر زمونږ په تاریخ کښې څو د شمار کسان چې هغوي به د الله تعالی د نظام د مضبوطولو د پاره خبره کړې وي او د وخت د بادشاه مخالفت به ئې کړے وي، دغه کسان وروک او بې نامو دي. ښکاره باره خبره ده چې څوک د وخت د بادشاه مخالفت کوي هغه به پانسي کېږي او یا به تر جېله پورې رسي. دغه تاریخ څوک ښودلے شي او بیا په داسې بادشاهۍ کښې چې بادشاه په حق باندې ورسېږي نو د هغۀ په ځاے د هغۀ زوے بادشاه شي او چې زوے ئې په حق ورسي نو د هغۀ په ځاے نمسے بادشاه شي. مطلب دا دے چې د داسې خلقو تاریخ په ځاے پاتې شي څکه چې راتلونکے نسل بې خبره پاتې شي څکه چې هر یو سړے امام حسین (رض) نۀ دے چې تاریخ ئې ژوندے پاتې شي.

د ۱۸۵۷ء د هندوستان جنګ ازادۍ باندې ډېر کتابونه لیکلي شوي دي. کوم لیکوال چې لیکل کړي دي نو هغه د خپلې خبرې تصدیق ته رسولو د پاره د انګرېزانو د ډائرو او کتابونو حوالې ورکوي. انګرېزانو دوي ته غدار وئیلي دي یعني په هندوستان چې کوم جنګ د هغوي سره شوے وۀ مونږ ورته د ازادۍ جنګ نه بلکې

جهاد وايو. اوس کۀ چرې زۀ په جهاد باندې ليکل کوم او د يو ځائ ے دا تصديق کوم چې ورسره دومره خلق د دې ځائ ے مرۀ دي نو په دې پسې به هم د انګرېزانو کتابونه لټوم يعني د هغې نه به تصديق کوم دغه شان زما نظريه به هم ورو ورو بدلېږي او په اخره کښې به زما نظريه هم دا رنګ شي چې دغه جهاد ته به زۀ هم د ازادۍ جنګ وايم. دغه شان په حبث د يو مسلمان ځوارلس سوه کاله مخکښې چې زۀ د هغوي کتابونه ګورم هغوي چې څۀ رنګه د سائنس او ټېکنالوژۍ نه پس خپل مذهب پرېښودلے دے يواځې رواج ترحده پورې چې مړ شي نو ښخېدل، په ګرجه کښې نکاح تړل، ګرجې ته تلل وغېره دا واضحه کوي چې خپل رواج تر دې مذهبه پورې کوه يعني په وادۀ کښې په اسلامي طريقه باندې نکاح کوه او د ښخېدو په وخت کښې د مړي جنازه کوه. زمونږ ټول ليکوال او پوهان مسلمانانو کۀ هغه په هر مد کښې دي د هغوي اکثريت ورسره دا خبره منلې ده چې تاسو رواجي عيسايان يئ او مونږه رواجي مسلمانان يُو. دې سره دوباره دا خبره ذهن ته راشي چې دوي پنځوس شپېتۀ کاله کښې ټول اسلامي ملکونه خپل غلامان کړل. آيا په دې ملکونو کښې څوک موجود نۀ وو چې د دوي مخالفت ئې کړے وے؟ يا د دې ملکونو نظام حکومت دومره کمزورے وۀ چې دوي بغېر تکليف او بغېر جنګونو ټول اسلامي ملکونه قبضه کړل؟

زۀ وايم چې دا ښکاره باره د بحث مباحثې خبره ده. په دې باندې اسلامي مفکرين د اوسنۍ زمانې ټول حالات مخې ته کېږدي او د خپلو غلطو ټول تاريخ هم مخې ته کېږدي څکه چې زمونږ د پاره دا دريم جنګ عظيم دے چې عيسايانو او يهوديانو د تېرو اووۀ اتو کالو راسې د مسلمان خلاف شورو کړے دے او د دهشت ګردۍ په نامه د

مسلمان خلاف روان دے. عالمان په دې باره کښې وائي چې کوم قومونه د خپل تاریخ نه خبر نهٔ وي هغوي د خپل قوم د روڼ سباؤن فېصلې کولې نهٔ شي.

اوس دا صحیح تاریخونه راپېدا کول غواړي، د ګیلو معنو وخت هم نهٔ دے چې هلته کښې ئې په ماشومانو بمباري وکړه او په فلانۍ مدرسه کښې دومره ماشومان شهیدان شو، په روان جنګ کښې ګیلې معنې نهٔ کېږي، هم دا ماشومان، هم دا غریبانان، هم دا بې تعلیمه خلق دوي ته صحیح مسلمانان ښکاري او خپل صحیح دشمنان ورته هم دغه ښکاري. کهٔ د صحیح مسلمانانو او د صحیح عالمانو د مختلفو ملکونو د مسلمانانو ترمېنځه یوه غونډه وشي چې په دې وخت کښې مونږ څهٔ کولے شو؟ ایران نه علاوه د ټولو اسلامي ملکونو سربراهان د مخالفو سره ولاړ دي، چې کوم په خُلهٔ باندې د هغوي مخالفت کوي هغوي هم د ذاتي مفادو د پاره د خپلې بادشاهۍ د ساتلو د پاره هر وخت امکان دے چې د دشمن سره ملګرے شي خو د ټولې دنیا مسلمانان ښهٔ مخلص دي او غواړي چې په شریکه باندې په دې جنګ کښې برخه واخلو. چونکې سربراهان د مخالفو ډلو سره ولاړ دي نو دا خلق رابطې جوړولو ته نهٔ پرېږدي او سرکاري مېډیا د دغې ملکونو زمونږ دا دریم عالمي جنګ عظیم خپلو خلقو ته په ډېر غلط رنګ کښې وړاندې کوي. دا ئې کوشش دے چې عوام خبر کړي چې دا د کفر او اسلام جنګ نهٔ دے.

انګرېزانو په دوېم جنګ عظیم کښې د هندوستان د مشرانو نه سوال وکړو چې زمونږ سره په دې جنګ کښې امداد وکړئ کانګرس ورته ووئیل تاسو سره ولې امداد وکړو، زمونږ د جرمنیانو سره څهٔ دشمني ده؟ انګرېزانو ورته ووئیل د پولېنډ غونډې غریب ملک

جرمنیانو قبضه کړلو او په زور ئې غلامان کړل مونږ د ځان سره هندوستانے فوج بوځو چې پولېنډ پرې ازاد کړو. نهرو ورته ووئیل دا خو عجیبه خبره ده چې مونږ په خپله غلامان یو او زمونږ فوج د پولېنډ د ازادۍ د پاره ځي؟ چې دوي پولېنډ ازاد کړي، دوي به بیا هم غلامان راځي. دې خبرو په انګرېز کښې دا احساس پېدا کړو چې د جنګ نه پس به هندوستان ته ازادي ورکوو خو د انګرېزانو او د کانګرس او د هندوستان د نورو پارټو سره چې د جنګ په دوران کښې کومې خبرې کېدلې زمونږه د پښتنو مشران د دې صوبې ناخبر وو. سره د دې چې په دغه وخت کښې په دې صوبه کښې د کانګرس د پارټۍ حکومت وۀ هغوي زیات په خپل وخت کښې حکومت ساتلو او مضبوطولو. په وړو وړو مسئلو کښې نښتي وو دا تولې خبرې مونږ د اسلامي نظام او د انګرېزي نظام په بدوالي او خرابوالي باندې کوو. په دې کښې د دې صوبې او د افغانستان پښتانۀ ځکه شامل وو چې اسلام افغانستان او دې پښتنو په هندوستان کښې خور کړے وۀ ځکه چې کوم اړخ چیړو نو دا ثابتوي چې په هغه وخت کښې حالات څۀ وو؟

انګرېزانو ته درېواړه افغاني جنګونه یاد وو. چې په ۱۹۱۷ء کښې روس په حېث د ازاد سوشلسټ ملک اعلان وکړو په دنیا کښې یو افغانستان وۀ چې روس ئې په رسمیت باندې ومنۀ او د هغه وخت نه د امان الله سره بغض کینه ساتل. بل طرف ته لېنن خپلو ملګرو ته ووئیل چې دا څۀ رنګه بادشاه دے چې زمونږ ملک ئې په رسمیت باندې ومنۀ. کوم ملګري چې ئې د افغانستان د حالاتو نه خبر وو هغوي ووئیل چې د دوي د انګرېزانو سره مقابلې شوې دي او د انګرېزانو ځیني دوي تنګ دي. د دوي د ملک څۀ حصه امیرعبدالرحمان په ۱۸۹۳ء کښې انګرېزانو ته حواله کړې وه چې

سرمارتړن مور ډیورنډ د هندوستان او افغانستان پوله اېښې وه ځکه چې نن هم دغې پولې ته ډیورنډ لائن وائي.

تر ۱۹۳۷ء پورې زمونږه د دې صوبې خلق پښتانهٔ او قبائیل د افغانستان د بادشاه خُلې ته ناست وو او په هرځهٔ کښې ئې د افغانستان د مشرانو فېصلو ته خپلې فېصلې وئیلې. ۱۹۳۰ء زمونږ د پښتنو د پاره هم عجیبه کال وهٔ. خدائي خدمتګار جوړ شول چې احمدشاه باچا ئې صدر او عبدالاکبر خان ئې مشر سېکرټري وټاکلے شول. په ۱۹۳۰ء کښې د خدائي خدمتګارو ټول مشران ګرفتار شو په دې ګرفتارو ئې پارټي نوره زیاته مضبوطه شوه.

په ۱۹۳۱ء کښې چې څنګ د جېلونو نه راووتل نو نهرو، ګاندهي، پټېل سره باچاخان لیدل کتل وکړل. خدائي خدمتګار ئې د دې صوبې په کانګرس پارټۍ کښې ضم کړل او اصلاح افاغنه تنظیم ئې د دې صوبې رضاکار تنظیم وګرځوهٔ، چې په هغې باندې د خدائي خدمتګارو صدر او جرنل سېکرټري په باچاخان باندې اعتراض وکړو، مونږه د هندوستان د ازادۍ د پاره د کانګرس سره شریک یُو خو خپله پارټي دوي سره ضم کول پکار نهٔ دي، ځکه چې بیابه زمونږ د تقدیر فېصلې کانګرس کوي. د دغې نه پس چې څومره منسټرۍ په دې صوبه کښې جوړې شوې دي، ډاکټرخانصاحب وزیراعلی، دوه زومان ئې منسټران، چې په یحیٰ جان باندې د باچاخان لور وادهٔ وه او د قاضي عطاالله سره ئې هم دغه رشته وه خو په تاریخ کښې د دوي دا منسټري دکانګرس منسټري ګڼلې شوه او تر ۱۹۴۶ء او ۴۷ء پورې وه.

بل خوا ته په دې ځاے کښې چې د ازادۍ کوم تحریکونه شورو شوي وو د مسلمان په حېث باندې د انګرېزانو خلاف وو. کوم خلق چې د جهاد په باره کښې لګیا وو لکه عبدالواحد صاحب عرف

حاجي صاحب ترنګزئي او اډې ملا صېب او د داسې نورو خلقو سترګې د افغانستان په لور وې. د صوابۍ يو دوو ليکوالو د ترنګزو په حاجي او د هغوي په جنګونو باندې کتاب ليکلے دے او ريسرچ ئې پرې کړے دے چې د ډاکټرۍ ډګري ورته هم ترلاسه شوې ده.

هغه وائي چې د ترنګزو باباجي سره د پنځوسو ملګرو اول د بونېريانو سره امداد وکړو هرکله چې د انګرېزانو ن ئې جنګ وګټلو دوباره ئې د ملاکنډ په جنګ کښې د يوسفزو سره امداد وکړو چې د انګرېزانو د لورې نه په هغې جنګ کښې چرچل هم موجود وۀ او د دې جنګ ذکر چرچل په خپل کتاب کښې هم کړے دے. د سوات او د يو بل ملا ذکر ئې هم کړے دے غالباً نامه ئې ورته پاګل ملا (Mad Mulla) ليکلې ده.

د دې سره د ترنګزو حاجي صېب دومره مشهور شو چې سوات، دير او په مهمندو کښې ورسره ډېر خلق ملګري شول. د دير عمراخان په دغه دوران کښې د خپلو ورونو سره چرته روان وۀ چې هغوي ترې نه مشري هم اخستې وه، هغۀ د ترنګزوحاجي صېب ته سوال وکړو چې زما ورونړه د انګرېزانو سره ملګري دي زما سره امداد وکړه د ترنګزو حاجي صېب ورته ووئيل دا ستاسو ذاتي د کورنۍ مسئله ده او زۀ صرف د جهاد په نيت باندې راوتې يم او زۀ صرف انګرېزان د دې ملک نه ويستل غواړم او دا ستاسو خپلو کښې په نوابۍ باندې جنګ دے. هغۀ ورته ووئيل زما د ورونړو سره انګرېزان ملګرتيا کوي. حاجي صېب ترنګزو ورته واضحه کړه چې کۀ تۀ چرې د نوابۍ نه انکاري يې چې دا هرڅۀ دې زما د ورونړو ترلاسه وي خو د انګرېز خلاف دې زما سره په شريکه باندې راپاځي، په داسې خبرو باندې حاجي صېب ترنګزئي په ټولو قبائيلو کښې مشهور شو او د

ټولو قبائیلو د اړخونو نه د دۀ د ملګرو له خوا په انګرېزانو باندې حملې شورو شوې. انګرېزان ئې دومره تر پوزې راوستل چې انګرېزانو په مهمندو کښې د ۀ په ځائے باندې بمباري وکړه. هغه بمونه وئۀ چلېدل اوس هم په هغه ځائے کښې موجود دي چې په هغه ځائے کښې د دۀ دېره وه او مزار ئې هم هلته دے.

انګرېزانو د دې پروګرامونو د مخ نیوې د پاره یو عجیبه کار وکړو چې هغه کار تراوسه پورې د پښتنو سره کېږي او جاري دے. انګرېزان زمونږ د اسلامي نظام د بادشاهانو نه زیات خبر وو بل د هندوستان د ټولو قومونو په باره کښې ئې یو مخصوص نظر چې هغې ته په سائنسي حواله باندې وګورې نو اوس هم صحیح دے. د مثال په توګه بنګالیان ئې غداران ګرځولي دي، سندهیانو له لته ورکوئ او کار ترې نه اخلئ او پنجابے ډېر ښۀ سپاهي دے د دۀ نه کار اخله او حکومت پرې کوه. د بلوچیانو په باره کښې ئې ووئیل چې د دوي قدر کوه نور چې څۀ دي زړۀ غوارې هغه پرې باندې کوه. د پښتون په باره کښې وائي دا د پېسو سړي دي په پېسو باندې ئې اخله چې څۀ پرې کوې هغه پرې کوه. په دغه دوران کښې ئې بې شماره غریبانان مولیان په پنځۀ روپۍ میاشت باندې ترلاسه کړل او ورته ئې ووئیل چې په قبائیلو او د دې ځائے په پښتنو کښې د اسلامي نظام د فقهې په حواله باندې دا خبره د خلقو غوږونو ته ورسوئ چې جهاد هله شي چې هرکله امیرالمؤمنین اعلان وکړي نو ستاسو بادشاه خو د جهاد اعلان کړے نۀ دے نو دې ته جهاد څۀ رنګ وئیلے شي؟

دې پروپېګنډو په قبائیلو او زمونږ په پښتنو کښې ډېر زیات اثر وکړو، بیا ډېرو قبائیلي مشرانو او د دې ځائے پښتنو مشرانو د ترنګزو حاجي صاحب له مشوره ورکړه چې بذات خود لاړ شه د کابل د

بادشاه نه دا لیکل راوړه چې دا جهاد دے او یا دې په ښکاره باندې اعلان وکړي چې انګرېز زمونږ ښکاره باره دشمن دے.

د ترنګزو حاجي صېب وائي هرکله چې زۀ ډېر مجبور شوم او د کابل بادشاه له لاړم او هغۀ ته مې دا خبره وړاندې کړه هغۀ ما ته په جواب کښې ووئیل ماله یوڅو ورځې مهلت راکړه چې زۀ پرې د خپلو ملګرو سره صلاح مشوره وکړم چې 'ایا دا جهاد دے او کۀ نۀ دے؟

د ترنګزو باباجي وائي په سبا له د دغې بادشاه اهلکارو زما تر غوږه کړه چې بادشاه خو انګرېزانو له جواب ولېږلو چې راشئ حاجي صاحب خو زما سره دے، انګرېزان په دغه دوران کښې د وزیرو مسیدو په جنګ کښې بوخت وو هغوي واپسي د کابل بادشاه له جواب راولېږلو چې مونږ په دې وخت کښې راتللو ته جوړ نۀ یو البته د ترنګزو حاجي صېب دغلته مړ کړئ. په بله ورځ باندې ورته د دغې بادشاه اهلکارو دا خبره دوباره وکړه. د ترنګزو حاجي صېب چې دوباره د کابل بادشاه سره ملاقات کولو حاجي صېب د کابل بادشاه ته ووئیل تۀ مسلمان یې؟ هغۀ ووئیل بې شکه زۀ مسلمان یم، حاجي صېب ورته کلمه تېره کړه.'ایا دا کلمه تاله درځي؟ بادشاه ورته هم دا کلمه تېره کړه حاجي صاحب وائي ما ورته ووئیل چې زۀ تر هغې پورې دلته ایسار یم چې ترڅو پورې تا ماله د خپل سوال جواب راکړے نۀ وي.

باباجي وائي د یخنۍ په موسم کښې په دې خبرو کولو باندې په بادشاه باندې خولې راغلې ما ورته ووئیل د الله تعالی په لاره کښې سر ورکول دا هم په فرضو کښې راځي. بادشاه سترګې سرې کړې وئیل ئې تۀ دلته ماله چا رالېږلے یې او د بادشاه ترمخه څوک دا رنګ ښغې خبرې کوي؟ حاجي صېب وائي ما په خپل سر باندې یوه ګوته اوچته ونیوه، زۀ هغې بادشاه رالېږلے یم چې زما هم بادشاه دے او ستا هم

بادشاه دے. هرکله کۀ ستا د لاسه دلته کښې مړ هم شم نو زما د پاره دا هم شهادت دے. کۀ چرې دوه ګوتې لیکلې راکړې چې د انګرېز خلاف جنګ جهاد دے نو دلته کښې زۀ خپل خون تاته بخښم. زما ډېر ملګري شته دے چې زما نه ډېر تکړه دي او ستا به هم په اسلامي تاریخ کښې د سرو زرو په الفاظو باندې نامه ولیکلې شي چې یو افغان مسلمان بادشاه د انګرېز خلاف جنګ ته جهاد وئیلے دے او زۀ نۀ له تانه فوج غواړم او نۀ له تانه وسله غواړم او نۀ له تا نه دولت غواړم ځکه چې ماته دغه څیزونه ستا نه اخستل حرام ښکاري. البته ستا د لاس لیک به انګرېزانو ته نۀ ښایم. فقط د مسلمانانو ملګرو د ډاډ د پاره او ستا د عزت ساتلو د پاره به دومره قدر وایم چې زمونږ د کابل بادشاه هم دے او دا لیکل ئې هم راکړل. د دې نه پس بادشاه ووئیل سبا له به درته حال واضحه کړم. په سبا له ئې یو اهلکار له خپل لاس لیک ورکړے وۀ. زۀ ډېر خوشحاله شوم چې څه که خبرې هغه لیکل ئې جوړې راکړل، په هغې کښې د هغۀ د لاس لیک وۀ چې د انګرېزانو په مقابله کښې زۀ تا اخستے نۀ شم او چې څومره زر کېږي نو د دې ځاے نه پښې وباسه او دلته کښې زۀ ستا نوره مېلمستیا نۀ کوم. انګرېزان وخت په وخت باندې اطلاع رالېږي چې دغلته ئې ختم کړه خو زۀ داسې کولے نۀ شم ځکه چې تۀ افغان هم یې او مسلمان هم یې. حاجي صېب وائي چې اوله ورځ راته د بادشاه اهلکارو تر غوږه کړل چې بادشاه دې وژني، نو ما خپل ملګري رخصت کړل او ورته مې ووئیل چې ماته په کونړ کښې ایسار شئ، هرکله چې د بادشاه لیک زما ترلاسه شي نو کونړ ته به درشم. نو ټول ملګري به په یو ځاے څو. د حاجي صېب د خُلې وېنا ده چې تر کونړه یواځې روان یم سوچونه کوم چې په ټوله دنیا

کښېږ به یو داسې ملک نۀ وي چې د هغې بادشاه مسلمان وي او ماته به دا رنګ لیکل راکړي چې د انګرېز خلاف جنګ جهاد دے؟

د حاجي صېب ملګري وائي چې د ماښام مانځۀ له حاجي صېب تر کونړه رارسېدلے وۀ مونږ هم د دې د پاره ایسار وو چې حاجي صېب به مونځ راکوي، حاجي صاحب راغے امامتۍ ته وړاندې شو، هرکله چې د دوېم رکعت قرآت وخت شو نو حاجي صېب په ژړا باندې شو. حاجي صاحب ووئیل "اے پروردګاره ستا په دې ویړه دنیا کښې یو مسلمان بادشاه هم نشته دے چې د کافرو سره جنګ ته جهاد ووائي؟ اے پروردګاره بل خواته دے د انسان قتل ته د ټول انسانیت قتل وئیلي دي کۀ دا باشاهان وژنو نو کلمه هم وائي او د کافرانو ملګرتیا هم کوي بیا به ستا جرم داره یو چې د انسانیت د قتل بنیاد مونږ کښېښودلو چې دا رنګ بادشاهان تر څو پورې ژوندي وي نو مونږ خپل فرض پوره کولے نۀ شو".

زۀ وایم په دغه ځاے کښې اوس هم مونږ انښتے یو د دې خبرو کولو نه زما دوه مطلبه دي هغه دا چې انګرېزانو څو کرته وئیلي وو چې زمونږ ټولو بادشاهانو ته لویه خطره د پښتنو نه ده هغوي چې څۀ وخت دا بې ضمیره مولیان په پېسو باندې اخستلي وو او دا پروګرامونه ئې پرې باندې ترسره کول چې ستاسو بادشائے وقت ترڅو وئیلے نۀ وي چې دا جهاد دے نو دا جهاد کېدے نۀ شي. هغوي ته علم وۀ چې دا علاقه زمونږ د هندوستان سره تړلې ده، خو زمونږ په هندوستان کښې بادشاه نشته دے. مونږ بادشاهان یو خو ټول پښتانۀ د کابل بادشاه خپل بادشاه ګڼي نو دوي به هلته کښې هغۀ له ځي او هغه زمونږ د لاس سړے دے. هغه چرې هم دا اجازت نۀ ورکوي. بل خوا ته د ترنګزو حاجي صېب د چارسدې وۀ په کومو قبائیلو کښې چې ګرځېدلو هغه

هم انګرېزانو د هندوستان سره تړلي وو نو د هغوي سترګې هم دهندوستان په لوري نۀ وې البته د افغانستان په لوري وې. مطلب دا چې انګرېزانو هم دا منل چې ټول پښتانۀ افغانان دي او دوي د خپلې هرې فېصلې د پاره تر افغانستانه ځي. بل خوا ته د عوامو نظر هم په دغه لوري باندې وۀ. د هندوستان غوندې لوے ملک او غټو غټو پارټو اوسیاسي لیډرانو ته نۀ ورتلل او د افغانستان د خرځ شوي بادشاه نه ئې طمع لرله. سره د دې چې په دغه دوران کښې په دې صوبه کښې الېکشن هم شوے وۀ او دا واحده د مسلمانانو صوبه وه چې کانګرس په کښې الېکشن ګټلے وۀ او د کانګرس پارټۍ سړے ډاکټرخانصاحب د دې صوبې وزیراعلی هم وۀ.

دغه وړومبے سوال چې د ځانه مونږ کوم کړے دے چې په پنځسو کاله کښې دننه دننه اسلامي ملکونه څنګه غلامان شو، 'ایا د دوي فوجونه نۀ وو چې ځاے په ځاے ئې مقابلې کړې وې، 'ایا دې بادشاهانو په خپلو ملکونو کښې دا رنګ نظام جوړ کړے نۀ وۀ چې هغوي دا رنګ اداري وساتي. البته په دې اسلامي ملکونو باندې یورپي ملکونو په خپلو کښې مقابلې کړې دي، یو وائي فلانے اسلامي ملک به زما غلام وي، عجیبه خبره دا ده چې د دغې یورپي ملکونو په خپلو کښې جنګ وۀ نو فوجي جرنېلان به د دغې بهرنه ملکونو خلق وو او باقي فوج به د هغې ملک خلق وو. چې د هندوستان غوندې په لوے ملک کښې د انګرېزانو د خُلې وېنا ده چې مونږ د اتیاؤ زرو نه زیات شوے نۀ وو چې په دې کښې مونږه ښځې او ماشومان هم شمارلي دي هرکله کۀ ښځې او ماشومان ترې نه مونږ وباسو نو مطلب دا شو چې د څلوېښتو زرو نه کمو عوامو په هندوستان بادشاهي کړې ده. د هندوستان په چې د انګرېز فوج د کله نه ګولۍ چلولې دي هغوي

صرف په خُلهٔ باندې اړډر کړے دے باقي په هغوي خپلو هندوستانیانو ګولۍ چلولې دي. د هغوي په هندوستاني فوج کښې مسلمانان، سیکان او هندوان یعني ټول قومونه وو. دغه پولیس، سمندري فوج، هوائي فوج پټې اداري لکه "سي ائي ډي" چې تولو ته ئې په شریکه د قانون نافذ کولو اجازت ورکړے وۀ، د دې سره ئې داسې نورې هم ډېرې اداري جوړې کړې وې چې د حکومت د کار چلولو د پاره لازمي وې یعني د ټولو ادارو د پاره ئې خپل خپل قانونونه جوړ کړي وو چې دا اداري به په دا رنګ جوړوي او په دا رنګ چلوي. په ټولو ادارو باندې ئې د دې خلق لګولي وو او هم په دوي باندې ئې چلولې، په خپل ملک کښې لیکلے قانون نشته دے صرف جج ته اختیار وي چې هغۀ ته څۀ انصاف ښکاري هم هغسې کوي خو زمونږه ملکونو له ئې لیکلے قانون ورکړے دے چې تراوسه پورې د هغوي نه په وراثت کښې پاتې شوے قانون باندې مونږ عمل کوو. څکه زمونږ ججانو صاحبانو ته د انصاف فېصلې کولو اختیار نشته دے صرف د هغې قانون ترمخه به فېصلې کوي کوم چې دوي مونږ ته لیکلے راکړے دے. زمونږ د یو عدالت فېصله باندې چې بل اوچت عدالت ته اپیل کوو نو هغه اپیل په دې بنیاد باندې کولے شو چې آیا دا فېصله د قانون مطابق شوې ده او کۀ نه؟

دغه شان زمونږ د انصاف الفاظ د مزغو نه وتلے دي ورسره جائز او ناجائز هم دغه شان په اسلامي ملکونو چې دوي بادشاهي کړې ده هغوي له ئې لیکلے قانون ورکړے دے چې نن پرې هم په هغه شکل کښې عمل کېږي. د دې ادارو جوړولو او چلولو د پاره چې دوي کوم قانون جوړ کړے دے د هغې چې څومره داد ورکوو د هغې حقدار دي. د یو ملک چلولو د پاره وړاندې دا ضروري وي.

د پاکستان فوج چې د جوړولو د پاره د خلقو اخستلو د پاره کوم قانونونه جوړ کړي دي د هغې په وجه باندې د دنیا په بهترینو فوجي ادارو کښې راځي. هرکله چې په اسلامي ملکونو کښې خپل حکومتونه وو ایا دوي دا رنګ اداري ولې نۀ جوړولې؟ مسلمانانو چې هرکله سپېن قبضه کړو نو په سمندري جهازونو کښې تلے وو هلته کښې چې د کوم فوج ترمخه شولو هغوي د دوي نه یو په شل باندې زیات وو. د دواړو فوجونو د مخامخ کېدو نه مخکښې چې کومې خبرې اترې کېدې په دې کښې هغوي ووئیل مونږ خو ستاسو نه یو په شل زیات یُو او زمونږ خو دا لوے ملک دے، نور فوج هم زمونږ راروان دے، مونږ سره به مقابله څنګه کوئ؟ البته په کومو کشتو کښې چې راغلي یئ په هغې کښې واپس لاړ شئ او کۀ د دې باوجود ستاسو جنګ ته نیت وي نو د خپل ژونده لاس ووینځئ.

د اسلامي فوج مسلمانانو ورته په جواب کښې ووئیل چې مونږ د جنګ کولو شوقیان نۀ یُو خو د دې نه مخکښې مونږه تاسو ته یو پېغام رالېږلے وۀ هغه اسلام ته د راتلو دعوت وۀ کۀ هغه تاسو ته منظو وي نو مونږ به د سبا نه واپس ځو او کۀ هغه تاسو ته منظور نۀ وي نو بیا دا جهاد دے بیا هغې ته تیار شئ. هغوي خپلو مشرانو ته د اسلام دعوت یوړلو هرکله چې هغوي اسلام ته د راتلو دعوت قبول نۀ کړو نو دوي ووئیل سبا له جهاد ته تیار شئ. اسلامي فوج د شپې خپلو کښې کښېناستل او محسوس ئې کړه چې د مخالف فوج د زیات تعداد په وجه باندې زمونږ د ډېرو ملګرو زړونه نۀ دي نو اعلان ئې وکړو چې ټولې کشتۍ وسېزئ چې د هیچا په زړۀ کښې د تېښتې طمع نۀ وي. هرکله چې هغه جنګ ئې وګټلو نو هغه ملک له ئې په دارنګ نظام ورکړو چې خلق به په شوق باندې اسلام ته راتلل.

دغه شان هر ملک ته چې به تلل هلته ذاتي بادشاهان جوړول نهٔ وو بلکې هغه ملک له ئې د اسلامي فقهې په رڼا کښې داسې نظام تشکيل کړو چې په هغې به د عدل او انصاف، د مالدار او د غريب ترمېنځه د برابرۍ يو سوچ وۀ نو هرچاته به خپل حق رسېدلو. د هغه ځاے د خلقو اکثريت به مسلمانانو له دعوت ورکولو چې راشئ او زمونږ دا ملک هم قبضه کړئ. دغه شان ډېر ملکونه وو چې بغېر جنګ او جدله مسلمانانو ته حواله شو. اصل کښې د جرنېلانو ګټه نهٔ وه بلکې دا د اسلامي عدل او انصاف ګټه وه چې د هغې وخت د بادشاهانو د ظلم زوره تنګ په خپل شوق باندې تر خپلو ملکونو راوستل او غوښتل ئې چې د برابرۍ په بنياد هرچاته خپل حق ملاوېږي او د ظلم زوره دې هم خلاص وي. هرکله چې په هغه ځايونو کښې ذاتي باچاهۍ جوړې شوې او د هغوي د ذاتي بادشاهۍ بچ کولو د پاره هغوي هم هغه ظلمونه او زياتے شورو کړے وۀ چې کوم ورسره د عيسايانو بادشاهانو کولو نو خلق په خپله د دوي خلاف راپاڅېدل ځنګه چې په يو وخت کښې د خپلو ظالمانو حاکمانو خلاف مسلمانانو له ئې دعوت ورکولو چې د دې خلقو د ظلم زوره ځان خلاص کړو. د صليبي جنګونو نه پس د عيسايانو او يهوديانو په خپلو کښې دا صلاح وه چې دوي اکثر جنګونه په نظريه باندې ګټې او کهٔ هرکله په يورپ کښې رانښوتل او زمونږ په خلقو کښې ئې دا نظريه خوره کړه نو زمونږ خلق به هم په دغه نظريې پسې ځي. خو دوي چې يو ملک فتح کړي نو مشري به ئې ضرور چاته حواله کوي د هغې مشر په حواله باندې دوي پېغام ورکوي. هرکله چې دغه مشران ورله مونږ خراب کړو نو لاندېنے پروګرام به ئې ضرور ودرېږي په کوم پروګرام باندې چې دوي جنګ ګټلے وي. د دوي هغه نظريه به هم خوره نهٔ شي او بادشاه به ئې

هم کمزورې وي. دغه شان د هغه وخت مشران چې په کوم ځاے کښې مقرر شوے وي، هغۀ به په عیاشو کښې، په شرابو کښې، په نشو کښې دغه یورپیانو سره مقابلې شورو کړې او د خلقو په نظر کښې به د دوي اسلام او د مسلمان د نظریې په وجه باندې چې کوم عزت درلود هغه ختم شو.

د دغې بادشاهانو جنګونه د یوې علاقې د اخستو یا د خپلو علاقو د ساتلو جنګونه شو. دغه شان چې د کوم پېغام خورولو د پاره مسلمانان بهر وتلے وو ډېر جنګونه ئې وګټل، ډېر ملکونه ئې فتح کړل خو د هغې نظامت ئې په اسلامي طریقه باندې ونۀ کړے شو په اخره کښې تر دې حده پورې راغلل چې دې اسلامي ملکونو په علاقو باندې په خپل مېنځ کښې جنګونه شورو کړل.

د خلفائے راشدینو د دور نه پس د اجماع او اجتهاد موقعه مسلمانانو ته ترلاسه نۀ شوه چې دوي دې د شرعې مطابق د نوو وختونو سره دنیا کښې قدم پورته کړي. بل خوا ته د مخالفو حربې تولې کامیابې شوې، کور په کور ئې مسلمانان د فقهو په نامو باندې په خپلو کښې جنګول چې تراوسه پورې مسلمانان خپلو کښې دې شک کښې دي چې زۀ صحیح مسلمان یم او کۀ دغه بلې فقهې والا صحیح مسلمان دے؟ حالانکې دواړه فقهو والا عیسایانو او یهودیانو ته خپل دشمن وائي خو بیا هم نۀ یو کېږي، دا نۀ ګڼي چې دا خبره خو زمونږ شریکه ده چې درې سوه کاله مخکښې د مسلمانانو په خپلو کښې جنګونه شوي دي او کۀ د عیسایانو یهودیانو سره شوي دي. د هغې د مسلمان د لاس لیکلے تاریخ نشته دے. هرکله کۀ یو مسلمان تاریخ لیکلے هم دے نو هغه د انګرېزانو، فرانسیسانو او جرمنیانو حوالې ورکړې دي. د دې دا مطلب شو چې مسلمان هډو د سره تاریخ

لیکلے نهٔ دے او یا پرې د دې لیکوال اعتبار نهٔ وهٔ او یا د دغه لیکوال په زړهٔ کښې دا وو چې د کتاب لوستونکي به د انګرېزانو او جرمنیانو په خُلهٔ باندې اعتبار وکړي او د مسلمان په خُلهٔ باندې به اعتبار ونهٔ کړي. دا هم د غلام ذهنیت خیال وي په هر ځاے کښې چې بادشاهي پاتې شوې ده نو په دغه ځاے کښې به غلامي هم وي. بادشاهي کهٔ ښه او کهٔ خرابه وي د هغې د ټولو اړخونو نه پس غلط اړخ هم دغه دے چې دا د غلامۍ ذهنیت پېدا کوي. غلامي کهٔ غلط فعل دے خو د ختمولو لارې ئې هم ډېرې دي. د غلامۍ نه ځان خلاصول اسان دي خو کوم قومونه چې د غلامۍ ذهنیت لري هغه قومونه به ټول عمر غلام وي، ځکه چې ذهني غلامي نهٔ ختمېږي.

دهندوستان اوپاکستان شپېتهٔ کاله وشوچې په نامه باندې ازاد شوي دي نن هم د انګرېزانو د ژبې، کلچر، ثقافت، تاریخ، قانون او د هغې ټولو روایاتو چې کوم هغوي ته ښکارېدل چې مونږ پرې دا قومونه ښهٔ غلامان ساتلے شو هغه ټول مونږ خپل کړي دي او عمل پرې کوو. بیا دغه شان دا ذهني غلامي مونږ خپلو راتلونکو نسلونو ته هم په وراثت کښې پرېږدو. په افغانستان کښې ټول قومونه افغانان دي خو دا په دعوه باندې وایم چې هر پښتون افغان دے خو هر افغان پښتون نهٔ دے. په افغانستان کښې د هر قسمه تاریخ تېر شوے دے خو په تاریخ کښې چرې غلام پاتې شوے نهٔ دے. بادشاهان پرې هم ډېر تېر شوي دي خو پښتنو د بادشاه په حېث باندې خپل بادشاه منلے نهٔ دے ځکه چې دوي د غلامۍ په چل باندې نهٔ پوهېدل او نهٔ د چاپلوسۍ په چل پوهېدل. احمدشاه بابا چې د ټول هندوستان بادشاه شو نو وې وئیل:

د دهلي تخت هېرومه چې رایاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

د دهلي تخت ئې پرېښودلو خو چې د خپلې پښتونخوا د غرونو تر سرونو راغلو نو د خپلو خلقو سره د يو عام سړي په حېث ملاوېدۀ. خو د نورو قومونو خلق چې کوم ئې د هندوستان د جنګ د پاره بوتلے وو هغوي به ورته خپل خلق نۀ پرېښودل دوي به وئيل دا خو د ټول هندوستان بادشاه دے تاسو له پکار دي چې د دۀ د عزت خيا وساتئ. پښتنو به ورته وئيل دې مونږ په دې باندې پېژنو چې د فلانې زوے دے، پښتون دے او زمونږ د قومه دے. دغې وفادارو درباريانو چې ازبک، تاجک او ترکمن وو په چاپلوسۍ او مکارۍ باندې ئې ځان بادشاه ته نزدې کړلو په فارسۍ کښې ورته "در دوران" خطاب ورکړو خو د خپل پښتون قوم نه ئې لرې وساتلو، نۀ ئې پښتنو ته پرېښودلو او نۀ ئې پښتانۀ دۀ ته پرېښودل. هغۀ چې په کومه ژبه کښې شاعري کوله هغه ئې د هغۀ بچو ته سپکه کړه او چې د کومو خلقو د پاره هغۀ د دهلي تخت پرېښے وۀ هغه ئې د هغۀ دشمنان کړل او د هغۀ بچو په دغه قومونو کښې ښځې وکړې، نمسو کړوسو له ئې پښتو ژبه نۀ ورتله او په پښتو ژبه وئيلو به ورته ځان سپک ښکارېدۀ.

دا قومونه په افغانستان کښې د بهر نه راغلي دي. کۀ ازبک دي د ازبکستان نه راغلي دي. کۀ تاجک دي د تاجکستان نه راغلي دي. کۀ ترکمن دي د ترکمانستان نه راغلي دي. په دغه ملکونو کښې بادشاهۍ او غلامۍ دواړه پاتې شوې دي. د دوي په وينه کښې د غلامۍ او چاپلوسۍ په ذريعه بادشاه ته ځان نزدې کول او د هغۀ په نزديکت باندې په زور بادشاهي کول او د هغۀ طاقت غلط استعمالول، دغه شان سازشونه د بادشاه په ذهن کښې راوستل چې ستا قوم ستا خلاف دے او کۀ مونږ تاسره نۀ يو، نو ستا ساتنه به څوک کوي او کۀ مونږ ستانه لرې شو نو دا حکومت به څوک چلوي؟

د کابل بادشاه ترکابل پورې محدود پاتې شوے دے او بهرني قومونه ټول په کابل کښې د هغهٔ نه خواوشا پراتهٔ وو. د کابل نه بهر د کابل بادشاه چا منلے نهٔ دے، کومه لويه جرګه چې به بادشاه راغونډه کړې وه، په يو کال کښې به ئې يو ځل راغوښتل، خوراکونه، انعامونه به ئې ورکړل خو د هغې جرګې د مشرانو اکثريت ئې پښتانهٔ وو، د بادشاه په ژبه باندې نهٔ پوهېدل، ترجماني به دواړو اړخونو ته دغه خلقو کوله. په افغانستان کښې چې به ګرځېدلے نو ټول افغانستان به يو شان ښکارېدلو او کابل به بل شان ښکارېدو. دا د بهر نه راغلي قومونه چې شاهي درباريان وو او په کابل کښې پراتهٔ وو خپلې جامې او ژبې او خپل کلچر ګډاګانو او سندرو کښې د لندن او د پېرس پېښې کولې. پرتوګ او قميص والائې هوټل ته نهٔ پرېښودل، سنېماګانو ته ئې نهٔ پرېښودل، د غرونو ځناورو نامه ئې ورله ايښې وه. چې چا به ورته ځوک پښتون په ګوته کړو چې دې هم افغان دے. دهٔ به جواب ورکړو چې افغان "غُل" دے.

لويولويو طاقتونو کوشش کړے دے چې افغانستان دې غلام کړو. انګرېزانو، روسيانو، امريکنيانو خو چې تر کابله پورې لاړ شي او په کابل کښې سره کښېني نو ورته ثابته شي چې کابل افغانستان دے او نهٔ افغانستان يواځې کابل دے. کهٔ انګرېزان تلي وو او کهٔ روسيان تلي وو او يا امريکنيان تلي وو دغه بهرني قومونه ورته راغونډ شوي دي چې د هغوي په نامه باندې دا پروپېګنډه خوره کړي چې دې افغانانو مونږ راغوښتي يُو چې د دوي سره امداد وکړو چې افغانستان ازاد کړو. دا خبره د انګرېز هم وه، د روسيانو هم وه او د امريکنيانو هم وه. ايا افغانستان د چا نه ازادوئ؟ ۶۱ فيصده ابادي په افغانستان کښې د پښتنو ده باقي دېرش فيصده کښې اول قومونه راځي چې

سېوا د یو قوم نه ټول د بهر نه راغلي دي، چې څوک سل کاله اګاهو، څوک دوه سوه کاله مخکښې د ازبکستان، تاجکستان، ترکمانستان نه راغلي دي. هرکله چې خطره پېښه شوې ده لکه «د طالبانو وخت» د دغه بهرني ملکونو نه ئې امداد غوښتے دے، د دې دېرش فیصده مهاجرو نه چې د زرګونو کالو نه په دغه علاقو کښې وسېدونکو پښتنو په ډېره مینه باندې په خپله خاوره اباد کړي وو او خپلې نامې ئې ورته ورکړې ځکه چې دوي ته هم افغانان وائي. د دوي ژبه ئې بنده کړې نۀ ده، د دوي وزارتونه حکومت هم د دوي په لاس کښې پاتې شوے دے. په هغۀ باندې هم چرته چا ګوته اوچته کړې نۀ ده. هر یو به وائي دا زمونږه افغانان ورونړه دي او مسلمانان دي، د قوم په حېثیت باندې په افغانستان کښې اقلیت دے هسې نه چې دوي خفه شي.

په یو وخت کښې ما په خپله چې برهان الدین رباني د افغانستان صدر او احمدشاه مسعود لوے وزیر وۀ په دغه دوران کښې د ګلبدین د لوري نه په افغانستان بمباری کېدې، پینځو سوو کسانو افغانانو یوه جرګه جوړه کړه چې افضل خان لالا په هغه وخت کښې اسلام اباد کښې په وفاق کښې وزیر وۀ د هغۀ په ذریعه مونږ د دې وفد ملاقاتونه د اقوام متحده د مشرانو سره وکړل. محمود مصري د اقوم متحده د افغانستان د چارو مشر وۀ، هغۀ ته مونږ دا تجویز وړاندې کړو چې افغانان خپلې مسئلې د جرګې په ذریعه حل کوي. په پېښور او کوئټه کښې وسېدونکي، په افغانستان کښې د مختلفو قومونو مشران راغونډ کړي دي، چې دوي به ټولو جنګي مشرانو سره لیدل کتل کوي او د هغوي نه به لیکلے واک اختیار اخلي بیا به پرې دوي په خپلو کښې فېصله کوي. اول خو هغه په خندا شو وئیل ئې چې اقوام متحده دا مسئله حل نۀ کړه نو تاسو به ئې څنګ حل کړئ؟

مونږ ورته ووئیل چې دا د افغانانو روایات دي، د افغانستان د مسئلې حل په دې روایاتو باندې ممکن دے. هغۀ وئیل په دې باندې به څومره وخت لګي؟ مونږ ورته ووئیل د کم نه کم لس پنځلس ورځې. هغۀ وئیل دا ډېره ښه خبره ده زۀ به ستاسو په طمع یم. د هغې نه پس مونږه دغه مشران ټول افغانستان ته واستول چې هغوي د یونس خالص، محمدي، ګلبدین، رباني او مسعود نه لیکلے اختیار واخلي. هر یو ورته په خپل خپل پېڼه باندې لیکلے ورکړل. هغه دا چې دې جرګې ته مکمل اختیار ورکړلو چې د افغانستان د مشرانو ترمېنځه کومې مختلفې تنازعې دي چې هغه په څۀ طریقه باندې حل کړي. دوي چې څۀ ځنګه فېصله وکړه هغه به زۀ ه سر سترګو منم. چې څنګ دوي وائي هغه شان به پرې عمل کوم.

دا لیکلې فېصلې تراوسه پورې ماسره پرتې دي. دا خبرې اترې تقریباً پنځلس ورځو کښې وشوې په شلمه ورځ باندې مونږ د محمود مصري سره دوباره ملاقات وکړو چې د یو یو مشر د لاس لیک ورته مونږه وښودلو چې مونږ د ټولو نه واک اختیار اخستے دے. د خوشحالۍ نه د کرسۍ نه پاڅېدلو او په ګډا شو وئیل ئې چې دا زما د پاره تاسو د ټولو نه مشکله مسئله حل کړه، تاسو ټولو ته په دې خوشحالۍ کښې د اسلام اباد په هوټل کښې د مېلمستیا او ورپسې اخبار والاخبرې اترې او اعلان به هم وکړو چې د اخبار په ذریعه باندې ئې دنیا ته ښکاره کړو.

پنځۀ بجې مازیګر په اسلام اباد هوټل کښې زمونږه ډېره ښه مېلمستیا وشوه. په دې طمع ناست یُو چې اوس به محمود مصري راځي او اعلان به کوي. د مېلمستیا نه پس د پاکستاني فوج یو ترجمان راغلو وئیل ئې زۀ هغۀ رالېږلے یم د هغۀ یو ډېر ضروري کار

پېښن شو، واشنګټن ته لاړو، هرکله چې واپس راشي نو تاسو ته به اطلاع درکړو. د هغې نه پس محمود مصري پاکستان ته هڅو رانغلو. زمونږ ټول ملګري په دې باندې خوشحاله وو چې دې به هوټل ته راشي زما په هغه وخت کښې هم دا یقین وۀ او ټولو ملګرو ته مې ووې چې دې واپس نۀ راځي. خو چې څۀ وشول ډېر ښۀ وشول، دۀ ته مونږ د افغانانو د مسئلو حل کولو یوه طریقه وښودله، هر کله چې دې مسئلې حل کوي هم په دې طریقه باندې به ئې حل کوي.

دغه افغاني مشرانو ته مونږ ووئیل چې د افغانستان دا مسئلې نۀ حل کېږي. د دې لویه وجه ماته هم دا ښکاري چې تاسو د بهر نه راغلئ، دغه وړو وړو قومونو ته مو د افغانستان د سیاسي پارټو مشرۍ ورکړې دي ځکه چې د افغانستان د خاورې خلق نۀ دي. دوي ټول عمر دا خاوره خرڅه کړې ده او خپلې فائدې ئې ترې نه اخستې دي. هرکله چې د جنګ جدل وخت راغلے دے نو پښتون ئې جنګ ته مخکښې کړے دے او په خپله ئې د مشرۍ نمائندګي کړې ده.

د افغانستان په باره کښې یو بل تجویز راغلو چې موجوده افغانستان به ټکړې کړو چې کوم اړخونه ازبکستان سره نزدې دي هغه به ازبکستان او تاجکستان سره لاړ شي کابل او قندهار چې کومې د پښتنو علاقې دي دا به بېله صوبه پاتې شي چې د پاکستان سره به ئې بارډر شي. په دې خبره باندې ازبکو او تاجکو ډېرې خوشحالۍ وکړې او بین السیوان ته ئې ووئیل دا ډېر ښۀ تجویز دے. د قندهاره یو سپین ږیرے مشر راغلے وۀ چې چنار ئې نامه وه ماته ئې ووئیل چې زما دا قیصه به دوي ته ترجمه کړې هغۀ ووئیل حضرت سلیمان علیه السلام ډېر ښۀ بادشاه وۀ. هغۀ له دوو ښځو یو ماشوم راوړلو یوې ښځې وئیل دا زما زوے دے بلې ښځې وئیل دا زما زوے دے. هغۀ

وئيل دا خو ډېره اسانه خبره ده. خپل درباري ته ئې وئيل دا ماشوم په مېنځ باندې نيم کړه، نيم يوې ښځې ته حواله کړه او نيم بلې ته. چې څهٔ وخت ئې په توره باندې نيمولو خپلې مور ئې اواز وکړلو چې ټکړې ئې نهٔ کړئ ما دروغ وئيلي دي دا دې بلې ښځې زوے دے. حضرت سليمان عليه السلام هغه بله ښځه گرفتاره کړه. وئيل ئې دې ښځې د دروغو دعوه کړې وه دا ماشوم د دغې ښځې زوے دے چې وئيل ئې پرې ئې نهٔ کړئ. نو قندهاري مشر وئيل چې دا زمکه زمونږ بچے دے دا مونږه پرې کولو ته نهٔ پرېږدو، هرکله چې دا خلق راشي نو مونږه ته داسې مسئلې جوړې کړي نو مونږ هم دغه اواز وکړو چې دا ماشوم دې ټکړې نهٔ شي. مونږ پښتنو دروغ وئيلي دي دا د دوي بچے دے. دغه شان دا تاريخي لوبه ټول عمر د پښتنو سره شوې ده. کهٔ دا د بهر نه راغلي قومونه د پښتنو په دې صوبه کښې اباد دي او کهٔ په افغانستان کښې اباد دي، د دې ماشوم د پرې کولو د وجې مونږ ټول عمر دوي ته مشري پرېښې ده چې د دوي د لاسه د دوو په ځاے نن ځلور ټکړې ده.

هرکله چې په افغانستان کښې د دغه خلقو مشري وي او د پاکستان د دې صوبې د پښتنو مشري هم د بهرني قومونو په لاس کښې وي خداے خبر دے چې مزيد به نورې څو ټکړې کېږي.

پخوانو مشرانو وئيلي دي:

توره په قسمت باندې کېږي. هرکله چې په ښه بده پوهه شوے يم نو د ژوند په هر کال کښې دوه يا درې پېښې راپېښې شوې دي، چې په غلط نيت باندې روان شوے يم، عين په موقعه باندې د غلط کار کولو په ځاے زما د لاسه صحيح کار شوے دے. بيا په زړهٔ کښې ووايم دا به الله تعالى ته منظوره وه دغه شان ډېر کارونه چې ماته

صحیح ښکاري او په ښۀ نیت باندې مې شورو کړې وو نو الله تعالٰی ئې راته ډېر زر وښائې چې دغه کار صحیح نۀ دے.

د پاک خدائے په ماباندې دا ډېر لوے فضل دے چې نور خلق خپل غلط کارونه په لسو کالو کښې سموي نو زۀ خپل غلط کارونه په یوه میاشت کښې صحیح کړم. دغه شان ډېرې تجربې مې په لږ وخت کښې وشوې، خپلې ټولې غلطۍ ښکاره کول راته ښۀ ښکاري په دې غلطو ښکاره کولو راته ځان بد نۀ ښکاري. او چې دا غلطۍ مې د لاسه چا سره شوي نو زر تر زره ترې نه معافي وغواړم او د پښېمانۍ اظهار وکړم خو بیا هم پښتون یم، د ټولو غلطو ذکر د کتاب په ذریعه نۀ کوم کشران به ترې نه غلط مطلب واخلي خو د سیاسي غلطو ذکر خامخا پکار وي چې راتلونکے نسل کم ازکم دغسې غلطۍ ونۀ کړي. نور دوي هم انسانان دي، دوي به غلطۍ کوي خو هغه به نوې غلطۍ وي او د نوې زمانې د لوے تاریخ سره به په نوے رنګ کښې رنګ کېږي. راتلونکي نسلونه کۀ دا صحیح تاریخ د خپلې علاقې او د خپل قوم ولولي نو غلطۍ به ترې نه کمې کېږي او هرکله کۀ خپلې فېصلې ئې په روایتي جرګو باندې وکړې او قومي مشرانو ته ئې په اتفاق رائې د فېصلې کولو اختیار ورکړو نو د غلطو ګنجائش به په کښې هډو پاتې نۀ شي او کۀ د دغې مشرانو نه خدائے نخواسته غلطي هم وشوه نو دغه غلطي به هم زمونږ په ګټه تمامېږي ځکه چې پښتانۀ مشران وائي پره جمبه د یار اشنا د پاره خو په جرګه کښې فېصله د خدائے د پاره او چې د خدائے د پاره کوم کار څوک کوي په هغې کښې تاوان نۀ وي.

ما په دې کتاب کښې د غلامۍ یوه قیصه کړې ده چې پښتانۀ به په بهر ملکونو کښې جنګېدل نو د هرڅۀ نه علاوه ئې په مال غنیمت کښې د غلامۍ په شکل کښې هلکان او جینکۍ راوستلې، دغه

جینکۍ به ئې خپلو زامنو ته وادهٔ کړې او دغې هلکانو ته به ئې خپلې لوڼه وادهٔ کړې ځکه چې په پښتنو کښې د غلامۍ رواج هډو د سره نهٔ وهٔ او نهٔ څوک په دې باندې پوهېدل، او چې غلام هرڅهٔ ته وائې خو چې په کوم ځاے کښې غلامي نهٔ وي هلته کښې به بادشاهي هم نهٔ وي خو دا غلامان چې دوي کوم د بهر ملکونو نه راوستلي وو په دغه ملکونو کښې بادشاهي دور وهٔ او چې بادشاهي وي نو غلامي به ضرور وي. دغه د ښو ښو نسلونو د اوچتو طبقو چاچې په جنګ کښې ځان د جنګ نه ساتلو، په محلونو کښې به پټ ناست وو دغه پښتنو نیولے د غلامانو په شکل کښې راوستلے وو. هرکله چې دغه غلامان دلته کښې دوي ازاد کړل او خپلې لوڼه خویندې ئې ورته وادهٔ کړې دا د شاهي کورنو خلق وو، تعلیم یافته هم وو، د تاریخ او تمدن نه هم واقف وو، هرکله چې دوي ته ثابته شوه چې دا پښتانهٔ د بادشاهۍ کولو شوقیان نهٔ دي خو په مال غنیمت پسې په هر لوري زغلي، د سېلونو او د جنګونو کولو شوقیان دي، هم د دې خلقو نه ئې خپل فوج جوړ کړو، د ثمرقند او بخارا په ځاے ئې د دوي مخ د هندوستان په لوري ستون کړو، د قبلې په ځاے ئې نمرخاتهٔ پله روان کړل. یعني دا خلق ئې د ځان سره واخستل د هندوستان بادشاهي ئې د دوي په ذریعه ترلاسه کړه. د دې فوج اکثریت چې به واپسي راتللو څهٔ لږ ډېر کسان به ترې نه هلته پاتې شو هغوي له به ئې هلته کښې فوجي جرنېلۍ او لوے لوے جاګیرونه ورکړل چې د هغې نسلونو اثار اوس هم په هندوستان کښې موجود دي. په افغانستان کښې شاهي روایات د بادشاه یا د امیر په نامه باندې پاتې شوي دي نو دغه امیران او بادشاهان هم دې خلقو جوړ کړي دي. د دغه امیرانو او بادشاهانو نه ګېرچاپېره هم دا خلق ناست وي. دوي ورسره په بادشاهۍ جوړولو کښې لاس کړے دے او

چلولې ئې هم دي او ساتلې ئې هم دي. هم دا د پښتنو قبیلو مشرانو ته ئې دا تاثر ورکړے دے چې د ټولو قبیلو مشران ئې د لویې جرګې غړي وو دا تاثر ئې ورکولو چې بادشاه د لویې جرګې د مشرانو په خوښه باندې د ملک فېصلې او مشري کوي هغوي ئې په دغه مشرۍ باندې مشغول کړي وو دا قبیلې ئې د تعلیم او تمدن نه لرې ساتلې وې.

هرکله چې دغه مشران په ځان باندې پوهېدل نو عمر ئې ختم وۀ او کۀ په اخري عمر کښې ئې مخالفت شورو کولو نو د هغۀ په ځائے باندې به ئې د هغۀ ورارۀ او یا بل کشر مقرر کړلو نو د هغۀ به هم په دغه رنګ خیال وۀ. دغه دوکه زمونږ سره نسل تر نسل روانه ده. د دغې پښتنو قبیلو خلق د کلو وسېدونکي وو، تعلیم ئې د جوماتونو او مدرسو پورې محدود وۀ، ښاریو ته به صرف د مزدورۍ د پاره تلل. د ځوانۍ پورې سبق ئې په مدرسو کښې وئیلے وۀ په جوماتونو کښې د چنو په حېثیت باندې لوے شوے وو چې کابل ته به لاړل نو دابه ورته د ټولو نه ښکلے ښار ښکارېدلو چې د کابل په ښو ښو هوټلونو کښې به قمیص او پروتګ والا څوک هم ننوتے نۀ شول. قمیص پرتوګ والا ته به په سنېماګانو کښې د ښۀ کلاس ټکټ نۀ ملاوېدلو، دغه شان په ټولو ښاریو کښې یو قسم خلق وسېدل او په کلو کښې بل قسم خلق وسېدل. د ښاریو خلق د بادشاهۍ، تمدن ولا خلق وو چې خپل تعلیمونه ئې دغلته کړي وو خپل تعلیم ورته دغه هرڅۀ ښودلي وو. دغه وجه ده چې هر بادشاه کابل ته راغلے دے نو په کابل کښې او د کابل په نورو ښاریو کښې دغه خلقو ورته هرکلے وئیلے دے او د کلو خلقو ئې مخالفت کړے دے.

اوسنۍ تاریخ د ډېرشو څلوېښتو کالو مونږ ته ښائي چې د ظاهر شاه په ځاے باندې داود خان ته هرکلے وشو نو د داود خان وژلو ته انقلاب ووئیلے شو. د هغې نه پس نورمحمد تره کی او حفیظ الله امین ته هرکلے وشو.

کۀ د حفیظ الله امین په ځاے باندې ببرک کارمل سره د روسیانو د راتلو په ټولو ښاریو کښې خلقو قبول کړو ځکه چې د ښاریو خلق ټول د بادشاهۍ او غلامۍ سره بلد وو. د هغوي د پاره په داود خان او په ګورباچوف کښې فرق نۀ وۀ، هم دغه خلقو ډاکټر نجیب ته، رباني ته، احمدشاه مسعود ته کابل حواله کړلو. د دوي په بادشاهۍ کښې سره د اسلامي د افغانستان د کلو خلقو څۀ تبدیلي محسوس نۀ کړه، حالانکې رباني او احمدشاه مسعود د حزب اسلامي په نامه باندې حکومت کولو. یعني د افغانستان د ښاریو نه اسلام بهر ونۀ وتلو په ښاریو کښې په امن و امان راوستلو کښې ناکام شول. د روس خلاف په جنګونو کښې د اسلام په نامه باندې د دغه پښتنو قبیلو اکثریت روان کړے وۀ د کابل او د نورو ښاریو بادشاهي ئې د اسلام په نامه باندې بیا ازبکو او تاجکو ته حواله کړه. هرکله چې پوهه شول چې د افغانستان د ټکړې کېدو سازشونه روان دي او د اسلام په نامه باندې دغه ازبک او تاجک زمونږه وطن افغانستان په نورو خلقو باندې وېشلے شي نو د کلو او مدرسو خلق ځاے په ځاے د دوي مخالفت ته راپاڅېدل اول ئې په خپلو کښې اتفاق نۀ وۀ خو د دوي په مخالفت ټول پوهه شول خو د دې خلقو دا خوش قسمتي وه چې په دغه دوران کښې د امریکې د تېلو او د ګېس تاجرانو ته په افغانستان کښې د مضبوط حکومت جوړولو ضرورت پېښ شو چې په دا رنګ مضبوط قوت چې دغه قوت یواځې تر ښاریو پورې محدود نۀ وي

بلکې په ټول افغانستان کښې یو شان حکومت کولے شي او امن و امان هم قایمولے شي.

پاکستان ته په دغه دوران کښې شل پنځویشت کاله د جنګ تاوان رسېدلے وۀ، ځکه چې دېرش لکه کسان ئې دلته کښې په مېلمستیا وساتل او چې د رباني او مسعود د دغې ازبکو، تاجکو د ټولو دفترونه په پېښور کښې وو، جمې جرګې په پېښور کښې کېدې او د بهرني ملکونو د سفارتخانو او د سفارتکارو سره ئې په اسلام اباد کښې لیدل کتل کېدل. هرکله چې د افغانستان تر تخته ورسېدل نو تعلقات ئې د هندوستان سره ښۀ کړل. تګ راتګ او تجارتي معاهدې ئې د هندوستان سره وشوې، د کارخانو، د سړکونو معاهدې د هندوستان سره وشوې. د پاکستان سفارتخانه ئې په کاڼو باندې وویشتله، د پاکستان مشرانو ته تر اوسه پورې دا پته نشته چې د دې بغض او کینې څۀ وجه وه؟ کۀ دوي دا کتاب ونۀ ګوریبیا به وره هم دا پته نۀ لګي.

پاکستان ته چې کوم دېرش لکهه مهاجر د افغانستان نه راغلے وو په هغې کښې چې کوم خلق د ښاریو وسېدونکي وو دلته کښې هم په ښاریو کښې اباد شول او چې کوم خلق د کلو نه راغلي وو هغوي په کلو کښې اباد شول. په ښاریو کښې چې کوم ازبک، تاجک اباد شوي وو هغوي دلته کښې د ابتدائي تعلیم د پاره په ښو ښو ادارو کښې داخلې واخستې او په خپلو کورونو کښې ئې خپلو بچو له مدرسې جوړې کړې چې د فارسۍ ژبې نه علاوه خپلو ماشومانو ته ئې انګرېزي او اردو ژبه وښودله چونکې د مور او پلار ئې د افغانستان د پښتنو سره کومه بغض او کینه وه هغه په پېښور کښې نوره هم زیاته شوه. په پېښور کښې د شلو پنځویشتو کلونو د وسېدلو نه پس په اردو

ژبه کښې او په انګرېزۍ ژبه کښې خبرې اترې کولې او په پښتو ژبه باندې نۀ پوهېدل. دلته کښې چې کېمپونو کښې کوم سکولونه جوړ شوي دي په هغې کښې ئې فارسي او پښتو ژبه دواړه ښودل ځکه چې په کېمپونو کښې ټول پښتانۀ وو چې خپلو بچو ته ئې خوراک څښاک پوره کولے نۀ شو. نو هغوي خپل بچي د خپلو کېمپونو مدرسو ته ولېږل. دې ماشومانو په دې مدرسو کښې مذهبي تعليم هم وکړلو، د ډوډۍ، جامې ضرورت ئې هم برابر شو يعني چې دلته راغلل په کېمپونو کښې ئې تعليم په فارسۍ، عربۍ او پښتو ژبه کښې زده کړلو چې کومو مدرسو ته به لاړل نو ورته به ئې پښتو او عربي ژبه ښودله کومو فارسي وانو چې دلته کښې په ښاريو کښې تعليمونه ورکول هغوي دلته کښې په ښاريو کښې په وړومبي ځل باندې پښتانۀ وليدل چې په ښو ښو بنګلو کښې وسېدل او ښې ښې موټرې ئې هم وې او کوټونه پتلونونه ئې هم اغوستلي وو نو د پاکستان حکومت ته ئې قهر نور هم زيات شو چې دا پښتون دلته کښې څۀ رنګ مالدار شوے دے؟ په افغانستان کښې په سوونو کلونو بادشاهي د دوي ترلاسه پاتې شوې ده اوس هم په دۀ باندې د کابل د پښتنو په ملکيت اخستو ئې پابندي لګولې ده چې کوم يو پښتون له به فارسي ژبه نۀ ورتلله او کوټ پتلون به ئې اغوستے نۀ وو په محفل کښې به د ناستې قابل نۀ شو ګڼلے. شائد چې دا سوچ ئې تر مزغو راتللو چې د کابل کوم پښتانۀ دلته کښې راغونډ دي او د پېښور پښتون ورور کوم عزيز دلته کښې ويني او پېژندګلو سره وکړي او په دې باندې پوه شي چې دلته کښې پښتون ته هرڅۀ ملاوېږي. دې چې تر افغانستانه ځي نو د دې خپل پښتون ورور پېښې هم کوي. او په ښاريو کښې به هم زمونږ نه خپل حق غواړي د پښتنو سره د دوي خپل زوړ بغض او زړه کينه هم وه په دې

خبرو ئې د پاکستان نه نفرت نور هم زیات شولو. بل طرف ته هغه د کېمپونو پښتانهٔ چې په ډېر لږ راشن ئې خپل ژوند تېرولو یا ئې په مدرسو کښې تعلیم کولو او یا ئې په مزدورۍ باندې خپل مور پلار بوډاګان ساتل، د هغوي د دې علاقې د پښتنو سره مینه او تعلق پېدا شو. ډېرو غریبانانو د دې پښتنو سره رشتې وکړې، د روس خلاف جهاد له چې به کله تلل نو دا خلق ورسره په مینه باندې تلے دي یعني دا فرق چا محسوس کړے نهٔ وۀ چې دا پاکستانے پښتون دے او کهٔ ایا دا افغانے پښتون دے؟

دغه شان په قندهار کښې چې کومو پښتنو جهادیانو د کابل د حکومت خلاف راپاڅېدل نو د طالبانو په نامه ئې تحریک شورو کړو دغه نوے طالبان ټول د مدرسو نه تلي دي زما د خیال د پښتنو په حواله باندې دا ډېره ښه خبره ده چې په هغوي کښې او په دوي کښې به نن هم فرق ونهٔ شي چې دا د افغانستان پښتون دے او کهٔ د دې ځاے پښتون دے؟

هرکله چې د پاکستان حکومت پوهه شولو کهٔ ازبکو او تاجکو سره ډېره مینه وکړو خو چې افغانستان ته لاړ شي نو د ایران، هندوستان، ازبکستان او تاجکستان سره به د دوستۍ لاس ورکوي. د افغانستان دغه پښتانهٔ چې کوم دلته کښې په کېمپونوکښې وسېدل د پاکستان احسان هم مني او دا ئې هم یقین دے چې زمونږ د دې ځاے پښتانهٔ ورونه په هر غم او په هر درد و تکلیف کښې ملګرتیا کوي. طالبانو ته د پاکستان په ملګرتیا کښې ډېر څهٔ ترلاسه شوي دي. د افغانستان په تاریخ کښې په اول ځل ۹۰ فیصده زیاتو افغانانو په افغانستان باندې بادشاهي لرله او امن و امان ئې هم قایم کړے وۀ. دا بېله خبره ده چې د پاکستان خارجه پالیسي ټول عمر امریکنیانو او

انګرېزانو جوړه کړې ده، ځکه چې په افغانستان کښې د طالبانو نه نور ښۀ ملګري نشته دے کۀ نن په افغانستان کښې فوج د امريکې پروت دے نو سياسي مشران ئې ټول د هندوستان دي. د کابل او افغانستان د نورو ښاريو د وسپډونکو خلقو په نظر کښې داود خان، ګورباچوف او بش او يا د دوي نمائندګان ټول عمر په يو نظر باندې کتلي دي.

د نورو بادشاهانو رسمونه رواجونه کابليانو ډېر زر خپلوي او ټول عمر دغه خلق بادشاه ته د بادشاه نه زيات وفادار وي. د دوي دغه کلچرونه او تعليمونه ډېر زر خپلولے شي خو د کلو خلق ټول پښتانۀ دي او پښتانۀ ټول مسلمانان دي په پاکستان کښې په وسپډلو باندې د دې ځاے د پښتنو په مينه او اخلاص باندې په خپلې پښتو او په خپل مذهب باندې نور هم مضبوط کړل. زمونږ د دې صوبې څۀ مشرانو په خپلو وېناګانو کښې وئيلے وو چې خودکش دماکې د غريبانانو کلچر دے دا مونږه ته د هغوي نه په وراثت کښې پاتې شوے دے. ما جواب ورکړو چې دا صحيح ده چې د هغوي کلچر دے خو دا رنګ اسلام د هغوي د تاريخ او د کلچر يوه حصه ده. هرکله چې پښتانۀ مسلمانان شول او ټولې ايشيا ته ئې اسلام ورسولو. خصوصاً هندوستان او پاکستان دغه شان زمونږه کلچر نۀ دے. هرکله دا يوځل تر پښتنو راغللو نو دا کلچر په هندوستان او پاکستان خورولے شي. دغه شان د خپلې تجربې په حواله باندې په پاک خداے مې دا يقين دے او دا مې ايمان هم دے چې پروردګار څۀ کوي هغه د خپل بنده د خېر د پاره کوي.

څۀ ګتې په دا شتۀ جنګ کښې ښکاره ښکاري زمونږ د دې صوبې اويا فيصده پښتانۀ د روس سره د جنګ په دوران کښې په مختلفو طريقو باندې د افغانانو ورونو سره امداد او مرسته کړې ده. چونکې د روس د تللو نه پس د افغان مشري بيا د ازبکو او تاجکو

ترلاسه شوه او په پښتنو کښې ئې ډلې جوړې کړې د طالبانو په شکل کښې د افغانستان په تاریخ کښې ټوپک ته لاس کولو والا او جنګ کولو والا هم پښتانۀ دي. هلته ئې هم په مدرسو کښې تعلیم کړے د ے داسې ښکاري چې د امریکې خلاف په دې جهاد کښې د دې صوبې او د افغانستان ۹۰ فیصد پښتانۀ په یو طرف دي. جنګ د اسلام په نامه باندې د ے، توره د پښتون ترلاسه ده، زمونږ د دې صوبې خلق چې کوم د سیاست کولو بلد دي ټول عمر ئې ځان ته پښتانۀ وئیلي دي، خپلې پارټۍ ته ئې د پښتنو پارټي وئیلې ده خو د پښتو پښتونولۍ کار ئې تراوسه پورې یو هم کړے نۀ د ے. هرکله کۀ حکومتونو کښې راغلي دي نو هم ئې پښتنو ته خبر ورکړے نۀ د ے.

طالبانو چرته هم ځان ته پښتانۀ وئیلي نۀ دي او نۀ ئې خپلې پارټۍ ته دپښتنوپارټي وئیلي ده خوټوله دنیاخبر کړې شوه چې طالبان ټول پښتانۀ دي او دا هم وائي چې د دوي د مشرانو اکثریت د پاکستان د جوړو شو مدرسو نه تلے د ے. امریکه بار بار په پاکستان باندې الزامونه لګوي چې پاکستان پټ په پټه د طالبانو سره امداد کوي.

هرکله کۀ د پاکستان مشري د یو صحیح پاکستاني تر لاسه راغلله نو هغه به یقیني د طالبانو سره ملګرتیا کوي. دغه به هم زمونږه تاریخي ګټه وي نو کۀ چرې دا رنګ نۀ وي نو چې کوم طالبان دوي په قندهار کښې جوړ کړے وو په ډېر لږ امداد باندې دریائے امو ته ورسېدل. دغه شان اوس په باجوړ او په دیر او مهمندو او په سوات ملاکنډ او په بنو او په ډي ائي خان، ټانک، کرک او د کوهاټ په لاره باندې تر مونږه راورسېدل او اثرات ئې په اسلام اباد کښې هم ښکاره دي. د طالبانو دا اوسنے جنګ د امریکې خلاف یواځې جهاد نۀ د ے بلکې د ټولو پښتنو د ازادۍ جنګ هم د ے او ټول پښتانۀ ئې په شریکه

باندې ترسره کوي. هرکله کۀ امریکې په یو کال کښې دننه خپل فوج د افغانستان نه ونۀ ویستلو نو دا خبره به بیخي ختمه شي چې په افغانستان کښې کوم خلق د امریکې خلاف جنګیږي. دا کۀ د افغانستان پښتانۀ دي او کۀ د پاکستان پښتانۀ دي دغه شان په دې جهاد کښې به د پښتنو وروروَلي نوره هم مضبوطه شي او د ګټې په شکل نۀ یواځې د امریکې نه او نۀ خپله علاقه خلاصه کړو بلکې د ټولو پښتنو د ازادۍ او د یو والي باعث کېدے شي.

په دې جنګ کښې به د پښتنو د خاورې پېدا پښتون مسلمان خپل پښتون مسلمان هم وپېژني او د بهرني ملکونو نه راغلي مهاجر چې دوي عمر له خپلې مشرۍ بادشاهانو ته حواله کړي دي د هغوي ایمان او پښتو به ورته هم معلومه شي.

د علامه اقبال د یو شعر ترجمه ده چې:

ملت افغان د اېشیا زړۀ دے هرکله چې زړۀ بې ارامه وي ټول وجود به بې ارامه وي. مطلب دا دے چې افغانستان کښې امن وي نو په ټوله اېشیا کښې به امن وي او چې په افغانستان کښې جنګ وي نو په ټوله اېشیا کښې جنګ وي.

د ۱۹۸۰ء خواوشا کښې زۀ د عوامي نېشنل پارټۍ تحصیل چارسده صدر شوم. زۀ په اېن ډي پي کښې شامل وم او زما د ټولو سوشلسټو او مزدور کسان پارټۍ واله سره هم ښۀ تعلقات وو او د روس کمیونسټ پارټۍ زمونږ مشرانو ملګریو ته وئیلي وو چې قومي جمهوري انقلاب د پاره لار هواره کړي. د دې د پاره هغه سوشلسټې پارټۍ چې لبرل وي او سوشلسټ افکارو سره مخالفت هم نۀ لري، هغه ورې ورې پارټۍ یو ځاے کړئ او یوه لویه پارټي ترې جوړه کړئ چې

هغه قومي جمهوري انقلاب ته لار هواره کړي. زۀ چونکې په چارسده کښې ورومبے مزدورکسان پارټۍ کښې شامل شوے وم، د افضل بنګش او د هغۀ ټول خاندان سره مې ښۀ تعلق وۀ او تر اوسه پورې يو بل سره غم ښادي هم کوو. لطيف افريدے چې د بزنجو د پي اېن پي د دې صوبې صدر وۀ، هغۀ سره مې هم ډېر نزدې تعلق وۀ او دغه وخت په اېن ډي پي کښې په خپله هم وم نو بنګش صېب او لطيف افريدي صېب ته به مې هر وخت وئيل چې سره د اېن ډي پي دا ټوله يوه پارټي کړو. خو بزنجو صېب اخره کښې انکار وکړۀ او لطيف افريدے يواځې د صوبائي صدر په حېث مونږه سره کراچۍ ته لاړۀ او د حاکم علي زرداري په کور کښې زمونږ دا اجلاس وشۀ، چې د سندھ پليجو هم خپله پارټي راوسته چې زۀ هم تاسو سره شامليږم. دا ټول خلق پخوا په نېشنل عوامي پارټۍ کښې يو ځاے پاتې شوي وو او غوښتل ئې چې بيا دې له دغه نوم ورکړو خو ټولو ووې چې په دې نوم باندې خو پابندي لګېدلې ده نو ما يو چيټ ورولېږۀ چې هغه نېشنل عوامي پارټي وه او اوس به ورته عوامي نېشنل پارټي وايو. ولي خان ووې چې چا چيټ رالېږلے دے چې په نېشنل عوامي پارټۍ پابندي ده نو دې ته عوامي نېشنل پارټي ووايئ. ټولو ورسره اتفاق وکړۀ چې ټيک ده او چې کابينه جوړېده نو دا کومې پارټۍ چې مونږ سره يو شوې وې، ټولو ته په کښې حق ورکول وو ځکه نو ولي خان صدر شۀ او په نائب صدرانو کښې د سندھ نه پليجو، زمونږ د صوبې نه لطيف افريدے او مزدور کسان پارټۍ ته ئې ډپټي جرنل سېکرټري پوسټ ورکړۀ او داسې ټولو صوبو ته ئې حکم وکړۀ چې تاسو خپلو کابينو کښې دې ټولو پارټو ته نمائندګي ورکړئ او صوبو دا خبره خلقو ته وکړه چې لکه مزدور کسان پارټۍ او د لطيف افريدي پارټۍ له به په کابينه کښې

نمائندګي ورکوئ. چارسده هغه وخت کښې تحصیل وۀ، زمونږ پېښور ضلع وه. د ضلعې صدر بشیرخان وۀ او په تحصیل چارسده کښې باقاعده په الېکشن باندې زما نوم وړاندې شو او زۀ د تحصیل چارده صدر شوم، نائب صدران مو څۀ د مزدور کسان پارټۍ نه واخستل او څۀ د لطیف افریدي د پارټۍ نه. او جرنل سېکرټري ما سره وارث خان وکیل شۀ. دې نه مخکښې چرته سیاسي پارټو کښې عهده نۀ وه اخستې نو په کار هم ښۀ نۀ پوهېدم. په کالجونو یونیورسټو کښې په ډې بېټهونو باندې بلد وم، ما چې به څۀ خبره کوله نو دې ټولو به راته وئیل چې ټیک ده. ما به غوښتل چې څوک راسره بحث وکړي او ووائي چې دا ټیک نۀ ده یعني ټولو به وئیل چې خان ټیک وائي ما له به غصه راتله. زمونږ یو مشر چې ډېر ښۀ سوداګر وۀ د ګوړې کاروبار به ئې کولو، کابل او کوئټې ته به ئې ګوړه اوړه. د جومات اسلامي ممبر وۀ. هغۀ به څنې وخت زما د خبرو مخالفت کولو. یوه ورځ ماښام یواځې ناست وم زړۀ کښې مې وئیل چې هغه جومات اسلامي واله ملګرے پکار دے. د هغۀ عزیزالدین نوم وۀ. هغۀ پسې مې ملګرے ولېږلو چې د ماښام ډوډۍ به هم ماسره وخوري او ګپ شپ به هم ولګوو. په هغه وخت کښې چې به د ښشنلسټو مخکښې چا باچا خان پسې خبره کوله نو هغوي به د مرۍ نه نیوۀ. عزیزلالا ته مې وئیل ماته خو پته ده چې تۀ په جومات اسلامي کښې یې، تاسو ښې رښتیا خبرې هم کوئ. د باچاخان متلعق ستاسو څۀ خیال دے. هغۀ وئیل چې دا خو پښتانۀ نۀ دي. په دې خبره ما له هغه وخت دومره قهر راغلو چې هغه خپلې خبرې رانه هم خطا شوې، ګوره دې د باچاخان غوندې سړي ته وائي چې پښتون نۀ دے خو دا سوچ مې کولو چې دې مېلمه هم دے، ما راغوښتے هم دے، زما ځاے هم دے زما حجره هم ده. ما ورته ووې

چې تهٔ د څهٔ نه وایې، څهٔ کتاب کښې دې کتلي دي کهٔ چانه دې اورېدلي دي. هغهٔ راته وئیل تاته خو پته ده چې زهٔ ان پړهـ سړے یم کتابونه مې نهٔ دي وئیلي خو زهٔ ستا نه یو تپوس کوم. ستا خو په دې کلي کښې، چارسده کښې، سوات، بنو وغیره کښې ګپ شپ دے. په هغې کښې ډېر غریبانان هم شته او مالدار هم شته. تهٔ چې چاله ورشې نو څهٔ د چائې اوبو ست درته کوي؟ ما ورته وئیل بالکل هر یو کس راته د چائې اوبو ست کوي. هغهٔ وئیل چې چائې درله راوړي نو کوم ځائے دې کښېنوي. ما ورته وئیل حجره کښې. هغهٔ وئیل چې حجره ئې نهٔ وي؟ ما ورته وئیل بېټک کښې. وې ئې چې بېټک ئې هم نهٔ وي؟ ما ورته وئیل چې د کور مخې ته لاره کښې کټ واچوي او په هغې کښې کښېنو چائې وڅښو. هغهٔ وئیل کور ته چا دننه بوتلے یې، چې ښځه لور او بچي ئې ناست وي او دې تا د نغري غاړې ته کښېنوي او چائې وڅښې. ما ورته وئیل داسې لاچا نهٔ دي کړي، کور ته لاچا نهٔ یم بوتلے. وې ئې غریبانانو.... ما وې داسې لانهٔ دي شوي. وې ئې سوات، بونېر، بنو کښې چا کور ته وبتلے یې؟ ما وې هلته هم چا نهٔ یم بوتلے. وې ئې د دوي (ولي خان) کور ته چې لاړ شې نو کوم ځائے ناست یې، چائې درله کوم خوا راوړي؟ ما ورته وئیل کور کښې ناست یم. وې ښځه ئې وي، ما وې ښځه خو ئې د پارټۍ مشره ده، وې لور ئې وي ما وئیل چې کله په کور وي نو لور ئې هم وي. وې ئې تهٔ خو د پارټۍ د دې ځائے چارسدې صدر یې خبر دے خو دا د سوات، بنو یا نورو ځایونو نه څوک راشي هغه چرته کښېني؟ ما ورته وئیل هغوي هم کور کښې کښېني، کهٔ څهٔ چائې ډوډۍ وي نو هغه هم کور کښې وي. هغهٔ وئیل بس دغه مې درته وئیل چې دا پښتانهٔ نهٔ دي، پښتانهٔ ستر کوي خو د دوي په کورنیو کښې د پخوا راسې ستر نشته او پخوا به چې د ټول

هندوستان نه خلق راتلل، کهٔ هغه به هندوان وو، کهٔ سیکان، کهٔ مسلمانان، دوي به کور کښېنول. پخوا چې به د پښتنو زنانه بهر ته تللې په ټانګه کښې، نو د ټانګې نه به ئې پردې تاو کړې وې او د پردو نه دننه به هم سپینې شټل کاک برقعې اچولې وې او د دوي زنانه به بغېر برقعې ګرځېدلې، دوي کښې ستر پرده نهٔ وو.

فېصله:

زهٔ خپله د هشتنغر سړے یم نو زما دا کوشش دے چې شورو د هشتنغر نه وکړم چې پښتانهٔ هشتنغر سره څنګه تړلي شوي دي، افغانستان سره څنګه تړلي شوي دي او بیا پاکستان سره څنګه تړلي شوي دي او دا تاریخ مې ډېر لنډ د دوو دوه نیمو سوو کالو د هندوستان وغېره چېړلے دے چې زما دې مقصد سره سمون خوري. د ۱۹۳۰ء نه راپه دې خوا د هندوستان پښتانهٔ ۹۵في صد نه زیات باچاخان سره وو او باچاخان کانګرس سره وهٔ ځکه دغه پښتانهٔ کانګرس سره وو. کانګرس د انګرېزانو خلاف جومات وهٔ. د انګرېزانو نه ئې ازادي غوښتله د دې نه مخکښې د افغانستان سره د انګرېزانو درې غټ جنګونه شوي وو چې د دې ځائے پښتانهٔ هم د افغانستان د پښتنو سره یوځائے د انګرېز سره جنګېدلي وو. د ۱۸۵۷ء جنګ اخري وهٔ چې دا پښتانهٔ د انګرېز سره جنګېدلي وو. په دې جنګ کښې د انګرېزانو د وېنا مطابق ۹۵في صد د هندوستان مسلمانان په انګرېز پسې راپاڅېدلي وو او په دې ۹۵في صد مسلمانانو کښې ۷۵في صد پښتانهٔ وو. په دې کښې هغوي د ټولو علاقو ذکر کړے دے چې د پښتنو دې علاقې نه دومره کسان راغلي وو او د دې نه دومره. په دې کښې د ټولو نه زیات د هشتنغر خلق ۱۱۰۰۰ کسان او ۲۰۰۰د دوابې

نه وو. دغه شان د چارسدې ۱۳۰۰۰ کسان شو. دغه شان انګرېزانو وئيل چې هندوستان کښې به مسلمان له سزا ورکوو چې دې مونږ. پسې راپاڅېدلے دے او په مسلمان کښې په پښتنو له سزا ورکوو چې په دغه ۹۵في صد مسلمان کښې ۷۵في صد پښتون دے او په پښتنو کښې به هشتنغر له سزا ورکوو چې زيات خلق د هشتنغر وو. هغه وخت کښې د هشتنغر پنځۀ پنځۀ نيم زره کورونه وو او په دغه وجه په پښتنو مسلمانانو کښې دا متل خور شۀ "هشتنغر خورې کۀ نۀ خورې خو بد ئې مۀ وايه".د انګرېزانو سزا دا وه چې په هغه ځاے کښې دې خانئ او نوابئ جوړې کړې کړي. په ټوله پښتونخوا کښې د انګرېزانو د لاس ورکړې دومره خانئ او نوابئ نشته لکه څومره چې په هشتنغر کښې دي. د هر ځاے د خلقو نه به ئې زمکې ضبط کولې او خپلو وفادارنو له به ئې د خانئ او نوابئ په شکل کښې ورکولې. دغسې انګرېز هر پښتون له پلار نيکۀ وژلے وۀ نو د هر پښتون دشمن وۀ او په هندوستان کښې کانګرس پارټي انګرېز مخالف وه ځکه ټولو پښتنو کانګرس سره ښۀ په شوق ملګرتيا وکړه. دا خو لا د هندوانو پارټي وه کۀ د يهوديانو پارټي وه او د انګرېز مخالفت ئې کولو نو پښتنو به هغوي له هم لاس ورکړے وۀ. د پښتنو د باچاخان سره ځکه تړون راغلو چې باچاخان کانګرس کښې وۀ او کانګرس د انګرېز نه ازادي غوښتله. د دوي دا خيال وۀ چې باچاخان به د پښتنو ازادي غواړي خو باچاخان دا خبره چرته هم نۀ ده کړې بلکې هغۀ به وئيل چې زۀ په شريک هندوستان کښې د ګاندهي د لاندې وسېدل غواړم او د هندوستان په پارليمنټ کښې د خپلې صوبې د پاره خودمختاري غواړم نه چې ازادي خو د هغه وخت چې ورسره د پښتنو کوم مشران تړلي وو، د هغوي په دې خبره اعتبار نۀ وۀ چې دې به مونږ له پښتنانۀ

ازادوي، کۀ د هندوستان نه وي او کۀ د پاکستان نه. يو ښۀ مثال ئې دا دے چې په کوهاټ کښې د پښتونستان په نوم د سنټرل کمېټۍ ۴۹ کسان راغونډ شوي وو او د پښتونستان په نوم ئې په اکثريت قرارداد پاس کړۀ چې مونږ ځان له ازاد وطن پښتونستان غواړو. په ۴۹ کسانو کښې صرف دوو کسانو مخالفت کړے وۀ چې يو باچاخان وۀ او بل د مردان اميرمحمدخان وۀ. قرارداد خو په اکثريت پاس شۀ خو چې باچاخان ئې مخالفت کولو نو چا به وړاندې کولو. داسې نورې هم ډېرې حوالې شته چې د دې خبرې تصديق کوي. ټول پښتانۀ د انګرېز خلاف وو ځکه چې د هرې کورنۍ پلار نيکۀ ئې وژلے وۀ خو د باچا خان د کورنۍ يو کس هم نۀ دے مړ. د۱۸۵۷ء د جنګ نه پس چې نورو پښتنو ته سزاګانې ورکولې کېدې، پښتانۀ وژلي کېدل او زمکې ئې ضبط کېدلې، د باچاخان پلار بهرام خان ته چېرمېني ورکړې شوه او ورسره په انعام کښې زمکه هم ورکړې شوه ځکه چې هغه جنګ له نۀ وۀ تلے بلکې د هرې علاقې د خلقو هغه معلومات ئې انګرېزانو له ورکړي وو چې د فلانۍ علاقې نه دومره خلق درغلي او د فلانۍ نه دومره. ځکه خو به ورته د انګرېز په سرکاري عدالت کښې د ناستې د پاره کرسۍ کېښودې شوه. انګرېزانو د ټولو نه زياته سزا هشتنغر والا له ورکوله او په هشتنغر کښې د ټولو نه زياته سزا زمونږ کورنۍ ته ورکړې شوه ځکه چې زمونږ نيکۀ شهبازخان د دې يولس زره کسانو مشري کړې وه او په دې جنګ کښې سره د خپلو ټولو وروڼو شهيد شۀ.

دا خبره مې ځکه وليکله چې کله مونږ ډېر په فخر ووايو چې زمونږ نيکونه د انګرېزانو خلاف وو نو د پاکستان ايډمنسټرېشن مونږ ته هم د شک په نظر ګوري چې اوس به زمونږه هم خلاف وي. دغه شان چې هر بيوروکرېټ سره مې په سرکاري ځاے کښې کار وي نو

ځان غلے کړم او کۀ چرته په خطا کښې مې هم د ځلې نه وځي نو بیا زما هغه جائز کار هم نۀ کېږي.

مسلم لیګ د خانانو نوابانو جومات وۀ. څنګه چې د نور هندوستان خانان او نوابان په مسلم لیګ کښې وو داسې د پښتنو خانان او نوابان هم په مسلم لیګ کښې وو. د دې خانانو او نوابانو بچو به په لندن کښې سبق وئیلو. د ۱۹۳۰ء نه پس چې انګرېزانو د ون مېن ون ووټ خبره وکړه نو ورسره ګاندهي د نوابۍ د ختمولو خبره وکړه نو د هندوستان د خانانو او نوابانو سره خطره پېدا شوه څکه چې د هندوستان بېورو کرېسي هم د دې نوابانو د بچو د ښۀ تعلیم په وجه د دوي په لاس کښې وه. اسمبلو ته به هم دوي تلل. دغه وخت چې د خانانو او نوابانو څومره بچو په لندن کښې او کېمرج کښې سبق وئیلو هغوي یو پمپلټ شائع کړۀ او د پاکستان نوم ئې ورکړۀ چې پ: د پنجاب د پاره، الف: د افغانیې د پاره، ک: د کشمیر د پاره، س: د سندهـ د پاره او تان: د بلوچستان د پاره وو. د دوي په هغه وخت کښې هم د بنګال سوچ نۀ وۀ او نۀ ئې هغه په پاکستان کښې راوستے وۀ یعني د خپلې نوابۍ او حکومت د برقرار ساتلو د پاره چې کومه علاقه اوس د پاکستان په لاس کښې ده، بنګال هغه وخت کښې د دوي په نظر کښې نۀ وۀ 37-1936ء کښې په وړومبي ځل په ون مېن ون ووټ ووټونه وشو او مسلم لیګ د دې شتۀ پاکستان په ټولو صوبو کښې الېکشن بائلو. زمونږ صوبه کښې کانګرس ووټونه وګټل، پنجاب کښې یونینسټ ووټونه وګټل او په سندهـ کښې سندهو دېش او ازادو ځکومت جوړ کړۀ. مسلم لیګ د ټولو نه زیات ووټونه بنګال کښې واخستل حکه چې بنګال کښې مسلم لیګ د بنګال د ازادۍ خبره کوله، د بنګال د مسلم لیګ مشرانو عوامي لیډران وو او د خپل قوم

د پاره ئې د خپل قوم د ازادۍ خبره کوله. د ۱۹۴۰ء د لاهور د قرارد په وخت هغوي جناح صيب او نورو مشرانو ته ووې چې مونږه ځکه ووټونه واخستل چې مونږه د بنګال د ازادۍ خبره کوله. سندھ کښې سندهو د پش ځکه وګټله چې هغوي د سندھ د ازادۍ خبره کوله. پښتونخوا کښې ځکه کانګرس وګټله چې کانګرس د پښتون د ازادۍ خبره کوي. پنجاب کښې یونینسټ ځکه وګټله چې هغوي د شریک هندوستان خبره کوي د هغوي په شریک هندوستان کښې زیاته فائده ده. ځکه چې مونږ غواړو چې هره صوبه دې یو ازاد او خودمختار ملک شي نو دا ټول خلق به مونږ له ووټ راکړي ځکه د ۱۹۴۰ء په قرارداد کښې د پاکستان ټکے نشته او ټولو صوبو له ئې د ازادو مملکتونو ازادي غوښتله. دې ځاے کښې ئې ټولې صوبې او بنګال مملکتونه غوښتي دي. د ۱۹۴۰ء د قرارداد سره د مسلم لیګ سره د خلقو اتفاق خو شورو شۀ خو مشري ئې بیا هم دغه نوبانو سره وه، کوم چې د هندوستان وسېدونکي وو. دوي وئیل چې دا صوبې ازادې شي نو مونږ به څۀ کوو ځکه چې مونږ خو د دې ځاے نۀ یُو، د هندوستان یُو او کۀ سبا له دې طرف ته راشو نو نۀ مو سندھے قبلوي او نۀ مو پنجابے قبلوي. مونږ چې کومې پورې دا سوچ ختم کړے نۀ وي چې صوبې دې خودمختارې وي نو دا هم مونږ له منل نۀ دي پکار، سره د دې چې دغه وخت کښې لا د تقسیم او د پاکستان د جوړېدو خبره سرته نۀ وه رسېدلې. په ۱۹۴۶ء کښې بیا ووټونه وشو خو بیا دوي په دې بنیاد باندې وکړل چې چا مسلم لیګ له ووټ ورکړۀ هغوي پاکستان غواړي او چې چا مسلم لیګ له ووټ ورنۀ کړۀ هغوي پاکستان نۀ غواړي. هغه وخت کښې لا بلوچستان صوبه نۀ وه او په دې درې واړو صوبو کښې مسلم لیګ بیا هغه شان بائله لکه مخکښې چې وه. سندھ کښې

سندهو دېش راغلل، پنجاب کښې یونینسټ او پښتونخوا کښې کانګرس راغلل خو په بنګال کښې مسلم لیګ په دو تهائي وګټله ځکه چې هلته صرف د بنګال د ازادۍ او د ځان له ملک خبره شوې وه. په دې بائلات جناح صېب دومره خفه وُه چې وئيل ئې زهٔ واپس لندن ته ځم او هلته خپل پرېکټس شورو کوم چې د دې ځائے خلق پاکستان نهٔ غواړي نو زهٔ ئې چاله جوړ کړم. خو دغه د هندوستان نوابانو ورته ووئيل چې په بنګال کښې مونږ ډېر زيات ووټونه اخستي دي او په پرسنټېج باندې ۹۰ في صد دي او د هغه ځائے ابادي هم ډېره ده. دې صوبو کښې چې مونږه ۱۰ او ۱۵ في صد ووټونه اخستي دي، دې سره چې د بنګال ووټونه هم يو کړو او دا ټول يو ځائے کړو نو دا د ۵۰ في صد نه زيات جوړېږي، دا د پاکستان ووټونه شو او د پاکستان خبره سمه شوه. بيا هم په پښتونخوا او چټاګانګ کښې کانګرس ګټلې وه نو دلته رېفرنډمونه هم وشو خو چې د پاکستان مطالبه د دوي په شکل کښې سرته ورسېده نو بيا هم د خلقو دا خيال نهٔ وُه چې د هغه ځائے نوابان به ټول دلته (پاکستان) ته راځي. د هغه ځائے نوابانو په خپلو کسانو باندې هندوان غريبانان وژل ځکه چې دغه کسان په وسله باندې هم پوره وو او کسان به ورسره هم وو او دغه شان به هلته مسلمانان خلقو وژل.

په دې سلسله کښې به دا خبره هم وکړم چې د چارسدې د نجيم اباد د مسلم ليګ يو سالار ګوهر خان د هندوستان د مسلم ليګ مشرانو سره د ملګرو هندوستان ته راوغوښتو او ورته ئې وئيل چې دلته ځائے په ځائے هندوان وژنئ چې دا هندوان په طيش کښې راشي او دا مسلمانان وژل شورو کړي. دا عتراف هغهٔ وروستو په جلسو کښې کړے وُه او بيا په نېشنل پارټۍ کښې شامل شوے وُه او د

عوامي نېشنل پارټۍ د تحصیل چارسده صدر هم پاتې شوے وۀ او د ولي خان سره ئې ډېر نزدې تعلق هم جوړ شوے وۀ. مطلب دا چې د هندوانو او مسلمانانو تر مېنځه دا فسادات هم مسلم لیګ شورو کړي وو د دې د پاره چې د پاکستان مسلمانانو ته دا وښائي چې دلته د مسلمانانو حالات ډېر زیات خراب دي او مونږ پاکستان ته درځو او داسې هغوي پاکستان ته راتلو د پاره ځان ته لاره هواره کړه.

دغه نوابانو د پاکستان په سندهي، بلوچي او پنجابي احسان کوۀ چې ستاسو او د پاکستان د پاره مونږ هلته خپلې زمکې پرېښودې حالانکې هلته د نهرو په وزیراعظمۍ کښې نوابۍ ټولې ختمې شوې وې. د دې ځاے نه چې څومره هندوان تلي وو او د هغوي نه زمکې او جائیدادونه پاتې شوي وو هغه ئې په خپل نوم کړل چې دا دې مونږ ته وسپارلے شي او ترننه پورې د کلېمپ په نوم باندې د هندوستان نه راغلي خلقو پسې په نوم باندې شوي دي او دوي په دوو دوو او درېو درېو کسانو خرڅ کړي دي تراوسه پورې پرې کېسونه چلېږي.

دلته د راتلو سره سم دوي د دې ځاے په اېډمنسټرېشن قبضه وکړه. چا به وئیل چې زۀ هلته سي اېس پي افسر وم خو کاغذونه رانه ټول هلته پاتې شوي دي. بیا ئې خپله ژبه اردو د ټول پاکستان ژبه کړه او څۀ وخت پس ئې د ټولو ژبو په فلمونو او رسالو بندېز ولګولو، چې بنګالیان د هغې خلاف راپاڅېدل نو هغوي ته د بنګالۍ ژبې څۀ لږ ډېر حق ملاؤ شۀ خو مغربي پاکستان کښې نورو صوبو ته دغه حق ملاو نۀ شۀ. رېډیو کښې د اردو او انګرېزۍ خبرونه او اخبار به هم صرف په اردو او انګرېزۍ ژبه کښې وۀ. د ۱۹۴۰ء په قرارداد کښې د ټولو نه وړومبۍ خبره دا وه چې هندوستان کښې انګرېزانو ټول زاړۀ قانونونه راغونډ کړل او د ۱۹۳۵ء اېکټ ئې ورته ووې چې هغه د هندوستان

وفاق ساتلو د پاره وو او هغه د ۱۹۴۰ء قرارداد ونهٔ منل او د هغې مخالفت ئې وکړهٔ او اوس په پاکستان کښې ټول قانون د ۱۹۳۵ء ایکټ لاندې چلیږي. د ۱۹۳۵ء ایکټ چې څو رزو انګریزانو په ټول هندوستان یونیم سل کاله حکومت کړے وهٔ نو دې د هندوستان نه راغلي نوابانو خپلو کښې دا ووې چې مونږ خو په لکونو کښې یُو نو مونږ هم په پاکستان حکومت کولے شو. څنګه چې هغوي د هندوستان قومونه خپلو کښې جنګول او حکومت ئې پرې کولو هم دغسې به د هغه انګریزي قانون لاندې مونږ د پاکستان قومونه خپلو کښې جنګوو او حکمراني به پرې کوو. دې سره د پاکستان قومونو چې د پاکستان د جوړېدو نه مخکښې صوبې موجود وې، خپل تاریخ او خپل کلچر ئې لرلو، د هغې د ختمېدو کوشش تراوسه پورې کوي او تر ډېره حده پورې په کښې کامیاب دي. د هندوستان د مهاجرو ژبه زمونږ د پاکستان قومي ژبه شوه او د هندوستان کلچر زمونږ کلچر او ثقافت شهٔ. په فلمونو او ټي وي هرځهٔ کښې نهٔ د سندهي کلچر شته، نهٔ د پنجابي شته او نهٔ د پښتون، په لارو کوڅو او وادهٔ ښادۍ کښې هم هغه د هندوستان کلچر روان دے. تر دې حده پورې چې زمونږ اسلام هم هغه د هندوستان اسلام شهٔ. زمونږ او د سعودي د وخت د دوو ګېنټو فرق دے. د ټولې دنیا مسلمانان چې په سعودي کښې په کومه ورځ روژه شي، روژه کوي او چې په کومه ورځ سعودي کښې اختر وي نو نور خلق اختر کوي. خو زمونږ روژه او اختر د دلي سره دي چې کله دلي کښې روژه شي نو مونږ روژه کړو او چې د دلي اختر شي نو زمونږ اختر شي. زمونږ اسلام هم د دلي اسلام دے.

د ضیاءالحق په وخت کښې نورې بارډرې کولاو شوې او په هر بارډر باندې د هندوستان نه نور خلق په ګارټنې راغلل چې دلته به

ورته نوکري ملاوېږي. د ۱۹۷۰ء نه مخکښې په فوج کښې د مهاجرو دومره خلق نۀ وو، د ضیاءالحق نه پس په فوج کښې هم د جرنېلانو اکثریت د دوي دے. زمونږ عام پاکستانے چې د بېنک نه قرضه اخلي نو خپل د زمکې جائیداد یا د څۀ ګارنټي به ورکوي. چې د یو لاکهـ ګارنټي ورکړي نو بېنک ورله ۶۰ في صد قرضه ورکړي. د مهاجر د پاره دا قانون نشته. هغوي وائي د دوي جائیداد په هندوستان کښې پاتې شۀ نو دوي د څۀ ګارنټي ورکړي. هغوي چې پرې څۀ ځاے جوړوي د هغې ګارنټي ورکړي. دغه شان پخوا به ئې د بېنکونو نه قرضې واخستې، دلته به ئې پرې کارخانې جوړې کړې اوس چې دغه قرضې واخلي نو کېنېډا یا برطانیه کښې پرې کاروبارونه کوي چې لږې قرضې واخلي نو دوبۍ او قطر کښې پرې کاروبارونه شورو کړي. دغه شان په پاکستان کښې یو هندوستانے مهاجر هم بې روزګاره نشته او په څلورو واړو صوبو کښې زمونږ ۸۰في صده خلق بې روزګاره ګرځي. یوه لطیفه ده چې څوک روزګار غواړئ نو مهاجره ښځه وکړئ او واقعي چې چا مهاجره ښځه کړې نو ډېر ښۀ روزګار ورته ملاو شوے دے. کۀ د پاکستان په دې قومونو کښې څوک هم مهاجره ښځه وکړي نو په هر قسم روزګار کښې مخکښې ځي سره د سیاسته. پنجاب زمونږ نه اکثریتي صوبه ده ډېر پنجابي لیډران ئې بدل رابدل کړل خو په چا ئې صحي اعتبار نۀ راتلو خو په نواز شریف ئې اعتبار راغلو ځکه چې نواز شریف د امرتسر نه راغلے پنجابے هم وۀ او مهاجر هم ځکه خو دوي ته قبول وۀ. خو چې هغۀ سره هم کله د دوي د توقع خلاف پنجابیانو مینه وکړه نو اوس ئې مخالف شو خو بیا هم وژني ئې نا ځکه چې هندوستانے مهاجر دے. سندهے وزیراعظم چې راشي نو هغه دوي ژوندے نۀ پرېږدي. د ټولو نه غټ نقصان چې دې څلورو واړو

قومونو ته رسېدلے دے، د دې ټولو قومونو ژبې او کلچر ختمول، د دوي تاریخ ختمول او د ځان ساتلو د پاره د پاکستان د دروغو یو تاریخ جوړول او په سرکاري سکولونو کښې په ماشومانو دغه تاریخ زوتول چې سباله هغوي خپلې ژبې ته هم سپکه وائي او خپل تاریخ ته هم سپک وګوري او د دوي د دروغو تاریخ ته رښتیا ووائي او په ښه طریقه د دوي ذهني غلامان شي.

زمونږ مشرانو هم مونږ ته خپل صحي دشمن نۀ دے ښودلے مونږ ته پنجابے او د پنجابي زیاتې یادوي حالانکې پنجابے په خپله هم محکوم دے. چې کوم زیاتې مونږ سره کېږي دغه د هغۀ سره هم کېږي. د پنجابي دغه یوه کمزوري ده چې هغه وفادار غلام دے، د دې نه ښه فائده اخلي او په فوج کښې نان کمېشن افسران ۹۰ في صد د پنجاب دي. د دوي کوشش دے چې پنجابے سندهي پسې راپاځي، سندهے دې پنجابي پسې راپاځي او زمونږ مشرانو کښې چا هم مونږ ته اصلي دشمن په ګوته کړے نۀ دے.

په افغانستان کښې هم د پښتنو دغه شکل او دغه حال دے. ټول اېډمنسټرېشن د افغانستان د پارسي وانو په لاس کښې پاتې شوے دے او جنګ ته ئې پښتون وړاندې کړے دے. د پارسي وان بچي په ښاریو کښې ښۀ تعلیم وکړي او ښې نوکرۍ ورته ملاو شي او د پښتنو بچي یا په کلو کښې په دیني مدرسو کښې سبق وائي یا ئې د ښار غټو مدرسو ته ولېږي یا ترې طالب جوړ شي او کۀ ډېره ترقي وکړي نو ملا ترې جوړ شي.

زما د کالج د وختونه د انقلابیانو سره تعلق جوړ شۀ. سوشلسټ او کمیونسټو خلقو سره مې ناسته پاسته وه او هغه وخت سره د سوشلسټو د سټوډنټانو د این ایس ایف په نوم یو تنظیم چې رشید

حسن خان او داسې نورو مشرانو ئې کمیونسټو او سوشلسټو پارټو سره تعلق لرلو. د هغه وخت د سوشلسټو ترمېنځه به اکثر دا بحثونه کېدل چې د روس کمیونزم ښۀ دے کۀ د چین. چې یو بل سره به ئې ورانه شوه نو چین والا ته به ئې وې چې دا کمیونسټان نۀ دي ماوسټان دي خو ماوزے تنګ خو په خپله لېنن منلو. دغه چیني ماوسټانو به د لېنن مخالفت نۀ کولو خو دا به ئې وې چې دا په روس کښې د ټراټسکي ملګري دي ټراټسکائیټ دي.

دغه دوران کښې په پاکستان کښې پیپلز پارټي جوړه شوه. د سندھ او پنجاب ډېر ښۀ ښۀ سوشلسټ بهتو سره پارټۍ ته لاړۀ چې پیپلز پارټۍ له منشور هم معراج محمدخان جوړ کړۀ او داسې نور د سندھ مهاجر چې کومو پاکستان کښې سوشلسټ انقلاب غوښتو، ټول پیپلز پارټۍ ته لاړل. په پنجاب کښې هم چې نوے نسل د پنجاب د مسلم لیګ د چودهریانو او دولتانه وغېره دوي نه تنګ شوي وو او د پنجاب د ښاریو دانشوران چې اکثریت ئې د مهاجرو وۀ خو وسېدل په پنجاب کښې، لکه مبشرحسن، شیخ محمدرشید او حنیف رامے وغېره. د بهتو د خپلې طبقې د وډېره ګانو په ځاے په کښې کهر او زمونږ په صوبه کښې حیات خان شېرپاؤ وغېره شامل وو. دغه دوران کښې بهتو د تاشقند خبره راوچته کړه او د ایوب خان خلاف ئې تحریکونه شورو کړل. د ایوب خان خلاف په ټول پاکستان کښې د سټوډنټانو یو شان مزاحمت شورو شۀ. په ورومبي سر کښې خو په بهتو پابندي وه خو د دغه تحریکونو په وجه ایوب خان دست بردار شۀ او کرسۍ ئې یحیٰ خان ته حواله کړه. دغه تحریکونو کښې د ټولو پارټو د مشرانو په دې خبره اتفاق وۀ چې ون یونټ دې مات شي او صوبې دې بیا بحال کړي. د ون یونټ د جوړېدو نه مخکښې زمونږ صوبه د

کوئټې پورې وه یحیٰ خان زمونږ د پښتنو علاقې بلوچستان سره کړې. هر نوے سړے چې راځي نو د هغهٔ بیوروکریټ ته حاجت وي چې د دوي په مشورو باندې کار وکړي او سینیئر بیوروکریټ ټول مهاجر وو ځکه د بیوروکریټ هم دا کوشش وهٔ چې په بلوچستان کښې به بلوچیانو ته پښتون مسئلې جوړوي او پښتون ته به بلوچ. په دې خبره چې مسئله جوړه شوه نو د یو ریټائرډ جج په نوم ئې کمیشن جوړ کړهٔ، چې د دې تحقیق وکړي او پته ولګوي چې د دې صحي باونډري کوم ځاے ده. هغه کمیشن والا هم دغه ووې چې د کوئټې پورې علاقه د پښتنو ده او پښتانهٔ او بلوچیان دواړه په دې راضي دي چې دغه زمونږ پوله ده او دا دې هم په هغه زوړ ځاے باندې وساتلې شي چې څنګه مخکښې وې خو د دغه کمیشن رپورټ ښکاره نهٔ شهٔ. څنګه چې په پاکستان کښې نور رپورټونه د جوړېدو نه پس وروک شي دغسې دا رپورټ هم تر ننه وروک دے.

یحیٰ خان په کال کښې د ننه د الیکشن اعلان وکړهٔ او ټولې سیاسي پارټۍ ئې ازادې کړې. ټولو سیاسي پارټو ته ئې په یو نظر کتل. په ټیلي ویژن او اخبارونو کښې ئې ورله یو شان وخت ورکړهٔ او دغه الیکشن د پاکستان په تاریخ کښې واحد فري او فیئر الیکشن وهٔ چې هیڅ یوې پارټۍ پرې اعتراض نهٔ دے کړے ځکه دغه په پاکستان کښې وړومبے او اخري صفا الیکشن وهٔ. نهٔ د دغې نه مخکښې چرته صفا الیکشن شوے او نهٔ د دغې نه وروستو.

د شیخ مجیب د تقریرنه پس بیوروکریسي د شیخ مجیب خلاف شوه. هغهٔ چې کوم شپږ نکات وړاندې کړي وو، د بنګالیانو د پاره ئې د خپل حق خبره کوله، چې هغه په پاکستان کښې په ټول عمر کښې هغوي ته نهٔ وهٔ ملاو شوے چې کهٔ په زور وي او کهٔ په رضا وي خو دا

حق به زۀ د پاکستان د بېورو کرېسي نه اخلم او د بنګالیانو چې ځومره حق کېږي هغه به ورته برابر رسوم. هغه نکاتو ته ئې د بنګال د ازادۍ اعلان ووې چې دانکات د پاکستان نه د ازادۍ یو اعلان دے. د ابادۍ په بنیاد باندې په ټول پاکستان کښې د اسمبلۍ ټول ۳۰۰ سیټونه وو. په دې کښې د بنګال د ابادۍ په حساب ۶۳ في صد سیټونه وو او ۳۷ في صد د مغربي پاکستان وو. په دې کښې د دوو نه علاوه چې هغه نورالامین ګټلي وو، نور ۱۷۰ خواوشا ټول سیټونه شېخ مجیب وګټل. هغۀ چې د صوبې د پاره کوم حق غوښتۀ هغه پښتنو او بلوچو هم غوښتۀ او د دوي د الېکشن نه پس خپلو کښې ملاقاتونه هم وشو چې دا یقیني شوه چې شېخ مجیب به پاکستان کښې په اکثریت باندې حکومت جوړوي او چې څنګه د خپلې صوبې بنګال د پاره خپل حق غواړي نو داسې به نورو صوبو ته هم خپل حق ورکوي.

په مغربي پاکستان کښې بهټو په سندهـ او پنجاب کښې د ۸۰ نه زیات سیټونه وګټل او داسې د مغربي پاکستان اکثریتي پارټي پیپلز پارټي وګرځېده. بېورو کرېسي کۀ په مشرقي پاکستان کښې وه او کۀ په مغربي کښې، ټوله د مهاجرو وه. دوي دا نۀ زغمل او وې وئیل چې دا صوبې خو د پاکستان د جوړېدو نه ډېر مخکښې جوړې شوې دي او چې ټولو صوبو ته خپل حق ملاو شي نو زمونږ څۀ شو ځکه چې مونږ خو د پاکستان د جوړېدو نه پس د پاکستان په نوم راغلي یُو یعنې مونږ په کښې د کوم ځائے یُو؟ کۀ نور څوک ختمېږي او کۀ نه خو مونږ په کښې ختمېږو. په یحیٰ خان باندې هم دې بېروکرېسي پرېشر واچوۀ کۀ شېخ مجیب له دې اقتدار ورکړۀ نو بنګال لاړۀ. یحیٰ خان شېخ مجیب ګرفتار کړۀ، مغربي پاکستان ته ئې راوستو او په جېل کښې ئې واچوۀ او هلته ئې خپلې فوجي دستې نورې هم ولېږلې چې

باقي به په بنګالیانو په زور حکومت کوو. کوم جرنېل چې ئې هلته لېږلے وۀ د هغۀ نه په ایئرفورټ باندې اخبار والو تپوس وکړۀ چې شېخ مجیب له ۹۹ في صد خلقو ووټ ورکړے دے او هغه تاسو ونیوۀ جېل کښې مو واچوۀ په دې خلقو به حکومت څنګه کوئ او دا خلق به څنګه تاسو سره ودرېږي؟

هغه جرنېل ورته ووئیل چې دلته زمونږه خلق نۀ دي پکار زمونږ دا زمکه پکار ده، دا زمکه زمونږه ده په دې زمکه به حکومت کوو. دا خبره زۀ وایم چې بیا بیا وکړم په هره صفحۀ ئې وکړم چې زمونږ دا خلق نۀ دي پکار دا زمکه مو پکار ده هم د دې زمکې د پاره دوي پاکستان جوړ کړۀ. په دې زمکه چې څنګه د دوي بنګالیان نۀ وو پکار داسې ئې سندهے، پنجابے، بلوچے او پښتون هم نۀ دے پکار، د دوي صرف دا زمکه پکار ده. دغه وجه ده چې کومه صوبه د خپل حق اواز پورته کړي نو په هغۀ باندې د غدارۍ فتوٰی ولګي. د پاکستان ټولې سرکاري ادارې، فوج او اسټېبلشمنټ او د فوج او اسټېبلشمنټ جوړ کړي سیاستدانانو د هغوي سره په دې خبره اتفاق دے چې یوه صوبه دې هم د خپل قوم د پاره خپل حق نۀ غواړي. دغه حق غوښتل د پاکستان مخالفت ګڼي. دغه شان د دوي چې څوک مخالفت وکړي هغه هم د پاکستان او د دوي غدار ګڼي. زړې پارټۍ خو ټولې د دوي په لاس کښې دي خو چې کومې نوې سیاسي پارټۍ جوړېږي او هغوي ته ترکومې پورې د دوي مرسته حاصله نۀ وي نو هغوي په اقتدار کښې نۀ شي راتلے.

د پیپلز پارټۍ په اخري وختونو کښې په سندھ کښې مهاجرو سره ظلمونه شوي وو. د ضیاءالحق په وخت کښې ئې اېم کیو اېم جوړه کړه چې مهاجر هلته د سندهیانو او پښتنو نه خپل بدل واخلي. د ضیاء

الحق په وخت کښې اېم کيو اېم ته باقاعده فوجيانو ټرېننګ ورکوۀ. کراچۍ کښې چې د پښتنو او پنجابيانو کوم شريک تنظيمونه جوړ وو، د هغې مشران او خلق هم اېم کيو اېم والاوژل او سندهيان ئې هم د د کراچۍ نه وخکل او فوج ئې ښۀ ښکاره په پره کښې ولاړ وۀ. د ضياءالحق په اخري وختونو کښې افغانستان ته د روس راتګ هم وۀ په ۱۹۷۹ء کښې د افغانستان مسئله شورو شوه. او په لسو کالو کښې دننه روس د افغانستان نه ووتو او د روس هغه طاقت ختم شۀ او په خپله مات شۀ. د روس د ماتېدو سره سم په پاکستان کښې سوشلسټ او کميونسټ مائنډ خلقو چې پارټۍ جوړې کړې وې د هغې نه اېن جي او ګانې جوړې شوې او څنې په کښې تراوسه پورې د ښې اېن جي او په شکل چلېږي. هغې کښې چې کوم موقع پرست ليډران وو هغوي د امريکې دعوت په مخه قبول کړۀ ځکه چې هغوي کوم انقلاب غوښتۀ هغه د قوم د بدلون د پاره نۀ وۀ بلکې په دې دوران کښې چې په خپله د هغوي حالات بدل شو او ورسره ئې طبقې بدلې شوې، زما په شان په کښې ډېر خلق داسې وو چې د انقلاب په ذريعه ئې بدلون راوستو، داسې خلق په ډاګه پاتې شو خو دغې انقلابيو نظريو مونږ ته ښودلي وو چې انقلاب بغېر د يوې انقلابي پارټۍ نۀ شي راتلے خو چې دغه پارټۍ د يوې نظريې د پاره بدلون راولي نه چې د يو فرد د پاره. ورسره د سرمايه دارانه نظام خلاف يو نۀ ختمېدونکے نفرت په زړونو کښې واچوي او مونږ د سرمايه دارانه نظام نه دغه نۀ ختمېدونکے نفرت لرو خو د بدقسمتۍ نه دغه سرمايه دارانه نظام نن په روس او چين کښې هم موجود دے او د دغه سرمايه دارانه نظام جوړې کړې سودي ادارې لکه ائي اېم اېف او ورلډ بېنک د دنيا ټول واړۀ ملکونه ئې قرضدارې کړي دي او خپل لاس ته ئې کښېنولي دي. بل خو اته د دغه سودي

ادارو ګارنټر امریکه ده او د دوي قرضونو سره سم د امریکې خبرې او لاره په دغه ملکونو باندې منلے شي.

توله دنیا او خاص کر په اېشیا کښې انډسټرۍ ډېرې جوړې شوي دي خاص کر انډونېشیا او جاپان کښې، ملېشیا او هندوستان هم ورسره په مقابله کښې رواني دي. د اېشیا ورو ملکونو ته هم زیاتر د دې اېشیا د کارخانو مال ځي. د دې څیزونو د پاره به پخوا مونږ یورپ او امریکې ته ناست وو چې د هغوي مال واخلو. اوس امریکې سره د وسلې نه علاوه هېڅ څیز نشته چې هغه بهر دنیا کښې خرڅ کړي او پیسې پرې پېدا کړي. دوي ته ضرورت دے چې هر ځاے کښې جنګ جوړ شي او دوي په کښې خپله وسله خرڅه کړي او په دغه جنګونو کښې خپله نوې جوړه کړې وسله او ټېکنالوژي زمونږ په خلقو ټسټ کړي. کۀ د دوو ملکونو ترمېنځه جنګ نۀ وي نو په ټوله دنیا د دهشت ګردۍ په نوم باندې دوي یو نۀ ختمېدونکے جنګ جوړ کړے دے چې کله ئې د القاعده په نوم باندې او کله ئې د ائي اېس په نوم باندې دا نوې وسلې به په خلقو ګوري او د دې تاوان به هم د هغه ملکونو نه اخلي په کوم کښې چې دا خلق وي. نن سبا ټولو مسلمانانو ته د دهشت ګرد په بنیاد ګوري چې دا دهشت ګرد دي. عجیبه خبره ده چې سړے تاریخ وګوري نو ۱۹۸۷ء کښې د یو اېن او د جرنل اسمبلۍ د دنیا د ټولو ملکونو د طرف نه یو قرارداد وړاندې شۀ چې دهشت ګردي په هر ملک کښې وي او په هر قسم چې وي، د دې به په شریکه مخالفت کوو او هغه ملک سره به امداد کوو چې کوم د دې خلقو نه تنګ وي. صرف دوو ملکونو د هغې مخالفت وکړۀ یو امریکه او یو اسرائیل. زما په زړۀ کښې اوس هم راځي چې صرف دې دوو ملکونو ته په دهشت ګردۍ کښې فائده ده او نورو ټولو ته نقصان دے. هم دا

دوه ملکونه دي چې په خپله دهشت ګرد جوړوي هم او خوروي هم. د سرمایه داري نظام ځان ګارنټر حسابوي ځکه دغه سرمایه داري نظام په ختمېدو کښې د ټولې دنیا غریبانانو او امن پسند خلقو ته فائده ده. د دې د پاره داسې نظریه پکار ده چې هغه په ټوله دنیا کښې د سرمایه داري مخالفت هم وکړي او د دې نه د یو نبۀ نظام د راوستو غږ هم وکړي. چې په روس او چین کښې دغه نظام ختم شۀ نو ورسره سوشلزم او کمیونزم په نوم بدلون راوستل هم ختم شو او زما نظر کښې راغلل چې اسلامي نظریه د سرمایه دارانه نظام خلاف ده کۀ د اسلامي نظام نبۀ پوهان راپورته شي او په شریکه په هر ملک کښې د سرمایه داري نظام خلاف تحریکونه راپورته کړي، د دغې خرابوالي راپورته کړي او د اسلامي نظام چې د دغې مقابله کښې څۀ خوبۍ دي هغه خلقو ته وښائي. زۀ ذاتي طور باندې پخوا هم د امریکې د دغه نظام خلاف وم ما وې چې دا بدلون به سوشلسټ راولي، دغه هم یوه عالمي نظریه وه. اسلامي نظریه هم یوه عالمي نظریه ده خو چې په مختلفو ملکونو کښې ئې مشري د داسې خلقو په لاس کښې راشي چې نۀ ویرېږي او نۀ خرڅېږي. د افغانستان په جنګ کښې چې کله روسیان ختم شو، بیا ګلبدین او رباني دي راغلل هغوي د قومونو نفرتونه نور هم زیات کړل. د هغې نه پس ته د ټولو خلقو سترګې وې چې دلته طالبان هم پښتانۀ دي او د افغانستان په ۹۰ في صد علاقه باندې قابض هم دي نو دوي به افغانستان کښې یو پائېدار امن راولي. د بدقسمتۍ نه مشري ئې د داسې مشرانو په لاس کښې وه چې د خپل کلي د جوماتونو نه زیات نه زیات د مدرسې تعلیم ئې کړے وۀ، نۀ د نوې دنیا نه خبر وو او نۀ د نوې سیاست نه او دغه اسلامي نظام ئې په یو غلط شکل کښې دنیا ته وښودلو. د پاکستان د مدرسو نه اول د روس خلاف د جهاد په نوم

باندې ټول پښتانهٔ په شریکه وجنګېدل او چې بیا پارسي وان په کابل قابض شو او په افغانستان کښې هر لس پنځلس میله پس یو بېل حکومت وهٔ نو طالبانو سره ئې هم په شریکه ښهٔ امداد وکړهٔ چې په دې کښې ورسره د پاکستان د فوج او د امریکې امداد هم شامل وهٔ. د دوي مشرانو ته تر اخره پورې دا پته نهٔ وه چې امریکه ولې په افغانستان کښې د اسلامي نظام امداد کوي او پاکستان ولې په افغانستان کښې د اسلامي نظام امداد کوي او په خپل ملک کښې ئې نهٔ راولي. د امریکې او پاکستان دواړو په دې کښې ګټه وه چې د روس نه ازاد شوي ملکونه ازبکستان، تاجکستان او ترکمانستان وغېره، دوي سره چې د تېلو او ګېسونو ذخیرې دي، دا به اول د افغانستان او بیا د پاکستان په لار ګوادر ته راشي او بیا به نورو ملکونو ته ځي. د دې د پاره په افغانستان کښې د یو داسې حکومت ضرورت وهٔ چې چې دا لاره وي نو دا تېل به دوي ته ترلاسه وي. طالبانو په افغانستان کښې امن په زور قایم کړهٔ. په زور باندې امن راتلے شي خو صحي اسلامي نظام نهٔ شي راتلے. ټولې دنیا د دوي مخالفت کوهٔ چې دوي د جینکو تعلیمي ادارې بندې کړې، فلمونه او سنېماګانې ئې بندې کړې، ښځې ئې په بازارونو بندې کړې. ټولې دنیا د دوي بد وې، خاص کر د هیومن رائټس ادارو، چې په کومه طریقه دې طالبانو سزاګانې ورکولې دا هم د اسلامي نظام مطابق نهٔ وې. د دې باوجود هم امریکې د دوي ښهٔ وې او د ټولې دنیا په دغه خبرو ئې سترګې پټې کړې وې ځکه چې د دوي په کښې مطلب وهٔ ځکه ئې د دوي په ټولو غلطو کارونو سترګو پټې کړې وې. څهٔ طالبان مشران ئې نیویارک ته راوستي وو او اخباروالو ترې تپوسونه کول. په ازبکستان، تاجکستان کښې چې چا د تېلو ټېکې اخستې وې د هغه ادارو خلقو د دوي

ترجماني کوله، اخبارونو واله ته ئې وئيل چې دوي په انګرېزۍ نۀ پوهېږي د دوي د خبرو به مونږ تاسو ته ترجمه کوو. چې اخبار والو به ترې تپوس وکړۀ چې دوي د جينکو سکولونه ولې بند کړل نو د دوي ترجمان به بيان ورکړۀ دوي وائي چې زمونږ په مذهب کښې د جينکو تعليم نشته، چې کوم تپوس به ئې ترې کوۀ نو دوي به جواب ورکوۀ چې دا زمونږ په مذهب کښې نشته، دا زمونږ په تاريخ کښې نشته، دا په افغانستان کښې رواج نشته. د هغوي د ترجمو په وجه د خلقو د اسلامي نظام نه نفرت پېدا شۀ او دغه ترجمانانو ته ئې وئيل چې دوي دا ټول خراب کارونه کوي او تاسو ئې منئ نو اخر دوي کښې څۀ ښۀ والے د ے چې تاسو ورسره بيا هم ملګرتيا کوئ. په دوي کښې څۀ ښۀ والے د ے چې تاسو ئې بيا هم مرسته کوئ. هغوي ورته په انګرېزۍ کښې جواب ورکړۀ چې: They have a good sense of humer يعني دوي د ټوقو خنداګانو خبرې کوي دغه د دوي ښۀ والے د ے.

په پاکستان کښې ټول مذهبي جوماتونه د اسمبلۍ په ذريعه په پاکستان کښې اسلامي نظام راوستل غواړي. جومات اسلامي او جمعيت العلماء دواړه غټې پارټۍ دوي سره ډېر نزدې پاتې شوم او ورته مې ووې چې دا خو ممکنه نۀ ده چې د پاکستان په نېشنل اسمبلۍ کښې تاسو په اکثريت کښې راشئ. پنجاب اکثريتي صوبه ده دوي ټول عمر مذهبي پارټو له ووټ نۀ ورکوي. دغه شان سندهـ هم مذهبي پارټو له ووټ نۀ ورکوي بلوچستان کښې کۀ څۀ لږ ډېر ووټونه تاسو اخلئ او د پښتنو په علاقو باندې اخلئ نو داسې صرف پښتانۀ تاسو مني او اسلامي نظام هم مني. د ايم ايم اے په وخت کښې تاسو په دې صوبه کښې په اکثريت کښې راغلئ او شرعي نظام د دې صوبې ټولو پارټو درسره په شريکه ومنلو خو بيا هم په تاسو باندې مرکز دغه

بند کړۀ چې تاسو څۀ وخت د حسبه بل په نوم باندې په دې صوبه کښې شرعي نظام نافظ کول غوښتل او عدالت درته ووې چې په یو ملک کښې دوه نظامونه نۀ شي چلېدلے، تاسو په دغې هېڅ احتجاج ونۀ کړۀ، د دې مطلب دا شۀ چې تاسو هم دغه انګرېزي نظام منئ. د دغې انګرېزي نظام د لاندې ټولې ادارې جوړې شوې دي، سره د فوج او د پولیس، او دوي د دغې ائین دفاع کوي، ځکه تاسو له بل څۀ طریقه اختیارول پکار دي چې په دې پسې په شریکه راپاځئ. ایم ایم اے یواځې د ووټونو د پاره مۀ استعمالوئ د دغې نظام د ختمېدو د پاره ئې استعمال کړئ. دوي وائي چې د دې پاره مونږ سره خلق نشته چې راپاځي او دې نظام د پاره جنګ وکړي. ما ورته وئیل چې تاسو بیا دا ولې په خپلو منشورونو کښې منلې ده چې مونږ به د خدائے او د خدائے د رسول په ښودلې لاره باندې ځو. تاسو چې د خلقو خبره کوئ چې مونږ سره خلق نشته او چې خلق راشي نو مونږ به دا خبره کوو، نو کوم پېغمبر سره خلق راپاڅېدلي وو او کوم پېغمبر دې ته ایسار شوے وۀ چې ما سره خلق راشي نو بیا به د خدائے خبره کوم او د خدائے د نظام خبره به کوم.

د پاکستان اسټېبلشمنټ به ټول عمر تاسو له دوه څلور سیټونه درکوي چې ستاسو نمائندګي وشي خو د نظام د بدلېدو خبره به چرې ونۀ مني. انقلاب هم د دغې د پاره پکار دے او سوره توبه کښې د دې دیارلسم ایت نه پس ټول هم دا وئیلي شوي دي چې دوي پسې راپاځئ او دوي سره جنګ وکړئ دوي ستاسو د پېغمبر د مرګ سازشونه کړي وو او ستاسو د مرګ سازشونه کوي. ولې تاسو د دوي نه ویرېږئ کۀ تاسو د دوي نه ویرېږئ نو مخکښې بیا مانه وویرېږئ تاسو سره ما جنګونو کښې امداد کړے دے او هغه جنګونه تاسو زما

په امداد ګټلي دي كۀ تاسو دوي پسې راپاځئ نو بيا درسره هم هغه شان امداد كوم. د دوي مقصد صرف دا دے چې اسمبلو ته لاړ شي او چې حکومت ورته د شاملېدو دعوت ورکړي نو په مخه ورځي. كوم مراعات ممبرانو او وزيرانو ته ملاوېږي دغه دوي ډېر په شوق باندې اخلي. د دې خلقو نه هېڅ دا توقع نشته چې دوي به دا سرمايه داري نظام په پاکستان کښې ختم کړي او د اسلامي نظام د راوستو د پاره به راپاځي.

اوس دې وخت کښې زمونږ يو طالبانو ته سترګې دي كۀ چرته دوي بيا په افغانستان کښې په حکومت کښې راغلل او خپلې هغه زړې غلطۍ دوباره نۀ کړي او شرعي نظام د مکې او مدينې د څلورو خليفاګانو په وخت کښې چې كوم وۀ او څنګه ايډمنسټرېشن او د حکومت څنګه ډانچه او عدالتونه کښې چې كوم په شرعي نظام فېصلې کولې هغه خلقو ته وښائي نو دا د دې وخت د سرمايه داري نظام په بدل کښې د ټولو نه ښۀ نظام دے. كۀ په افغانستان کښې دوي امن او ترقي راولې نو د ټولې دنيا به دې ته سترګې وي او د سرمايه داري نظام په بدل کښې به دې ته ښۀ نظام ووائي او د دنيا نور ملکونه به ئې خپل کړي.

ښاغلے محمد ارشد خان [illegible] طلا محمد خان زوي د فرید خان زوي د شریف خان زوي د شهباز خان دے (د یاد وړ ده چې شهباز خان د محمدزو هغه مشر وۀ چې په کال ۱۸۵۷ء کښې د هشتنغر د یولس نیم زره لښکر چې د انګریز خلاف دلي ته غزا له تلے وۀ، سرلښکر وۀ) په قبیله غني خېل، صافرخېل محمدزے پښتون دے او د صافرخېل پړانګو چارسدې وسېدونکے دے، زده کړه ئې په فلاسفي کښې ماسټري د پنجاب پوهنتون نه او په نفسیاتو کښې ډپلومه د جرمني نه ترلاسه کړې ده خو په خپله دغې ته زدکړه نۀ وائي او خپله زدکړه د حجرې جومات، د جرګو، مرکو ناسته بولي.

په قام مئین دانشور دے او ټول ژوند ئې د قام د روښانه سباؤن په لټون کښې په عملي مبارزه او جرګو مرکو کښې تېر کړے دے. هم د دې مبارزې په لړ کښې د بېلابېلو سیاسي ګوندونو غړے او مشر پاتې شوے دے. چې څۀ ئې لیدلي او محسوس کړي دي هغه ئې په خپل نظر د خپلو یادونو په صورت کښې لیکلي دي، د هرچا خپل نظر او نظریه وي د دې کبله ورسره بشمول زما د ډېرو خلقو اختلاف هم کېدے شي او هم د دې دوو خبرو له کبله د ښاغلي ارشد خان دا کتاب یو ډېر ګټور قدم ګڼم. لومړے دا چې ډېرې خبرې او تاریخ چې څېړل غواړي خو څوک پرې خبره هم نۀ کوي زما په اند د دې کتاب سره به دغه چېتیا ماته شي او بحث ته به لاره هواره شي. څوک به ئې تائید یا تردید کښې هم لیکنې او په دلیل نور کتابونه ولیکي.

دوېم دا چې د یو تاریخي شخصیت سره خوندي د تاریخ څو پاڼې به د پښتو ادب په جولۍ کښې اضافه شي.

په درنښت

طیب الله خان

اسلام اباد ۲۴ فروري ۲۰۱۹ء